د افغانستان د خپلواکۍ
د اتیایمې کالیزې په ویاړ

# دپښتو ادبیاتو تاریخ

## (معاصره دوره)

Greater Afghan
Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

کاندید اکادمیسین سرمحقق محمد صدیق روهی

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

# د پښتو ادبیاتو تاریخ

## دویم ټوک

(په ۱۳۷۰/ ۱۹۹۱ م کال د افغانستان د پوهنځیو د دولسمو ټولګیو لپاره لیکل شوی دی)

PROPERTY OF ARIC Established 1989

لیکوال

کاندید اکادمیسین سر محقق محمد صدیق روهی

د محمد صدیق روهی د فرهنګی ټولنی خپرونې
د خپرونو پرله پسې نومره : ۳

ددې کتاب د چاپ لګښتونه دوکتور خوشحال روهي برابر کړي دي

## د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : د پښتو ادبیاتو تاریخ

لیکوال : کاندید اکادمیسین سرمحقق محمد صدیق روهي

خپروونکی : د محمد صدیق روهي فرهنګي ټولنه

د چاپ کال : ۱۳۷۸/۱۹۹۹م

د چاپ شمیر : ۵۰۰ ټوکه

د چاپ ځای : پېښور دانش کتابتون

کمپوزنګ : حبیب لیزر کمپوزنګ سنټر، ګل حاجي پلازه،

کمپوزر : عبدالوسیم عزیز

د پښتۍ ډیزاین : دانش کتابتون

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

PROPERTY OF ACKU 8514

# ځوځانګړي يادونې

زما لومړۍ يادونه:

په ۱۳۶۹ ش کال کې فرهنګيالۍ مبارزه او نوميالۍ ليکواله ميرمن معصومه عصمتی وردګ د افغانستان د ښوونې او روزنې وزيره شوه. د هغه وخت له روانو تمايلاتو سره سم د ښوونې او روزنې وزارت له مشرانو سره هم دا نظر يه پيدا شوې وه چې د افغانستان د ښوونځيو پردرسی نصاب بيا کتنه وکړی او هغه نصابي ګډوډۍ چې له ۱۳۵۷ ش کال نه راپديخوا د افغانستان په ښوونه او روزنه کې رامنځ ته شوې وې دسمون لپاره يې کارونه پيل کړي.

د ۱۳۷۰ هـ ش کال دوري په لومړۍ هفته کې د ښوونې او روزنې وزارت د هغه وختني معين سرمحقق دوکتور عبدالحکيم هلالي له دفتره ما ته هم خبر راکړ شو چې د ښوونې او روزنې وزارت له خواه د يوه جوړ شوي کميسيون په غونډه کې برخه واخلم.

په ټاکلې ورځ د ښوونې او روزنې وزارت د تاليف او ترجمې رياست ته ورغلم. ډېر مشران او نوميالي پوهان راغلي وو.

ارواښاد کانديد اکاډميسين سر محقق محمد صديق روهی او کانديد اکاډميسين پوهاند دوکتور محمد رحيم الهام ناست وو. د ښوونې او روزنې وزارت د تاليف او ترجمې او تعليمی نصاب ځينی څانګه وال هم راغلی وو. غونډه دارواښاد سر محقق دوکتور هلالي په مشرۍ وشوه او د مجلس منشی ښاغلی پير محمد وردګ و.

په هغه ورځ او څو نورې ورځې د ښوونځيو د تعليمی نصاب پر موضوعاتو تاوده بحثونه وشول، د بحثونو په نتيجه کې ډېرې پرېکړې وشوې، خو څه چې ما ته په حافظه کې پاتې دي، دادي:

(۱) ټولو دا خبره ومنله چې د افغانستان په ښوونه او روزنه کې له ۱۳۵۷ش نه راپديخوا باب شوی نصاب زموږ له ملي او فرهنګي غوښتنو سره برابر نه دی او د ښوونې او روزنې له پر مختلليو موازينو سره هم سمون نه لري. دا نصاب بايد نور عملی نشي.

(۲) فيصله وشوه چې له ۱۳۵۷ هـ ش کال دد مخنی نصاب، درسي کتابونه دې راټول شي او تريوې بيا کتنې وروسته دې بيا چاپ شي او ښوونځيو ته دې وويشل شي.

(۳) له ۱۳۵۷ هـ ش کال وروسته چې د افغانستان د ښوونځيو لپاره کوم نصاب باب و، د هغه نصاب پر اساس دوی له اتم ټولګی نه راپدې خوا په ښوونځيو کې د ادبياتو تاريخ لوستل شامل کړي وو او له اتم نه تر دولسم

ټولګی پورې د ادبیاتو تاریخ په نامه ځینې کتابونه لیکل شوي او چاپ شوي وو.

تاکل شوي کمیسیون د ادبي تاریخ په نامه دا لیکل شوي کتابونه وکتل. دا کتابونه هم د ادبي تاریخ لیکنې او هم د ښوونې او روزنې له معیارونو سره برابرونه ختل، تیروتنې خو یکې په پیغرو وې، پریکړه وشوه چې:

الف: په ښوونځیو کې د ادبیاتو تاریخ تدریس باید له لسمه صنفه شروع شي، د لسمو، یوولسمو او دولسمو ټولګیو شاګردان باید دادبیاتو تاریخ ولولي.

ب: ددغو دریو ټولګیو لپاره باید د ادبیاتو تاریخ د نویو موادو او نویو تیوریو او میتودونو په رڼا کې ولیکل شي.

کمیسیون غوښتنه او سپارښتنه وکړه، چې د ادبیاتو تاریخ د لیکلو چارې دې استاد روهي او زلمي هیواد مل ته و سپارلې شي.

وروسته بیا دا مسأله هم رادمخه شوه، چې د ادبیاتو تاریخ به ددغو دریو صنفو ترمنځ څنګه سره بیل کړای شي؟

استاد روهي وویل: «د افغانستان د علومو اکادمي له خوا د ادبي تاریخ لیکنې د میتودولوژي په سیمینار کې د پښتو د ادبي تاریخ لپاره یوه دوره بندي منل شوې ده، ددغې دوره بندۍ له مخې د پښتو ادبیاتو تاریخ په دریو دورو کې لیکل کیږي: لومړۍ دوره، دویمه دوره او دریمه یا معاصردوره. زما پیشنهاد دادی، چې لومړۍ دوره په لسم ټولګي کې، دویمه دوره په یوولسم ټولګي کې او دریمه دوره دې په دولسم ټولګي کې ولوستل شي.

لومړۍ او دویمه دوره دې زلمی هیواد مل ولیکي، ځکه چې پردې دورو کار کوي او مواد لري او دریمه یا معاصره دوره به زه (روهی) ولیکم.»

کمیسیون د استاد روهی پر پیشنهاد تر هر اړخیز غور وروسته فیصله وکړه چې: د ادبیاتو تاریخ دې د همدغو تاکل شویو دریو دورو په کالب کې ولیکل شي او دا چې استاد روهی په دې کار کې برخه اخلي زموږ لپاره د خوښۍ خبره ده.

په کمیسیون کې ناست د تالیف او ترجمې د ریاست یو غړي وویل: «زموږ د تعامل له مخې هر درسي کتاب چې لیکوال راوسپاري موږ یې د ا یټ لپاره چاته ورکوو. زه وایم چې د هیواد مل کارونه دې روهی صاحب وګوري د روهی صاحب کار دې هیواد مل وګوري».

ما سملاسي ځواب ورکړ: «ما لپاره د خوښۍ څه چې دو یاړ خبره ده چې استاد روهی زما کارونه تر نظره تیر کړي، خو زه کله هم دا جرأت نه کوم چې د هغوی کارونه وګورم.»

د کتابونو د تهیې او چاپ یوه بل مسوول زیاته کړه: موږ اړیو چې د کتابونو ا یټ وشي، نو که تاسې په خپلو منځو کې یو د بل کارونه وګورئ، نو به زموږ کار سپک شي او کتابونه به ژر چاپ ته واستوو.

د دې کتابونو له تالیف سره ا یټ هم تاسې ته سپارو او د چاپ تر مرحلې که تاسې دا کار تعقیب کړئ، سمونې او زیاتونې پکې وکړئ موږ به ډیر خوشحاله وو.

تر دې وروستي مجلسه وروسته استاد روهی په کار پیل وکړ او د ۱۳۷۰ هـ ش

کال په وروستیو میاشتو کې یې دا کتاب بشپړ کړ او په خپله ځانګړې بزرګوارۍ یې ماته د لوستو لپاره راوسپاره.

ما بیا لږ نا وتو، وکړه، خو هغوی وویل «د ښوونې او روزنې وزارت له رسمیاتو سر بیره زما دا غوښتنه ده چې ته دا کتاب ولولې او دا هیله هم لرم چې د چاپ چارې یې هم ته تعقیب کړې او د چاپ ته آماده کولو تر وروستۍ لحظې پورې هم په رسمي ډول او هم زما له خوا ته دا حق لرې چې دا ډیتور له مکلفیتونو سره سم زیاتونې او کمونې پکې وکړې».

ما هغه وخت دا کتاب ولوست. بې شکه چې د لیکلو سبک، د لیکلو میتود او د کتاب د پیل د دریو څلورو څپرکو تیوریکو بحثونو ډیر خوند راکړ تر هغه وخته چې ما د پښتو، دري او اردو ژبو کوم ادبي تاریخ ډوله آثار لوستي وو په هغو کې له دغسې تحلیلو نو او نویو خبرو سره نه وم مخ شوی، نو ځکه دا کتاب راته ډیر ځانګړی ښکاره شو.

تر کتنې وروسته ما کتاب بیرته استاد روهي ته وسپاره او د ځینو نومونو د زیاتولو، کمولو او د ځینو برخو په وړاندې وروسته کولو کې مې خپل پیشنهاد وروړاندې کړ او دوی په خورا صمیمیت او مینه ومانه. استاد روهي کتاب ښاغلي پیر محمد وردګ ته ورکړ، چې یې تایپ کړي.

پیر محمد وردګ د کتاب پر تایپ ډیره بیره کوله او غوښتل یې چې د ۱۳۷۱ هـ ش کال په لومړیو میاشتو کې یې چاپ کړي. ښاغلي وردګ دا هم راته وویل چې ستاد کارونو او د روهي صاحب د کتاب دویم پروف به تاته وسپارم.

پنځه

مور ولیدل چې د ۱۳۷۱ هـ ش کال په غویي (ثور) کې د دوکتور نجیب-
الله رژیم نسکور شو. پر افغانستان هسې بدې ورځې راغلې، چې ساری یې د
منطقې د هیوادونو په تاریخ کې نه لیدل کیږي. ددې الوګولو په لومړیو ورځو
کې استاد روهي د تداوۍ لپاره هندوستان او بیا روسیې ته لاړ. د کورنۍ ځینې
غړي یې له مشر زوی ښاغلي اجمل روهي سره روسیې ته لاړل. زه له خپلې
کورنۍ سره پیښور ته راغلم، د استاد روهي دا حاضر کتاب په کابل کې پاته
شو. په دې کې یوه ورځ دا خبر هم راغی چې د ښوونې او روزنې مطبعه چور
شوه. کله کله به زړه ته راتلل چې د استاد روهي کتاب که ښاغلي پیر محمد-
ورد ګ مطبعې ته استولی وي، نو به دا کتاب هم ورک شوی وي. بیا به مې زړه
ته داډ ورکړ چې که یو نقل یې سوی یا ورک شوی وي بل نقل او اصل خو به یې
ښاغلي ورد ګ ساتلي وي.

په ۱۳۷۵ هـ ش کال استاد روهي په آلمان کې وفات شو. دا چې غمجنې
مړینې یې مور ځومره وځورلو دا بیله خبره ده. خو د استاد له مړینې سره راته دا
خبره ډیره محسوسه شوه، چې د استاد ناچاپ آثار باید وساتل شي. په دې
نیامت مې ټولو هغو ځایونو ته لیکونه واستول، چې د استاد ناچاپ آثار هلته
وو. ددې لیکونو په سلسله کې مې یو لیک ښاغلي پیر محمد ورد ګ ته هم
واستوه او دامې ترې وغوښتل چې تایپي نسخې دې ستاوي، د استاد خپله
لیکلې نسخې مور ـه وساته ځو ک به درشي او زما لیک به ورسره وي لطفاً دا
نسخه هغه ته ورکړه. له دې سره جوخت مې ګران تور نجنرال شیر محمد کریمي
ته لیک ولیږه، چې له ښاغلي ورد ګ نه د استاد روهي لیکلی د ادبیاتو تاریخ

ترلاسه کړي.

جنرال کريمي د مسووليت په احساس دا کار کړی و، خو د اصل پر ځای ښاغلی وردګ وړته يوه ټايپي نسخه ورکړې وه او له جنرال کريمي سره خوندي وه.

د روان شمسي کال په لومړيو ورځو کې د استاد روهي کشرزوی دوکتور- خوشحال روهي احوال راکړ. چې که زما د پلاريو اثر چاپوئ، زه يې د چاپ لګښتونه برابروای شم. د خوشحال روهي د ليک له رسيدو سره مې په دې سوچ وکړ چې د استاد روهي کوم کتاب چاپ کړم؟ سملاسي مې فکر د ادبياتو تاريخ ته واوښت. له ځان سره مې وويل چې دا تاريخ دا ته کاله وړاندې شرايطو په رڼاکې ليکل شوی دی که نور کلونه هم پرې تيرشي ښايي يو کلي تجديد نظر ته اړه پيدا کړي، چې دا تجديد نظر اوس موږ ځکه نشو کولای چې خاوند يې نشته. بله دا چې اوسنيو ورانيو او اړتياوو ته په پاملرنه ښايي د ښوونې او روزنې وزارت په آينده شلو کلونو کې هم پدې بريالی نشي چې د شاګردانو لپاره د يوه فرعي يا مرستيال مضمون په حيث د ادبياتو تاريخ چاپ کاندي. نو بهتره ده چې دا تاريخ چاپ شي او له ميتود يې زموږ ځيرونکي او له محتوی يې عام لوستونکي خبرشي. بيا مې سملاسي جنرال کريمي ته ليک وکيښ او له ګران آشنای د پښتو ځوان شاعر او د محمد صديق روهي د فرهنګي ټولنې موسس غړي (۱) ښاغلي سيد افضل شيرزاد څخه مې غوښتنه وکړه چې دا ليک کابل ته ورسوي او د استاد روهي کتاب له ځانه سره راوړي. ښاغلی شيرزاد

(۱) ښاغلی سيد افضل شيرزاد د محمد صديق روهي فرهنګي ټولنې مؤسس غړی دی، د ټولنې د مؤسسانو کوم لست چې چاپ شوی دی، سهواً پکی دده نوم نه دی چاپ شوی.

هماغسې وکړل او دا کتاب يې تر پېښوره راورساوه.

کتاب ما کمپوز ته وسپاره، کتاب کمپوز او چاپ ته آماده شو او دادي زما دا څو يادونې ورسره پر ځای چاپيږي.

- د کتاب د ليکلو، ساتلو او چاپ ته سپارلو په باب تر لوړې يادونې وروسته، زما دويمه يادونه داده:

ښاغليو لوستونکيو ته به له لوړه بيا نه دا څرگنده شوې وي چې د پښتو ادبياتو د معاصرې دورې دا تاريخ د افغانستان د ښوونځيو د دولسمو ټولگيو لپاره ليکل شوی دی.

د اثر درسي هدف ته په پاملرنه په کتاب کې راوړل شوي مواد نه يوازې دا چې کافي دي، بلکه د پوهنتون محصلان او نور عام لوستونکي او څيړونکي ورڅخه استفاده کولای شي.

که رښتيا ووايم مو د پوهنځي په څلور کلنه دوره کې د پښتو ادبياتو په مضمون کې دومره مواد نه وولوستي، تيوريک برخه خو يې لا پريږده. زه له پوهنتونه فارغ وم خو پدې نه پوهيدم چې ادبپوهنه څه ته وايي او څانگې يې کومې دي؟ له دې يادونې زما مقصد دا دی چې که دا کتاب اوس د ښوونې او روزنې دوزارت له خوا چاپيدای، نو له کافي نه هم پسې ور تيرو.

تر ليکلو وروسته چې کله استاد روهي دا کتاب ماته لوستو ته راکړ، هغه وخت هم مادوی ته وويل چې دا کتاب د ښوونځيو له شاگردانو سربيره د پوهنتون د محصلانو لپاره هم بيخي کافي دی، خو که د استاد پرژوند دا کتاب - لکه اوس - د ښوونې او روزنې وزارت پر ځای د معاصرو ادبياتو د

ـوستونکیو لپاره په آزاد ډول چاپیدای تو به ماورته پیشنهاد کړی وای، چې پر همدغه موجوده اډانه ځینې لاندې زیاتونې وکا.

(۱) په افغانستان کې د پښتو معاصرو ادبیاتو لومړی پړاو یاد روښانتیا پړاو، لکه څنګه چې استاد روهی ویلی دي په اساسی ډول د سراج الاخبار افغانیه د نشرله دورانه پیل کیږي.

اما که موږ دا پړاو تیمناً او تبرکاً په معاصر دوران کې د افغانستان د روښانفکرانو د سرلاري، د مشروطه خواهانو د لومړی دلې د مشراو د مشروطیت دلاري شهید مولوی محمد سرور واصف له نامه پیل کړو، نو به مو پر ځای کار کړی وي که څه هم د مولوی واصف د پښتو آثار له موږ سره نشته، یوه توته یې لاس ته راغلې ده، خو دا چې د روښانتیا پړاو فکري تومنه د لومړي مشروطیت د غورځنګ له غوښتنو او افکارو څرویږي، نو که موږ د خپلو ادبیاتو د معاصری دورې د روښانتیا پړاو د مشروطیت د روښانفکري غورځنګ د مشرله پښتو شعره پیل کړو نو به مود تاکل شوې دوره بندۍ اوږښتونو ته ډیره صدمه نه وي رسولې.

(۲) استاد روهي د کتاب له شرایطو سره سم د ویښتیا د پړاو د څلورو تومیالیو شاعرانو او لیکوالو: شهید محمد موسی شفیق (۱۳۰۸ - ۱۳۵۷ هـ- ش) شهید پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح (۱۹۲۸-۱۹۸۸م) نازک خیال شاعر محمد صدیق پسرلی، ترانه ویونکی او احساس پاروونکی شاعر عبدالله غمخور په باب ځای پر ځای د دوی له ادبی مقام او د دوی له استحقاق سره سمې یادونې کړې دي. خو زما په خیال په پیښور کې د استاد مجروح،

استاد پسرلي او عبدالله غمخور نويو ادبي هستونو او چاپ شويو ادبي آثارو ته- چې استاد روهي ته او ما ته ددغه کتاب د ليکلو په وخت کې نه وو ښکاره- په پاملرنه بايد دوی ددې پړاو د استازيو په ډله کې، لکه نور استازي ځانګړي معرفي شوي واي او د ارزوني لپاره يې د آثارو نمونې هم ورکړ شوې واى.

ددغه پړاو د يو بل استازي استاد حبيب الله رفيع په باب هم استاد روهي په خپل کتاب کې ځاى پر ځاى ښې يادونې لري خو دده د هنر په ګانه سمبالي وروستي غزلې- ناچاپې- دوی ته دا استحقاق ورپه برخه کوي چې ددې پړاو په ځانګړيو استازو کې معرفي شي او ښکلې غزلې يې د کلام په نمونو کې راوړل شي.

د ويښتيا پړاو يو بل ډير ښه شاعر عبدالهادي سهيک عطايي دى. دده ډير لږ شعرونه په افغانستان کې چاپ شوي دي. خو د شعرونو هنري تومنه‌يې ډيره لوړه ده او په هر شعر کې يې ښکلا او مستي، لکه مست هلمند په څپو دي. زما په پوهه سهيک عطايي له خپلو ښکلو شعرونو سره د ويښتيا د پړاو د شاعرانو په استازيو کې ډير لوړ مقام لري.

دغه راز د ويښتيا د پړاو د ادبي آثارو په ژباړونکيو کې د شهيد عزيز-الرحمن الفت (١٣١٥-١٣٦٢ هـ ش) نوم د هيريدونه دى، ځکه ده د غوره داستانونه (د ١٣٤٠ هـ ش کال چاپ) په مجموعه کې د نړۍ د لويو داستان ليکونکيو د داستانونو پښتو ترجمې وړاندې کړې دي.

(٣) استاد روهي د خپل دغه کتاب په مقدمه کې يو ځای کښلي دي: « . .

په ووستيو د يارلس کلونو کې يو شمير شاعران او ليکوال له پلرنی هېواده ليرې ديدلي دي، ليکن ددوی آثار د افغانی فرهنګ نه بيلېدونکی توک ګڼل کيږي. تراوسه پورې د نوموړو شاعرانو او ليکوالو آثار لاس ته نه دي راغلي.. ..».

همدې ستونزې ته په پاملرنه د غربت په ديار کې د ځينو راټوکېدليو ادبی غوټيو يادونه په درېيم پړاو.کې نه ده شوې، نو زما په خيال د دغه لاندې ځوانو کيسه ليکونکيو، شاعرانو، کره کتونکيو، د ادبی آثارو ژباړونکيو او ادبي څېړونکيو يادونې د دغه کتاب د اوښتون په پړاو کې لازمي دي، لکه: استاد محمد آصف صميم، دوکتور محمد اکبر اکبر، اسد الله غضنفر، محمد نسيم ستانيزی، فضل ولی ناګار، زبير شفيقی عصمت قانع، شهرت ننګيال، اروابناد امان الله ساهو (۱۳۳۶ - ۱۳۷۷ هـ ش) امان الله نصرت، د ځوانو شاعرانو لپاره لاربنود او رون مشال پير محمد کاروان، ايمل پسرلی، مصطفی سالک، نورالحبيب نثار، بازمحمد عابد، اکبربری، عبدالمالک بيکسيار، اورنګزيب ارشاد، محی الدين هاشمي، دوکتور فريدبزګر، عصمت الله پسرلی، اجمل پسرلی، سليم قرار او ځينې نور.

د يادونې وړ ده چې د روانې پيړۍ د اويايمی لسيزې په روستيو اتو کلونو کې د افغانستان د پښتو ادبياتو په بڼ کې ډېر نوي تنکی ګلان غوړيدلي دي. په شعر، کيسه، ترجمه، څېړنو او کره کتنو کې خپلې تجربې کوي. ددې ځوانې ډلې شمېره (نام خدا) زياته ده، خو زما په پوهه ددې ډلې استازي دالاندې ښاغلي دي: عبدالغفور ليوال، صديق الله بدر، نورمحمد لاهو، ماليار کاکړ،

نجیب الله عـامر، محمد داؤد وفا، اجمل اند، حفیظ الله تراب، سید اختیار سپاوون، مجید الله قرار، عبدالله پیکار، سید منتظرشاه، شمس الله خوستی، مجاهد الله منګل، رحمت ګل رحمت ځدران، معصومه غرنی، اجمل یوسفزی، آرین یون او نور. په دغې ځوانې ډلې کې ځینې د ډېر عالي استعداد خاوندان دي او امید دي، چې ډېر ژر به د پښتو ادبیاتو تاریخ کې په حقه خپل ځانونه تثبیت کاندي.

د یادو شویو لیکوالو، شاعرانو، ادبي ژباړونکیو او کره کتونکیو په ډله کې زما په فکر ځینې د استازیو په توګه د ځانګړې پیژند ګلوۍ او د آثارو د نمونې دراوړو مستحق دي او ځینې هم د دې پراو په ځانګړیو برخو کې د تشې یادونې.

(٤) زموږ په مفکرو او روښان اندو لیکوالو، ژباړونکیو او حتی وینااوالو کې کاندید اکادمیسین محمد انور نومیالی د ځانګړي سبک او انتقادي مفکورې خاوند دی. دی باید د استحقاق له مخې د دویم پراو په ځینو برخو کې یاد شوی وای. خو بایدووایو چې ددوی د زیات تبارز او د آثارو د چاپید او ایجاد دوران د اوښتون پراو دی، زما په فکر استاد نومیالی هم په دغسې ادبي تاریخونو کې د خپلو ځینو آثارو او ادبي څیړنو پر اساس د استحقاق له مخې د یادونې وړ تیا لري.

(٥) د خپل اثر د درسي ځانګړنو په پام کې لرلو سره استاد روهي دشاګردانو لپاره د پښتونخوا د ادبیاتو یو ښه تصویر وړاندې کړی دی. د اوسنی چاپ لپاره دغه لاندې زیاتونې زما په خیال ضروري ایسیدې.

الف: د هند دنیمې وچې له ویش او آزادۍ نه د مخنې پړاو د شاعرانو او لیکوالو په استازیو کې د ارواښاد فضل محمود مخفي (۱۸۸٤ - ۱۹٤۷م)؛ عبدالاکبر خان اکبر (۱۹۰۰-۱۹۷۷) او ماستر عبدالکریم (۱۹۰۷-۱۹٦۱م) تشې یادونې کافي نه دي او لازمه ایسي چې ځانګړې پېژندنې یې وشي او د آثارو نمونې یې ورکړل شي. دا درې تنه نه یوازې دا چې د آزادۍ بخښونکې ملي نهضت تکړه ملګري او د پاچاخان پلویان وو، بلکه په آثارو کې یې د شکلي، موضوعي او فکري نوښت بېلګې سرې موندلای شي.

په همدغه پړاو کې د جنوبي پښتونخوا د علامه عبدالعلي کاکړ (۱۲۸۹-۱۳٦٤ هـ ق) ځانګړې یادونه هم لازمه ایسیدله. که څه هم د ده شعرونه د موضوع او شکل له مخې زاړه دي، خو په شعر کې یې د هنر چاشنې ځواکمنه ده او ځینې غزلې یې له دې پلوه سرې ډېرې لوړې ارزیابي کولای شي.

ب: پښتو ته ناول لومړی د ترجمې له لیارې راغی او بیا زموږ ځینو نومیالیو لیکوالو هم ناولونه وکښل. میاحسیب ګل کاکاخیل (۵ ۱۳۰هـ ق کال مړ) په ۱۲۹۳ هـ ق کال د ډپټي نذیر احمد مراة العروس - د نقش نګین په نامه - او میا محمد یوسف کاکاخیل په ۱۳۲۳ هـ ق کال دیاد شوي ډپټي نذیر احمد توبة النصوح ناولونه په پښتو کړل. که څه هم میاحسیب ګل له خپلو آثارو سره تر معاصر دورې د مخه د دویمې ادبي دورې په وروستیو پړاوو کې مطالعه کیږي، خو موږ پوهیږو، چې د هرنوي ادبي جریان د رامنځ ته کیدو زړې لاڅه د مخه په ادبي هڅو کې را زرغونیږي او نویو ادبي پرمختیاوو ته لار پرانیزي. څنګه چې ناول - که څه هم ترجمه وي - د معاصرې دورې ادبي ژانر دی نو بویه

چې د پښتونخوا د معاصر ادبي دوران د لومړي پړاو په پس منظر کې د ادبي آثارو د ځینو ژباړونکیو، لکه: میاحسیب گل کاکاخیل، میا محمد یوسف کاکاخیل، د چارسدې غلام محمد پوپلزی (د مسدس حالی ژباړن) یادونې وشي.

ج: زما په پوهه، د پښتونخوا د معاصرو ادبیاتو د دوهم پړاو په سرلارو کې قمر راهی او پیر گوهر د خپلو نوښتگرو ادبي فعالیتونو، ښکلو اشعارو او دځوانو شاعرانو د روزونکو په توگه محمد اشرف خان مفتون، عبدالرحیم مجذوب، ایوب صابر او هاشم بابر د خپلو ځانگړیو سبکونو، خپلو ادبي خدمتونو، په شعر کې د ځینو خاصو رواني تمایلاتو د پاللو او د غربي شعر له روح سره د پښتنو د بلدتیا له امله؛ دوکتور اسرار د طورومردان په نظم او نثر کې د هنر خواته له توجه سربیره، په یوه ځانگړې شیوه د طنزدرواجولو پر اساس او محمد ایاز د اؤدزی له خپلو ادبي سرگرمو سربیره د هنري آثارو د یو داسې کره کتونکي په توگه چې د هنر په اصالت عقیده لري. د شعر او شعار مسأله یې د ادبیاتو په کره کتنه کې د معیار په توگه تر هر چا د مخه مطرح کړې او بالاخره د یو منصف کره کتونکي په توگه د شاعرانو، طنزلیکونکیو او کره کتونیو په ډله کې له تشې یادونې سربیره په حقه د ځانگړې پیژندگلو او په ادبي تاریخ کې د کلام د نمونو د ضبط حقدار دي.

د: مونږ پوهیږو چې زمونږ د ژبې په ادبیاتو کې د ډرامولیکل او ترجمه هم لومړی په پښتونخوا په زیاته د پیښور په حوزه کې پیل شوي دي. په کار دي چې مونږ په خپل معاصر ادبي تاریخ کې د ډرامه لیکوالو او ژباړونکیو نومونه

او د ځینو سرلارو هغو یې ځانګړې پیژند ګلوي هم راوړو. ارواښاد استاد روهي هم یو ځای دا ډول سپارښتنه کړې او دا یې ویلي دي چې په بشپړ ادبي تاریخ کې باید دا کار وشي. د استاد سپارښت بیخي پرځای دی خو دلته د ځینو مشهورو اولومړنیو ډرامه لیکوالو او ژباړونکیو د نامه له یادونې چاره نه لرم، په زیاته هغه ډرامه لیکوال چې د کتاب په منځ کې د لیکوال، شاعر - څیړونکي او کره - کتونکي په حیث نه دي یاد شوي. د کتاب په متن کې راغلي لیکوال او شاعران هم زیاتره ښه ډرامه لیکونکي دي، لکه، ارواښاد سید رسول رسا، ارواښاد استاد حمزه شینواري، ارواښاد خلیق، ارواښاد اکبر، اجمل ختک، پریشان - ختک، قلندر مومند، ارواښاد رضامومندي، اشرف مفتون، ارواښاد عقاب - ختک، سعدالله جان برق، زیتون بانو، سحر یوسفزی، فضل احمدغازي، عبدالکریم بریالی، افضل شوق، دوکتور شیرزمان طایزي، سعید ګوهر او نور. مګر د دې ژانر په ژباړونکیو او لیکوالو کې دا لاندې کسان د هیریدونه دي:

ارواښاد قاضي رحیم الله (۱۸۸۷ - ۱۹٤۱م)، محمد اسلم ختک، ایس، اې رحمان کاکاخیل (۱۹۱۸-۱۹٦۷م) ارواښاد نصرالله خان نصر (۱۹۱۹-۱۹٦٥م) ایس. ډی سوز، مبارک سلطانه شمیم، خالق داد امید، ارواښاد رشید علی دهقان (۱۹۲٦-۱۹۷٤م)، میا عبدالرزاق، امیر نواز جلیا (۱۹۱۰-۱۹۷۹م) اسیر منګل، ارواښاد سعادت خان جلبل (۱۹۱٤-۱۹۷۹م) در محمد کاسی، حفیظ شاداني، عابد شاه عابد، عمرګل - عسکر، محمد همایون هما، عبدالصمد دراني، پیر محمد شارق (۱۹۲۰-۱۹۸٤م) سید بهادرشاه ظفر کاکاخیل او نور...

د یادونې وړ ده، چې په دویمه ډله ډرامه لیکوالو او ډرامه ژباړونکیو کې ځینې نور منظوم او منثور ادبي آثار لري، خو زما په خیال د ځینو یې یوازې د همدغو ډرامو له مخې په ادبي تاریخ کې یادونه کیدای شي.

هـ: د پښتونخوا د ادبي بهیر د دویم پړاو په ترڅ کې چې مورږ د کومو ادبي ځپولتون کوو په کابو وروستیو څپو کې مورږ ځینې داسې لیکوال، شاعران، ډرامه لیکونکي، ادبي څیړونکي او کره کتونکي لرو، چې په ادبي تاریخ کې ځینې یوازې د یادونې او ځینې هم د دویم پړاو د وروستیو پرمختیایي څپو د استازیو په توګه د ځانګړیو پېژندنو او د آثارو د نمونو د معرفي وړتیا لري. دا کسان ډیر دي، خو زه یې یوازې د ځینو نومیالیو نوموونه اخلم:

رحمت شاه سایل، درویش دراني، (استاد یې یوازې یادونه کړې ده)

[درویش او سایل د خپل سرشار ادبي استعداد او خوږې شاعرۍ له امله په کوټه او پیښور کې د ځوانو شاعرانو لپاره د مرجع حیثیت لري. باید ځانګړې معرفي شي او دا شعارو پرزړه وړونکیو نمونویې د ادبي تاریخ پاڼې ښکلې شي] سهیل جعفر، فاروق سرور، نورالبشر نوید، زبیر حسرت، مهجور خیشکي، صاحب شاه صابر، عنایت الله ضیا، مشتاق مجروح یوسفزی، اباسین یوسفزی، رحیم شاه رحیم، سید صابر شاه صابر، سعید رهبر، عرفان ختک، حیران ختک، نادم ختک، عبدالروف خان رفیقي (چمن) شوکت ترین، حنیف خلیل، شاه سعود او ځیني نور.

- زما دریمه او وروستۍ یادونه داده، چې استاد روهي د پښتو ادبیاتو معاصره دوره د افغانستان او پښتونخوا په دووحوزو کې سره بیله مطالعه کړې

ده. دوی چې د دواړو حوزو د بیلې مطالعې لپاره کوم دلایل وړاندې کړي، زما په پوهه د منلو او ستاینې وړ دي. ورسره له علمي ارزښتونو برخور دار او د ادبي تاریخ د نوې مطالعې له روحیې سره برابر، خو زما د نیمګړې مطالعې له مخې د پښتونخوا په شمالي او جنوبي برخو کې - سره له دې چې د واحد سیاسي نظام له خوا اداره کیږي - د ادبیاتو د هستونې او پرمختیا بهیرونه یو شان نه دي، نو بیا چې دا دواړې برخې د دوو ځانګړیو اساسي حوزو په حیث ومنو. د یوې مرکز پېښور او د بلې هغې کوټه دی. له دغو دوو حوزو سربیره موږ په پاکستان او هندوستان کې هم د معاصرو ادبیاتو د ودې لپاره ځینې خاصې زمینې مومو.

د پاکستان د سندهـ په ځینو ښارونو کې، لکه کراچي، حیدرآباد او نورو کې د پښتنو کتله یې دایمي میشتیدنې او د دې سیمو په اوسیدونکیو پښتنو کې د لیکوالو او شاعرانو یوه فعاله موجوده ډله او ورسره د پښتو ادبیاتو دودې لپاره د دوی شعوري هڅې، دا سیمه هم د پښتو ادبیاتو د ایجاد او ودې په لومړۍ درجه فرعي حوزه بدله کړې ده.

هندوستان د پښتو ادبیاتو د پیدایښت او ودې د یوې پخوانۍ فرعي حوزې په توګه، په معاصر دوران کې هم د پښتو ادبیاتو د ایجاد لپاره څه محدودې لږ زمینې لري نو پدې اساس یې وروستۍ درجه فرعي حوزې په توګه له پامه نشو غورځولای.

په وروستیو درېو - څلورو لسیزو کې د خلیج د سیمې کوچنوټو عربي امارتونو او همدا راز عربستان او ورځیرمه نورو عربي سیمو ته د پښتنو د پرله پسې ورتګ په لړ کې د پښتونخوا ډیرو شاعرانو او لیکوالو هم همدغو سیمو

ته ځانونه ورسول او هلته يې د خپلې پرله پسې استوګنې له امله د خپل هنري ذوق د خړوبولو په منظور ادبي ټولنې جوړې کړې؛ د شاعرانو تذکرې يې وليکلې؛ مشاعرې او مجلسونه يې وکړل. که به دغه فعاليتونه پاينبتي شي، نو موږ په زغرده وايو چې دا عربي سيمې به د پښتو ادبياتو د ايجاد او ودې دويمه فرعي حوزه شي.

له دغو لوړو يادونو نه زما مقصد دانه دی، چې ګوندی ارواښاد استاد روهي بايد دغه درسي ادبي تاريخ، د دغو ټولو اساسي او فرعي حوزودننه په خورا بسط او توسعه ليکلی وای، بلکه زما مقصد دادی چې اوس موږ دغه درسي ادبي تاريخ زموږ په هيواد کې د ناوړه حالت له امله د افغانستان له اوسنيو پولو د باندې په آزاد ډول د ادبي تاريخ د عامولو ستونکيو لپاره چاپوو، نو بويه چې د کتاب د اساسي متن له لوستونکيو سره د مرستې په خاطر په مقدمه کې ځينې توضيحي يادونې وکړو. زما په پوهه دا يادونې لازمې وې چې ما وليکلې. د همدې اړتيا له مخې ما د متن په حاشيو کې هم ځينې يادونې راوړې دي.

کاشکې استاد ژوندی وای چې د پښتو ادبياتو معاصره دوره يې له خپلو سپارښتنو سره سمه مفصله ليکلې وای او د پښتو ادبياتو تاريخ د معاصرې دورې يو بشپړ انځور يې په خپل پياوړي قلم له متينو، منطقي او علمي تحليلونو، استدلالونو او تفسيرونو سره په هغه روحيه ليکلی وای، چې اوس به يې ښاغلي لوستونکي د معاصرې دورې په دې درسي ادبي تاريخ کې ګوري. د استاد روهي ارواح دې ښاد وي او د دوی کورنۍ او نورو افغانانو ته دې خدای همت

اته لس

ورکړي چې داستاد خواره واره چاپ شوي آثار او ددوی ناچاپ آثار راټول، چاپ او خلکو ته وړاندې کړي.

زه چې اوس خپلې خبرې بس کوم، غواړم یو ځل بیا ددغه اثر په ساتلو او راوړلو کې ښاغلي پیر محمد وردګ، تورن جنرال شیر محمد کریمي، ښاغلي سید افضل شیرزاد، د چاپ د لګښتونو په برابرلو کې دوکتور خوشحال روهي؛ د کمپوز او مناسبې بیې په اخیستلو کې د ښاغلي عبدالوسیم عزیز او د چاپ د چارو په سمبالښت کې دفرهنګیانو صادق ملګري ښاغلي اسد الله صافي او د کتاب د انګریزي برخو د کتنې له امله دوکتور فضل الرحیم مروت ته کور ودانی ووایم او مننه‌ترې وکړم.

په درناوی

سرمحقق زلمی هیواد مل

نولس

# فهرست

| عنوان | مخ |
|---|---|


سریزه ........................ ۱

**لومړی څپرکی**

ادبپوهنه او د ادب تاریخ ........................ ۵
أدبی ژانرونه ........................ ۱٤
د ادبپوهنې څانګې ........................ ۱۵
د ادبي تاریخ لیکنې میتود ........................ ۱۹

**دویم څپرکی**

د پښتو د ادبی تاریخ دورې څنګه ټاکل کیږي؟ ........................ ۲۸

**دریم څپرکی**

د پښتو معاصر ادب له څه وخت نه پیلیږي؟ ........................ ٤۳

**څلورم څپرکی**

د روښانتیا پړاو ........................ ۵۱
د روښانتیا پړاو ادبی څانګرنې ........................ ۵٦
د روښانتیا پړاو نامتو لیکوال او شاعران ........................ ٦۰
مولوی صالح محمد هوتک ........................ ٦۰
غلام محی الدین افغان ........................ ٦۷
عبدالعلی مستغنی ........................ ۷۱

عبدالهادي داوي .......................... ۷۳
مولوي عبدالواسع کندهاري .......................... ۷۸
ملا عبدالباقي کاکړ .......................... ۸۰


## پنځم څپرکی


دوېښتيا پړاو .......................... ۸۲
نامتو ليکوال او شاعران .......................... ۸۸
ګل پاچا الفت .......................... ۹۳
عبدالحي حبيبی .......................... ۱۰۲
عبدالرؤف بينوا .......................... ۱۰۹
نور محمد تره کی .......................... ۱۱۱
سليمان لايق .......................... ۱۱۶
سعدالدين شپون .......................... ۱۲۵
عبدالباری جهانی .......................... ۱۳۷
قيام الدين خادم .......................... ۱٤۱
صديق الله رښتين .......................... ۱٤۲
عبدالشکور رشاد .......................... ۱٤٤
ددې پړاو نور ليکوال او شاعران .......................... ۱٤۸


## شپږم څپرکی


د اوښتون پړاو .......................... ۱٤۷
ادبي ځانګړتياوې .......................... ۱۵۰
نامتوليکوال او شاعران .......................... ۱۵٤
صديق کاوون .......................... ۱۵۹

اسحاق ننگيال ........................................ ۱٦۲
احمد الله تکل ........................................ ۱٦٤
عارف خزان ........................................ ۱٦٥
امين افغانپور ........................................ ۱٦۸
بريالی باجوړی ........................................ ۱۸۳
زرين انځور ........................................ ۱۹۰
اکبر کرګر ........................................ ۱۹٤
افضل تکور ........................................ ۱۹٥
علی ګلی پيوند ........................................ ۱۹۸
عبيدالله محک ........................................ ۲۰۰
لطيف بهاند ........................................ ۲۰۷
کاڅب پاڅون ........................................ ۲۰۹
خالق رشيد ........................................ ۲۱۱
حفيظ الله خوږلن ........................................ ۲۱۳
ځينی نور ليکوال او شاعران ........................................ ۲۱٤

## اووم ځپرکی

د پښتونخوا ادبی بهير ته يوه کتنه ........................................ ۲۱٦
ادبی ځانګړتياوې ........................................ ۲۲۷
نامتو ليکوال او شاعران ........................................ ۲۳۰
منشی احمد جان ........................................ ۲۳٤
راحت زاخيلی ........................................ ۲۳۸
حمزه شينواری ........................................ ۲٤٤

اجمل ختک ........................ ۲۵٤
عبدالغنی خان غني ........................ ۲٦٤
میر مهدی شاه مهدی ........................ ۲۷۳
عبدالمالک فدا ........................ ۲۸۱
سید رسول رسا ........................ ۲۹۰
یتون بانو ........................ ۲۹۵
قلندر مومند ........................ ۳۰٤
همیش خلیل ........................ ۳۰٦
سعد الله جان برق ........................ ۳۰۸
محمد نواز طایر ........................ ۳۱۰
نور نامتو لیکوال ........................ ۳۱۱
لنډیز او کلي تصویر ........................ ۳۱۳
لغتونه او اصطلاحات ........................ ۳۳٤

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

(د پښتو ادبیاتو تاریخ: دویم ټوک) د پښتو معاصر ادب په باره کې لیکل شوی دی. د کتاب لیکنې اصول دا غوښتنه کوي چې باید د دغه کتاب لومړی څپرکی حذف شوی وای ځکه چې د پښتو داد بي تاریخ باره کې بحث نه کوي.

خو دلته دغه څپرکی د ځینو د لایلو په اساس لیکل شوی دی. لومړی دلیل دادی چې اکثر زده کوونکي، لکه څنګه چې ښایي، د ادب او ادبپوهنې له مفهوم سره پوره آشنا نه دي.

که څوک د ادبیاتو په مفهوم ښه ونه پوهیږي د ادبیاتو د تاریخ لوستلو څخه هم سمه ګټه نشي اخیستلای.

دوهم دلیل دا دی چې ادبپوهان دادبي آثارو په برخه کې یو شانته معیارونه نه لري. د مثال په توګه، ځینې ادبپوهان د تاریخ، عقایدو، فلسفې، ژبپوهنې، سیاست پوهنې، جغرافیې، او داسې نورو څانګو په باره کې لیکل شوي آثار هم داد بیاتو په تاریخ کې راوړي خو ځینې نور ادبپوهان په ادبي تاریخ کې یوازې ژبني هنري آثار تربحث لاندې نیسي. لومړی څپرکې ددې د پاره لیکل شوی دی چې زده کوونکي ادبي آثار له نورو آثارو څخه تفکیک کړي.

په دغه کتاب کې یوازې هغه آثار ترڅېړنې لاندې راغلي دي چې د تخلیقي ادب او تحقیقي ادبیاتو په نامه یادیږي.

دریم دلیل دا دی چې زده کوونکي باید پخپله دادب تاریخ او همدارنګه دادبي تاریخ د لیکنې میتود وپیژني. هر څوک چې غواړي په راتلونکي کې علمي آثارولیکي باید د علم په ټاکلې څانګه کې د څېړنې له میتود سره پوره آشنا وي. کله چې زده کوونکي د څېړنې له میتود سره آشناشي په آسانۍ سره د علمي او غیر علمي نظر یو تر مینځ توپیر کولای شي او په دې پوهیږي چې کومې خبرې له اصلي موضوع سره رابطه لري او کومې یې نه لري. د میتود پیژندنه له زده کوونکي سره مرسته کوي چې هره خبره او نظریه په پټو سترګو ونه مني او پخپله هم د یوې مفکورې د صحت او سقم په باره کې سوچ وکړي. ربښتینې ښوونه او روزنه باید په زده کوونکو کې خلاق او انتقادي فکر وروزي. په دې اساس، که یو زده کوونکی د دغه کتاب کومه نظریه او یا تیزس نه مني او

بل ډول استدلال کوي، ښوونکی باید دده استدلال ته زیات ارزښت ورکړي. لازمه نه ده چې زده کوونکي کټ مټ د کتاب د مؤلف په شان فکر وکړي او یا په کتاب کې راغلې خبره «د کاڼي کرښه» وبولي.

د پښتو ادبیاتو د تاریخ په برخه کې پوهاند حبیبي او پوهاند رښتین د قدر وړ کارونه کړي دي، خو په اوسني وخت کې ځینې نوې څېړنې ددې غوښتنه کوي چې د پښتو ادبیاتو تاریخ د نویو معیارونو په اساس په نوې بڼه ولیکل شي. د دغه کتاب لومړی ټوک سر محقق-زلمی هیوادمل لیکلی دی. د دویم ټوک په لیکنه کې باید د ځینو ستو-نزو یادونه هم وکړو.

لومړی ستونزه داده چې ادبي تاریخ باید د ټولنیزو، سیاسی، اقتصادي، او کلتوري فاکتورونو (عواملو) سره په ارتباط کې و څېړل شي. د دغو عواملو سمه تشریح ډیره مشکله ده. د افغانانو د ټولنیزې سایکالوجۍ او تاریخ په باره کې ختیځ پوهانو ډیرې څېړنې کړې دي، خو داسې ښکاري چې دغه څېړنې ژورې نه وې. په دغه کتاب کې یوازې هغه عمومي معلومات وړاندې شوي دي چې د ادبي جریانونو له پیژندلو سره مرسته کوي.

دوهمه ستونزه داده چې د پښتو معاصر ادبي نهضتونه په ټولو پښتني سیمو کې یو شانته نه دي. د پښتنو په هغه سیمه کې چې انګریزي استعمار له خپل اصلی پیکرنه بیله کړه، ادبی جریانات په جلا بڼه منځ ته راغلل چې نشي کیدای په افغانستان کې د پښتو ادبي جریاناتو په شان

تصنیف شي. د پښتو معاصر ادب تر زیاتې اندازې له سیاسي جریانو نو سره جوخت انکشاف کړی دی او له همدې امله د افغانستان او پښتونخوا ادبیات د علمي تصنیف ( کلاسیفیکیشن ) له پلوه یو له بله جلا څیړل شوي، خو په اصل کې دا دواړه څانګې د یوه واحد هنري فرهنګ ښکارندوی دي.

دریمه ستونزه داده چې په وروستیو د یارلس کلونو کې یو شمېر شاعران اولیکوال له پلرني هېواد نه د باندې ووتل او هلته یې ادبي آثار ایجاد او خپاره کړل. دوی که څه هم له هېواد نه لیرې دي، لیکن د دوی آثار د افغاني فرهنګ نه بېلېدونکی توک ګڼل کیږي.

تر اوسه پورې د نوموړو شاعرانو او لیکوالو آثار لاس ته نه دي راغلي. بر سېره پر دې، د پښتو نخوا څخه هم په منظمه توګه خپرونې نه رارسیږی. داد بې تاریخ لیکونکي په دغسې شرایطو کې د ادبي جریان بشپړ تصویر نشيي ایستلای. له د غو او دغسې نورو ستونزو سره سره، باید دغه و جیزه له یاده ونه باسو چې وایي: «که څوک غواړي چې بې عیبه دوست پیدا کړی هغه به بې دوسته پاتې شي او که څوک غواړي چې بې عیبه کتاب و لیکي هغه به هیڅ شی هم ونشي لیکلای. »

کاندید اکاد میسین محمد صدیق روهي

۱۸/۱۲/۱۳۷۰

لومړی څپرکی

# ادبپوهنه او دادب تاریخ

## د ادب او ادبیاتو پېژندنه

ترشلمې میلادي پېړۍ پورې د افغانستان پوهان د لوېدېځې نړۍ له ساینس، تکنالوجی، هنر او فلسفې سره پوره آشنا نه وو او زیاتره یې د عربي او خراسان د پوهانو له آثارو څخه استفاده کوله. عربي او خراساني پوهانو به د بوې علمي مقبولې لغوي او اصطلاحي معناګانې شرح کولې.

ددوی په نظر، ادب په لغت کې پوهې، زیرکۍ، اخلاقي تهذیب او فضلیت ته وېل کیږي او په اصطلاح کې ادب هغه پوهه او ریاضت دی چې انسان ته فضیلت وربه برخه کوي او په خپلو کړو وړو کې یې له سهوې اوښو ببدنې څخه ژغوري. ددغو پوهانو په عقیده، ادب پر دوه

ډوله دی: (۱) فطري چې په ښوخويونو او معاشرتي تهذيب پورې اړه لري؛

(۲) اکتسابي چې له نورو خلکو څخه زده کيږي او د بليغې وينا لارې چارې ښيي.

اوسني ادبي کره کتونکي د ادب په برخه کې پردغسې يادونو قناعت نه کوي. لومړی، دا چې ادب د اخلاقپوهنې (Ethics) له پلوه بېله مقوله ده او د ښکلا پوهنې (Aesthetics) له نظره بله مقوله ده. دلته زيارايستل شوی دی، چې اخلاقي او استيتيکي مقولې سره توحيد کړي. دوهم، دا چې اخلاق فطري نه دي، بلکې د بليغې وينا په څيراکتسابي دي او له ټولنې څخه زده کېږي.

د يادو شوو پوهانو په نظر، ادبي علوم هغو پوهنو ته ويل کېږی، چې د بليغې وينا لارې چارې او احوال راښيي. دوی د ادب دوېش په برخه کې پوشاتنه نظر نه لري څينې يې پراتو څانگو، څينې يې پر دولسو او څينې نوريې پر څوارلس څانگوويشي څينې پوهان دادب د علم اصول او فروع سره جلا کوي. په لاندې وېش کې اصول او فروع په شلو څانگو سره جلاشوي دي. د ادب د علم اصول دادي: لغت، صرف، نحو، اشتقاق، معاني، بيان، بديع، عروض، اوقافيه.

د ادب د علم فروع دادي: خط، نقد الشعر (قرض الشعر)، انشأ، محاضرات، تاريخ او قصص، انساب، مسالک او ممالک، امثال، دواوين، اغلوطات، او روايت.

له پورتني وېش څخه څرګندېږي چې ژبپوهنه، تاريخ، جغرافيا، او اتنواګرافي هم د ادب تر سر ليک (عنوان) لاندې مطالعه کېدل. په اوسني وخت کې لغت، صرف، نحو، اشتقاق د ژبپوهنې څانګې ګڼل کېږي. تاريخ او قصص په تاريخ پورې اړه لري (قصص په فوکلور کې هم څېړل کېږي )، انساب د اتنوګرافۍ څانګه ده او مسالک په جغرافيا کې تر بحث لاندې نيول کېږي.

دا هم بايد وويل شي چې په پښتو ژبه کې ادب او ادبيات هماغه يو مفهوم افاده کوي.

د ادبياتو کلمه که څه هم د ادب له کلمې څخه راغلې ده خو په عربي ژبه کې (ادبيات) څوک نه پېژني، ويل کېږي چې ادبيات، رياضيات، طبيعيات، اجتماعيات، شرعيات، خلقيات (فوکلور) او داسې نور الفاظ د يوې تاکلې قاعدې په اساس جوړ شوي دي.

د مثال په توګه، د (اجتماعيات) کلمه په اصل کې علوم اجتماعيه وه چې د علوم کلمه ترې حذف شوې ده او اجتماعيه په (ات) سره جمع شوې ده. په همدې ترتيب، ادبيات هم په اصل کې علوم ادبيه وه چې مضاف يعني (علوم) حذف شوي او مضاف اليه (ادبيه) د عربي د مونث جمعې په توګه جمع شوي او (ادبيات) ترې جوړ شوي دي. اروپايي ژبو کې هم د يو شمېر پوهنو نومونې د جمعې په شکل راغلي دي، لکه: فزيکس، ارتېتکس، متامتيکس، استيتيکس، ايتکس، او نور. نو ددې احتمال شته چې د طبيعيات او رياضيات په شان کلمې دې د اروپايي ژبو په تقليد جوړې شوې وي.

## ادب او د ادبپوهنه په لویدیځه نړۍ کې:

لکه مخکې موچې ووېل ادب او ادبیات مترادف کلمات دي.

ځینې ادبپوهان په دې عقیده دی چې دا دواړې کملې کټ مټ یو مفهوم نه افاده کوي ځکه چې په لویدیځه نړۍ کې ادبیات (Literature) د ټولو چاپي آثارو مجموعې ته ویل کېږي. د مثال په توګه، طبي ادبیات هغو ټولو چاپي آثارو ته وایي چې د طب په باره کې لیکل شوي وي. یا دا چې مارکسستي ادبیات پر هغو ټولو خبرو اطلاق کېږي چې د مارکسستي ایډیالوجۍ د تبلیغ د پاره لیکل شوي وي.

په لویدیځه نړۍ کې د هنري ادبیاتو یا بد یعنې ادب د پاره فرانسوي کلمه (بېل لېټر belles Lettres) هم پکار ېږي.

که ادبیات د چاپي آثارو په معنا واخلو نو په هغه صورت کې به د ادبیاتو په تاریخ کې د فزیک، هندسې، جغرافیې، منطق او داسې نورو پوهنو په باره کې هم معلومات ورکوو، په داسې حال کې چې داد بیاتو په تاریخ کې یوازې په ژبنیو هنري آثارو باندې بحث کیږي.

دادب د کلمې په برخه کې هغه غلط فهمي مینځ ته نه راځي، چې د ادبیاتو له کلمې ځخه پیدا کېږي.

د مثال په توګه، مورډ «طبی ادب» اصطلاح نشوپکا رولی. که د مارکسستي ادب اصطلاح استعمال کړو نو هلته به مقصد هغه ژبنی هنري آثار وي چې د مارکسیزم د تیوري تر اغیزې لاندې ایجاد شوي وي، نه هر ډول تبلیغاتي آثار، سره له دې، باید یادونه وشي چې «مارکستی

ادب » نا مأنوسه اصطلاح ده دلته یوازې د مطلب د توضیح د پاره وکارول شوه.

له د غویادونونه وروسته هرو مرو دا پوښتنه په ذهن کې را ولاړیږي، چې پخپله ادب څه شي ته ویل کیږي. په دې باره کې د ادبپوهانو له خوا یو واحد منل شوی تعریف نه دی وړاندې شوی.

زیاتره ادبپوهان ادب داسې تعریفوي: ادب یو ژبني هنر دی چې واقعیتونه په انځورونو کې وړاندې کوي. دا نځور (تصویر یا ایماژ) څخه مقصد دادی چې ادب واقعیت کټ مټ او په مستقیمه توګه نه ښانوي، بلکې د ادبي اثر د لیکونکي له خوا په ښکلي او احساس پاروونکي شکل وړاندې کیږي. یا په بله ژبه، نو ښتګر ( شاعر یا کیسه لیکونکی ) له واقعیت څخه خپله انطباع او بر داشت په عاطفي بڼه انځوروي. د همدې مفکورې په اساس ویل کیږي چې بیا جوړونه (باز- آفریني) دا دب او په عام ډول د هنر یوه مهمه ځانګړنه ده. د ادب دغه ځانګړنه د تخییل په مرسته تر سره کیږي. تصویر جوړونه په حقیقت کې د تخیل له قدرت سره مستقیم اړیکي لري. ځینې ادبپوهان د خیال، ایماژ، او ذهني انځور کلمې په یوه مفهوم سره کاروي.

د ادبي اثر (شعر، کیسه، ډرامه، طنز او داسې نورو) تر ټولو عمده خاصیت د احساس انتقال دی. که یو ادبي اثر احساس ونه لېږدوي او د اوریدونکي یا لوستونکي پر عواطفو اغیزه ونه کړي نو هغه ادبي اثر نه دی.

**علامه اقبال وايي:**

حق اگر سوزی ندارد حکمت است
شعر میگردد چو سوز از دل گرفت

ددې خبرې معنی داده: کله چې واقعیت پر عواطفو اغیزه ونه کړي، نو دا د ساینس او حکمت په کټیګورۍ کې راځي او که په مقابل لورې کې هیجان او احساس راوپاروي نو شعر ګڼل کیږي. د واقعیت اصطلاح هم یو څه توضیح غواړي.

په شعر او داستان ( په تېره په فوکلوري منکلونو یا ساینس فېکشن) کې داسې پېښې بیا نیږي، چې واقعیت نه لري. د ادب په تعریف کې له واقعیت څخه مقصد دادی چې د پېښې مواد له ژوند او واقعیت څخه اخیستل کیږي. د مثال په توګه، په یوناني اسطوروکې د (سفېنکس) په نامه یو حیوان دی چې سر یې د انسان او تنه یې د زمري ده. په هنر کې دا هم یو ډول واقعیت ګڼل کیږي، ځکه چې د انسان سر او د زمري تنه دواړه واقعي وجود لري، چې د تخیل په مرسته سره ترکیب شوي دي. البته که له واقعیت څخه مراد یوازې هغه شیان او پېښې وي چې کټ مټ خارجي وجود ولري او یا یې در لودلی وي، نو په دې صورت کې د ادب له تعریف څخه باید د واقعیت کلمه حذف شي ځکه چې په ادبیاتو کې اسطورې، افسانې، فانتېزي، او له مبالغې ډک شعرونه هم شامل دي.

ښایي وویل شي که ادب واقعیت نه بیانوي نو ګټه یې څه ده؟

دریالېزم (واقعیت پالنې) پلویان په دې ټکي ټینګار کوي چې ادب باید ټیپیک حالات په ټیپیکو څېرو کې تمثیل کړي. یا په بله ژبه، ادب باید د ټولنېز ژوند هنداره وي. ځېنې نور په دې عقیده دي چې ادب( او په عام ډول هنر) د انساني روح روزونکي دي. ادب مستقیماً نصحیت نه کوي خو یوه پېښه په داسې ډول بیانوي چې اورېدونکي یا لوستونکي د هغې داورېدلو یا لوستلو په اثر له شریف انسان سره مینه پیدا کړي او له پست انسان نه کرکه. ادب د ساینس په شان مستقیماً واقعیتونه نه بیانوي، خو دیو شعر یا داستان له لوستلو وروسته د شخص په سلوک او د تفکر په ډول کې مثبت تغییر را منځ ته کېږي. د مثال په توګه، موږ له یوه نژاد، قوم، یا کومې خاصې فرقې نه کرکه کوو، کله چې د هغو خلکو په باره کې داستان لولو نو دې حقیقت ته رسیږو، چې هغوی هم زموږ په شان انسانان دي، لکه څنګه چې ښه او بد خلک شته په دوی کې هم شته، لکه څنګه چې موږ د سپېڅلي ژوند سره مینه لرو هغوی هم داسې دي. نو هنري ادبیات زیاتره د انسان د نفساني حالاتو، انګېرنو، او آرمانونو څرګندوونکي دي او د عواطفو په تصفیه کولو سره پر انسان دو مره اغېزه کوي چې ساینس او فلسفه هغو مره اغېزه نشي درلود لی. ساینس او ټکنالوجي موږ ته د ژوند وسایل برابر وي، مګر ادبیات په ژوند کې خوند، ښکلا، او سپېڅلتیا پیدا کوي او معنویاتو ته خدمت کوي. ادب، ژوند ښکلی کوي او په انسانانو کې همدردي پیدا کوي.

د ادبیاتو د تعریف، هدف، وظیفې، او مېتود د څرنګوالی په

باره کې بیلا بیلې نظر یې وړاندې شوې دي او زیاتره یې د سیاسي فلسفې سره پیوستون لري. د مثال په توګه، ځینې ادبپوهان وايي چې ادبیات باید متعهد وي؛ د زیارایستونکو د ګټو ملاتړ وکړي او د استعمار سره مبارزه یکې انعکاس ومومي. د ځینو نورو په نظر، ادبیات باید د انسان ایستیتیکي (ښکلاییز) ذوق تسکین کړي. سرکښه غرایز تعمیري هدفونو ته متوجه کړي؛ شډل ذوقونه تربیه کړي، د غمونو او اندېښنو په وخت کې انسان ته تسلي ورکړي؛ د مصیبت ځپلو د پاره پنا ګاه شي او د شتمنو د پاره د تفنن یوه سپېڅلې وسیله وګرځي. همدارنګه د هنري میتود په برخه کې شاعران او لیکوال د خپل ذوق سره سم یو میتود انتخابوي. نامتو هنري میتود ونه یا ادبي مکتبونه دادي: کلاسېسیزم، رمانتسیزم، ریالیزم، نېچرالیزم (ناتورالسیم)، سمبولیزم، سوریالیزم، او داسې نور. اکزیستنسیالیزم که څه هم فلسفي مکتب دی خود غه فلسفه د یو شمېر د استانونو په واسطه شرح شوې ده نو ځکه هغه ادبي مکتب هم ګڼل کیږي.

تر دې ځایه مو د ادب او ادبیاتو مقولې په لنډه توګه توضیح کړې. اوس به د ادبپوهنې اصطلاح (یا مقوله) توضیح کړو. ادبپوهنې ته ادبي څیړنې هم وايي.

سربېره پردې، پخپله (ادبیات) هم داد بپوهنې په مفهوم کارول کیږي. وايي چې ادبیات دوې څانګې لري: تخلیقي ادبیات او تحقیقي ادبیات، تخلیقي هنري یا (بدیعي) ادبیات ادبي آثاروته ویل کیږي

لکه: داستان، شعر، ډرامه، طنز، ادبي مقالې، ادبي ټوټې، تکل او داسې نور ادبي ژانرونه. تحقیقي ادبیات د ادبي آثارو د ماهیت، منشأ او تکامل او څرنګوالي په باره کې څېړنې کوي. تحقیقي ادبیاتو ته ادبپوهنه یا ادبي څېړنې وېل کېږي. یا په بله ژبه، تخلیقي ادبیات ژبني هنري آثار دي او تحقیقي ادبیات د دغسې آثارو په باره کې بحث او څېړنه ده.

تخلیقي ادبیات پخپله ادبیات دي او د هنر څانګه ګڼل کېږي.

(د هنر نورې څانګې د ادي: نقاشي، پیکر جوړونه (مجسمه جوړونه)، معماري، موسیقي، ډراماټرجي، سینماتوګرافي، نڅا او دد غو هنرونو ځینې ورې څانګې.) اما تحقیقي ادبیات یا ادبپوهنه علم دی. البته ادبپوهنه د طبیعي پوهنو په شان د قیق علم نه دی ځکه چې په یو شمېر مسایلو کې د ادبپوهانو تر منځ توافق نشته. د دغه اختلاف عمده دلیل دادی چې د ادبي آثارو په باره کې انفراد ي ذوق او د پوهانو نړۍ لېد هم اغېزه لري. په طبیعي پوهنو کې عیني تجربه او اندازه کول د یوې فرضیې صحت او سقم ټاکي خو په ادبپوهنه کې شخصي تجربه او ذوق زیات نقش لري او معیارونه یې نسبي دي. د مثال په توګه، د یوه شعر د ښکلا د معلوملو د پاره دقیق معیار نشته خو ددې خبرې معنادا نه ده چې ادبپوهنه قواعد او نور مونه (معیارونه) نه لري. دا یوه پېچلې موضوع ده چې ادبي تیوري یا ایستیتیکی (ښکلاپوهنه) وربانديي څېړنه کوي. د ښکلا پوهنې ساحه له ادبي تیوري نه پراخه ده ځکه چې

هغه په هنر باندي بحث کوي.

د ډرامې په باره کې موږ ووېل چې ډرامه اثر دی اوله بلې خوا مو هغه دډراماتېرجي په نامه د هنر جلا څانګه وګڼله. په اصل کې ډرامه ادبي اثر دی خو څرنګه چې په وروستېو - وختوکي ډرامې زيات اهميت پېدا کړی دی او ډرامه ښوونه يو لړ نورو تکنېکونو ته اړتيا لري نو ډراماتېرجي ( د ډرامې پوهنه يا د ډرامې فن ) د هنر جلا څانګه ګڼل کېږي.

## ادبي ژانرونه:

ژانــر(genre) فرانسوي کلمه ده چې د نوع يا ډول معنا لري. ادبي آثار د شکل يا تکنيک له پلوه دېوه يا بل ژانر په ګتېګوري کې راځي. پخوا په اروپا کې دغه ژانرونه منل شوي وو:

اېپيک، لېريک، اوډراماتيک. د ځېنو نورو ادبپوهانو په عقيده، عنعنه يي ژانرونه دا وو:

تراژېدي، کمېدي، اېپيک، لېريک، اوپا ستورال (د شپنو سندرې).

داېپيک (حماسي) ځېنې نامتو بېلګې (نمونې) دا دي: د (هومر) اېلياد او اوډېسې، د لرغونې انګرېزي ژبې بېوولف، د خيټځ هند مها بهاراته، اسپانوي سېد، د (فردوسي) شاهنامه، د پښتو آدم- درخانې چې دغه ډول حماسې له فوکلوره راغلې دي. د ځېنو هنري حماسونومونه دادي: د (وېرژېل) انييد، د (دانتې) رباني کميدي، د

(مېلتمن) ورک شوی جنت. لېريک (غنايي) اشعار د تخيل، هيجان او ترنم څرګندې نخښې له ځانه سره لري او د شاعر مشخص احساسات څرګندوي. دلېريک کلمه له (لاتين) يوناني لغت څخه مشتق شوې ده. (لاېر) د موسيقي يو ډول تاريزه آله وه چې سندرې به ورسره ويل کيدې.

په اوسني وخت کې ناول، لنډه کيسه، آزاد شعر، ادبي مقاله، ادبي ټوټې، طنز، او چرک او ځينې نور ژانرونه هم باب شوي دي.

دا هم بايد ووېل شي چې د ژانر اصطلاح په پراخ مفهوم استعمالېږي. د مثال په توګه، داستان يا کيسه ادبي ژانر دی. داستان ډېر ډولونه لري، لکه: نکل، رومانس، ناول (رومان)، لنډه کيسه، حکايت، قصه او داسې نور چې دغه هر ډول بيا هم د ژانر په نامه يادېږي. همدارنګه شعر ژانر دی غزل، قصيده، مثنوي، رباعي او داسې نور و ته هم ژانرونه ويل کېږي. ادبپوهانو دغه مسأله په دقيق ډول نه ده حل کړې.

## د ادبپوهنې څانګې:

ادبپوهنه په دروغتو څانګو وېشل شوې ده: ادبي تيوري، ادبي کره کتنه، او ادبي تاريخ. ادبپوهنه ځينې نورې څانګې هم لري، لکه ادبي هېستيوګرافي (د ادبي تاريخ لېکنې مېتود ولوجي)، ټکستولوجي (د متن څېړنې مېتود ولوجي)، سبک پېژندنه، بيبليوګرافي (کتاب ښود) او د راما ترجي. خو لکه مخکې چې موږ وويل د راماترجي د سينماتوګرافي په شان د هنر پوهنې جلا څانګه ده. اوسنی

تمایل دادی چې هغه د اد بپوهنې په ساحه کې ونه ځېړل شي.

ادبي تیوري ( د ادب تیوري) ، د ادبي آثار وپرمنشأ ، ماهیت، تکامل، ارزښت، او دارزیابی پر مېتود او پرنسیپونو بحث کوي. د ادب تیوري داد بپوهنې د نور څانګو د پاره اصول او نور مونه تهیه کوي. د مثال په توګه، ادبي کره کتونکی چې یو ادبي اثر ارزیابی کوي. د ارزیابۍ معیارونه له ادبي تیوري څخه تر لاسه کوي. ادبي تیوري په واقعیت کې د ادب فلسفه ده. (فلسفه د شیانو او پدېدو پر مبداء، غایه، حقیقت، انکشاف، او ارزښت باندې بحث کوي او دا هغه مسألې دي چې معمولاً د ساینس له خوا نه څېړل کېږي.) په ادبي تیوري کې داسې مسألې طرح کېږي: ادب غایه که وسیله؟ په ادب کې مفکوره زیات ارزښت لري او که د مفکورې د افاده کولو شکل؟ په ادب کې انتفاعی اړخ مهم دی او که ښکلاییز؟ ادب د تولید له شکل سره زیات نژد یوالی لري که له تولنېزې سایکالوجۍ سره؟ په عمومي ډول ویلای شو چې ادبي تېوري د ادبپوه له ایډیالوجی او نړۍ لېد سره پېوستون لري. د مثال په توګه، ځینې ادبپوهان پاملرنه کوي او په دې عقېده دي چې ادب باېد د ژوند مادي اړتیا و و اوسیاسی تبلیغاتو ته وقف نشي، بلکې د خلکو اېستېتیکي او هنري غوښتنو ته ځواب ووایي.

د ادبپوهنې بله څانګه ادبي کره کتنه ده. ادبي کره کتنه پراوسنیو ادبي آثار وباندې قضاوت کوي او د هغو ښه او بد، ښکلي او بدرنګه اړخونه را برسېره کوي. په ادبي کره کتنه (ادبي نقد) کې بايد له

شخصي حب او بغض او توهين او سپکاوي څخه د ده وشي او د دې پر ځای له مهذبې، علمي او اکاډمیک ژبې څخه کار واخیستل شي. دادبي کره کتنې هدف دا دی چې له لوستونکي سره د ادبي اثر د ارزیابي په برخه کې مرسته وکړي او لیکونکي ته لار ښوونه وکړي چې د خپلې لیکنې نیمګړتیاوې او ښیګنې وپیژني.

دا هم باید ووایو چې ادبي کره کتنه په هغه ټولنه کې ښه نتیجه ورکوي چې هلته د بیان او تخلیق آزادي موجوده وي او فرهنګي او سیاسي پلورالیزم ته اجازه ورکړ شوې وي. بالعکس، که په یوه ټولنه کې دوجدان او عقیدې د څرګندولو آزادي نه وي نو هلته ادبي کره کتنه د ټولنیز کنټرول، اختناق، او سانسور د وسیلې په توګه استعمالیږي.

ادبي کره کتنه د یوه ادبي اثر ارزښت څرګندوي. ارزښت پوهنه (اکسیالوجی) چې ښه او بد، ښکلی او کرغېړن تر بحث لاندې نیسي د فلسفې یوه څانګه ده: په دې اساس، ادبي کره کتنه دقیق علم نه دی، بلکې د فلسفې سره اړه پیدا کوي. دا څرګنده ده چې د ارزښتونو په باب د خلکو نظریې یو له بله توپیر لري. د مثال په توګه، ځینې ادبي کره-کتونکي د یوه اثر تربیتي اړخ ته اهمیت ورکوي، ځینې یې معرفتي اړخ ته، او ځینې نورېې هنري او بدیعي اړخ ته په زیات ارزښت قایل دي. ځینې د یوه ادبي اثر مضمون او مفکورې ته او ځینې یې جوړښت، سبک او شکل ته زیات قیمت ورکوي.

دا د پوهنې بله مهمه څانګه ادبي تاریخ دی چې د ادب تاریخ او

ادبیاتو تاریخ هم ورته وېل کېږي. څرنګه چې دغه کتاب داد بیاتو تاریخ دی نو په دې برخه کې به یو څه په تفصیل سره خبرې وکړو.

## دادبي تاریخ موضوع او دلیکنې میتود :

دادبي تاریخ د موضوع په باب بېلا بېلې نظریې څرګندې شوې دي. ددغو نظریو په یوه قطب کې هغه نظریه ده چې دادب تاریخ د فرهنګ له تاریخ سره یو شانته ګڼي.

ددغې نظریې په اساس، دادب تاریخ د یوملت د علمي، ادبي، فکري او هنري ترقی او یا تنزل د حالاتو بیان او د تاریخ د هرې دورې د حالاتو ښوونکی دی.

په دغه تعریف کې ساینس، فلسفه، عقاید، هنر، او نورې کلتوري پدیدې هم شاملې دي. پدې ترتیب دادب اصطلاح د فرهنګ مترادفه ګڼل شوې ده.

په بل قطب کې هغه نظریه ده چې دادب تاریخ دادبي تنګ کړې سطحې ته را ټیټوي او په هغه کې د کرونو لوجي په اساس د شاعرانو او ادیبانو د ژوند حالات او آثار معرفي کوي. ددغو دووقطبونو ترمنځ یو څو نامتو تعریفونه په دې ډول دي:

۱ - دادب تاریخ هغه پوهنه ده چې د هنري ادبیاتو د پېدا ښېت او ودې جریان له تاریخي شرایطو سره د ارتباط په ترڅ کې څېړي.

۲ -ادبي تاریخ د انسان ژوند، لکه څومره يې چې په ادب (هنري ادبیاتو) کې تجلي کړې ده، رابرسېره کوي.

۳-د یوې ژبې ادبي تاریخ باید د هغې ژبې د ویونکو کلتور په چوکاټ کې وڅېړل شي.

اوسنی عمومی تمایل دادی چې ادبي تاریخ باید ژبني هنري آثار ( تحریري او شفاهی ) له هغو شرایطو سره په ارتباط کې وڅېړي چې نوموړي آثار پکې ایجاد شوي دي .

## د ادبی تاریخ د لیکنې مېتود :

مېتود په اصل کې د ( مېتودوس) په بڼه یوناني کلمه ده چې په لغت کې طرزالعمل (د یوې چارې د سرته رسولو طریقې) ته ویل کېږي. په عربی - دري - پښتو ژبو کې د مېتود په ځای د اسلوب، طریقې، روش، دود کلمې هم استعمالېږي. مېتود ولوجی د مېتود پوهنې معنی لري. مېتود ولوجي د فلسفې یوه څانگه ده چې په عام ډول د علم او په خاصه توگه د هر ځانگړي علم د څېړنې منطقي اصول بیانوي.

له پورتنی یادونې څخه جوتیږي چې هر علم د څېړنې ځانگړی مېتود لري. البته کومې پوهنې چې گډ خصوصیات لري، د هغو د څېړنې مېتود و نه هم سره ورته دي. د مثال په توگه، طبیعي علوم له تجربې مېتود څخه استفاده کوي. بشري علوم هم له تجربي مېتود څخه گټه اخلي خود طبیعي علومو مېتود کټ مټ وربانډې نشي تطبیقېدلای.

ادبی تاریخ هم له علمي مېتود څخه کار اخلي خو لکه څنگه چې مخکې وویل شول په ادبپوهنه کې د پوهانو تر منځ عمومي موافقه په ندرت سره لېدل کېږي. په طبیعي علومو کې د پوهانو تر منځ عمومي

مواقفه حتمي ده ځکه چې هلته هر څه د تجربې له لارې اثبات ته رسېږي، لېکن په ادبیاتو کې انفرادي ذوق او شخصي تجربه (چې له علمي تجربې سره توپیر لري) زیات نقش لري. د مثال په توګه، مورد بناپېر بو او د بوانو کیسه په دې سبب چې واقعیت نه لري د ادبي آثار و له فهرست څخه نه وباسو، بلکې د هغې عاطفي اغیزه او هنري ارزښت په پام کې نیسو.

په ادبي تاریخ کې له تاریخي، ادبي مېتود څخه کار اخیستل کېږي. په دې معنی چې ادبي تاریخ په حقیقت کې هغه تاریخ دی چې ادبي پدېدې څېړي او له همدې امله د تاریخ او ادبپوهنې له مېتود و نو څخه استفاده کوي. تاریخي مېتود په دې باره کې څېړنه کوي چې یو ادبي اثر چېرته، کله، د چا له خوا، په څه ډول شرایطو کې ایجاد شوی دی او له پخوانو او معاصرو آثارو سره څه ډول رابطه لري. تاریخي مېتود که څه هم د یوه ادبي متن په اصالت باندې په تفصیل سره بحث نه کوي خو هغه باید په دې برخه کې معلومات ولري، چې متن اصلي دی که تحریف شوی یا جعلي. دمتن د اصالت معلوم ول ټکستیولوجې (متن څېړنه) پورې اړه لري. د ضرورت په وخت کې ادبي مورخ له متن څېړونکي څخه مرسته غواړي. همدارنګه دلیکوال یا شاعر د ژوند لیک (بیو ګرافي) په برخه کې ادبي مورخ له ادبي تذکرو څخه استفاده کوي. په ادبي تذکرو کې د لیکوال یا شاعر شهرت (نوم، تخلص، لقب، مستعار نوم، د پلار او مور نوم، کورنۍ، نامتو خپلوان، تحصیل ټولنیز

-اقتصادي موقف، کسب او کار) ، نسب (قبیله، قوم) د ژوند چاپیریال (دمړینې او زیږېدو ځای، کلی، سیمه، ښار) د ښخید وځای، د ژوند لوړې ژورې (اقتصادي وضع، بندي توب، مهاجرت) ، ملګري، مخالفان، مذهبي، سیاسي عقاید، د آثار ونوموښه او داسې نور راځي.

دا دبي مورخ کار د تذکره لیکونکي له کار سره توپیر لري. په ادبي تاریخ کې یوازې د هغو لیکوالو او شاعرانو پر ژوند او افکارو باندې مفصل بحث کېږي چې د یوه ادبي سبک یا ادبي مکتب بنسټ ایښودونکي یا غوره استازی وي او د هغه دایجاداتو په هېنداره کې دده د زمانې فرهنګي اوضاع (او تر یوې اندازې تولنیز، سیاسي، او اقتصادي حالات) منعکس کېږي.

برسېره پردې، ځینې لیکوال او شاعران بې له دې چې د کوم ادبي تحول ښکارندوی وي، یوازې د هنري کمال له نظره تر بحث لاندې نیول کېږي.

ادبي تذکرې چې د لیکوالو او شاعرانو ژوند لیک (بیوګرافی) بیانوي له ادبي تاریخ سره -چې په یوه ټاکلي زمان، مکان، او ژبه کې د ټولنې ادبي جریان او تحول څېړي- توپیر لري. «ادبي تاریخ د ژبې تاریخ نه دی، که څه هم د ژبې سره ښکاره سروکار لري.»

څرنګه چې ادب یو ژبنی هنر دی او د ژبې ماهرانه او ظریفانه استعمال په ادبیاتو کې خاص اهمیت لري نو ځینو ادبي مورخانو داد بې اثر په تحلیل کې الفاظو او ګرامر ته زیاته پاملرنه کړې ده. په دې کې

شک نشته چې د ادبیاتو مورخ په خپل تحلیل کې د هنري ژبې اغېزه په پام کې نیسي خو یوازې ژبنی تحلیل کافي نه دی، بلکې په مجموع کې دادبي اثر هنري اغېزه او تربیتي او معرفتي ارزښتونه دادبي تحلیل مهمې ستنې گڼل کیږي.

ادبي تاریخ د ادبي کره کتنې (نقد) تاریخ هم نه دی. که څه هم چې ادبي تاریخ داد بي آثارو پرښېگڼو او نیمگړتیاوو بحث کوي خو دا کار دده ضمني وظیفه ده. ادبي مؤرخ زیاتره پراد بي تطور او جرپان باندې خبرې کوي.

ادبي تاریخ د ادبي متن تحلیل هم نه دی، که څه هم چې ادبي مورخ د یوه متن پر صحت او مجعولیت باندې د بحث کولو حق لري.

له پورتنیو یادونو څخه داسې نتیجه اخلو چې ادبي مورخ باید په ژبپوهنه، ادبي کره کتنه، او متن پېژندنه کې کافي او لازم معلومات ولري، لیکن دده اصلي هدف د ادب د عروج او نزول څېړنه ده. ادبي مورخ باید ادبي پېښې له نورو پېښو سره چې پر ادبي تطور اغیزه کوي یو ځای وڅیړي.

د هغو پېښو له څېړلو څخه چې دادبي جریان سره منطقي ارتباط نه لري، باید ډډه وشي.

دادبي تاریخ په لیکنه کې ترکومې اندازې چې ممکنه وي باید له شخصي، قومي، طبقاتي، اوایډیالوجیکي، تعصب څخه کار وانخیستل شي او د اوبجکتیویتي اصل په پام کې ونیول شي. دادبي

تاریخ په لیکنه کې باید تر ممکنې اندازې له لومړي لاس (اوریجینل) یا اصلي مأخذ و څخه استفاده وشي. که چیرې اصلي مأخذ د لیکونکي په لاس کې نه وي نو بیا دې پردې قضاوت په خپل نامه نه تماموي.

د ادبي تاریخ د میتود ولوجي یوه غټه ستونزه د ادبي د وروټاکنه ده. د ادبي تاریخ لیکونکو په دې برخه کې له بېلا بېلو میتودونو څخه* کار اخیستی دی. دغه میتودونه په لاندې ډول بېودل کیږي.

۱ - د ادبي ژانرونو یا ادبي سبکونو او یا ادبي مکتبونو په اساس د ادبي د وروټاکنه:

ددغه میتود ښېګڼه داده چې د ادب ذاتي تطور بې د معیار په توګه ټاکلی دی. ادبي تاریخ په اصل کې د ادبي جریاناتو تاریخ دی نو کله چې یو ادبي مکتب خپل ځای بل ادبي مکتب ته خوشې کوي د ادبي تاریخ بله دوره پیل کیږي. ادبي مکتبونه که له یوې خوا د ټولنیزو، اقتصادي، او سیاسي پېښو سره اړه لري له بلې خوانسبي خپلواکی هم لري. سره له دې، ددغه میتود یوه غټه ستونزه داده چې ادبي ژانرونه او ادبي مکتبونه کله کله په یوه وخت کې پیل کیږي. د مثال په توګه، په پښتو ادبیاتو کې اکبر زمینداوری لومړنی شاعر دی چې د مثنوي او غزل بیلګې یې تر موږه رارسېدلې دي. نو دغه دوره په څه نامه یاده کړو؟ د غزل دوره یې وبولو او که د مثنوي؟ همدارنګه په اروپا کې د سمبولیزم، دا دائیزم، او سوریالیزم ادبي مکتبونه تقریباً په یوه ټاکلي وخت (۱۸۸۰-۱۹۲٤م) کې راټوکېدلي دي او په یوه ادبي چاپېریال کې ...



PROPERTY OF ACKU 8514

وده کړي ده. برسېره پردې، د یوه ادبي مکتب په پیل کیدو سره پخواني ادبي مکتبونه له مینځه نه ځي، بلکې د نوي مکتب سره سیالي کوي.

۲ - د پاچهانو د کورنیو په اساس د ادبي دوروویشنه: دغه مېتود د ادبي پدیدو د انکشاف له توضیح او تحلیل سره مرسته نشي کولی. ادبي سبکونه یا ژانرونه د کوم پاچا په حکم یاد ستور مینځ ته نه راځي او نه د هغه مړینه پراد بي جریان باندې کومه خاصه اغېزه ښندي.

البته، ددې احتمال شته چې د یو پاچا په عصر کې دې یونوی ادبی جریان پیداشي (لکه د امیر حبیب الله په پاچهی کې) خو دغه تحول، لکه څنګه چې ښایي د نوموړي پاچاله ذوق سره برابرنه و، اکثر لیکوال او شاعران یې بندیان کړل. په حقیقت کې ددغه وخت ادبي غورځنګ د عصر له روح سره اړه لري.

۳ - د ټولنیز - اقتصادي فورماسیون د تیوري پربنسټ دادبي دوروویشنه: د مارکسیزم لینینیزم د تیوری په اساس ټول تاریخ په پنځو د وروویشل کیږي: لومړنی کمون، مریې توب‌باداري، فیوډالیزم، کاپیټالیزم، اوکمونیزم (چې لومړی پړاو یې د سوسیالیزم په نامه یادیږي.) کله چې یوه تاریخی دوره (ټولنیز - اقتصادي فورماسیون) خپل ځای بلې دورې ته خوشې کوي په ادبیاتو کې هم انقلابي بدلون مینځ ته راځي. د مارکس په عقیده، ادب د ټولنیز شعوریو شکل دی چې د بنسټ (زېربنا) له بدلېدو سره جوخت تغییر کوي، یعنې کله چې تولیدي مناسبات (بنسټ) بدلون مومي په ادب کې هم بدلون مینځ ته راځي.



PUKAR

د ادبي تاريخ په برخه کې دغه تيوري په بشپړه توګه د تطبيق وړ نه ده. لومړی دا چې د يوې تاريخي د ورې په ترڅ کې ډير زيات ادبي جريانونه مينځ ته راځي. د مثال په توګه، د کاپيټاليزم (پانګولی) په نظام کې سورياليزم، دا دائيزم په شان په لسګونو ادبي مکتبونه راپيدا شوي دي حتی پخپله کمونيستي ادبيات هم په دغه تاريخي د وره کې ايجاد شوي دي. نو د يوې تاريخي دورې تر سرليک لاندې د ټولو ادبي جريانونو شرح له ستونزو ډکه ده. دغه پورتنی ادبي مکتبونه د توليدي مناسباتو په اساس نشي توضيح کېدلي، ځکه چې يو شمېر ادبي مکتبونه، ادبي سبکونه او ژانرونه د هماغه توليدي مناسباتو (مثلاً د پانګولی د توليدي مناسباتو) په ترڅ کې ايجاد شوي دي. ددغو ادبي جريانونو د توضيح د پاره نورو معيارونو ته اړتيا ليدل کيږي؛ يوازې د توليدی مناسباتو په يادولو سره مطلب لاس ته نه راځي.

دوهم دا چې د کمونيزم د تيورۍ په اساس، د هرې وروستی دورې ادبيات له پخوانی دورې څخه پرمختللي، بډای، او مترقي دي. ليکن دغه نظريه سمه نه ښکاري.

د مثال په توګه، په اروپا کې د لرغوني يونان او روم ادبيات د منځنيو پيړيو له ادبياتو څخه زيات غني، متنوع او په هنري لحاظ او هم په فکري لحاظ پرمختللي دي. په همدې ترتيب په روسيه کې د اکتوبر له انقلاب وروسته ادبيات د هنري ارزښت له پلوه د پخوانی دورې (تزاري) روسيې له ادبياتو سره سيالي نشي کولی. همدارنګه، ځينې هيوادونه د

صنعت او اقتصاد له پلوه وروسته پاتې دي خود هنري فرهنګ له پلوه پر مختللي دي.

دريم دا چې کله کله په يوه ټولنه کې د هنر طلايي دوره پيل شي او وروسته په پيړيو پيړيو کې بيا هغسې دوره نه ليدل کيږي. د مثال په توګه، د هرات د تيموريانو له عصرنه وروسته، دري ادب تر ډيرو پيړيو پورې د تنزل په حالت کې و. دغه موضوع يوازې د توليدي مناسباتو د اصطلاح په استعمالولو سره نه حل کيږي. د پښتو ادبياتو په تاريخ کې خوشحال خټک ډير لوی مفکر او فرهنګي شخصيت ځانګړی د توليدي مناسباتو په مقوله کې نشي خلاصه کېدای.

٤- د تاريخي، سياسي، او ټولنيزو پېښو په اساس د ادبي دوروويشنه: دغه مېتود هم يو څه نيمګړتيالري. که څه هم سياسي او ټولنيزې پېښې پر ادبي تحول باندې اغيزه لري خود ادبي تاريخ اصلي موضوع نه ګڼله کيږي. د ادبي تاريخ اصلي موضوع پخپله ادب دی.

اوس نو پوښتنه راولاړيږي، چې د ادبي دورو دوېشنې معيار څه شی دی؟ ددې پوښتنې په ځواب کې ويل کيدای شي چې د ادبي آثارو د محتوی او شکل په بدلون سره نوې ادبي دوره پيل کيږي. ادبی تحول اصلي معيار دی ليکن بايد زيار وايستل شي چې ادبي تحول علتونه څرګند شي. البته دا احتمال شته چې ځينې وختونه ادب او سياست يو له بله دومره نژدې وي، چې ادبي تحول او سياسي تحول يو ګډ نوم غوره کړي، لکه په پښتو ادب کې د روښانتيا دوران.

په پای کې د دې ټکي یادونه هم لازمي ده چې په ادبي تاریخ کې د دورې پرځای د دوران کلمه غوره ایسي، ځکه یوه دوره پای ته نه وي رسیدلې، چې بله پیل شي او لوړې څوکې ته ورسیږي. د مثال په توګه، د ریالیزم دوره چې پیل شوې ده لا تر اوسه دوام لري او د دغې دورې په اوږدو کې د نیچرالیزم (ناتورالیسم)، سمبولیزم، اکزیستنسیالیزم او سوریالیزم په شان یو شمېر ادبي مکتبونه را وټوکېدل او ثمرې ته ورسېدل. د دوران د کلمې مقصد دا دی چې په یوه دوره کې ښایي د هر نور ادبي جریانونه د شهرت اوج ته ورسیږي. د غسې لوړې څوکې یا د شهرت اوج د دوران په نامه یادیږي.

## دویم څپرکی

# د پښتو د ادبي تاریخ دورې څنګه ټاکل کیږي؟

تر هر څه مخکې د ادبي دورو د وېش د پاره باید یو منطقي معیار وټاکل شي. د دغه معیار له مخې باید د هرې د ورې ځانګړ تیاوې وښودل شي. که چیرې هماغه معیار په ټولو ادبي دورو باندې د تطبیق وړنه وي نو دا د بې د ورو تصنیف خپل اعتبار او ارزښت له لاسه ورکوي.

د پښتو ادبي تاریخ لیکونکو د ادبي دورو د ټاکلو د پاره له بېلو بېلو معیارونو څخه کار اخیستی دی. د دغو پوهانو او استادانو کارد

قدروړ دی خو د یونانی فیلسوف (ارستو) دا خبره به نه هېر وو چې ویلي يې وو: «خپل استاد اپلاتون رابانديې ګران دی خو حقیقت له هغه نه زيات رابانديې ګران دی.» نو ددې دپاره چې دادبي دورو د نوي ډېزاین په باب قضاوت وکړای شو پخوانو معیارونو ته به يوه انتقادي کتنه وکړو. علمي څېړنه ددې غوښتنه کوي چې بايد په ټاکلې ساحه کې د نورو پوهانو کارونه ارزيابي شي.

د پښتو ژبې لوی ادبي مورخ علامه حبیبي د خپل اثر (د پښتو ادبیاتو تاريخ، لومړی ټوک، دریم چاپ) کې په حقه ګیله کوي چې دده د کتاب له لومړي چاپ نه وروسته په ډېرشو کلونو کې هیڅوک میدان ته رانغی چې دده له خوا پیل شوی کار تکمیل کړي. لوی استاد د همدغه کتاب په سریزه کې لیکي: «زما هیله هغه وخت داوه چې دا کتاب به سمدستي د لومړي صنف د محصلانوپه کار ورسي او بيا چې دغه زده کوونکي استادان سي او خارج ته د لوړو زده کړو لپاره ولاړسي او په لوړو پوهنتونو کې لوست وکي نوبه د وی د خپلې پوهنې په رڼا کې نوې او ژورې څېړنې وکي او ښايي چې ترډېر ښه او ګټور او محققانه کتابونه پر همدغه موضوع باندې وکاږي.... مګر زه چې اوس ګورم هغه امید مې تر سره نسو».

د لوی استاد پوهاند حبیبي غوښتنه او پراخ نظري موږ ته اجازه راکوي چې لومړی دده په یاد شوي کتاب کې ادبي دورې تر بحث لاندې ونیسو. پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو د ادب دورې پر څلورو برخو

ويشلي دي: په لومړۍ دوره کې دا کوښښ شوی دی چې تر اسلام د مخه د پښتو ژبې موجودیت او د نورو آریايي ژبو ترمنځ د پښتو ژبې موقعیت تثبیت کړي. دوهمه دوره د اسلام له ابتدا څخه شروع کیږي او تر (۱۰۰۰) هـ. ق کاله پورې را رسیږي. دریمه دوره له (۱۰۰۰) هـ. ق کاله څخه پیلیږي او په (۱۳۰۰ هـ ق) کې پای ته رسیږي. څلورمه دوره له (۱۳۰۰ هـ ق) څخه شروع کیږي.

ارواښاد پوهاند حبیبی دادبي دورو له معرفي کولو وروسته لیکي: «زه دا منم چې زما کار اوسعی به خورا ابتدایي وي، مگر هیله لرم چې وروستني پښتانه به دا چاره ښه بشپړه کړي او د ابن به د تحقیق او پلتنې په گلونو ښه ښکلی او سمسور کړي خو:

باغ د گلو به سمسور وي مور به نه یو
د بلبلو به پرې شور وي مور به نه یو.»

پوهاند حبیبی دادبي د ورو په وېش کې د قدما وو لاره نیولې ده په دې معنی چې «د لغاتو فلسفه»، ژبه او ژبنی پوهنې هم دادب جزء بولي. په اوسني وخت کې د ژبې د تاریخ حساب له ادبي تاریخ څخه جلا دی ځکه چې ادبی تاریخ یوازې هنري ادبیات تر څیړنې لاندې نیسي. که ژبپوهنه او ادبپوهنه د علم جلا څانگې وگڼو لومړۍ دوره د پښتو په ادبي تاریخ کې ځای نه لري. البته کیدای شي چې په سریزه کې ورته اشاره قدرې وشي.

دوهمه خبره داده چې دادبي دورو په دغه وېش کې کومې مهمې

فرهنګي او ادبي پیښې په نظر کې نه دي نیول شوې. د مثال په توګه (۱۳۰۰ هـ ق) د څلورمې ادبي دورې پیلامه ګڼله کیږي. چې دغه دوره د امیر عبدالرحمن خان له پاچهۍ سره منصادفه ده. په دغه وخت کې دادبي تحول څرک نه لګیږي، بلکې په ادبي لحاظ شنډه دوره ده. له قرینې څخه ښکاري چې د کتاب مؤلف ګرد عدد او د پېړۍ تړپیلیدو معیار ته توجه کړې ده.

د پوهاند حبیبی نه وروسته استاد صدیق الله رشتین د پښتو ادبیاتو یو پیاوړی مورخ دی او د ادبي تاریخ په غنا او روښانولو کې یې د قدر وړ خدمتونه کړي دي. پوهاند رشتین په خپل اثر د پښتو ادب تاریخ کې ټولې ادبي دورې په پنځو دورو ویشلې دي.

ده په خپل ویش کې د اسلام نه مخکې دوره حذف کړې ده، ځکه چې په هغه زمانه کې د پښتو دادبي آثارو کوم څرک نه دی لګیدلی. البته په دې وروستیو وختو کې داسې اسناد لاس ته راغلي دي چې وایي د (۱۵۰ ق.م) په حدودو کې د (مالنده پنهو) په نامه یو کتاب په پښتو ژبه کښل شوی و، دغه کتاب په پالي ژبه ترجمه شوی دی او په هغه کې یادونه شوې ده چې نوموړی کتاب له پښتو ژبې نه ژباړل شوی دی. څرنګه چې د پښتو کتاب لاس ته نه دی راغلی نو دا دبي د ورو په ویش کې د اسلام نه مخکې زما نه په حساب کې نه ده نیول شوې.

پوهاند رشتین ادبي دورې د اسې ټاکلې دي: اوله دوره له (۱۰۰ هـ) نه تر (۸۰۰ هـ) پورې، دوهمه دوره له (۹۰۰هـ) نه تر

(۱۱۰۰ هـ) پورې. دريمه دوره له (۱۱۰۰ هـ) نه تر (۱۲۵۰ هـ) پورې. څلورمه دوره له (۱۲۰۰ هـ) نه تر (۱۳۵۰ هـ) پورې. پنځمه دوره له (۱۳۵۰ هـ) نه راپه دې خوا.

په دغه ويش کې ځينې ښيګڼې ليدل کيږي خو په مجموع کې د معيارونو په لحاظ د تأمل وړ بريښي. نوموړي پوه د لومړۍ دورې د ادبي خصوصياتو په باره کې ډير په زړه پورې تحليل کړی دی. د دوهمه دوره له مياروښان څخه پيل کړې ده. دغه نظر هم معقول ښکاري خو دومره بايد ووايو چې لازمه نه وه دوهمه دوره د بابر پاچا او د هغه د اولادې په نامه ياده شي. همدارنګه څلورمه دوره يې د محمد زيود سلطنت له پيلېدو سره تړلې ده او د پنځمې دورې په ويش کې چې هغه هم د محمد زيو د سلطنت ادامه ده، تداخل ليدل کيږي. د کتاب مؤلف ادبي دورې د پاچهي کورنيو سره په ارتباط کې ساتلې دي. په دغه اثر کې پر ادب باندې د سياسي او اقتصادي عواملو اغيزه له پامه غورځيدلې ده او ياليږ ارزښت ورکړ شوی دی. کله کله د پاچهي کورنۍ په بدليدو سره د استاد او دده د سبک پيرو (لکه رحمان بابا او دده شاګرد محمد يونس) ادبي دورې سره بيليږي يعنې د ادبي تحول پر ځای د پاچهانو تاريخ معيار ګڼل شوی دی، خو دغه معيار هم په سيستماتيک ډول نه دی مراعات شوی. د کتاب په اوله دوره کې (د پښتو د ملي ادب ځينې برخې) تر عنوان لاندې د پښتو افسانې، نکلونه، وړې قصې، نارې، د پښتو لنډۍ او پښتو متلونه معرفي شوي دي.

دلته څوتکي د پاملرنې وړ دي. لومړی دا چې د ملي ادب اصطلاح د فوکلوري ادب پر ځای استعمال شوې ده. فوکلوري ادب د ملي ادب یو توک دی. لیکنی ادب هم د ملي ادب توک ګڼل کیږي. دوهم دا چې د فوکلوري ادب بېلګې (نمونې) چې په اوله دوره پورې اړه ولري د سند په توګه نه دي راغلي. فوکلوري ادب به غالباً له اسلام نه مخکې زمانه کې موجود او لا تراوسه دوام لري نو ښايي چې په یوه خاصه ادبي دوره پورې ونه تړل شي په تېره بیا چې کوم سند هم لاس ته نه وي راغلی. درېیم دا چې ښاغلی مؤلف ګمان کړی دی چې د نکلونو ناري په رښتیا سره د نکل د پرسوناژونو ایجاد دی. څلورم دا چې ښاغلی مؤلف د اروپا رومانونه هم د پښتو په اوله ادبي دوره کې معرفي کوي په داسې حال کې چې د اروپا رومانونه په اروپا پورې اړه لري. پنځم دا چې په اوله دوره کې پښتو ناول نه دی لیکل شوی. موږ ددې کتاب پر موضوعاتو نور څه نه وایو خو صرف دومره یادونه کوو چې په هغه وخت کې دداسې کتاب لیکنه یو ارزښتمن کار دی د قدر په سترګه ورته ګورو. (د افغان یاد) په کتاب کې چې د غلام محی الدین افغان په یاد د مقالو یوه مجموعه ده؛ پوهنمل نور محمد غمجن تمیل (په پښتو ادبیاتو کې دادبي تو تووندېه او تاریخي سیر) تر سرلیک لاندې د پښتو دادبي تاریخ پر د ورویاندې هم بحث کړی دی. پوهنمل غمجن د پښتو ادبیاتو دورې پر څلورو برخو ویشلې دي: لومړی دوره له دویمې هـ. ق څخه پیلیږي تر (۹۵۰ هـ ق) پورې رسیږي. دوهمه دوره له (۹۵۰ هـ. ق)

يعنی روښاني نهضت څخه تر (۱۲۰۰ هـ.ش) پورې دوام کوي. وروسته نوې دوره شروع کیږي چې پر افغانستان باندې د انګریزانو حمله يې معيار ګڼلی دی. بيا معاصره يا اوسنۍ دوره راځي چې له (۱۳۵۷ هـ ش) کال څخه پيلیږي.

په دغه ویش کې د معيار انتخاب او بيا د معيار سیستماتیک او منسجم تطبيق دواړه د تأمل وړ بريښي. د معیار په انتخاب کې سیستم نه لیدل کیږي. ځينې کلونه په هجري قمري او ځينې په هجري شمسي راغلي دي.

کله چې ښاغلی ليکوال لومړۍ او دوهمه دوره يادوي بيا نو د ترتيبي عدد سلسله پريږدي د نوې دورې او اوسنۍ دورې په نامه بل معيار انتخابوي. د نوې دورې نوم هم مناسب نه دی، ځکه سړی نه پوهيږي چې په نوې پسې به څه شی راځي. ښاغلی ليکوال له نوې دورې نه وروسته معاصره يا اوسنۍ دوره ټاکلې ده، په دې حساب نوې دوره په اصل کې زړه دوره ده. دوهمه خبره داده چې په ليکلي ادب کې د انګریزانو له یرغل وروسته ترشلمې پیړۍ پورې کوم عمده ادبي تحول نه ليدل کيږي له دې امله د انګریزانو لومړی یرغل د نوې ادبي دورې د پيليدو معيار نشي ګڼل کيدای. دريمه خبره داده چې ښاغلی ليکوال (۱۲۰۰ هـ ش) د انګریزانو د لومړۍ حملې تاريخ بللی دی په داسې حال کې چې دغه حمله او وه لس کاله وروسته په (۱۸۳۸ ع) کې ترسره شوه.

څلورمه خبره چې تر ټولو مهمه ده هغه داده چې د امير دوست

محمد خان له وخت نه تر (۱۳۵۷ هـ. ش) کال پورې د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې څرګند ادبي تحول راغلی دی؛ معاصر ادبیات د امیر حبیب الله په پاچهي کې پیل شوي دي او بیا د محمد ظاهر شاه د پاچهۍ په زمانه کې د ادبي تاریخ بل پړاو پیل شوی دی، لیکن ښاغلی لیکوال پر دغو ادبي تحولاتو سترګې پټوي او له (۱۲۰۰ هـ ش) نه تر (۱۳۵۷ هـ ش) کال پورې ټوله یوه ادبي دوره ګڼي. (د ادب د تیوري اساسونه) مؤلف سر محقق دوست شنیواري د (پښتو لیکلي ادب د مکتبونو، سبکونو او میتودونو په پوریو کې) تر عنوان لاندې د پښتو ادبي تاریخ پر دروپړاوونو ویشلی دی: لومړی پړاو چې په هغه کې د (ملنده پښو) کتاب او د سره کوتل کتیبې ته هم د پښتو د پانګې په توګه اشاره شوې ده دا پړاو دهغه په واقعي معنی له امیر کروړ سره شروع کیږي او مؤلف همدغه دلیکلي ادب لومړی پړاو بولي. دده په نظر، دا سعد سوري قصیده «په پښتو شعر کې د تجدد پړاو دی» خو سره له دې، دغه قصیده هم د لیکلي ادب په لومړي پړاو پورې اړه لري. دوهم پړاوله بایزید روښان سره پیلیږي. دغه پړاو تر فرعي عنوانو لاندې شرح شوی دی: روښاني مکتب، درحمان بابا سبک، هندي مکتب، د هوتکیانو دوره، نوري دورې. وروسته د ادب نوی پړاو چې د امیر شیر علي خان له وخت نه شروع کیږي شرح شوی دی. دغه پړاو (د انتقادي ریالیزم پیدا ښت) په نامه یو فرعي عنوان لري.

په دغه پورتني ویش کې ښاغلی مؤلف د دورې پر ځای د پړاو

کلمه غوره بللې ده.

په دې وروستیو وختو کې د پړاو کلمه زیاتره د مرحلې په معنی استعمالیږي یعنې د یوې دورې دننه ځینې مرحلې د پړاوونو په نامه یادیږي.

د پورتني ویش په باره کې به په لنډه توګه څو ټکوته ګوته ونیسو. لومړی دا چې د سره کوتل کتیبه د پښتو په ادبي پانګه ورګډول زیاتو باوري څیړنو ته انتظار باسي.

دوهم دا چې محترم مؤلف سبک، مکتب، او میتود جلا شیان ګڼي خو په تصنیف کې یوه اصطلاح د بلې پرځای استعمالوي. دریم دا چې د خوشحال بابا په شان سترشاعر او مفکر د جلاسبک خاوند نه دی ګڼل شوي. څلورم دا چې په تصنیف کې انسجام نشته، مولف د سبکونو یا مکتبونو لړۍ پریږدي د هوتکیانو دوره او نورې دورې پیل کوي. پنځم دا چې دادب نوی پړاو د امیر شیر علی خان له پاچهی نه پیل کوي خو د داسې آثار و بیلګې نشي بیدا کولی چې معاصر ژوند پکې منعکس شوی وي. هره ادبي دوره د هغې دورې د خصوصیاتو درلودونکو آثارو سره پیلیږي خو چې پخپله آثار موجود نه وي، ادبي دوره هم وجود نه لري. د امیر شیر علی خان په دوره کې ځینې آثار شته خود کوم ادبي تحول پیلامه نشي ګڼل کیدای. (په دې باره کې به وروسته هم بحث وشي.)

د پښتو دادبي تاریخ د دورو د ویش په برخه کې دا کادمیسین

کاندید محمد انور نومیالي هم یوه طرح وړاندې کړې ده. ښاغلی نومیالی د (ادبي دورې) د اصطلاح پر ځای د (ادبي دوران) اصطلاح غوره ګڼي او داسې استدلال کوي چې «نن ورځ تاریخ پوهانو د دورې او دوران تر مینځ توپیر په مرسومی توګه تثبیت کړی دی» د مثال د پاره دوی دوره هغه بولي چې د یوې پروسې د پیدا ښت، انکشاف، او زوال درې سره مرحلې په هغې کې سر ته رسیدلې وي او له بلې وروستنۍ نوې دورې څخه یې ټول مشخصات توپیر ولري.

خو دوران داسې حالت ته وايي چې د هغه په ترڅ کې لا د یوې او بلې دورې تر مینځ تاریخي بېلوالي نه وي راغلی اما په هغه صورت کې صرف د نوې دورې مخکنې محتویات تبارز کوي او انکشاف یې د زړې محتویات نفی کوي. » (د امیر کروړ یاد، مخ . . ۵).

د ښاغلي نومیالی دغه یادونه پر ځای او سمه ده خو په دغه کتاب کې مورد ادبي تاریخ عنعنه په پام کې نیولې ده، د پښتو دادبي تاریخ په برخه کې د دورې کلمه هم صدق کوي.

د محترم نومیالي په عقیده د پښتو ادبیاتو د پاره په مجموعي توګه درې دورانه ټاکلای شو:

۱ - د شفاهي ادبیاتو دوران

۲ - د خوشحال د کتبي ادبیاتو دوران

۳ - د معاصرو کتبي ادبیاتو دوران

دغه ویش هم د تاء مل وړ دی. لومړی دا چې د خوشحال د کتبی

ادبیاتو له دوران څخه مخکې دوران د شفاهي ادبیاتو دوران بلل شوی دی، په داسې حال کې چې د اسعد سوري او ښکارندوی قصیدې، د شیخ متي عرفاني شعر، او د زرغون خان ساقي نامه په فوکلور کې نه راځي او د خپلو خصوصیاتو له پلوه د فوکلوري ادب سره څرګند توپیر لري. دوهم دا چې دروښانیانو عرفاني آثار هم په فوکلور کې راځي په داسې حال کې چې دغو اثارو ته څوک فوکلور نشي ویلای.

له د غوپورتنیو یادونو وروسته به د دغه کتاب طرح وړاندې شي. ښایي دغه طرح هم وروستنۍ طرح نه وي دا د ادبیاتو استادان کولای شي په راتلونکې کې نوې طرح وړاندې کړي. په دغه کتاب کې د پښتو ادبي تاریخ په درو عمده دورو ویشل کیږي: لرغونې دوره، منځنۍ دوره، او معاصره (اوسنۍ) دوره. هره دوره په پړاونو ویشل کیږي.

## لرغونې (پخوانۍ) دوره:

پخوانۍ دوره چې په هغې کې قبیلوي نظام مسلط ښکاري ترشپاړسمې میلادي پیړۍ پورې دوام کوي. د تحریري اسنادو له مخې په ادبي تاریخ کې دغه دوره له امیر کروړ څخه پیلیږي او د بایزید روښان تر ظهور او پاڅون پورې رسیږي. په شپاړسمه میلادي پیړۍ کې د پښتونخوا په ختیځه برخه کې د هند مغلي سلطنت په زمانه کې فیوډالي تولیدي مناسبات مینځ ته راځي او په ادبیاتو کې هم بدلون لیدل کیږي.

پخوانۍ دوره د تولنیزې اروا پوهنې او فرهنګي عنعنې له پلوه دریګویدا او داوستا له سند رواوګا څونو سره ورته والی لري. د ځینو

ادبپوهانو په عقیده، د ریگویدا او اوستا د سند رواوگا ثو نو او د پښتو د لرغونو سندرو موضوعگانې او قالبونه سره ورته دي. د پخواني دورې عمده موضوعگانې د نمانځنې سندرې، ویاړنې (قومي تفاخر)، ویرنې، مینه، بیلتون، او اخلاقي شوونې دي چې په هغو کې پیچلي تخیلات او لفظي ضایع چندانې نه لیدل کیږي. د غوریانو د واکمنۍ په دوره کې د قصیدې جوړونه، یونوی پړاو گنل کیږي، ځکه چې په دغو قصیدو کې د پاستورال (د شپنو) شعر سره فاصله مینځ ته راغلې ده.

که څه هم قصیدې له درباري ادب سره نژدیوالی لري خو په هغو کې د پاستورال سندرو روحیه هم ساتل شوې ده؛ د پښتنو قبیلو مشران او واکمنان د یووالي او قبیلوي قدرت د سمبولونو په توگه ستایل شوي دي. که د دغه قصیدې د هغه وخت له عربي او فارسي قصیدو سره پرتله شي نو د هغو تر مینځ د قالب او محتوا له پلوه جوت توپیرونه لیدل کیږي. د پښتنو واکمنان د قومي یووالي د سمبولونو او خو اخوږیو دوستانو په توگه ستایل شوي دي. شاعر د صلې او انعام د اخیستلو د پاره شعر نه وایي او نه په ستاینه کې له اغراق نه کار اخلي. په داسې حال کې چې د فارسي ژبې شعر د عربي شعر د وزن پیروي کوي. د پښتو د لرغونو آریایانو د سندرو وزن ساتي. تر اوسه پورې پښتو شعر همدغه خصوصیت ساتلی دی یعنې د شعر وزن د څپې (فشار، اکسنټ) او د هجاوو (سیلابونو) د شمیر په اساس ټاکل کیږي.

## منځنۍ دوره:

منځنۍ ادبي دوره له شپاړسمې میلادي پیړۍ څخه تر شلمې پیړۍ پورې دوام کوي. د پښتو ادبیاتو منځنۍ دوره له سیاسي او ایډیالوجیکي مبارزې سره پیل کیږي خو دغه مبارزه د فیوډالي شرایطو له چوکاټ څخه د باندې نه وزي. میاروښان د یوې مذهبي فرقې دلاربنود په توگه په توره او قلم مبارزه کوي. د روښانیانو او ختکو ادبیات په عمده توگه تبلیغ او تنویر ته متوجه شوي دي. روښان او خوشحال ختک دواړو د پښتنو د خپلواکۍ او ملي حاکمیت د پاره توده اوسړه جگړه پرمخ بیولې ده. سړه جگړه یعنې د قلم له لارې مبارزه یوه فکري سیستم ته اړتیا لري. روښانیانو د عرفان له لارې د خلکو د سیاسي شعور د لوړولو، په هغو کې د خودۍ او پرڅان متکي کیدلو د احساس د ویښولو د پاره آهنگوال ادبي آثار ایجاد کړل او په دې توگه د کتبي ادبیاتو پانگه را منځ ته شوه..

خوشحال ختک پښتو ادبیات د مضمون، شکل او قالب له پلوه غني کړل. ده د فارسي ژبې ټول قالبونه (لکه مثنوي، غزل، قصیده، رباعي، مخمس او نور) او لفظي او معنوي صنایع په پښتو ادب کې راوستل. د مضمون له پلوه د ده په آثارو کې ډیر زیات نوښتونه لیدل کیږي چې د هغه وخت په شرایطو کې ساری نه لري.

د منځنۍ دورې ادبیات د مضمون او شکل په لحاظ د پخوانۍ

دورې له ادبیاتو سره جوت توپیر لري. ددې دورې په ادبیاتو کې د لرغونو سندرو وزنونه متروک شول، کلاسیک معنوي او لفظي صنایع په پښتو ادب کې باب شول؛ د مفکورې په لحاظ سیستماتیک آثار منځ ته راغلل او پیچلي تخیلات د پښتو ادب به بڼ کې را وتوکېدل. په دغه وخت کې پښتو ادبیاتو د سېمې له ادبیاتو رنګ واخیست. د افکارو ژورتیا، د تخیل رنګیني او د قالبونو تنوع د منځنۍ ادبي دورې غوره ځانګړنې کښل کیږي. دا څرګنده خبره ده چې د رو ښانیانو عرفان، د خوشحال د ملي تشخص احساس، د رحمان بابا ادبي بلاغت، د حمید او کاظم شیدا نازکخیالي د پخوانۍ ادبي دورې په اشعارو کې نه لیدل کیږي.

په منځنۍ ادبي دوره کې درې مهم پړاوونه د فکري، سیاسي او هنري ځانګړنې له مخې د تشخیص وړ دي چې غوره استازي یې په فکري لحاظ دوربښان پلویان، به سیاسي لحاظ خوشحال خان ختک او په هنري لحاظ رحمان بابا، حمید، شیدا، حنان بارکزی او نوردي.

### اوسنۍ دوره:

د پښتو د ادبي تاریخ اوسنۍ دوره د شلمې پېړۍ له دوهمې لسیزې څخه پیل کیږي.

دا باید ووایو چې په (۱۸۹۳م) کال کې د ډیورنډ د تحمیلي کرښې په اثر د ادبي تحول اوسنۍ دوره په لره او بره پښتو نخواکې د

سیاسي جریانونو د جلا والي په سبب پوشانته انکشاف نه کوي، خو پیلامه یې پوشانته ده.

د افغانستان د ننه پښتو ادبیات په اوسني دوره کې درې مهم پړاوونه لري: د روښانتیا پړاو، دوښتیا پړاو، داوښتون پړاو، څلورم پړاو چې کېدای شي د سمون پړاو یې وبولو نوی پیل شوی دی.

دوروستي پړاو څرنګوالی په هېواد کې د سیاسي ثبات له راتلو سره اړه لري او تر اوسه یې هویت په څرګند ډول نه دی تثبیت شوی.

څرنګه چې د پښتو دادبي تاریخ دوهم ټوک د اوسنۍ دورې ټولې څانګې تیاوې په مفصله توګه څېړي، دلته به پوازې دومره یادونه وکړو چې داوسنۍ ادبي دورې ادبیات د منځنۍ دورې ادبیاتو سره د محتوی، شکل، ژانرونو او قالبونو له پلوه څرګند توپیر لري او داد بې تحول نوې دوره بلل کېدای شي.

د مضمون او محتوی له پلوه داوسنۍ دورې په ادبیاتو کې نوي فکري اوسیاسي تمایلات (لکه نېشنلېزم، سوسیالېزم، لیبرالېزم) او نوي هنري مېتودونه (لکه ریالېزم او نور)، نوي ادبي ژانرونه، (لکه ناول، لنډه کیسه، نوی شعر، ادبي ټوټې، طنز او نور) را منځ ته شوي دي. په ادبي قالبونو کې هم د ترانې، نوي شعر، منثور شعر په ایجاد ولو سره تنوع او نوښتونه مینځ ته راغې.

درېيم څپرکی

# د پښتو معاصر ادب له څه وخت نه پيلېږي؟

## د معاصر ادب اصطلاح:

د ځينو ادبپوهانو په عقيده، ټول ادبي جريانونه په درو ډولو وېشل کېدای شي: فوکلوري ادب، کلاسيک ادب، او موډرن (نوی يا معاصر) ادب.

فوکلوري ادب چې ځينې يې ګړنی (شفاهي) ادب يا ولسي ادب بولي له کلاسيک ادب سره د مضمون او شکل له پلوه توپير لري. فوکلوري ادب چې د عوامو له ذوق سره برابر دی، د کلاسيک ادب په اندازه له تصوير ځخه کار نه اخلي، بلکې ډېر ساده دی. له بلې خوا د

فوکلوري ادب اتلان د مبالغې په توګه ستايل کېږي او خيالي او خرافاتي پيښې هم پکې زياتې دي.

د فوکلوري ادب اکثر ويونکي چا ته نه ښکاره کېږي، بلکې سينه په سينه له يوه نسل نه بل نسل ته انتقالېږي. په دې وروستيوو ختو کې د فوکلوري ادب اکثرې بېلګې ثبت شوې او چاپ شوې دي خو ګړنى (شفاهي) ادب په ثبتيدلو او چاپېدلو سره په ليکني (تحريري) ادب نه بدلېږي ځکه چې خصوصيات يې يو له بله فرق لري. ځيني ادبپوهان فوکلوري ادب تر کلاسيک ادب غوره ګڼي ځکه چې د هغو په عقيده، فوکلوري ادب د عوامو ادب او د خلکو مال دی په داسې حال کې چې کلاسيک ادب د خواصو او تعليميافته کسانو ادب دی.

د کلاسيک کلمه له (کلاسيکوس) څخه اخيستل شوې ده چې په لاتيني ژبه کې د لومړۍ درجې په معنی راځي. په هغه وخت کې د لوړې طبقې ادب ته کلاسيکوس او د خوارې او غريبې طبقې ادب ته پرولتاريوس ويل کيده. په اوسني وخت کې کلاسيک ادبيات په دې لاندې معنا ګانو استعمالېږي:

۱- هغه ادبيات چې زړښت نه لري، په هر وخت او هر ځای کې ستايل کېږي.

۲- د لرغوني يونان او روم ادبيات.

۳- د لرغوني يونان او روم د ادبياتو په پېروۍ ليکل شوي ادبيات.

٤-هغه آثار چې په کلاس (ټولګي) کې تدریس کیږي.

٥ - پخواني ادبیات چې موډرن (معاصر) نه وي.

دلته کلاسیک ادب په وروستی مفهوم استعمال شوی دی. که چیرې په پښتو کې د کلاسیک ادب کلمه وکاروو، نو له شلمې پیړۍ نه مخکې ټول ادبي آثار د کلاسیک ادب په نامه یاد ولای شو.

په پښتو کې له معاصر ادب څخه مراد هغه ادب دی چې د موډرن ژوند صنعتي، ټولنیزې، سیاسي، او فرهنګی پدیدې یې په نویو ایماژونو کې انګازه کړې وي او د اوسني عصر د مفکورو، غوښتنو، ارزښتونو، او ایډیالونو هینداره وي.

ددې ټکي یادونه ضروري بریښي چې په پښتو کې د معاصر ادب اصطلاح په انګریزي کې د معاصر ادب له اصطلاح سره په خپل مفهوم کې توپیر لري. په انګریزي ژبه کې معاصر ادب د پښتو ژبې له معاصر ادب سره معاصر (هم عصره) دی، تقریباً په یوه زمانه کې پیلیږي. د لومړۍ نړیوالې جګړې (١٩١٤م) له پیلیدو سره د نهیلی، اروایي بحران او پسیمیزم (بدبیني) ادبیات را پیدا شول. ددې په خلاف، د پښتو معاصر ادب د اپټیمیزم (خوشبیني) اود چټکې ترقی او عصري کیدلو آرزو سره پیل شول.

## د معاصر ادب پیلامه او پړاوونه:

د پښتو معاصر ادب د پیلامې په باره کې دا لاندې نظر یې بیان شوې دي:

۱-د پښتو معاصر ادب، هند ته د انګریز له راتګ سره پیلېږي.

۲-د پښتو معاصر ادب افغانستان ته د انګریزانو له راتګ (۱۸۳۹ع) څخه پیلیږي.

۳-د پښتو معاصر ادب د امیر شیر علي خان د پاچهۍ په دوهمه دوره کې شروع کیږي.

٤-د پښتو معاصر ادب (په تیره هنري نثر) بنسټ د نولسمې پېړۍ په اویايمو کلونو کې ایښودل شوی دی.

۵-د پښتو معاصر ادب د افغانستان د خپلواکۍ د جګړې (۱۹۱۹ع) سره سم تیغونه وهي اوو ده کوي.

٦-د پښتو ادب اوسنۍ دوره له (۱۳۵۰ هـ) کال څخه پیلیږي.

دغه پورتنۍ نظریې د تأمل وړدي. د لومړۍ نظر یې په اساس، د پښتو معاصر ادب هند ته د انګریزانو له راتګ سره پیلیږي. غالباً ددې نظریې پلویان په دې ټکي استناد کوي چې لویدیز ادب د انګریزانو له خوا په هند کې دود شوی او پښتو ته رانوتی دی. ددې نظر یې نیمګړتیا داده چې انګرېزان د شرق الهند د کمپنۍ له جوړیدو سره په (۱٦۰۰ع) کې هند ته راغلل خو په پښتو ژبه کې د (۱۹۱۰ع) کال تر شا و خوا پورې د لوید یز ادب اغیزې نه لیدل کیږي.

«هند ته د انګریزانو راتګ» پخپله یوه مهمه فقره ده. که مقصد یې په هند کې د انګریزانو فتوحات وي نو داووه لسمې پیړۍ په

لومړۍ نیمایي کې انګریزانو کلکته او ځینې نور ځایونه نیولي وو او د دغو جګړو لړۍ د نولسمې پیړۍ تر نیمایي پورې روانه وه. که هند ته د انګریزانو راتګ د پښتو د معاصر ادب د پیلامې په توګه ومنل شي نو په دغه وخت کې خو خوشحال ختک هم لا دنیا ته نه و راغلی.

ځینې ادبپوهان په دې برخه کې داسې استدلال کوي چې د انګریزي استعمار پر ضد لومړنی شعر چې قاسم علي اپریدي ویلی دی، د معاصر شعر لومړنی بیلګه ده. د قاسم علي دیوان په (۱۸۱٦ع) کې تمام شوی دی او د «معاصر شعر» بیلګه یې داده:

د انګریز طنبور ترم دلته غږیږي
نصارا شوه حاکمان فرخ آباد
حکومت د پښتنو له سره لاړی
وارخطا کړه نوابان فرخ آباد

دا باید وویل شي چې د انګریزانو پر ضد ځینې ولسي شعرونه هم ویل شوي دي چې د فصاحت او بلاغت له پلوه د قاسم علي له شعر څخه بهتر دي. د قاسم علي شعر سکتې او ماتوالی لري، په ګرامري لحاظ هم نیمګړتیا وې لري چې هیڅکله د معاصر شعر بیلګه نشي ګڼل کیدای.

دوهمه نظریه چې مخکینی نظریې ته ورته ده پر دغه اصل ولاړه ده چې «د پښتو ادب معاصره دوره له ۱۸۳۹ - ۱۸٤۰م کال څخه چې پر افغانستان د انګریزانو لومړی حمله ده پیل کیږي» (د پښتو ادبیاتو

تاریخ: اوسنی دوره، ۱۳۶۰ کال) لومړی دا باید ووایو چې پر افغانستان باندې د انګریزانو د لومړي یرغل په وخت کې د افغانستان ساحه پراخه وه نو ځکه زیاتره مؤرخان دانګریزانو لومړی یرغل له (۱۸۳۸ع) کال څخه حسابوي. دوهمه خبره چې د پښتو ادبي تاریخ سره اړه لري هغه داده چې له (۱۸۳۸) نه د (سراج الاخبار) تر خپریدو پورې د پښتو ادبي تاریخ په پاڼو کې د معاصر ادب بیلګې نه لیدل کیږي. د حنان بارکزي (او څو نورو) نه پرته په دغه موده کې کوم لوی شاعر هم نه دی تیر شوی. د پوهاند رښتین په قول حنان هم« د حمید بابا داد بې مکتب شاګرد او پیرو دی. » (د پښتو د ادب تاریخ، کال ۱۳۲۵، مخ ۱۰۵) په دې اساس، د پښتو په لیکني ادب کې دغه نظریه علمي بنسټ نه لري.

دریمه نظریه د پښتو معاصر ادب پیلامه د امیر شیر علي خان د پاچهۍ په دویمه دوره کې لټوي. په دې کې شک نشته چې د نولسمې پیړۍ په دوهمه نیمایي کې د افغانانو په عنعنه یي ژوند کې د یوه نوي تحرک او ډینا میزم څرک لګیږي. د امیر شیر علي خان د سلطنت په دوهمه دوره (۱۸۶۸-۱۸۷۸ع) کې د موډرنیز یشن (عصري کیدلو) په لور ګامونه واخیستل شول دوسلو جوړولو کارخانې تأسیس شوې؛ تجارت پراختیا وموند، په اداري او نظامي چارو کې نو ښتونه مینځ ته راغلل، دشمس النهار په نامه جریده خپره شوه، حربي او ملکي ښوونځي تأسیس شول، د عصري روغتون بنسټ کیښودل شو او د پوستې نوی

سیستم ایجاد شو. د امیر شیر علي خان د سلطنت په دوره کې د عسکري اصطلاحاتو او اداري نومونو له لارې پښتو رسمیاتو ته داخله شوه. د پښتو ژبې د تدریس د پاره د (تحفة الامیر) په نامه یو گرامر هم وکښل شو او د انگریزانو پر ضد غزا ته د خلکو د رابللو د پاره د امیر په سپارښتنه د (روضة المجاهدین) کتاب نظم شو.

که څه هم د موډرنیزېشن خواته د گام پورته کولو او د پښتو ژبې درسمې کیدلو د پاره د امیر شیر علي خان هڅې د یادونې وړدي خو په دغه دوره کې د معاصر ادب څرگندې نښې نه لیدل کیږي.

څلورمه نظریه وایي چې د پښتو د معاصر ادب په تیره هنري نثر بنسټ د نولسمې پیړۍ په اوومه لسیزه کې د مولوي احمد له خوا ایښودل شوی دی. په دې کې شک نشته چې د مولوي احمد نثر خوږ او فصیح دی خو دی په نثر کې فوکلوري کیسې راغلې دي او د معاصر ژوند انعکاس پکې نه ښکاري.

پنځمه نظریه پر دغه اصل متکي ده چې معاصر ادب د خپلواکۍ د جگړې (۱۹۱۹م) نه را په دیخوا شروع کیږي. دا نظریه هم تأمل وړده په داسې حال کې چې د دغه نظر وړاندې کوونکې په دې نه دي بریالی شوي چې له اماني دورې څخه حتی یو شعر یا یوه کیسه د نمونې په توگه راوړي یا یې د شاعر او لیکوال نوم معرفي کړي نو دغه دوره به څرنگه د معاصر ادب د پیلامې په توگه وپیژندل شي؟

دا تکی هم د یادونې وړدی چې د پښتو ژبې نامتو لیکوالو او شاعرانو چې د سراج الاخبار افغانیه سره قلمي مرسته کوله په اماني

دوره کې يې د يادونې وړ ادبي تخليقات نه دي وړاندې کړي او که د هغو ليکوالو او شاعرانو له ډلې څخه چا کوم ادبي اثر ليکلی وي، دوی د سراجيه عصر نو ښتگر رو ښانفکران گڼل کيږي.

اوس به راشو شپږمې نظريې ته چې وايي د پښتو ادب اوسنۍ دوره له ( ۱۳۵۰ هـ) کال څخه پيليږي. دا نظريه «د پښتو د ادب تاريخ، ۱۳۲۵ش) مؤلف وړاندې کړې ده. په آسانۍ سره پوهيدای شو چې د مؤلف مقصد ( ۱۳۵۰ هـ ق) کال دی. دده په نظر، منشي احمد جان د معاصر ادب بنسټ ايښودونکی دی. په رښتيا سره چې د منشي احمدجان د ليکنې سبک د فورم له پلوه ښکلی او په زړه پورې دی خو د محتوی په لحاظ د مولوي احمد له سبک سره ورته والی لري.

ددغه کتاب د مؤلف په عقيده، د پښتو معاصر ادب په لره پښتونخوا کې د ( ۱۹۱۰ ع) کال شاوخوا د (افغان) جريدې په خپريدلو سره پيليږي. په دغه جريده کې د پښتو ادب نوي ژانرونه باب شول او د راحت زاخيلي، فضل محمود مخفي، عبدالله کبرخان اکبر غوندې ليکوالو او شاعرانو د معاصر ادب زړي وکرل.

په افغانستان کې د سراج الاخبار ددوهم ځل (۱۹۱۱ ع کال ) په خپريدو سره د پښتو معاصر ادب بنسټ کيښودل شو. د پښتو معاصر ادب په افغانستان کې د روښانتيا، ويښيا اُو ښتون په نامه پړاوونه ووهل او د (۱۳۶۵ هـ .ش) کال نه را په ديخوا (د افغانستان په پښتو) معاصر ادب کې د نوي بدلون نښې څرگند يږي چې په راتلونکو فصلونو کې به په مفصله توگه شرح شي.

## څلورم څپرکی

# د روښانتيا پړاو

### تاريخي پس منظر:

د شلمې پيړۍ په را برېدلو سره په افغانستان کې د معاصر ادب د پيليدو د پاره عيني او ذهني شرايط برابر شوي وو. په همدې وخت کې د کلتور مادي توکونه، لکه فابريکې (د وړيو اوبدلو، بوټ جوړولو، او د برېښنا د توليد چارځايونه): مطبعه، روغتون، عصري لوازم (لکه موټر، تلفون، فوتوګرافي، او نور)، د کار وسيلې (لکه سړکونه، د فابريکو وداني، پلونه، ويالې، داوبو سولونلونه، او نور) د عصري ژوند د ښکارندوی (مظهر) په توګه تر سترګو کيږي. په

عنعنوي ژوند کې د بدلون په راتللو سره نوې مفکورې هم پېدا کیږي او دمعنوي فرهنګ په بڼ کې نوي ګلبوټې تېغونه وهي.

د افغانستان د فرهنګي ژوند په لوړتیا کې یو بل عمده عامل د امیر حبیب الله په دوره کې د هغو فراریانو راستنېدل ووچې د امیر عبدالرحمن له خوا تبعید شوي وو. هغوی هیواد ته له راستنېدو وروسته د اذهانو په روښانولو کې ستره ونډه واخیسته او د معاصرو ادبیاتو په بنسټ ایښودلو کې یې مهم نقش ودرلود. د دغو کسانو په ډله کې د محمود طرزي او غلام محی الدین افغان نومونه په خاصه توګه د یادونې وړدي. همدارنګه د عصري پوهنود تدریس د پاره له هند څخه ځینې استادان را غوښتل شوي ووچې د نوبو مفکورو په ترویج کې یې ډېر خدمت کړی دی.

د فرهنګ په ساحه کې دوه مهم کارونه تر سره شول. لومړی دا چې په کابل کې د حبیبیې ښوونځی او د حربیې ښوونځی او د سراج الاخبار د جریدې اداره د سیاسي فعالیتونو په مرکزو نو بدل شول.

په همدې وخت کې، د میر غلام محمد غبار په قول، په کابل کې د بهرنیو هیواد وجریدې لاس په لاس ګرځیدې او د روښانفکرانو قشر چې په لومړي سرکې یې د ملي بورژوازي او لیبرال ملاکانو نماینده ګي کوله ورروسته یې د پاچا د بې سرحده واک د محدود ولو او د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو او د اساسي قانون دجوړولو د پاره په مبارزه لاس پورې کړ. (افغانستان در مسیر تاریخ، ص ۷۱۶)

د تجدد او روښانتیا د ورځ ادبیات د ملي ارمانونو د عرادې په توګه د فرهنګ پر مخ بیولو ته وقف شوي وو. پدې کې شک نشته چې د معاصر ادب تر څنګ، کلاسیک ادب او فوکلوري ادب د واړه په خپل قوت پاتې وو، خو معاصر ادب د محتوی او پیغام د درلود لو له کبله نور ادبي جریانونه له خپل عنعنه یی اهمیت څخه وغورځول. معاصر ادب د یوه متعهد او رسالتمن ادب په توګه د ټولنې ته خدمت کې په کار واچول شو. په هیواد کې د مزمن فقر، بیسوادی، اداري فساد، اختناق، او ټولنیزي بېعد التی عمومیت ټول هیواد پالونکې آزادي خوښوونکي روښانفکران دې ته وهڅول چې د منځنیو پیړیو د عطالت او رکود د منځه وړلود پاره سخته مبارزه پیل کړي. ادبیات د یوه معنوي مشال په توګه د خلکو د ذهنونو د روښانو لو د پاره استخدام کړي او ولس د غفلت، بې خبری، ړانده تقلید او بې تفاوتۍ له درانه خوبه راویښ کړي. د دغه وخت یو شمیر نامتو شاعرانو او لیکوالو د ادبي تخلیقاتو له لارې د استعمار، ځانځانی، خانخانی، او استبداد پر ضد ګړندۍ مبارزه کوله او ځینو یې د خپلولو ړو آرمانونو د پوره کولو په لاره کې د قربانۍ میدان ته هم ورودانګل او د شهادت جامونه یې وڅښل.

بنا کردند خوش رسمی به خاک وخون غلتیدن

خدا رحمت کند آن عاشقان پاک طینت را

د سراج الاخبار د جریدې په خپریدلو سره پښتو ژبې او ادبیاتو ته هم د انکشاف زمینه برابر یږي. په همدې وخت کې « په لره او بره

پښتونخوا کې ډېر داسې ځوانان موجود وو چې د نويو علومو او اروپايي ادب مطالعه يې کړې وه، نوي ادبي ژانرونه او فورمونه يې پېژندلي وو، د خپل خيال د اظهار د پاره يې نوې لارې په نخښه کړې وې او د پښتو دلرغوني ادب پرپاخه بنسټ يې د پښتو د نننى ادب مانۍ پيل کړه» (د افغان ياد، مخ ۵۷)

که څه هم انگريزي استعمار په (۱۸۹۳م) کال کې د ډيورنډ په تحميلي کرښې سره د افغانستان د خاورې يوه برخه له اصلي پيکر څخه بيله کړه خو وې نشو کولای چې د پښتنو د گډو آرمانونو، گډوارزښتونو، او گډ و ياړونو تر مېنځ د بيلتانه کرښه را وباسي. د هنري فرهنگ په ډگر کې دلته او هلته په يوه وخت کې حرکت پيل شو. ددغه حرکت مخکښان د ټولنې روښانفکران وو.

په افغانستان کې د (سراج الاخبار افغانستان) جريده د مولوي عبدالرؤف کندهاري له خوا د (۱۹۰٦ کال د جنوري په پوولسمه نېټه) له چاپ څخه را ووتله خو دهمدغې لومړۍ گڼې له خپرېدلو وروسته جريده بنده شوه او دوهم ځل د پاره د (سراج الاخبار افغانيه) په نامه په (۱۹۱۱م) کې د محمود طرزي په مديريت او مشرۍ خپره شوه.
په همدې وختونو کې په لره پښتونخوا کې هم د پښتو د معاصر ادب د پراختيا په لار کې گامونه پورته شوي وو. په (۱۹۱۰م) کې د (افغان) جريدې په خپرېدلو سره په پښتو ادب کې نوي ژانرونه باب شول او د راحت زاخيلي، فضل محمود مخفي، (عبدالاکبر خان اکبر)،

عبدالمالک فدا غوندي نامتو شاعران او لیکوال د دغه نهضت سرلاري وو.

محمود طرزي او عبدالرحمن لودین په (سراج الاخبار افغانیه) کې د پښتو نظمونو او مقالو خپرولو ته په آگاهانه توگه پاملرنه اړولې وه. د پښتو لومړی شعر چې په نومورې جریده کې خپور شو د مولوي صالح محمد کندهاري شعر دی:

دا څــــه عـــجــب دوران دی
چې راغـلـی پـر افـغـان دی

رنـگـارنـگـه تـرقـي ده
څه عجب مجبوب عنوان دی

دا لـه کـومـه سـوبـه مـوږ کـې
چې ظـاهـر او نـمـایـان دی

دا خـو عـصـر د سـراج دی
چې افغان ټول پر ي روښان دی

تـه سـراج الاخـبـارتـه گـوره
چې د مـلـک پـه تـن کـې ځـان دی

اوس بـیـانـورعـلـي نـور سـو
پـه پـښـتـو چـې دی گـویـان دی

په دغه شعر کې د نوي دوران د پیلیدو زیری ورکړ شوی دی. له روښانتیا سره د سراج او د «نور علی نور» ارتباط مضمون ته ادبي رنگ

هم ورکړی دي. که په دغه شعر کې د سراج عصر ستایل شوی دی وجه یې دا ده چې د هیواد ترقی ته یې پاملرنه کړې ده.

د روښانتیا په دوره کې د پښتو د معاصر ادب سر لاري دغه کسان دي: مولوي صالح محمد کندهاري، غلام محی الدین افغان، مولوي عبدالواسع کندهاری، عبدالعلي مستغنی او عبدالهادي داوي. د سراج الاخبار د نور و قلمي همکارانو په ډله کې چې په پښتو یې شعرونه ویلي دي. د سېد محسن کندهاري، عبدالسلام کامه یی، ملاعبدالباقي کندهاری، عبدالرسول محمد زایي، میرزا عبدالرحیم رحیمی، او ملا-محمد خان عرض بیگی (افغانی نویس) نومونه د یاد ونې وړدي. محمود طرزي پدې دوران کې د پښتو د عامېدلو او ودې لپاره کار کړی، خو دا کار یې په دري ژبه دی. عبدالرحمن لودین که څه هم پښتو ژبې ته ډیر خدمت کړی دی خود پښتو شعر یا داستان کومه نمونه یې لاس ته نه ده راغلې.

## د روښانتیا پړاو ادبي ځانګړتیاوې:

د شملی پیړۍ په پیل کې د افغانستان په ادبیاتو کې موډرنیزیشن په پراخه اندازه منعکس شوی دی. د هغه وخت ادبي نوښتگر و په شعوري توگه هڅه کوله چې له ادبیاتو څخه د ملي او دموکراتېکو هدفونو د تحقق د پاره د یوې اغیزناکې وسیلې په توگه کارواخلي. د دې وخت د ادبیاتو سوژه، هیواد پالنه، خپلواکي غوښتنه، د اختناق او فساد رټنه، د فاناتیزم (تعصب) او ارتجاع غندنه، د مثبتو

علومو او تکنالوجی او نوي فرهنګ خپرونه، د ملي وحدت ټينګونه، د عصري ژوند له غوښتنو سره د ډودونو او انګيرنو سمونه، د مطلقيت او ستياتسکو (اوسنی حالت ساتنې) پر ضد د خلکو پارونه، د انګريزي استعمار په مقابل کې د ختيځ په تيره د مسلمانو ملتونو پاڅونه او داسې نور ملي، اسلامي، اوبشري ارزښتونه او آرمانونه دي. په دې اساس، ددغه پړاو په ادبياتو کې د پيغام او تعهد برخه ډيره پياوړې ده او پر مضمون باندې د زيات ټينګار له امله ادبي فورم ته لازمه پاملرنه نه ده شوې. له ځينو ليکنو څخه ځرګند يږي چې د روښانتيا پړاو د ادب مخکښانو په قصدي او عمدي توګه د کلاسيک ادب د بديعي صنايعو د عنعنې له پيروی څخه ډډه کړې ده.

د مثـال په تـوګه، محمود طرزي پـه خپله مـقـالـه (حسب حال مابين شعر طرز جديد و شعر طرز عتيق) کې د کلاسيک ادب پر تشبيهاتو باندې داسې ملنډې وهلې دي: «در اين عصر قد دراز سرو عرعر مانندی راکه ده پانزده برابر قامت طبيعی بشر باشد و آن سرود و ليموبا دو انار بار آورده باشد و مارهای سياه پر زهر از دو طرف آن آويخته باشد . . . هيچ کس نمی پسندد.» (د افغانستان کالنی ۴۵-۴۶ ګتيه ۱۳۵۸-۱۳۵۹ مخ ۹۷۴) د پښتو د معاصر ادب د لومړي پړاو اکثر شعرونه هيودا پالنې ته وقف شوي دي او په اصطلاح «وطنيه» شعرونه دي خود فورم او بديعي ځانګړتياوو له پلوه په هغو کې نيمګړتياوې ليدل کيږي. داسې ښکارې چې د مضمون په نوي کيدو سره

د نوي هنري شکل د ایجادولو د پاره هلې ځلې رواني وې. د ځینو ادبپوهانو په عقیده، ددې پراو مخکښانو له عنعنه یي ادب څخه په لیرې کیدو سره هڅه کوله چې د نوي ادب د بنسټ تیږه په خالي فضا کې کښیږدي چې په نتیجه کې یې د محتوی او شکل یو والی او تناسب زیانمن شو.

په اماني عصر کې د پښتو معاصر ادب، د انتظار په خلاف، مخ په ځوړه روان شو. ددغې دورې ډیر شعرونه په لاس کې نشته او یوه دوې بیلگې یې چې لاس ته راغلې دي د عادي نظم سطحې ته هم نه رسیږي. د تعجب خبره ده چې ځینو ادبپوهانو د غوشعرونو (!) ته د نوی او ابتکاري شعر په نظر کتلي دي. داده لومړۍ بیلگه:

امـــیـــر امـــان الـــلـــه خـــان
جـــې غـــازي دی بـــې مـــثـــال
و مـــلـــت د افـــغـــان
ویـــخـــښـــل اســـتـــقـــلال
قـانون و آئین جوړ کئ له دوی د دین
د پـــاره د مـــســـلـــمـــان

د نوي او ابتکاري شعر د پاره تر هر څه د مخه د ژبې سموالی حتمي دی؛ که ژبه له گرامري قواعدو سره سمون ونه لري، لکه «وملت د افغان ویخښل استقلال)» یا «قانون و آئین جوړ کئ له دوی د دین» نو دغسې شعر (؟) اصلاً شعر نه گڼل کیږي. ابتکاري خوبې لا په ځای

پرېږده.

په پورتني شعر (!) کې له وزن څخه بې خبري او سکتې په «نوي شعر» تعبير شوي دي د شاعر احساس د قدر وړدی خوله بده مرغه نه يې د نظم ژبه سمه ده، نه وزن لري، نه تصوير لري، نه تشبيهات يا نور شعري تلازمات او نه کومه نوې مفکوره.

اوس د همدغه وخت د شعر (!) يوه بله نمونه چې لاس ته راغلې ده، وګورئ:

شـاه غـازي امـيـر امـان الـلـه خـان
عـادل، عـاقـل، عـامـل، کـامـل
مـلـک مـحـکـم او قـوي دی افـغـانـسـتـان
مـتـيـن، رصـيـن، حـصـيـن، سـنـګـيـن

دغه بيلګه چې له پورتنۍ بيلګې څخه کوم امتياز لري هغه دادی چې ژبه يې څه سمه ښکاري.

ددغې پورتنۍ يادونې لومړی مقصد دادی چې په اماني عصر کې د معاصر ادب د پيلامې د پاره، لکه ځينو چې ادعا کړې ده، قناعت بخښونکی دليل نشته او دغه عصر له سراجي عصر څخه په ادبي لحاظ وروسته پاتې کيږي. دوهم مقصد دادی چې د شعر او ادب وده او ترقي په ميخانيکي ډول له ټولنيزي ترقۍ سره اړه نه لري. کيدای شي چې د هوسا او بسيا ټولنې د شرايطو پر ځای په بحراني حالاتو کې ښه شاعران او ليکوال پيدا شي.

## د روښانتیا پړاو نامتو شاعران او لیکوال

### مولوي صالح محمد کندهاري (۱۲٦۹-۱۳۳۹هـ ش):

صالح محمد هوتک په کندهار کې زیږیدلی او د پنځلس کلنۍ په عمر کابل ته راغی. لومړنۍ زده کړه یې د کابل د حبیبیې په مدرسه کې سرته ورسوله او بیا په هماغه مدرسه کې د ښوونکي په توگه وټاکل شو. مولوي صالح محمد هوتک د پښتو ژبې درس ورکاوه او د پښتو درسي کتابونه یې لیکل. دده آثار دادي:

۱-خود آموز پښتو: په ۱۳۱۳هـ. ش کال کې د کندهار په مطبعه کې چاپ شوی دی.

۲-لومړی کتاب د پښتو په ۱۳۳۵ هـ. ق کال د لاهور د دین محمدي په مطبعه کې چاپ شوی دی.

۳-خود آموز پښتو، د کندهار مطبعه، ۱۳۱٤هـ. ش

٤-پښتو ژبه، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۱٦هـ.ش

۵-پښتو ژبه، دوهم ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۱۷هـ. ش.

٦-د پښتو ژبې لپاره تدريسي کتاب.

۷-پښتو صرف اونحو، له ار دو څخه ژباړل شوی.

۸-د عزيزي تفسير ترجمه په پښتو ژبه، قلمي نسخه.

۹- اطاعت اولوالامر، په پښتو ژبه، ۱۳۳٤ هـ. ق.

۱۰-پښتو مثنوي، د پښتو د انکشاف او تقويې رياست، ۱۳۵۰ هـ. ش.

۱۱-تذکرة الشعراء د مولوي صالح محمد اوسراج الدين سعيد ګډ تأليف (۱).

له دغه فهرست څخه ښکاره ده چې د مولوي صالح محمد کندهاري اکثرې ليکنې تعليمي او تدريسي بڼه لري. مثنوي يې يو ادبي اثر دی چې دري زره بيته لري او ځينې برخې يې د مولانا جلال الدين محمد بلخي له مثنوي څخه يې په آزاده توګه ژباړلې دي.

مولوي صالح محمد کندهاري د پښتو د معاصر ادب د سر لاري په توګه نه هيريدونکي خدمتونه کړي دي. د پښتو لومړی شعر چې د معاصر ادب د بيلګې په توګه په سراج الاخبار کې خپور شوی، د مولوي صالح محمد خان کندهاري شعر دی. دده يوبل شعر چې د لومړي

---

(۱) مولوی صالح محمد هوتک په سراج عصر کې د حبيبيه ښوونځی دزده کوونکيو لپاره د پښتودرې درسي کتابونه کښلی وو:

-لومړی کتاب د پښتو؛ - دويم کتاب د پښتو او دريم کتاب د پښتو. دده د منظومو اومنثورو آثارو يوه بله مجموعه هم چاپ ده چې پاشلې ويناوې نوميږي (هـ).

نړیوالې جګړې په وخت کې یې د عثماني ترکیې په ملاتړ ویلی او په سراج الاخبار کې چاپ شوی دی. د انګریزانو له سخت عکس العمل سره مخامخ شو، هغه شعر دادی:

ته کره د زمکې ګوره
نظر وکړه زما ور وره
دنیا ده پر شور راغلې
توریدلې، قهریدلې
لږې ډول چې پر دنیا دی
پر یورپ که پر آیشیا دی
ټول په جنګ سره اخته دي
په سرووینو آغشته دي
جرمن دی خدای ګمارلی
روس، انګریز ته ښکارلی
انګریزان په ویر اخته دي
ډیر مغموم خورا خفه دي
همت ګوره د ترکانو
درومیانو، عثمانیانو
اې زما برادرانو
اې جمله مسلمانانو
ښه فرصت دی خدای راکړی

ښه موقع دی پیدا کړی
چی کفار سره اخته دي
په سرو وینو آغشته دي

دغه مثنوي تول (۷۰) بیته ده. داسې ښکاري چې انګریزانو به امیر حبیب الله ته سپارښتنه کړې وي چې د مولوي صالح محمد کندهاري د آثارو د خپریدو مخه ونیسي. تر یوه کاله پورې په سراج الاخبار کې چا دده اثر ونه لیده، ددې د پاره چې د خپلو آثارو د خپرولو د پاره لاره خلاصه کړي په (۱۲۹۵هـ. ش) کې یې د (اطاعت اولوالامر) تر سرلیک لاندې یو شعر له چا په را ووت:

اطاعت دا ولوالامر فرض عین دی
بلې بلې ثابت شوی په قرآن

د مولوي صالح محمد هوتک (د بلبل ژړا) یا (په قفس کې بلبل) په نامه شعر ډیر زیات شهرت لري.

که څه هم دغه شعر د عبدالهادي داوي د شعر ژباړه ده خو مولوي صالح محمد په ترجمه کې له دومره ظرافت څخه کار اخیستی دی چې ځانګړي ادبي ارزښت لري:

یو سحر زما تر غوږ سوه له بلبله
په قفس کې یې ژړل دایې ویله
چې بندي سوم د صیاد له سخته دله
ولې نه پوښتي څوک حال زما یو له بله

ولې نسته بې فغانه کار و بار زما
ولې حبس ابدي راغی په واروزما

نه محرم چې دزړه حال ورته بیان کم
نه مې وس چې خبر دا ره بلبلان کم

نه ملګري چې چمن ته یې روان کم
بیابیان ورته د ګل او دریحان کم

خپل دک زړه د آر مانوورته خالي کم
تمول مرغان د چمنو په ځان حالي کم

چاته وژاړم، پرچا باندي فریاد کم
چاته خاوري پر خپل سر باندي باد کم

چاته وګورم په څه شي زړګی ښاد کم
د صیاد لاسه چاته عرض و داد کم

څه راوسوه چې د تور قفس بندي سوم
نه خلاصیږم په دابند کې ابدي سوم

ولې زه له خپله سیله را جلا سوم
ولې زه له خپل وطنه را جدا سوم

ولې زه په ویراخته په واویلا سوم
کوروکلی مې سوپا ته خوار تنها سوم

کوم ظالم کړمه بندي خدای دې بندي کي
خدای دې ماغوندي اخته په جدایي کي

اوس به زه لکه هانور په هوا تلمه
په هوس د آزادۍ به نازیدمه
پر غنچو به د ګلانو مسېدمه
ورځ په ورځ به غوړېدمه لویېدمه
چابندي کړم خدایه تې په ځان اخته کې
په قفس یې دزندان جګر سوخته کې
اوس به ګرځیدم آزاد په چمنوکې
الوتم به په صحرا او په باغوکې
مست به ګرځیدم خوشحال په شګوفوکې
ولې اوس یم په غمو، په اندېښنو کې
چې بندي دې دقفس کړمه صیاده
خدای دې ماغوندې بندي که اې آزاده
الغرض چې ده وهلې دا نارې
د قفس له لاسه و په غلبلې
چې ناګاه د چمن بادراغی د کښې
چې پرونښت دایې وواته له خولې
مګر دا بنا د دچمن د خوا راغلی
چې زما صبر و آرام یې را څخه وړی

***

د شعرو روستي بندونه:

په حسرت او په افسوس يې د اويله
وگلشن ته يې کتل بيا يې ژړله
د قفس و دروازې ته يې ځغستله
لاريې نه وه وزرونه يې سر پوله
په هواسو سريې ونښت له قفسه
وينې توى سوې سورپوړ لويد له هوسه
سر تر پايه په سروڅڅکي غرقاب و
ځان بايللى، زړه زخمي، حال يې خراب و
بيابې هوښه يا پر هوښ، په اضطراب و
چې پر هوښ به سو، گويانه په داباب و:
سر مې بايلو په هوا د آزادۍ
شکر شکر سوم فدا د آزادۍ!

(په قفس کې بلبل) په سمبوليکه او رمزي ژبه د خپلواکۍ غوښتنې جذبات ښکاره کړي او خلک فداکارۍ او سر بايللو ته رابولي. د پوهاند حبيبي په وينا، دا شعر دومره مقبول وچې په کندهار کې حتى د ښځو خولې ته هم ولويده، خو له په خوله اوريدل کيده او دوطن له مينې به يې ژړل.

(په قفس کې بلبل) د پښتو د معاصر ادب يوه غوره بيلگه ده. که څه هم د محلي ديالکټ اغيزه پکې څرگنده ده خو په هغه کې يو مهم ملي

آرمان په ښکلي عاطفي رنګ کې منعکس شوی دی. په دغه شعر کې تعقید او زاید الفاظ نشته، د اصطلاحاتو له پلوه غني او ژبه يې طبيعي او له محاوري سره سمه ده. په نوموړي شعر کې د تصوير بشپړتيا، منطقي انسجام او حسن ختام، د عواطفو تلطيف، د رمز په ژبه د اسارت او مړيي توب پر ضد اعتراض او د طبيعت د ښکلا انځور پر همدغه شعر باندې د جاودانګۍ مهر لګوي.

## غلام محی الدین افغان (۱۲۷۹-۱۳۳۹ هـ. ق):

د امير حبيب الله د پاچهۍ په زمانه کې چې يو شمير افغانان بيرته خپل هيواد ته راستانه شول. د هغو په ډله کې مولوي غلام محی الدين افغان هم شامل و. غلام محی الدين افغان د عبدالرشيد زوی په کندهار کې زيږيدلی دی. د تبعيد په موده کې يې په هند کې عصري پوهنې زده کړې.

ويل کيږي چې دی په اردو، سنسکريت، عربي، انګريزي او فارسي ژبو پوهيده. مولوي غلام محی الدين افغان چې کله کابل ته راستون شو د هيواد د ځوانانو د روزنې په منظور يې معارف ته مخه کړه او د دارالمعلمين مدير و ټاکل شو. دی د (اخوان افغان) د نهضت غړی و. د خپلواکۍ د بشپړتيا، د عصري پوهنو د تعميم او پراختيا، او د ملي احساس د ويښتيا په لار کې يې هلې ځلې وکړې. افغان د پښتو ژبې له سوچه کولو سره هم مينه درلوده.

## د افغان د شعر بیلګې:

زړه زما ډک دی له مینې د وطن
خپل وطن ما ته عزیز دی تر خپل تن
هر یو ګل مې د وطن پر ما ډیر ګران دی
تر کشمیره، تر پاریس وتر لندن
شیرین ځان مې په شیرین وطن فدا دی
زه خو دارنګه فرهاد یمه کوهکن
ګلستان مې دوطن لادر کنار دی
خارستان دی د وطن راته ګلشن
د وطن په حمایت کې ځان مباح دی
په دامینه کې لازم دی سر باختن
چې د چا په سر سودا د وطن نه وي
سر د ده دی مستحق د بریدن
چا په زړه کې چې جنون دوطن نه وي
د هغه زړه خدای همیش لري غمجن
که څه ډیر دي په جهان کې عز تونه
ډیر عزت دی په خدمت کې د وطن

***

بې کمال د باکمال کله همسر دی
هم قیمت کله ګوهر سره حجر دی

با کمال سړی په مثل د پادشاه دی
په ظاهره که مفلس او قلندر دی

که لباس د بې کمال وي د زربفتو
دا یې څل وي د حریر و هغه خر دی

که لباس د با کمال وي د کرباسو
کمال ده لره خلعت دی هم زیور دی

څوک چې نه لري کمال واوره افغانه
که غني وي لا خو تانه مفلس تر دی

مولوي غلام محی الدین افغان، دادترقی او خپلواکۍ غوښتنې د باغ خوشنوا بلبل په (۱۳۰۰ هـ . ش) کې خپلې نغمې بس کړې او همیشني باغ ته یې سفر وکړ. دده د دوستانو له خوا یې پر مزار په پښتو ژبه یوه کتیبه ولیکل شوه (۱) څرنګه چې نوموړې کتیبه د افغان پر ژوند پیښو رڼا اچوي او له بلې خوا، د ځینو په عقیده، د مړستون (قبر) لومړنۍ شناخته ده چې په پښتو لیکل شوې ده نو دلته یې کټ مټ رانقلوو:

یا ایها النفس المطمئنه ارجعي الی ربک راضیة مرضیه فادخلی فی عبادي و ادخلی جنتی.

مولوي غلام محی الدین افغان په قندهار کې متولد شو او هلته د

(۱) د غلام محی الدین افغان متفرق پښتو- دری آثار او اشعار اوده راټول کړي پښتو متلونه په سراج الاخبار کې نشر دي. دا ټول آثار: د غلام محی الدین افغان افکار او آثار نومې مجموعه کې: راټول او چاپ شوي دي. د ۱۳۶۰ هـ ش کال چاپ (هـ).

دینیات معلومات یې حاصل کړل، پس په معیت د سردار ایوبخان په راولپنډي اولاهور کښې د فرار په حالت له انګریزی مکتبو څخه یې جدید تعلیم واخیست چه بیرته کابل ته راغئ د امیر حبیب الله خان په روښان دوران کښې د دارالمعلمین مدیر مقرر شو او هغه خیالات او ارادې یې د اصلاح او ترقۍ د ملت چه دولس کاله پخوا په مجلس کښې د «جان نثاران ملت» معاقده کړې وې. د ظل الهی تر سیوري لاندې پخپله په ثمر ورسیدلې. په دا کیفیت مطمئن او د عباد الله په خدمت کښې داخل و، چه په اجل دو بای هیضه و خپل پروردګار ته راجع شو او هغه د ټولو څښتن تعالی دی په جنت کښې داخل کئ.

دا دعاد «اخوان افغان» په یاد د هغه وطن دوستی او وفادار (زړه) خیژي:

چه په یارپسې ترڅان وجهان تېروي
څوک کولی سی داهسی مشقت

د شپیتو کالو د صلاح او تجرد او ځوانی په ژوند کښې ملګری د ځوان مردانو، د اهل او صالح د هر مشرب، چه ټول یې آمرزش غواړي.

بروز مرگ که یوم وصال یار انست
کسیکه دست من آندم گرفت یار آنست

تاریخ وفات چهارشنبه ۱۱ اسد ۱۳۰۰ هـ. مطابق ۲۸ ذیقعده ۱۳۳۹.

## عبدالعلي مستغني (۱۲۹۳ هـ. ق - ۱۳۵۲هـ. ق):

عبدالعلي مستغني د روښانتيا ددوري تر ټولو مشهور شاعر وچې زياتره رنگين شعرونه يې په دري او ځيني شعرونه يې په پښتو هم ويلي دي. په شعرکې د ده شهرت له دې څخه هم څرگنديږي چې د افغانستان ملک الشعراء قاري عبدالله او د ايران ملک الشعراء محمد تقي بهار دده په مړينه ويرنې (مرثيې) ويلي دي. مستغني د ملا رمضان زوی په ختيه هوتک دی، خو څرنگه چې دده کورنی له کندهار څخه ميدان ته را کوچيدلې ده نو ځکه دی د مستغني وردگ په نامه هم ياديږي. د مستغني پلار ملا رمضان د خپل وخت نا متو عالم و، امير حبيب الله او سردار نصر الله خان ته يې درس ورکړی دی. مستغني د خپل وخت متداوله علوم، لکه فقه، صرف او نحو، منطق، حکمت، علم کلام، تصوف ولوستل او د مولوي خال محمد خسته په قول، په نجوم، رمل، حساب، هندسه کې يې مطالعه درلوده او د قوي منطق او استدلال خاوند و. دده يو شمير شعرونه په سراج الاخبار او کابل مجله کې چاپ شوي دي. په پارسي ژبه د اشعارو څولوی ديوانو نه لري. مستغني له خپلې مورنۍ ژبې پښتو سره مينه درلوده خود پښتو شعرونه يې د کميت او کيفيت له پلوه پارسي شعرونو ته نه رسيږي. دی پښتنو ته توصيه کوي چې خپله مورنۍ ژبه هيره نه کړي:

ښه ده ښه ده که په سل ژبو د انا يې
ولې مه کيږه نادان د خپلې ژبې

## د مستغني د اشعارو یوه بیلګه (له لنډیز سره):

بې له علمه به څه غواړي په دنیا څوک
که عاقل وي که هوښیار وي که دانا څوک

تر دې ښه متاع په دې دکان کې نشته
سود به وکا که کوي دغه سودا څوک

درست جهان قربان د علم تر ګوهر شه
دغه وایم که مې وپوښتي رښتیا څوک

علم سل خرواره ثقل په هوا کا
دروای شي یوه بنه په هوا څوک؟

مجهولات به د عالم ورته معلوم شي
که د علم له مضمونه شي جویا څوک

تر قیامته خرابي پرې اثر نه کا
که د علم پر بنا کښېږدي بنا څوک

په دنیا دی هغه قصر بې قصوره
چې د علم پر قرار یې کړي بر پا څوک

چې د علم د طبیب دارو ونه خوري
له مرض د جهل نه مومي شفا څوک

دهغه ملت به څرنګه ښادي وي؟
چې په ده کې به عالم نه وي اصلا څوک

که بلا ده په جهان کې بې علمي ده
خدای دې نه کا مبتلا په دا بلا څوک

په جهان کې به غالب پر هر دښمن شي
که د علم توره وتېره ي تر ملا څوک

چې د فکر باریکي نه لري وروره
څه په کار ده که لري باریکه ملا څوک

په حکمت سره د خپل ملت غمخور شه
باري نه لري د بل ملت پروا څوک

که د خپل ملت پخپله غمخور نشي
هرگز نه کا په پردي مړي ژړا څوک

هرگز نه لري زوال دولت د علم
دا دولت له چا نه نشي وړای په غلا څوک

هر ملت چې وي بې علمه نابیناوي
باري مه شه په جهان کې نابینا څوک
له پښتو به پښتون څه چشم پوشي کا
دا به نه کا که لري شرم وحیا څوک

## عبدالهادي داوي (۱۲۷۲ - ۱۳۶۱ هـ ش):

عبدالهادي داوي زموږ د هیواد یو نامتو سیاسي او فرهنگي شخصیت دی. دده پلار عبدالاحد خان د کندهار له ممتازو طبیبانو څخه

وچې د امیر عبدالرحمن په فرمان کابل ته راغی او د دربار د طبیب په توګه وټاکل شو. عبدالهادي داوي د حبیبیې په ښوونځي کې زده کړه وکړه او د خپل وخت له سترو علمي او اجتماعي شخصیتونو، لکه مولوي محمدسرور واصف، مولوي عبدالرب، ملک الشعراء عبدالله، او هندي مهاجرو ښوونکو، مولوي محمد مظفر او مولوي محمد حسین سره یې ناسته ولاړه درلوده. وروسته یې له محمود طرزي سره د سراج الاخبار په چلولو کې همکاري کوله. عبدالهادي داوي له خپلوا استادانو او همکارانو څخه اردو، ترکي او عربي ژبې زده کړې.

عبدالهادي داوي په خپل ژوند کې ډیرې لوړې ژورې لیدلې دي او له یولړ ډراماتیکو پیښو سره مخامخ شوی دی. په (۱۲۹۶ هـ. ش) کال کې د امیر حبیب الله د زیږیدنې د جشن په شپه د کابل په شوربازار کې یوچا پر امیر ډزې وکړې.

عبدالهادي داوي د متهمینو په ډله کې اووه میاشتې په شاهي ارګ، کې بندي شو. کله چې امیر امان الله خان د سلطنت اعلان وکړ، عبدالهادي داوي هم له بند نه خوشې شو او د امان افغان د اخبار د چلوونکي په توګه وټاکل شو. له دې وروسته په اماني دوره کې داوي ته مهمې دندې وسپارل شوې. په (۱۳۰۲ هـ.ش) کې په لندن کې د وزیر مختار په توګه او په (۱۳۰۵ هـ. ش) کې د تجارت د وزیر په توګه مقرر شو. د سقاوی اړو دوړ په وخت کې داوي بندي شو او بیا هندوستان ته ولاړ. د محمد نادرشاه د سلطنت په دوره کې عبدالهادی داوی په جرمني کې د افغاني وزیر مختار په توګه وټاکل شو، خو دري کاله وروسته کابل ته راغی. په

(۱۳۱۲ هـ ش) کې د محمد نادر شاه د شهادت له پیښې سره په ارتباط کې داوي یو ځل بیا بند یخانې ته ولاړ او په (۱۳۲۵ هـ . ش) کې له قیده آزاد شو او د پاچا د حضور سرمنشي وټاکل شو. له دې وروسته داوي د ملي شورى د رئیس، په مصر کې د لوی سفیر او په اندونیزیا کې د مختار وزیر په توګه وظیفې اجرا کړې دي.

عبدالهادي داوي که څه هم د ژوند زیاته برخه سیاست ته وقف کړې وه، سره له دې ده یو شمېر ادبي او علمي آثار هم لیکلي دي. په لومړي سرکې دده تخلص (پریشان) وه بیا یې د (داوي) تخلص غوره کړ. داوي د پښتنو قبیله ده چې شجره یې غرغښت نیکه ته رسیږي. د داوي ځانګړي تألیفات دادي:

۱- زما رسول پاک: د یوې رسالې نوم دی چې له اردو څخه ژباړل شوې او په لاهور کې د (افغانستان) د جرګې دا داري له خوا چاپ شوې ده.

۲- تجارت ما با .س.س.س (سم شکل یې S.S.S.R چې په روسي ژبه د شوروی سوسیالستي جمهوریتونو د اتحاد مخففه بڼه ده).
دا ارساله په پارسي ژبه لیکل شوې ده.

۳- غیاصه په پښتو منظوم کتاب دی او د پښتو ځینې نادر لغتونه یې پکې شرح کړې دي.

٤- لالي ریخته: دډاکتر اقبال لاهوري دارد و اشعارو ترجمه په پارسي نظم ده.

۵- گلخانه: د شعرونو مجموعه ده.

٦- نغمات: دده د اشعارو بله مجموعه ده.

٧- رجال وطن: په دې اثر کې د هیواد د ځینو نومیالیو کسانو پېژندګلوي راغلې ده.

**د عبدالهادي داوي د شعر یو دوه بیلګې:**

## چارګل

ناوې! څه ږدې په اوربل باندې قطار ګل
انسان کله شي کیدای په ډیر سینګار ګل
(خاموشي) او (اطاعت) د خپل میړه کړه
(تربیت د اولاد) ښه دی تر خروار ګل
(سر رښته د کور) هر ګوره لوی هنر دی
اکتفا کړه ښایستې په دغه چارګل

## بیرند وکی زړه

د ښهرو میر منې زموږ دي نازولې
په اعصابو عضلاتو هم نتلې
کارېې لږ، خوراک یې غوړ، هوایې بده
سستې پستې لویې سوې دي بې حده

د شپې څه، چې دي پرتې تمامه ورځ
بالښتونه يې پاسته لکه اوريځ

کوچني زړونه يې هر دقيقه ريږدي
واولادتنه دغه بيره ميراث پريږدي

يو ځرخي ماته کاوه دا حکايت
ظرافت تر لباس لاندې شکايت

دسقاو د لاسه وتيښتيدو ټوله
يو مورو پناه «ځاځو» له پښتنوله

شل جوړې منو کجاوې وې د ميرمنو
په سيراوې د خپل لو ټودزامنو

پښتنې راووتې د هرګډل نه
يا زمرۍ وې چې را ځغاستې له ځنګل نه

نه يې غم و د بوټو اونه د کوښو
د هوسۍ په شان رااوښتې تر بوټو

پند پوړنې يې په سرورد شنه سان
يې له ستورو ښايسته وو تر آسمان

کجاوې يې کړې راکښته داوښانو
زړه يې خوش کړ په ښه رنګ د ماشومانو

اوس لا هم زما د ميرمنو غاړې زانګي
دي پرتې په کجاوو کې ښانګې ښانګې

پښتنه ماته نزدي سوه وي مسل
په قرار آوازي وويل
داخيشتې پيشتې موخنگه دي بارکړي
اومې غوښې موله کومه دي راوړي
صحرايي پښتنې نه دي بيرندوکې
نو اولاد يې نه پتيږي په کندوکې
مسلح غليم مري ونيسي کلکه
سريې پرې کړي لکه چرگه يا چوغکه

مولوي عبدالواسع کندهاري(۱۲۹۰ هـ.ق - ۱۳۵۰ هـ. ق ):

په افغانستان کې يوې نامتو علمي کورنۍ چې د نسب سلسله يې ملا بابړ کاکړ موسى خيل ته رسيږي په علمي، ادبي او سياسي نهضتونوکې مهمه ونډه درلوده. ددغې کورنۍ پر خدمتونو باندې کتابونه کښل کيداى شي خو دلته به د موضوع په ارتباط يوازې د مولوي عبدالواسع په نامه بسنه وکړو.

مولوي عبدالواسع خان د مولوي الرؤف خان زوى و. مولوي عبدالرؤف د سراج الاخبار افغانستان د لومړۍ گڼې ناشر او د مشروطه غوښتنې د نهضت تا داوايښودونکى و. مولوي عبدالواسع د پښتو مرکې رئيس، د قضا ي قوانينو او دولتي نظامنامو اورسالو مؤلف او د لومړۍ مشروطه غوښتونکو د لارښوونکو له ډلې څخه گڼل کيده. دلته به دده د شعر يوه بيلگه را وړو چې فلسفي بڼه لري:

د اوجدان وجدان چې مونږ په ژبه بولو
په مجمع کې د ځوانانو د امزولو

د اوجدان نه دی خواهش د طبیعت دی
تحریفونه د الفاظو لوی آفت دی

که وجدان د سړیتوب وای دا خواهش
اتفاق به وو پر حسن او نکوهش

زما ممدوح به ستا مبغوض هیڅکله نه و
بدد ټول انسان به بد، او ښه به ښه و

دا خلاف بې وجدانی دی پیدا کړی
طبیعت، د خپل خواهش نوم اداکړی

که وجدان وای ټول حقوق به مواد اوو
پر دنیا به نه بډای و نه گداو

که وجدان وای زه او ته یو یو انسان
ولې زما کمیس کرباس دی ستا دسان

اوس معلوم سو (با) وجدانه قانون دان دی
بې قانون چې هر سړی دی بې وجدان دی

د وجدان په باب د مولوي عبدالواسع کندهاري نظریه دده د ژور فلسفي تفکر زیږنده او ځانته جلا بحث غواړي. دلته به په لنده توگه یادونه وکړو چې د ځینو فیلسوفانو په نظر، وجدان د انسان فطري صفت

دی . د دوی په عقیده، د وجدان حکم د شخصي گتې تابع نه دی. د مثال په توگه ، یو سړی د بل شخص د نجات د پاره له سرنه تیریږی، د خپل بوډا پلار خدمت کوي، د ناموس نه په دفاع کې سر بایلي، پر یوه حیوان زړه سوزوي، دا ټول دوجدان په حکم تر سره کیږی. په دغه وخت کې انسان د لوړو اخلاقي ارزښتونو د پاره قرباني ورکوي او له شخصي گټې او حتی د خپل ژوند څخه تیریږی. د ځینو نورو فیلسوفانو په عقیده، وجدان فطري صفت نه دی، بلکې په ټولنه کې د انسان د موقف، دده د ژوند د شرایطو، د پوهې د سطحې، او داسې نورو عواملو په اساس تاکل کیږی. وجدان له وظیفې سره نژدی اړیکې لري او مولوي عبدالواسع هم دغه موضوع د قانون له رعایت سره مربوطه کړې ده. مولوي عبدالواسع وجدان فطري خاصیت نه گڼي ځکه که دا خبره رښتیا وای نو د ټولو ممدوح او مبغوض به یوشانته و. په داسې حال کې چې داکثرو خلکو ممدح هغه څوک وي چې گټې یې ورپورې تړلې وي. د شهودی مکتب پلویان دا خبره رد وي او وايي چې ښايي غله به د خپل مشر درناوی او مدح کوي خو وجدان ته شرمنده وي او پوهیږي چې غلا ښه کار نه دی. په هر صورت، دا یو فلسفي بحث دی چې زده کوونکي کولی شي مناقشه وربانديې وکړي.

## ملا عبدالباقي کاکړ ( ۱۲۷۰ - ۱۳٤٤ هـ ق ):

عبدالباقي کاکړ په کندهار کې زیږیدلی دی. ده په پښتو ژبه په یوه اوږده مثنوي د (تهذیب الواجبات في التخریب العادات) په نامه یو

کتاب لیکلی دی چې د (تبیین الواجبات) (۱) په نامه هم یادیږي او (۶۰۰۰) بیته لري. دا کتاب د امیر عبدالرحمن په وخت کې پیل شوی او د امیر حبیب الله د پاچهۍ په زمانه کې پای ته رسیدلی دی. ملا عبدالباقي کاکړ دغه مطلب ته داسې اشاره کوي:

د ضیأ په نور روښان سوم مقتبس سوم له سراجه
را اخیستی مې قلم دی بیلوم دین له رواجه

---

(۱) تبیین الواجبات پخوا په ناریشلي هند کې چاپ شوی و. دروانې هجري شمسي سدی په شپیتمو کلونو کې د کتابو تاجرانو په پاکستان کې بیا چاپ کې. له دغه وروستي چاپ سره د اکادمیسین پوهاند رشاد یوه سریزه هم مله ده. (ه)

# پنځم څپرکی

# د ویښتیا پړاو

## تاریخی پس منظر:

د امیر امان الله خان ټولنیز، اقتصادي، او فرهنګي اصلاحات چې د ترقی غوښتونکو روشنفکرانو آرمانونه یې تمثیلول د روحانیونو، ملایانو، خانانو، او محافظه کاره سردارانو له مخالفت سره مخامخ شول. که څه هم په وروستیو وختو کې امیر امان الله خان ځو ګامه په شا ولاړ او پر خپلو ریفورمونو یې نوې کتنه وکړه خو بیا چا په عامه ذهنیت کې وهل شوی واود ده پرضد فعالیتونه پیل شول. د ۱۹۲۹ کال د جنوري (جدي ۱۳۰۷ ش) په میاشت کې حبیب الله نومی (چې د سقاو

زوی په نامه شهرت لري) پاچهی ته ورسید. داکثرو تاریخپوهانو په نظر، د امیر امان الله خان د ناکامی اوزوال یو عمده علت د انګریزانو تبلیغات او تخریبي فعالیتونه وو چې نه یې غوښتل په هند کې د آزادي غوښتونکو د پاره پیاوړي پشتوانه او تکیه ګاه جوړه شي. انګریزانو له شوروي اتحاد سره د اماني دولت د ښو مناسباتو ټینګول هم په خپله ګټه نه بلل. سره له دې، د اماني رژیم د زوال اساسی علت داو، چې په افغانی ټولنه کې د نفوذ خاوندان د ریفورمونو مخالف وو او افغانی ټولنه د سایکالوجۍ له مخې د اصلاحاتو منلو ته چانه وه آماده کړې.

د سقاو زوی یوټې سواده لاروهونکی و. که څه هم دده اخلاقي ټیپ (لکه زړه ورتوب، ځوانمردي، سخاوت، اونور) له افغاني نورمونو سره برابر و، خو د سیاست او اداري له پلوه د پاچهي د کارونو د پاره جوړنه و. د غبار په قول، د مملکت اداره خو پرېږده د یوه کلي له اداري څخه هم عاجزو. (افغانستان در مسیر تاریخ، ۸۲۶مخ) ده د خپلې پاچهی په لومړۍ ورځ اعلان وکړ چې زه به په راتلونکې کې د بیت المال پیسې په تعمیرونو او مدرسو باندې ضایع نه کړم او همدا غه وچې د معارف (ښوونې او روزنې) وزارت یې لغوه کړ او د ښوونځیو دروازې یې وتړلې. ده د ځواو یاتنو ملایانو په لاسلیک سره د امان الله خان د تکفیر فتوا صادره کړه. د تکفیر ځینې د لایل یې د اووچې امان الله خان د پګړۍ په ځای خولۍ رواج کړه؛ د ږیرې خرېیلو او دریشی اغوستلو رواج یې وهځاوه؛ د ښځو ښوونځي یې پرانیستل، قمري سنه یې په شمسي

واړوله، او داسې نور.

د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر په ۱۰ (د ۱۳۰۸ ش کال د میزان ۲۳) نېټه د کورني اړدوړ په پای کې محمد نادر شاه پاچهی ته ورسید. محمد نادر-شاه د تدریجي اصلاحاتو پلوی واو کوښښ یې وکړ چې له تیرو تجربو څخه په استفادې سره داسې زمینه برابره کړي چې په آرامي سره حکومت وکړي. دده لومړی کار داوچې راډیکال مخالفان له صحنې څخه لیرې کړي او د طبقاتي یا صنفي اتحاد له لارې د سوداګرانو، متنفذو روحانیونو، دیني علماوو او اعتدال خوښوونکو روشنفکرانو ملاتړ تر لاسه کړي. دهمدغه داخلي سیاست په ادامه کې یې خارجي سیاست هم داسې عیار کړ چې د پردیو د لاس وهنې د پاره بهانه برابر نه کړي، د بیطرفۍ او له ټولو هیوادو سره د برابرۍ، د مناسباتو د ټینګولو تګلارې ته یې د (۱۹۳۱) کال په اساسی قانون کې قانوني جنبه ورکړه.

محمد نادر شاه ددغه فارمول په اساس چې «سره ټول یې کړه، کنټرول یې کړه» خپل احتمالي پلویان په بیلا بیلو ګروپونو کې تنظیم کړل. سوداګران یې دې ته وهڅول چې شرکتونه جوړ کړي او د فابریکو په جوړولو کې ونډه واخلي. د شلمې پیړۍ په دیرشمو کلونو کې پنځلس لوی شرکتونه تأسیس شول. په (۱۹۳۲) کې (بانک ملي افغان) پرانیستل شو چې په هغه کې په سلو کې (۹٤) پانګې په ملي سوداګرو پورې اړه درلوده. د روحانیونو او دیني علماوو د رضایت د جلبولو د پاره یې یو لړ اقدامات تر سره کړل. د آزادو دیني مدرسو جوړولو ته یې اجازه

ورکړه، شرعي محکموته يې په کافي اندازه آزادي ورکړه، پرخپلو دولتي قوانينو باندې يې د شرعي مهر لګولو د پاره (جمعيت العلماء) تاسيس کړ؛ يو شمير ديني عالمان په ښوونځيو کې په تدريس لګيا شول. درسوخ خاوندان، لکه روحاني شخصيتونه، ستر ملاکان، او د سوداګرو د طبقې نماينده ګان يې د ملي شورا او اعيانو مجلس ته جذب کړل. اعتدال خوښوونکي روښانفکران او د (جوانان افغان) د ډلې پاتې کسان يې په ادبي او فرهنګي مؤسسو کې مقرر کړل؛ په کابل، کندهار، او په هرات کې ادبي انجمنونه جوړ شول. په (۱۳۱۱ هـ. ش) کې (په کندهار) د پښتو انجمن په جوړيدلو سره د (پښتو) مجلې په خپريدلو پيل وکړ.

په ۱۹۳۳ کال کې (د ۱۳۱۲ ش د عقرب ۱٦) چې محمد ظاهر شاه د پاچهی پر تخت کښيناست په عمده توګه يې د خپل پلار تګلاره تعقيب کړه. د ظاهر شاه د سلطنت په دوره کې ځينو نړيوالو پيښو پر افغاني فرهنګ په تيره پښتو ادبياتو باندې خپل سيوری واچاوه چې هغه عبارت دی: د آلمان له نيشنليزم، دهند د نيمې وچې ويش او د ګاونډي هيواد شوروي اتحاد د کمونيستي ايډيالوجۍ له تبليغ څخه. د جرمني فاشيستي افکارو په ټولو هيوادو کې دافراطي يا معتدل نيشنليزم درامينځ ته کيدو امکانات برابر کړل. په افغانستان کې يو معتدل نيشنليزم مينځ ته راغی، چې عمده مضمون يې ملت پالنه، د تاريخي مواريثو او عنعنو درناوی، حماسي ادب، پر ځان ويسا او ملي غرورو.

دهند د نیمې وچې دویش په وخت کې داسې مفکوره پیاوړې شوه، چې د دیورنډ د تحمیلي کرښې په واسطه له افغانستان نه بیله شوې برخا ،دې بیرته له خپل پلرني هېواد سره یو ځای شي. هغه ریفرنډم، چې د هند په نیمه وچه کې د انګریزانو له خواتر سره شو د افغانانو د پاره د منلو وړ نه و.

د ظاهر شاه د سلطنت په دوهمه لسیزه کې پښتو ادب له یوې خوا د پښتو ژبې د تعمیم او پیاوړتیا له جریان سره، او له بلې خوا په هېواد کې د دموکراسۍ او ریفورم غوښتنې له نهضت سره په ملګرتیا کې، د یر ژرنوي پړاو ته داخل شو، چې مورږ یې د (ویښتیا پړاو) بولو.

دویښتیا پړاو ترزیاتې اندازې دویښ ځلمیانو له سیاسي غورځنګ سره اړه لري. د پښتو ژبې تقریباً ټول نامتو لیکوال او شاعران دویښ ځلمیانو په سیاسي سازمان کې شامل وو او له همدې لامله دویښتیا ددورې اکثر شعرونه او لیکنې اجتماعي - سیاسي رنګ لري. دویښ ځلمیانو په مرامنامه کې د (پښتو ژبې له ترقۍ ورکول) فقره هم شامله ده. که څه هم د ویښ ځلمیانو له ګوند نه وروسته ځینې نور سیاسي سازمانونه هم جوړ شول چې د (وطن) او (ندای خلق) په نامه نشراتي ارګانونه یې درلودل او برسیره پردې ځینې نورې جریدې هم د ځینو سیاسي سازمانونو له خوا خپرېدې خو په عامه ذهنیت کې د ویښ - ځلمیانونوم نقش شوی و او هر تحول غوښتونکی شخص به یې ویښ ځلمی باله. په واقعیت کې د سیاسي سازمانونو مرامنا مې یوبل ته ورته

وي، يوازې د تاکيد تکي د هغوی د تشخيص نخښه ده. د مثال په توګه، د (وطن) ګوند پر اقتصادي اصلاحاتو ټينګار کاوه، ويښ ځلميانو ملي مفکورو، او د (ندای خلق) چلوونکو سياسي تحول ته زياته پاملرنه درلوده.

دويښتيا د پړاو ادبي مېتود انتقادي رياليزم وچې په عمده توګه داداري فساد، بيروکراتيزم، اختناق، اتوکراسي، ارتجاع، ظلم او استثمار (په تيره د خانانو او ملاکانو له خوا د بزګرانو د استثمار) پر ضد مبارزه پکې منعکسه شوې ده. همدارنګه د دغې دورې په ادبياتو کې د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادي بخښونکي نهضت، د ښځو د دموکراتيک حقوقو، ټولنيزو سياسي ريفورمونو، د اقتصادي حالت د ښه والي د پاره مبارزه د يادونې وړ ده. دويښتيا دورې په ادبياتو کې کله کله د سوسياليستي رياليزم بيلګې هم ليدل کيږي خود دغه وخت مسلط ادبي مېتود انتقادي رياليزم دی چې د شعر، لنډې کيسې، ادبي ټوټو، ډرامې، طنز، او ادبي مقالو په بېلا بېلو ژانرونو کې يې ځان ښودلی دی.

دويښتيا په ادبياتو کې د فورم له پلوه د روښانتيا د دورې په نسبت ډيرښه والی راغلی دی. خوسره له دې، پيغام او ايډياته د بديعي مختصاتو په نسبت زياته پاملرنه شوې ده، مفکورې زياتره نيغ په نيغه بيانيږي او له ادب څخه د تبليغاتو دوسيلې په توګه کار اخيستل کيږي. په دغه وخت کې فورماليزم او (هنر د هنر د پاره) مفکوره وغندل شوه. دا ټکي په آسانۍ سره د پوهيدو وړدی ځکه چې افغاني ټولنه په اقتصادي

او فرهنګي لحاظ دومره بېرته پاتې شوې وه، چې نور هنر، فورمالیزم او فیشني ادب دزغملو وړ نه و. په عمومي توګه ویلای شو چې د پښتو معاصر ادب له ریالیزم نه پرته بل ادبي مېتود چنداني نه پېژني او علت یې دا دی چې ریالیزم پېچلې تکنیک نه لري، ساده دی او له بلې خوا د خپل ماهیت له مخې د تبلیغاتو د پاره ښه کار ورکوي.

## نامتو لیکوال او شاعران:

دوېښتیا دورې په ادبیاتو کې عام تمایل دا دی چې دادبي ځېړونکي هم د لیکوالو په ډله کې حسابیږي او له همدې امله، کله چې ادبي څېړې معرفي کیږي، نو د هغو پر نومونو باندې سترګې پټول یو ډول بې انصافي ښکاري. ددغه تمایل درامنځ ته کېدو یو علت دا دی چې د ځینو روښانفکرانو په نظر کیسه لیکل یا شعر جوړول د څېړنې په نسبت ساده او ارزانه ښکاري، په تېره بیا چې د پښتو یو زیات شمیر شعرونه او کیسې د ابتذال په سطح کې واقع شوي دي. له بلې خوا، په عنعنه یي لحاظ (ادبیات) د بدیعي ادب او همدارنګه دادبپوهنې په مفهوم استعمالیږي نو ځکه د بدیعي اثر هستوونکي او ادبي څېړونکي په هماغه یوه ساحه کې په کار بوخت دي.

پخوا له دې چې د ویښتیا دورې نامتو لیکوال او شاعران معرفي کړو، ښایي یادونه وکړو، چې د ویښتیا د پړاو ځینې لیکوال او شاعران داوښتون په پړاو کې لا زیات فعال شول او زیات آثار یې په وروستني پړاو کې چاپ شول. له دې کبله، باید په یاد ولرو چې د شاعر ژوند کله

کله له پړاوونو سره سرته خوري.

**۱- شاعران:**

**(الف)** د دغه پړاو نامتو شاعران دادي: گل پاچا الفت، عبدالرؤف بېنوا، سلیمان لایق، عبدالباري جهاني، بهاء الدین مجروح، محمد صدیق پسرلی، سعد الدین شپون، قیام الدین خادم، برکت الله کمین نصرالله حافظ، عبدالله بختانی، مجاور احمد زیار، عبدالرؤف قتیل، کبرا مظهري، حبیب الله زړه سواند، عبدالله غمخور، او سیلاب ساپی.

**ب)** هغه شاعران چې د اشعارو کمیت یې لږ او کیفیت یې زیات دی: عبدالحی حبیبي، عبدالشکور رشاد، صدیق الله رښتین، محمد موسی شفیق، عبدالرحمن پژواک، حبیب الله تږی، محمد جان فنا، او طالب کندهاری.

**ج)** له متوسط نه پورته شاعران: ولي محمد مخلص، عبدالخالق اخلاص، سید حسن حسن، شمس الدین مجروح، دوست شینواری، محمد عثمان تژند، مستوره شال، عبدالقدوس پرهیز، غلام رحمن جرار، عبدالمنان دردمند، حبیب الله رفیع، محمد عارف غروال، محمد ارسلان سلیمی، غلام جیلانی جلالی، محمد شاه ارشاد، محمد صدیق رازقی ترپوال، محمد دین ژواک، عبدالرزاق فراهی، غلام دستگیر رتگ، محمد ابراهیم عطایی، محمد رحیم الهام، عبدالکریم محب، محمد طاهر بینا، عزیز الرحمن ممنون، عبدالمنان ملگري، او امین الله زمریالی.

د) نورشاعران: محمد عمر بلبل افغان، محمد عثمان پښتون، نیک محمد پکتیانی، محمد رفیق حبیبی، میرمن حمیده، محمد ابراهیم خواخوږی، خالد روښان، غلام محی الدین زرمتی، سمسور ساپی، غلام حضرت روغمن، محمد اکبر پامیر، پاینده محمد زهیر خواجه محمد زهیر، محمد حسن ضمیرساپی، محمد سلام سلیم، سید حسین سید، محمد گل عتیقي، عطاء الله خان عطا، عبدالله نورزی، لعل محمد غریب، غلام حضرت فقید، قاضی عبدالصمد آخوند، محمد رفیق قانع، سید محمود کارگر، برهان الدین کشککی، سید احمد گلزار، محمد گل للمه، داودشاه لیوال، محمد صفدر سالارزی، نور الله ولسپال، محمد طاهر رحیمی، محمد طاهر بینا، محمد عارف رهین، عبدالرؤف مخلص، سید مراد مین، محمد رسول مسلم، عبدالله مسیزی، محمد اکبر معتمد، عبداللطیف منت بار، یوسف میرنی، جنت گل نثاري، عبدالقدوس نجیب، عبدالحمید نحیف، نعیم جان، نظر محمد اثک، محمد گلاب ننگرهاري، عبدالرحیم ننگیالی، محمد گل نوری، محمد گل مومند، محمد نسیم نوري، عبدالخالق واسعی، فضل محمد وکیل، محمد یوسف ویران، محمد ویس کاکړ، ظهور الله همدرد، غلام نبی هوتک، احسان الله هیر، حاجی الهداد، غلام سخی انتظار، انوارالدین انوار، عبدالغفار بریالی، عبدالرزاق پالوال، جان محمد پکتنا، عبدالقادر تبر، جمعه گل، رحیم جان جوهر، پروانه حریق، ملا عبدالمنان حیرت، عبدالاحد خالیز، عبدالجلیل خوښمن، سلیمی

کندهاری، سهار گل سهار، محمد نبی شاکر، عبدالحکیم شیدا، سید-
عبدالقیوم عسکر، محمد ظاهر قانت، او په لسګونو نور شاعران چې په
اوسني لیکوال (دري توکه)؛ (اوسني شاعران) نومي کتاب او د (دا
لیکوال او دا څیرې) کتاب کې معرفي شوي دي.

دا باید وویل شي چې د پورتنیو شاعرانو ټول آثار نه دي کتل شوي
کیدای شي چې ځینې یې په لومړي یادو همه کتیګوري کې شامل شي.

۲- او پراجوړوونکی: په پښتو ژبه کې عبدالرحمن پژواک او
محمد اکبر پامیر او پرایی شعرونه ویلي دي.

۳- کیسه لیکونکی: سعدالدین شپون، موسی شفیق، نورمحمد
تره کی، استاد حبیبی، غوث خیبري، احسان الله هیر کبرا مظهري،
قتیل خوزیانی، یوسف ساپی، سلیمان لایق، عبدالله بختانی، ګل-
محمد نورزي، محمد دین ژواک، حبیب الله تږي او نور.

٤- ناول لیکونکی: محمد رفیق قانع، برهان الدین کشککی،
غوث خیبري، کبرا مظهري، او ابراهیم عطایی.

پوهاند رښتین د محمد رفیق قانع (دوه سره مین ورونه) او د برهان
الدین کشککی (پته مینه) ډرامې ګڼلې دي اما د حبیب الله رفیع په قول
دغه آثار د ناول په کتار کې دريږي. د برهان الدین کشککی یو اثر (په
پته د پتوپلتنې) چې ماکتلی دی هغه یو پولیسي ناول دی. همدارنګه
د استاد حبیبی د (تورپیکی) کیسه ځینو لیکوالو ډرامه بللې ده، په
داسې حال کې چې نوموړې کیسه ډرامې ته ورته ده، کیدای شي چې

ډرامه وزمه کیسه یې وبولو.

۵- ادبي څېړونکي: عبدالحی حبیبی، عبدالشکور رشاد، صدیق الله رښتین، غلام جیلانی جلالي، گل پاچا الفت، سعدالدین شپون، حبیب الله تږی (نیازي)، عبدالرؤف بینوا، محمد رحیم الهام، قیام الدین خادم، دوست شینواري، ابراهیم عطایی، امین الله زمریالی، عبدالله بختانی، حبیب الله رفیع، مجاور احمد زیار، معصومه عصمتي، معتمد شینواری، زلمی هېواد مل، مفتاح الدین ساپی، جاج پښتونزوی، زیور الدین زیور او نور.

٦- ژبپوهان: محمد گل مومند، محمد اعظم ایازي، عبدالحی حبیبي، عبدالشکور رشاد، صدیق الله رښتین، قیام الدین خادم، او محمد شیر گل.

د غوژبپوهانو عصري ژبپوهنه په بهرنیو هیوادوکې لوستې او آثاریې لیکلي دي.

حبیب الله تږی (نیازی)، محمد رحیم الهام، مجاور احمد زیار، عبدالحکیم هلالي، دولت محمد لودین، اوسید الشاه پولاد.

۷- هنري نثر او ادبي توتې: الفت، بینوا، محمد جان فنا، ژواک، بختانی، زیار او نور.

۸- د ادبي طنز لیکونکي: الفت، شپون، بینوا، عبدالاحد وحید او نور.

۹- فوکلوریستان: محمد گل نوري، ابراهیم عطایي، حبیب الله -

رفیع، علی محمد منګل، محمدعارف غروال، عبدالکریم پتنګ، حبیب ـ الله جاج او نور.

## ګل پاچا الفت (۱۲۸۷ - ۱۳۵٦ هـ ش):

الفت په نثر او نظم کې د ویښتیا د پړاو سرلاری دی. ګل پاچا الفت د میرسید پاچازوی د سید فقیر پاچالمسی په ځته سید پښتون او په (۱۲۸۷ هـ . ش) کال د لغمان د عزیز خان په کڅ کې زیږیدلی دی. که څه هم الفت له کتابت څخه وزارت ته رسیدلی دی خومونږ دیوه شاعر او لیکوال هنري شخصیت ته له رسمی القابو اوزتبو سره ارتباط نه ورکوو. څرنګه چې لوی استاد پوهاند حبیبی د ګل پاچا الفت پیژندګلوي په هنري نثر کې بیان کړې ده، دلته به یې په لنډه توګه اقتباس کړو:

«د کابل سیند په غاړه په کوزنی لغمان کې د عزیز خان په کڅ کې یوړ کوټی کلی دی، خواوشا یې شنه کښتونه او د سیند شولګرې دي. لږ څه لرې د لویو غرونو په واورو پټې څوکې ښکاري. دلته دوه مست رودونه بهیږي. یوې خواته د کونړ ښکلی دره ده چې د کونړ سیندترې په نخانخا راوزي. د مشرقی افغانستان په دې ښکلو دروکې ځای په ځای د سیدانو درنې کورنۍ اوسي. پښتانه دوی ته په درنه سترګه ګوري او «پاچهان» یې بولي.

لکه په پسرلي کې چې په دې درو اورغوکې ښکلي ګلان غوړیږي ددغو پاچهانو په درنو کورونوکې هم کله کله ډیر د پوهې خاوندان او شاعران او پوهان او سیاست وال پیدا کیږي. چې سید جمال الدین ـ

افغاني هم د دغو کونړي پاچهانو څخه و.

ښايي چې څلويښت يا پنځوس کاله د مخه د عزيزخان په کڅ کې د يوه پاچا په واړه کهول کې يو ښکلی گل زرغون شو او هغه يې «گل پاچا» وباله. دا گل د فطرت په لمن کې لوی شو، د طبيعت روزنه او پالنه يې وليده او لکه د کابل د سيند د غاړې خاټول د لغمان اوبو او هوا لوی کړ. هغه وخت مدرسه يا مکتب نه وچې دا گل پاچا سبق پکې ولولي، خولکه د پښتنو نورو ماشومانو ده يوازې د فطرت نه درس واخيست او آسمانو او زمکې ته دومره ځير شو چې د فطرت اسرار يې په خپل ژور کاته لوڅ کړه او هغه څه يې زده کړه چې بل چا په مدرسو او پوهنتونو کې نه ووزده کړي. پخوانو يوه خبره کړې ده چې ډېره پخه ده: «الاسماء تنزل من السماء» يعنې نومونه له آسمانه راښکته کيږي (اينبودل کيږي.) د لغمان داور شو ښکلی گل د پښتو ادب په گلستان کې ډير په ښکلا وغوړيد او په «الفت» مشهور شو چې اوس يې مورږ «گل پاچا الفت» بولو دا د الفت نوم هم له ده سره ډير ورډی ځکه چې زړه يې له الفته ډک دی.

الفت د پښتو ادب يو ځلانده ستوری دی. که د پښتو ادب نن ورځ يو بهترين ليکوال او شاعر لري نو هغه به الفت وي.

الفت ډير کتابونه ليکلي دي. کله د کابل او د مشرقي اتحاد مديرو، کله په شوراکې و او اوس د کابل د پښتو ټولنې مشر دی. خو مورږ د الفت شخصيت په نورو صفاتو پيژنو. دی يو ډير دقيق او ستر گورفنان

او صنعت کار دی. د الفت هنر په پښتو نثر او نظم کې ښکاري او ځانته یو خاص طرز لري. د الفت نثر هم شعر دی او نظم یې هم شعر دی.

کوم وخت چې په نثر څه لیکي نو د فطرت ډیر نازک او واړه د قایق ویني او ځرگندوي یې د انسان د اجتماعي ژوند ډیرې ښیگړې په داسې ژبه بیانوي چې ویونکی د ده استدلال په ښه ډول قانع کوي.

د الفت په نثر او نظم کې کوم فلسفي یا تاریخي استدلال نشته، مگر د فطرت له هره گوټه داسې دلایل او براهین راوباسي چې تر هر رنگه منطقي استدلال ښه او ټینگ وي.

...... د اجتماعي ظلمونو سخت دښمن دی. په خپل لیک کې که منظوم وي که منثور اولسي تجاوزاتو ته گوته نیسي او د ده قلم په دې خوا کې ډېر تیره دي.»

د الفت چاپ شوي او نا چاپ آثار له شلو څخه زیات دي. د هغو له جملې څخه څه لیکل یا لیک پوهه، ادبي بحثونه، غوره اشعار، غوره نثرونه، دزړه وینا، لوړ خیالونه او ژور فکرونه ډیرزیات لوستونکي لري(۱). د گل پاچا الفت د ژوند او آثارو په باب ( د الفت یاد ) په کتاب کې یو شمیر مقالې را غلې دي. دلته به د ده د شعر او نثر ځوبیلگې راوړو.

(۱) د استاد الفت ډیر منشور آثار ښاغلی محمد اسمعیل یون په یوه مجموعه کې راټول کړي دي او (د الفت نثري کلیات) نوم یې پرایښی دی. دا کلیات لومړی ځل په ۱۳۷۰ هـ ش کال په کابل کې او دویم ځل (له اضافو سره) په ۱۳۷۸ هـ ش کال دانش کتاب پلورنځی په پیښور کې خپور کړ. منظوم آثار یې ښاغلی شهرت ننگیال راټول کړي دي او داستاد الفت منظوم کلیات یې ځنې جوړ کړي دي. دا کلیات دوه ځله په پیښور کې چاپ دي پردې کلیات یې د الفت غلرې نوم ایښی دی (هـ).

# زما ګناه

نه مې د چا مال خوړلی نه مې څوک وژلي دي
نه مې چا ته ورک شه یا ګم شو کله ویلي دي

نوره ګناه نه لرم په دې ګناه مې مه نیسه
زړه کې مې چې پټ ظالم ته بد غوندې کتلي دي

وخت د اعتراف دی ګناه خپله درته وایمه
نه یمه منکر په مظلومانو مې ژړلي دي

دا ګناه د سترګو که د زړه ده نه پوهیږمه
بد مې چې لیدلي خدا یږو بد مې هم ګڼلي دي

زه یې په لیدلو او ویلو ګناه ګار شومه
نورېې په کولو او عمل باندې ښاغلي دي

نه یمه خاین په خیانت د نورو پوه یمه
پوهه که ګناه وي خلق ټول اوس پوهیدلي دي

دا چې ډیر کاره درته ولاړ دي ټیټ سرونه هم
ستا مخکې چې سم نه شوه سم کله چلیدلي دي

هیڅ امید ترې مه کړه که څوک ځان د تا غلام ګڼي
ما غلامانه ذهنیتونه پیژندلي دي

لوړ مقام ته رسي چې بوټونه پاکوي د بل
ډیر په دغه شغل ریاست ته رسیدلي دي

# زما خوب

اوربل يې ما په خوب کې پرېشان ليدلی دی
ستا بخت خومې رقيبه دغه شان ليدلی دی
د گلوهار په غاړه محبوبه شوه را حضوره
بلبله ستا وطن مې گلستان ليدلی دی

کارغان به پکې نه وي بلبلان به پکې وي
باغونه به سمسور وي ما باغبان ليدلی دی
دا توره شپه به خدای کاندي پښتون باندې سبا
سپين مخ مې چې سبا غونډې روښان ليدلی دی

تعبير يې کړی ما په ظالمانو به چپه شي
چپه کاکل مې خوب کې د جانان ليدلی دی
مهار به دې په پوزه شي د سرو زرو خاونده
په سرو شونډو د پاسه مې پېزوان ليدلی دی

زه پټې سترگې نه يم په هر څه اوس پوهېږم
په خلاصو سترگو باندې ما جهان ليدلی دی
له دامه که دې خلاص کړم په قفس کې دې ايسار کړم
صياده ! ما خو څورنگه زندان ليدلی دی

عمل چې وي آزاد او انتقاد پکې بندي وي
ما هلته د ظلمونو سخت توفان ليدلی دی
که هر يورانه وژنې خيال او فکر مومه وژنه
پدې کې مې وطن ته لوی تاوان ليدلی دی

## ښکلا او هنر

په هر ځای کې په هر چا کې چې ښکلا وي
د يورپ د افريقې که د آسيا وي
د نظر خاوند په مينه ورته ګوري
مسلمان وي او که ګبر که ترسا وي

دلته فرق د امريکې او دروس نشته
ښکلې ښه دی که د هر سرد دنيا وي
ذوق او مينه خدای آزاده پيدا کړې
شاعران له قيد او شرطه بې پروا وي

پتنګان و رسره عشق لري هر ګوره
د ډيوې ځای که مسجد که کليسا وي
ښه آهنګ چې په هر ساز کې وي موزون دی
که رباب وي که شپېلۍ وي که داريا وي

ننداروا و تماشو ته به ورځمه
د هر چا په ساز چې ښکلي په ګډاوي
چې په هره ژبه وي ښه شعر ښه دی
که زما وي که د تا که د بل چا وي

ښه تا بلود هنر من خوښوي هر څوک
که د چین وي که د هند که د برما وي
په الفاظو کې وي ډیر اختلافونه
یو له بله مشفق اهل معناوي

د دوستۍ کور کې د تور او سپین له توره
څه به ښه وي چې یو بل سره پېښلاوي
د هنر صنعت او حسن په عالم کې
هر یو ګل چې په هر رنګ کې وي زیبا وي

ښکلی مخ له هرې خوا چې را ښکاره شي
د الفت ستر ګو لیدلی لا پخوا وي

## شعر او ادب

د انسان په وجود کې دوه شیه ډیر عزیز معلومیږي چې یوه ته زړه او بل ته د ماغ وايي.

له دماغ نه علم او فلسفه پیدا شوه، له زړه نه شعر او ادب.

اروپایان زړه د عواطفو او نفسي احوالو ځای ګڼي ، مسلمانان د ایمان او عقیدې ځای ته زړه وایي.

صبر ، رحم ، کرم ، شجاعت ، سخاوت د زړه کار دی.

عشق او مینه په زړه کې وي.

شعر له زړه نه الهام اخلي او له زړه سره کار لري.

ډ اروین وایي: هغه لوی کمال چې د تحول او تکامل په لاره کې یوازې د انسان په برخه رسیدلی دی او نور ژوي ترینه محروم دي د انسان قلبي عواطف دي چې په رحم ، مروت ، کرم ، شجاعت ، نوع پرستي ترینه تعبیر کیږي. که انسان غواړي چې له حیوانیت نه لرې وي باید دغه عواطف ښه وروزي. د عواطفو روزل د شعر کار دی او شعر ته د عواطفو او احساساتو د ظهور او تجلیاتو کوه طور ویلی شو.

څنګه چې د لمرورانګې او پلوشې لومړی ځل د لوړو غرو په څوکو پریوزي او وروستی وداع هم د غرو له څوکو سره کوي ، دغسې د عواطفو او احساساتو پر تو هم د شاعر په زړه د نورونه زیات لویږي او ځینې زړونه ، لکه د غرو سمڅې او غارونه دغه رڼا یا بیخي نهویني یا یې ډېره لږه ویني. همدغه عواطف او احساسات چې د شاعر له زړه نه الفاظو ته را نقل شي شعر ترې جوړ شي او په زړو نو اثر کوي.

هو! د شعر موضوع ښکلي خیالات ، عالي احساسات ، د زړه تأثرات ، دغم او خوشحالی خوبونه ، د روحي او جسمي ښکلا اغیزې او عشق او محبت دی.

که دغه شیان په یوه ښکلي تعبیر او ښو الفاظو کې بیان شي چې فصاحت او بلاغت مراعات پکې په ښه شان شوی وي شعر تریته جوړشي او ډیر ښه شعر هماغه دی چې په دغه معیار برابر وي.

څومره چې د یوه شاعر فکر او خیال آزاد وي او د محدودیت له قیودو راوتلی وي هغو مره یې شعر لوړ او عالي وي.

که یو شاعر د نورو په شان هر چاته او هر شي ته سر ټیټوي او په فکر کې یې د بغاوت جذبه نه وي موجوده له هغه نه د ښه شعر هیله نشي کیدی.

شاعر باید د فکري انقلاب علمبردار او بت شکن وي.

شاعر ته نه ښایي چې د زاړه منطق درس د عقل له زاړه بوډانه واخلي او په زړه لاره او زاړه فکر پسې ولاړ شي. د شاعر خیال باید ډیر لوړ پرواز وکړي او له ډیر هسک ځایه دغه جهان ته وګوري.

د شاعر نظر باید د نورو غوندې نه وي او هر څه په بل شان ووینې. د شعر او ادب ژوند د فکر په ابتکار کې دی او تقلید یا ابتذال د شاعر مرګ دی.

کله چې زړونه ګلکیزي یا توریږي نو شعر پکې رقت او صفایي پیدا کولی شي. هغه څه چې انسان د مادیت له غلامۍ او بت پرستۍ نه ساتي شعر دی.

عارفانه ذوق، انساني عاطفه، حکیمانه شعور د شعر په نغموده کوي او د حسن د نظر علایق همدغه شی ساتي.

کوم ملت چې شاعر نه لري زړه نه لري، سترګې نه لري، عواطف نه

لري او د ذوق او تمباله خونده محروم وي.

شاعران دا کولی شي چې د انسان فرعوني غرور په تواضع بدل کړي او د دوهي ملنګ ته د شاهجهان خوی او مړې سترګې ورکړي.

غم او سرور د شاعر هديه ده چې له زړو نو څخه يې اخلي او زړونو ته يې ورکوي. نو کوم قدر او قيمت چې د انسان په بدن کې زړه لري په يوه جامعه کې يې شعر او شاعر لري.

## عبدالحی حبيبی (۱۲۸۹-۱۳۶۳ هـ . ش) :

پوهاند عبدالحی حبيبی د پښتو ژبي، ادب او د پښتنو د تاريخ تر ټولو ستر محقق دی او له همدې امله يې د (لوی استاد) لقب ګټلی دی. ده په سلګونو آثار (کتابونه، رسالې، او مقالې) ليکلي دي چې زياتره يې په پارسي او پښتو دي. په اردو او عربي يې هم رسالې ليکلي دي. په پارسي ژبه د ده اکثرې ليکنې د پښتو ادبياتو او د افغانستان تاريخ معرفی کولو ته وقف شوې دي. د ايران په ځينو مجلو کې د ده له نامه سره د (علامه) لقب هم راغلی دی.

عبدالحی حبيبی د عبدالحق آخوندزاده زوی، په ختيه کاکړ او د کندهار په ښار کې زېږېدلی دی. څرنګه چې دی د کندهار د ستر عالم مولوي حبيب الله (مشهور په حبو اخونزاده) کورنۍ ته منسوب دی نو ځکه يې پر ځان د حبيبی تخلص ايښی دی.

د (اوسني ليکوال) مؤلف عبدالروف بينوا ليکي: «ښاغلی عبدالحی حبيبی د پښتو ژبې په اوسنيو ليکوالو کې د اوليت حق لري، نه يوازې په پښتو کې، بلکې په فارسي کې هم پوخ ليکوال دی او په

دواړو ژبو کې مهم آثار او پاخه اشعار لري. »

لوی استاد حبیبی د افغانستان د زیاتره فرهنګي شخصیتونو په څیر د سیاست ډګر ته هم ورننوتلی دی. له یوې خوا دده کورنۍ د سیاسي مبارزې سابقه لري او د خپلې کورنۍ د مشرانو په لاره تللی دی او له بلې خوا د افغانستان تاریخي بېرته پاتې والی پوهانو او فرهنګیانو ته اجازه نه ورکوله چې د ټولنې د سرنوشت په وړاندې بې توپیره پاتې شي.

علامه حبیبی په رسمي کارونو کې د لومړي معین تر درجې هم رسېدلی دی، خو دده اصلي منصب علم او تحقیق و. لوی استاد د خپل وخت په متد او له علومو کې تجربه درلوده او د یوه ربښتیني عالم په توګه د پراخ نظر خاوند او بې تعصبه و. دده د آثارو او افکارو په باب دوه ځانګړي کتابونه هم خپاره شوي دي چې یوېي (د استاد یاد) او بل یې (آفریده های مهجور علامه حبیبی) نومیږي (۱).

دلته به د لوی استاذ د نثر نمونه د (توریکۍ) د ډرامه وزمې کیسې له یوې برخې څخه راواخلو:

---

(۱) د اروا ښاد استاد حبیبی دژوند او آثارو په باب ښاغلی څیړونکي حبیب الله رفیع هم یوه ښه څېړنه کړې ده. دده څېړنه هم د استاد یاد په نامه په دوو جزوو کې د پېښور پوهنتون د مرکزي آسیا مرکز خپره کړې ده (هـ).

# د فدا کارۍ صحنه

د ننګیالو پښتنو کهول لا پر لارې وه چې سپیدې وچاودې، سهار سوپریوه ناورتولو او د سونه تازه کړه. تر لمانځه وروسته زمری خان بابا توره له تیکې راوکښه، په پښتني جوش یې وویل: «خدایه! دا توره ماستاد رضا او د پښتنوالۍ او ننګ وناموس د ساتنې د پاره راکښلې ده، زه ځان او خپل ګران زوی او د سترګو توره تورپیکۍ او خپله پښتنه ملګرې زرغونه پرتاسپارم!»

دا یې وویل د لمر لومړیو وړانګو د ده توره بریښوله، مخ پرنوې کلا راغلل. هر څومره چې رانژدې کېږي، ګرز او غبار، د توپو د زهار، د توپکو ټکهار، د طیارو غړو مبهارد یریږي او داسې ښکاري چې د سپین بولدک پر کلا د محشر ورځ ده. ننګیالیو پښتنو چې دا حال ولید ځانونه یې چمتو کړه. د سپین ږیري بابا د پښتنوالۍ احساسات مشتعل سوه ناره یې کړه: «دا کلا . . . دا زمکه . . . دا خاوره . . . دا وطن . . . دا زموږ د پلار او نیکه هدیره . . . مګر خاوند نه لري؟

خدایه! پښتانه ژوندي دي که مړه؟

بیا پردې خاوره د غلیم قدمونه ایښود کېږي؟

ها – د میوند زمرو! . . . څه سواست؟

ها – د احمد شاه بابا او اکبر غازي اولاده! . . . چیرې یاست؟

ها! – پښتو او پښتنوالۍ! . . .

ها !- د بارک او اڅک زامنو ! . . .

د ننگ او ناموس وخت دی . . . »

پرسپینه ږیره یې روڼې اوښکې بهیږي آخره پلاخپل گران گلالی زوی ریدی په بغل کې نیسي، پرتندي یې مچوي، وایي:

« خدایه! . . . دا زوی خو ما خاص دد غې ورځې د پاره لوی کړی و، دا دی ستا رضا او د وطن د پاره یې قرباني کوم! . . . »

تر دې وروسته توریکی هم پرسپین باړ خوباندې مچوي ورته وایي: « جنکۍ! د سترگو توري! د پښتانه مېرمنې تل پر خپل ننگ وناموس ترسرتیرېږي. له خدایه غواړم چې ته هم یوه توریالۍ پښتنه سې او د وطن انتقام له غلیم څخه واخلې.

پښتانه به خپل هوډ پرې نږدي له لاسه

که یې سرشي د خوني زمري تر ژامه

که دې نقش د توري کښلیني راته غوږ کړه

کامروا به شي هاله له هره کامه

ربدي خان چې هم وخت آخیر ولید خپله گرانه او د زړه سر محبوبه یې په بغل کې ونیوه، آخرنی وداع یې ورسره وکړه. دا منظره دومره دلچسپه وه تا به ویل یو اهل جنت له حوري سره مینه کوي . .

وروسته نودو اړود زرغوني ادي لاسونه ورمچ کړه او حق پلیت یې ځني واخیست.

توري له تیکي څخه وربښبدلې. تږله په گډه د فدا کارۍ میدان ته

راغلل. مرد ک ځ لکه ږلی داسې اوري، فضا له ډیره ګرزه تیاره ده. که زمری وي هم به یې ذلته زړه وریږدي مګر زموږ ننګیالي پښتانه یو تر بل د مخه کیږي. تورپیکی خو ځان دریدي خان مخ ته وراچوي چې که مرد ک راسی پرډې به ونښلي او له ده څخه به چپ سي. پوخ ثابت دی د کلا دننه غازیان تږوله د غلیم په طیارو، توپکو او توپو شهیدان سوي دي، فقط څو تنه ننګیالي پښتانه پاته دي چې کارطوس هم نه لري. هغو سلاسره وکړه چې له کلا څخه د باندې پر دښمن ورووزي او لاس په لستوڼي جنګ ورسره وکي. توپکونه یې وغورځول، توري یې واخیستې، د کلا تر دروازه راووتل، لکه زمریږ د دښمن په لښکر چې کلاته نژدې راغلی و، ګډ سوه. زموږ د ننګیالیو پښتنو کهول هم په دې وخت کې راورسید. سپین ږیري بابا خو د څو تنو سرونه په توره غوڅ کړه شهید سو او خپل لوړ مقصد ته ورسید! . . .

پښتنې زرغونې ادې چې د احال ولید د هغه په توره یې د ده قاتل وواهه، پښې یې وریږې کړې. دا هم سخته زخمي سوه، ولویده، !. . . .

ها بلې خواته ریدي خان د زمري په څیر له دښمن سره چنګاو دی. څو تنه یې مړه کړه. دده ګرانه محبوبه هم توري وهي سپین مړوند ونه یې د غلیم په وینو رنګ دي، په سره میدان باندې دوینو په سیلاب کې لکه ځوان میږه داسې جنګیږي:

« پښتنو ځلمیو بیا لاسونه سره کړل
لکه باز منګولې سرې کاندي په ښکار

سپینې تورې یې ګلګونې کړې په وینو
په اهار کې شګفته شو لاله زار »
ترڅو منځ توریالی په خپل ګران مین باندې ناره وکړه:
« تر دې تیرې تورې دې جار سم
د غلیم وینې بیوه ګرانه مینه
په وینو رنګ توره دې راوړه
راسه په سروشونډو یې زه درپا کومه. »

د (توریالی) کیسه په (اوسني لیکوال) کې بشپړه چاپ شوې ده. اوس به دلوی استاد د شعر یوه بیلګه هم راوړو. ددې شعر سرلیک (سپوږمۍ) ده. دا شعر یې په (۱۳۱٤ش) کې د لاهور په یوه بن کې د پردیسۍ په حال ویلی دی:

## سپوږمۍ!

د آسمان سپینې سپوږمیه!
مخ دې روڼ، تندی دې ورین دی
شاو خوا دې پلوشې ځي
په رڼا دې تورین سپین دی
دوېر جنو خوا له ګرې
راسه زړه مې ډېر غمګین دی

راسه زما ګرانې پي مخې!
چې يو دم د زړه خواله کړو
سره کښينو لاس تر غاړه
خوا په خوا سره پاله کړو
ښکلې پېغلې مه شرمېږه
پټ دې ولې تر غره مخ کئ؟
ته يې زما د زړه ملګرې
تل به نورو پر مور رخ کئ
په کوچينې هم ته زما وې
ما به ته تاته تل اخ اخ کئ
چې کوچنی وم ما بللې
ته «الاکوکو» سپوږمی!
له هيواده ليرې ګرځم
زما په زړه پورې ملګرې!
د وطن بل څوک خونسته
دلته يم يوازې ليرې
نه خواږه ياران خپلوان سته
نه د دوی خوږې خبرې
يوه ته يې زما ملګرې
راسره يې له هيواده

هم هوري يې هم دلې يې
خدای دې تل ولره ښاده!

چې زه درومم ته هم درومې
چې زه ناست یم، ناسته ته یې
په ځغستا راسره ځغلې
چې بیده یم ته بیده یې
وفاداره ښکلې پیغله:
ته سپوږمۍ، که ښښتنه یې؟

ستا وفا د ښښتنو ده
آسماني پيغلې نجلۍ!
په خوی ښکلې ښښتنه يې
دغمجن مین شهۍ!

## عبدالرؤف بینوا (۱۲۹۳ - ۱۳۶۳ هـ ش):

عبدالرؤف بینوا د مفتي عبدالله زوی په کندهار کې زیږیدلی دی. ابتدايي زده کړه يې د خپلې کورنۍ د غړو او کندهاري عالمانو څخه کړې ده. وروسته يې په خصوصي ډول زده کړې او مطالعې ته دوام ورکړ.

دی په (۱۳۱۷ هـ ش) کې د پښتو ټولنې د غړي په توګه مقرر شو او له هغې وروسته يې بيلا بيلې دندې سرته رسولې دي، چې ځينې يې دادي: د پښتو ټولنې لوی مدیر، په دهلي کې مطبوعاتي اتاشه، د کابل

راديو رئيس، په ولسي جرگه کې وکيل، په قاهره کې د افغاني سفارت مطبوعاتي اتاشه، د اطلاعاتو او کلتور وزير، او په ليبيا کې سفير. په (۱۳٦۳ ش) کال کې د سرطان د ناروغۍ د معالجې د پاره نيويارک ته ولاړ، هلته وفات شو او په نيوجرسي کې خاورو ته وسپارل شو.

بينوا ډېر آثار ليکلي دي چې مشهور يې دادي: پښتني ميرمنې، ميرويس نيکه، ادبي فنون، هوتکي ها، پريشانه افکار، د ټاگور د گيتاآنجلي ترجمه، اوسني ليکوال (درې ټوکه) او څو ډرامې(۱) د بينوا (پريشانه افکار) دده د اشعارو مجموعه ده. د ده له مړينې وروسته په (۱۳٦۷) کال کې دده د شعر بله مجموعه چې (د هسک پيغله) نوميږي د ليکوالو د انجمن له خوا خپره شوه. استاد الفت د (پريشانه افکار) په سريزه کې ليکي: «زه د ښاغلي بينوا شاعري دده په نورو کمالونو غوره گڼم او په دې باب ورته په ډېر حق قايل يم. دی طبيعتاً شاعر دی. دده ژوند، دده صحبت، دده خوی، دده فکر، دده ناسته ولاړه، خوراک او څکاک ډېر شاعرانه رنگ لري او اصل رنگ يې همدغه دی.»

دبينوا په شعرونو کې رمانتيک سوز او هيجان او رومانتيک خيالات ليدل کيږي. دی د بينوا يانو سره خواخوږي لري او زړه يې شاعر دی، مگر پخپله يې بينوايي ته غاړه نه کيښوده، خپل ژوند يې خوشحاله تيراوه، خوش معاشرته او ژوندي طبيعته سړی و او ظرافت يې ډېر

(۱) داستاد بينوا د ډرامو مجموعه څوانيمرگ سيد جانملال جوړه کړه او د زوړ گنهکار په نامه د افغانستان د هنرمندانو د اتحاديې له خوا خپره شوه (هـ).

خوښیده. سرې او سپینې ځیرې بینوا ته خاص جذابیت وربخښلی و.

**د شعر بیلګې:**

د شاعر جونګړه

د دولت له سودا تشه
خوله ماتو تو بو ډکه
صراحي شنه په خندا ده
د غم زړه کباب کباب
د پرون خاطره مړه ده
د سبا انتظار پټ دی
بس د نن تازه مضمون دی
او د عشق نوی کتاب

***

**غلی شانته انقلاب:**

نسیم ووې د ګل غوږ کې، بدل شو د یارانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ
ورسره نوي رنګونه رنګا رنګ تحولونه
کړي سمسور به راغ رغونه
نوی ساز نوی آواز دی، هم شو نوی د نغمې رنګ
غلی شانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ
نوی دام نوی صیادی نوی چل نوی بیداد دی

نوې آه نوی فریاد دی

هوښیاري صید لره بویه، بدل شوی ددانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ

لري نوي محبسونه     نه یو سرای نه یوه خونه
حبسوی لوی هیوادونه
چې بندي پرې نه پوهیږي داسې شو د زولانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ

طلایي جام کې د دور     شراب زهر دي په دور
نوشیدل یې غواړي غور
اې سرمست زلمیه پام کړه بل راز شو د میخانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ

سره واوښتل قومونه     ویښ خبر شول له ژوندونه
دویدو شول وران کورونه
ګوره کله به شي نوی د پښتون د کاشانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ

## نور محمد تره کی (۱۲۹۶-۱۳۵۸ هـ.ش):

نور محمد تره کی د نظر محمد زوی د مقر په سره کلي کې زیږیدلی دی. په (اوسنی لیکوال) کې دده د زیږیدو ځای (میمنه) ښودل شوی ده. څرنګه چې د نور محمد تره کي له سیاسي شخصیت سره افغانان پوره آشنا یی لري. دلته به یوازي دده په ادبي نوښتونو خبرې وکړو. دی په

ناول ليکلو کې لوی لاس لري او ځينې لنډې کيسې يې هم ليکلې دي.
دده تر ټولو مشهور ناول (د بنګ مسافری) نوميږي، ځينې نور آثار يې داdی: څړه، سپين، سنګسار، بې تربيته زوی، او نور.

ددې د پاره چې د ده د آثارو له روحيې سره آشنا شو د (غوايي لاندی) په نامه دده يوه لنډه کيسه را اخلو:

# غوايي لاندی

لاس ويښې چاودې، مخ سپيره، شونډې وچې، يو کوچنی پيټی غنم پر شا را اړولی او په ستمې د کور پر لور را روان دی. بشپړ (۹) مياشتې يې خوارى کښلې او منتونه يې وړي دي، تر څو چې په آخر دوبی نوي (۹۰) منه غنم له بزګرۍ نه ور غلل. په دې کې يې (۹) منه غنم ملا صاحب ته زکات ورکړل، (۳) منه يې ښېښ ته ورکړل او څلور منه هم (رقبه) ترېښنه يوړل. (۶۰) منه يې هم د هغو دوو زرو افغانيو په سود کې ورکړل کومې چې دده د پلار مړګ د خيرات او اسقاط له پاره د يوه سود خوړ نه په شپېته منه ګټه راوړې وې. په کور کې دده ماينه او مور او څلور ماشومان دده لار څاري او ماشومان يې له کوره راوتلي او دهغې لارې خواته په هيره اسره ګوري چې کومه لار چې، ددوی پلار اوس کورته راځي او درشې غنم راوړي.

دده مور او ماينې د سږ کال د محصولاتو په شا وخواکې خوراښې

خوړې قصې کولې او هیله یې وه چې ګوندې سړ به یو څوورځې په نس ماړه شي. په دې وخت کې ماشومان یو په بل پسې د کور لوري ته راغلي او نارې وهي چې بابا راغی او غنم یې په شادي. بزګر هم پیتی په شا په کور راننووت او پیتی یې د خونې له مخه کښېښود. د ده مور او ماینې یې په الوتو بڼو ترینه د رشې احوال پوښته، چې په دې وخت کې یو سړی تر ازواو کانې په لاس په انګړ راکښېیووت او په کلک بړغ یې ورته وویل چې: « تاخو وویل پر راشه به غنم د پور په عوض کې درکوم او تا ټول غنم خپل کورته اوړل. خانصاحب خو را په قهر وویل چې تا نه « کورغم » ورکړی او نه دې « سړي غم » ادا کړی دی ».

روپې خونه لرې، ژرشه غنم راوتله! موریې چیغې کړې « چې دا څو دانې چې ته یوسې نو موږ به څه وخورو ؟ » ده ورته وویل چې: « خاورې! » سمدلاسه یې اندی راواړاوه او ټول غنم یې څینې و تلل او په پای کې یې لانور هم پسې په قهر خوار بزګرته وویل چې: « دوه منه خولا نور هم دربانډې پاتې شوه، هغه به څرنګه شي ؟ » خوار بزګر په داسې حال کې چې له خواشینی نه یې پرستونی دردو، تش جوال وڅا نده او یوې خواته یې کښېښود. ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کې یې ویل چې: « مور خوورې وو، تاسې خو به یوه لپه نینې راکولې. »

د ماشومانو انا د باندې ولاړه او یو څه شفتل یې په پلوکې راوړل او له مالګې سره یې له ماشومانو سره وخوړل. خو ماشومان په دې ترډیرې مودې قانع نشول او د ډوډۍ د پاره یې په ژړا پیل وکړ. خوار بزګر ته اوس

د کلي گاونډ یانو پورهم نه ور کاوه، ځکه له یوې خوا دده گاونډ یانو هم دغه راز د ښا دارۍ تکلیف درلود؛ له بلې خوانه ده پررشه باندې یو دوې کاسې اوړه چې ترینه پور کړې یې وو، هم بیرته نه وو ور کړي او خپل اعتبار یې بایللی و. نو وروسته له هغه چې ډیر فکر یې وکړ له ځان سره یې فیصله وکړه چې د یوې غوایې چې دده وروستی او یوازینی دارایي وه او د هغه په مرسته یې د خلکو بزگري کوله، د عیال د قوت او لایموت د پاره حلال کړي او په خپله سترگې نهامې کړي. په دې خصوص کې یې د مور او ماینې رضایت هم واخیست او د یوې غوایې یې حلال کړ چې د عیال د ژمي او مني قتغ شي او پخپله لځې پښې پړانگې کالي بلې منطقې ته د خوارۍ او مزدورۍ د پاره لاړ.

ده په یوه توده منطقه کې شپږ میاشتې د خاورو او ختو مزدوري وکړه، ده ته یې دورځې شپږ افغانۍ ورکولې، چې درې افغانۍ یې په سپوره ډوډۍ او درې افغانۍ یې د کور د پاره سپمولې. په پای کې دده تږوله گټه (٤٨٦) افغانۍ شوې چې په درې سوه افغانۍ ځانته پنې او کوچنیانو ته یو یو بکس واخیست. دې شپږ میاشتې په کور خبرنه وو او په خورا بیړه او ښه زړه د کور لوري ته را روان شو.

چې د کور په وره را ننووت لور او ماینې یې چغې کړې. وروسته ورته ښرگنده شوه چې مور او درې ماشومان یې د سکاروي په اثر په مني لامړه شوي دي. یو گړی وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته یې وویل چې: «ستا د مور او ماشومانو کفنونه ماور کړي دي چې قیمت

يې (٣٣٤) افغانۍ کيږي او هم مې ستا پر ځای په دې شپږ مياشتو کې (١٢٣) افغانۍ «کورغم» او «سري غم» پريکړې دي، تا خو ځان نهام کړ او خپلې ميلې دې کولې خو ټول غمونه دې پر موږ را ايله کړي وو. اوس دستي زما پورچې (٦٤٦) افغانۍ کيږي را کړه. » ځکه چې دده دا ټول رقم پر يو ځای نشو تا ديه کولای نو محکمې ته يې کش کړ او بندي شو، چې بيا د دې خوار او دده د کاله احوال چا وانخيست!!

## سليمان لايق:

دده اصلي نوم غلام مجدد د خليفه عبدالغني زوی، په خټه سليمانخيل دی. سليمان لايق د (١٣٠٩هـ. ش) کال د ميزان په (٢٢) د کتواز په (ښرنه) کې زېږيدلی دی. ده خپل لومړنی شعر په دريم ابتدايي ټولګي کې ويلی دی، خو اوس د پښتو او فارسي دواړو ژبو په شعر او نثر کې استاد دی(١). سليمان لايق دوپښتيا د پړاو ستر شاعر او داوښتون د پړاو د شاعرانو لارښوونکی مثال او مشال دی. د لايق اکثر شعرونه د ګوندي ايديالوجۍ په خم کې رنګ شوي دي او له همدې امله، دغه ستر استعداد، لکه څنګه چې ښايي و نه پيژندل شو.

---

(١) د اکادميسين سليمان لايق د شعر دغه لاندې مجموعې چاپ دي؛ چونغر، کيږدی؛ يادونه - درمندونه؛ قصې او افسانې؛ ساحل؛ بادبان؛ روښن جاده او سپوږمۍ. د اباسين سپېدې يې د کيسه ګوټو، لنډو کيسو او منثورو ټوټو مجموعه ده. (غرزنه او کساتونه) يې د يو پښتو ناول نوم دی، چې په ١٣٧٧ هـ ش کال په پيښور کې چاپ شو (هـ)

## د چونغر ترانې

### دوهمه ترانه

زما د نیکونو او پلرونو کوره
اې درنګینو خاطرو چونغره!
ستا هره تېره د تاریخ پاڼه
اې د لرغونو عظمتو چونغره!

***

په دغه شا او خوا د روکې وایه
ستا شاه زلمیان او سر بازان څه شول؟
دهغو مړو لمبوایرې کومې دي
دهغه اورسمندران څه شول؟

***

هغه بیباکه عاشقان چېرې دي
هغه د ژوند ښکلې لیلا څه شوه؟
د ستا د خاورې په قدم قدم کې
د عشق او مینې تمنا څه شوه؟

***

ستا په دروکې چې شاهان خوځیدل
اوس هلته هیره او مرګو خوره ده
ستا په ښارونو او مانیو باندې
شګه او خاوره د قبرنو خوره ده

***

هلته چې پیغلو به سوماڅښله
اوس یا ګیدړې یا لیوان ګرځي
د سرخ کوتل دویرانو د پاسه
اوس یا غوایي اویا اوښان ګرځي

***

کلونه ځغلي، زمانه تښتي
او زه ستا څوکوته حیران ګورم
د پسرلي په انتظار شومه زوړ
لا ستا په پرښوکې خزان ګورم

***

ستا په کراره او سړه فضا کې
چونغره زړه مې څوناري غواړي
د ژمي شپه کې چې سپوږمۍ خوره وي
څو دردوونکې نناري غواړي

***

# آشناته

هیر کړه آشنا داتېر عمرونه هیر کړه
باده د رنیسه تیرغمونه هیر کړه
کاروان د عمر آشنا

***

کله د ریبږي، کله صبر لري!؟
پیاله کړه پورته چې فرصت کم دی
بیا به ځواني وي خوبهار به نه وي
یا به بهار وي د زړه یار به نه وي
زه له دې عمره آشنا

***

سخت اندیښمن یم او ویره لرم
له دې ظالمه انتظار کم دی
مهلت د عمر یوه بریښنا ده بریښنا
یوه غمجنه شان خندا ده خندا
په دې خندا کې آشنا

***

يـورپ لـذت دى گـوره لاړنـشـي
چې افـسـوسـونـه بـيـا ثـمـرنـه لـري
كـه زاهـدان پـه سجـا ده ښـه ښـكـاري
يـوه گـړۍ عـقـل آشـنـا

***

عـذاب عـذاب دى گـوره پـام كـوه
راځـه راځـه چې لـيـونـي شـو سـره
راځـه چې ځان لـه يـو جـهـان كـړو پـيـدا
ځـو لـيـونـي او ځـو مـسـتـان كـړو پـيـدا
سـاراتـه لاړشـو آشـنـا

***

هـيـر كـړو داواړه بـنـد يـزونـه هـيـر كـړو
پـه بـدمـسـتـى كې ځـو نـارې ووهـو
زړه مـې سـاراپـسـې ژړاوې كـوي
زمـا تـيـر عـمـر تـه ښـېـراوې كـوي
راځـه چې وزو آشـنـا

***

ويـريـږم لاره د سـارابـنـده شـي
جـنـون بـه گـرځـي سـرگـردان راپـسـې

***

## سعد الدین شپون:

د پښتو لیکوالو او شاعرانو په پاخه نسل کې ځوتنه لیکوال او شاعران په هنري لحاظ ډیر اوچت مقام خاوندان دي. الفت، حمزه ـ شینواری، عبدالباري جهاني، اجمل ختک، بینوا، لایق، پسرلی اوشپون په دغه کتار کې دریږي. شپون د خپل ژوند خاطره په یوه ښکلي هنري نثر کې دغسې بیانوي:

مورمې راته په گونډ وشوه، دشنه پاچ پگړۍ مې چې ول ول په غاړه ولیدلې وه په سر راوتړله او په دواړو مخویې چپ کړم بیایې زمامخ په دواړو پستو لاسونوکې و نیو او همداسې یې راته کتل، په سترگو کې یې او ښکې ډنډ وې، په ژړغوني غږیې راته وویل:

« ځه ورځه بچیه! زه پوهیږم چې ته داو بوماهي یې. ځه، خپل همت دې مل شه! » زه اریان پاتې شوم چې خدایه دا څنگه چل دی، په خپله خوښه مې کابل ته لیږي او بیا راته وایي ته د اوبو ماهي یې!؟

خونن چې له هغې و رځې نه دیارلس کاله تیریږي د مور هماغه غږمې په غوږو کې، لکه گونگرو داسې شرنگیږي.

اوس هم چې کال یو وار خان آباد ته ولاړشم د مور په زنگانه سر ږدم او زاري ورته کوم چې: « ادکو! زه به سترگې پټې کړم ته راته یوه شیبه للووایه. » ادې للوراته وایي او خویندي ورونه را پورې خاندي. هیڅوک نه پوهیږي چې دالږزانده غږمې په زړه کې د اسرافیل د شپیلۍ په شان دعواطفو او احساساتو څه قیامت جوړوي. زه یې هم چا ته نه وایم ځکه

نوروته څه اهمیت لري. د پسرلي یوه ورځ مې ادې دویالې په غاړه ویلنې کول زه یې په اوږو سپور وم، اوږلمدو ختمو، د بادام د گلونو، دولې د تاندولنبتسو او د پسرلي خاورین بوی سره یوځای کیدل او د ټولو د ترکیب نه داسې یوه ورمه جوړیده چې لکه هیر کړی خوب غیر مجسم وي او دا ورمه په مالگیده. لیرې چرته د بورا گانو بنهارو چې دوریو او غوا-وو درمباړو او د چرگوړو د چوړ چوړ سره یوځای کیده او داسې یو غږ ترې جوړیده چې یوازې احساس یې اوري او همدا غږ ما اوریده.

دادې په للومې په مخیله کې دا ټولې صحنې اوډ یرې نورې چې خلکوته تر دې نه هم بې اهمیته دي، را پاریږي.

کله چې د هندوکش د لړنه دیخوا راپناشوم ځان مې په داسې یوسیند کې ولید چې نه یې د جریان پلو بنکاره و او نه د ساحل څرک لگیده.

لامبه، غرقیږه، غرقیږه، لامبه، دلته غسر قیږه، په او بوکې ډوب اوسه ناځاپه دې همت ملگری شه او هو غلته راوزه؛ د تیرو تیږو سره ټکر خوره، او د پښولاندې دې شگه رژیږه، بنو ییږه او بنوییږه او تصادفي دې لاس دونې یوې ریښې ته برابر شه، منگولې یکې خښې کړه، دار یشه وشکیږه او بیاډوب شه او لرې چیرته بله د نجات کړۍ لاس ته درشه . .

ورو ورو مې لامبو زده کړه، د جریان سمت مې بیاموند او د ساحل لیکه مې سهي کړه.

غوښتل مې چې ساحل ته ورو خیژم خوچې مې کتل کب رانه جوړ شوی و،

نورمې نو د وچې طاقت نه لاره. نور همزولي هم کبان وو، ځينې غټ، واړه. د يارلس کاله په سيند کې او سيدل د سري نه کب جوړوي.

نومې ځان بيرته لاهو کړ. اوس د نورو کبانو په کتار کې کب يم، لا مبم، دورې کوم، غوټې وهم او داسې رنګينې پوکنې په اوبو کې جوړوم چې د نورو کبانو راته پام شي او دا ګرده مې پوښتي چې ته څوک يې چې داسې رنګينې پوکنې په اوبو کې جوړوې. زه وايم: همزولو! زه هم ستاسې په شان يو کب يم، په قام هم کب يم او د هماغه اول نه کب وم . . .

خود زړه په ګوټ کې مې يوه تته شانتې آرزو ده چې کاشکې هلودې سيند ته نه واى زالو يدلى او کب شوى نه واى او د ساحل د هوغې شنې ليکې نه څو غرونه ها خوا د خان آباد په چارتوت نومي کلي کې مې يوې کولى خو بيامې د مور خبره ستر ګو ته راته ودريږي: «ځه، ورځه. زه پوهيدم چې د اوبو ماهي يې، همت دې مل شه!» البته ماهي به يم نو!

* * *

په ادبياتو کې د آتوبيوګرافي (خپل ژوند ليک) ليکنه چې د هنري نثر په ګانه ښکولل شوې وي، ادبي اثر ګڼل کيږي او کيداى شي چې لنډه کيسه يې هم وبولو.

سعدالدين شپون په (۱۳۱۱ش) کې د کندز دولايت د خان آباد د چار توت په کلي کې زيږيدلى، د پلار نوم يې قاضي برهان الدين او په ختمه خو ګيانى دى. د لومړني ښوونځي نه وروسته کابل ته راغى، د حبيبيې په ليسه کې شامل شو، کله چې له دولسم ټولګي نه فارغ شو د

ادبياتو پوهنځی يې ولوست او په پښتو ټولنه کې د علمي غړي په توګه وټاکل شو. وروسته يې د امريکې له متحده ايالاتو نه په ادبياتو کې ماستري تر لاسه کړه.

شپون د شعرونو يوه مجموعه لري او لنډې کيسې يې هم ليکلې دي. (۱) دی په خپله ليکنه کې د اکثرو ليکوالو په خلاف، نيغ په نيغه سياست ته نه ورګډېږي او فورماليزم يعنې د هنر ښکلي اړخ ته زيات پاملرنه کوي. اوس به دده د شعر يوه بيلګه ولولو:

## زانه

ستا اوږده اوږده وزرونه د پامير له څوکو جګ دي
لنډ وې اوږده مزلونه، چيرته ځې کله رسيږې؟
ستا اوږده مښوکه ډوبه نن آموکې بيا سباته
هندوکش د سړه نډوکې مسته مسته مخچوليږي
الوتوکې زانګې زانګې چاشراب دريانډي ځښلي
چې سبلۍ سخته لګيږي ته په نازو رته نخيږي
د نيلي آسمان پيغلې ولې دومره جګه ګرځې
راته ښکاري پښتنه يې له زلميانو نه شرميږي
تور اوره د پسرلي کې چې باران نم نم وريږي

(۱) د استاد سعد الدين شپون چاپ آثار دادي! ليکوالی د ۱۳۵۲ ش کال چاپ؛ پرخه په ترخه (دشعر مجموعه) د پيښبور چاپ؛ د بنګی غاړه (د لنډو کيسو مجموعه) په ۱۳۷۷ هـ شړکال د پيښبور چاپ؛ شين تاغی (د ۱۳۷۷ ش کال چاپ) او ګتيالی (د ۱۳۷۸ هـ ش کال چاپ) ناولونه؛ ادبي خيرنې (دمقالونا چاپه مجموعه، د افغانستان د علوموا کادمی کتابخانه) (هـ).

ته زمـوږ د کـالـه شـاتـه تـوره شپـه کې را کـوزیږي
زه یـې اورم چـې تـه بـولـې هـا خـوږې خـوږې بـدلـې
زه دې ګورم چې تـه خاندې او بیا ورانـه ورانـه کیږي
ستا یې بنې درلمدې کړې کاشکي نن شپه اوربنت نه وای
نه ربنتیا بنه دي چې اوري که نه بیا ته نه ستنیږي
یا د تـالـندې مـتروکـې د آسـمـان مـخ ورشـېن کړی
تـه داوبنـکـو دانـکـی یـې چـې کـرار کـرار بـهـیږي

## عبدالبار ی جهانی:

د جهانـي شعر له تخیل، عاطفې، اوطغیان څخه ترکیب شوی او د پښتنو د هنري فرهنګ د ګالـری یـوزړه وړونکـی تصـویـر دی. حبیب الله رفیع د پښتو ادبیاتو نامتو څېړونکی لیکي: « جهاني زموږ دهیواد په معاصرو شاعرانو کې د ګوتو په شمیر شاعرانو له ډلې څخه دی. » (ورکه مینه، ۱۲ مخ)

عبدالباري جهاني د عبدالاحمد زوی په (۱۳۲۷ ش) کال د کندهار په ښارکې زیږیدلی دی. خپله زده کړه یې د بکلوریا تر درجې پورې همهلته سرته رسولې او د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي له لوستلو وروسته یې په پښتو ټولنه کې د علمي غړي په توګه کار کاوه.

په (۱۳٦۷ ش) کال کې د (ورکه مینه) په نامه دده د شعرونو یوه

مجموعه خپره شوه (۱) چې په هغه باندې نامتو ادبپوهانو او شاعرانو: عبدالرحمن پژواک پوهاند دوکتور حبیب الله تږی، او ادبي مؤرخ حبیب‌الله رفیع تقریظونه لیکلي دي. د دغه کتاب په سرکې، جهاني د (اهداء) تر سرلیک لاندې لیکي: "د بزم او رزم د نیمګړو ترانو د اوږه مجموعه د پښتو ژبې هغو شاعرانو ته اهداء کوم چې تقدیر محکوم پیدا کړي، و اکمنانو یې پر خولو مهرونه وهلي او زمان یې قلمونه زولانه کړي دي».

عبدالرحمن پژواک لیکي: «هر شاعر لره ځانته یوجهان دی چې یوازې دی یې جهانبان دی. شعر رازدی، په راز باندې خبري کول په زړه باندې تجاوز او په روح باندې تیری دی. زه په شعر باندې تقریظ او انتقاد ګناه ګڼم.

عبدالباری جهاني یو استعداد دی چې که چیرې زمونږ د اسیر محیط د قیداو بند څخه آزاد پاتې شي خپل رازونه به د سپیڅلو پیامونو د شعارونو په څیر جهانیانو ته ورسوي چې د ننني بازاري شعارونو بازارمات کړي. زه ورته دعاء کوم چې خدای (ج) او خندا دې ورسره مله وي.»

پوهاند دوکتور تږی په مقدمه کې وايي: «... دلته که له یوې خوا د افغاني جنګیالیو د توربې خرپ او شرنګ ستایل شوی او د باتور افغان

---

(۱) تر ورکه مینه وروسته، د ښاغلی جهانی د شعرېله مجموعه پایکوب هم په پېښبور کې چاپ شوه او د شعر دریمه مجموعه یې شش محل نومیږي چې ښاغلی صحاف کندهاري یې خپروي (هـ).

ولس د توري، زړه ورتیا، سرتیري او د میړانې نزدې غبرګول شوې، نوله بلې خوا د ژوند ښښونکو یو غرپ او د افغاني رباب زړه وړونکی ترنګ هم په ډیر وچت شاعرانه انداز کې تصویر شوی او د زړو میکدو او پښتنې تاریخي حجرو کیفیت په ساحرانه الفاظو تازه شوی دی».

دغه مقدمه هم په شاعرانه انداز کې لیکل شوې او ټوله دویلوړه خود کتاب د حجم په پام کې ساتلو سره له هغې څخه تیرېږو او د جهاني له جهان سره ځانونه آشنا کوو.

دا باید وویل شي چې جهاني د پردیسی، حالت کې ځینې شعرونه ویلي او په ( ورکه مینه) کې یې خپاره شوي دي. د دې مجموعې په لوستلو سره هر څوک د شعر اعجاز درک کولی شی دلته به یوازې دوې بیلګې راوړو.

## ورکه مینه

د ژوندون وحشي موجونو
له آشنا مینې بیل کړی
د زمان یا غي بادونو
بل جهان ته یم راوړی

***

را یاد یږي مې جونګړه
را یادیږي مې خیالونه
هسې لیرې راته ښکاري
لکه ورک ستړي خوبونه

نه د چا پریدو شونډو
څه مرموزه نغمه ناځي
نه د چاله پټو سترګو
د هوس ترانې پاځي

***

نه د چا پرسپينو ليچو
تورې څونې راخورې دي
نه د مرو کټو يادونو
سپينې کړې د چاشپې دي

***

نه د چا پردنګه غاړه
لونګين په ورو ورو زانګي
نه مستی د مستو پيغلو
ماتې کړې دي ګلخانګې

***

نه هغه د سوما بوټی
نه هغه د غرو لمنې
نه او بښه نه يې هی هی دی
نه کېږدی، دي چيرته پلنې

***

نه هغه وحشي د ښتونه
نه غاټول پکې غوړيږي
نه شيلې نه يې باداسکي
نه څپې پکې مستيږي

**

نه خوشال له زوره ږغ کړه
په ښکاره چې خوله يې راکړه
نه له بخته فرياد ي دی
چې ملګرو ورته شاکړه

**

نه حميد په شنه زرګي کې
خيال د شونډو دی ساتلی
نه فراق د نو خطانو
کړی شپه دی ژړولی

**

نه محفل سته درندانو
نه قيامت د پايکوبونو
نه د شيخ په لاس عصا ده
نه فرياد له سر کوبونو

**

نــه څــه زيــری د فــــرودس دی
نـــه هــوس د کـــوثــرونـــو
نــه څــه ويــره د گـنــاه ستــه
نــه وحــشــت لــه دوزخــونـــو

**

نــه جـنــون پـر خـروښ راغـلـئ
نـه هوښيـاره بـدمـسـتـي ستـه
نــه د عــقــل لـيــونـتــوب دی
نـه د بـنـگـو هـوښـيـاري ستــه

**

دلـــتــه اورد ژونـــدون نـــســـتـــه
دســـاړه جـــهـــنـــم کـــور دی
دلـــتــه هــر څــه ايــرې کـيــږي
د حـــيـــات پـــه نـــامـــه گـــور دی

**

دلـــتــه هــر څــه ســودا کـيــږی
دلـــتــه هــر څــه بـــازاري دي
دلـتــه ويـنــې بـيــگـانــه دي
دلـتــه مـيـنــې ظـاهــري دي

**

زما د جگو غرو سندرې
څوک يې نسي اوريدلای
زما زيړه پښتنه ژبه
دلته نسي گړيدلای

**

زه داستان د برباد يو
زما کيسې په وينو سرې دي
نه له ستونې مې وزي
نه په سور کې زمزمې دي

**

دلته وژنم خپلې هيلې
بې لمبې سوځم ويلې يږم
نه د چاد لارې مل يم
نه د چا م مخ ته بلېږم

**

زما هغه جنت پردی سو
چې مې حورې ورستا يلې
زما هغه کور گی تباه سو
چې کيسې به مې کولې

**

ها نسیم لمبه لمبه سو
چې یې وینې ویښولې
هغه جام له زهرو ډک سو
چې مستي یې پاڅولې

**

زما وروستي بڅري مړه سول
زما، نه مه غواړئ اوږونه
زما ګونګي احساس مړ سوی
زما نه مه غواړئ شعرونه

**

(ویرجنیا، امریکا، ۱۹۸۵م)

## زه شاهد وم

ما به لیده چې د باغوان په لاس غوټۍ زمولېږي
ما به لیده چې د ساقي په لاس خمونه رنګ سول
زه د جامونو د لوټلو شاهد
زه د غوټیو د زمولو شاهد
د میکدود ورانولو شاهد
ما ددې بڼ د بوټي - بوټي لاښیدل ولیده
ما په سپرلي کې د زاغانو پا یکوبونه کتل
ماد نسیم په غیږ کې زیری د خزان اوریده

ما د بلبلو څوانیمرګې نغمې
ما د ګلونو چپاوسوې ورمې
ما د پایمالو آرزوګانو زګیروي
ما له وحشته ریپدلي زړونه ټول ولیدل

را ویښوئ مې ولې؟
را پاڅوئ مې ولې؟
دا ږغوئ مې ولې؟

ما به لیدل چې د زمان توپان وهلې بیړۍ
د ګردابونو تلاطم کې ړنګه بنګه خوځي
د څپو غیږې ته ورڅرمه سېږ وبیرې پکې

د جالـه وان لـه نـامرد یـه څـخـه
ددې ظـالم لـه بـیـبـاکـیـه څـخـه
بـیـړۍ لـه پـر ښـو سره وجـنـګـیـږي

د غر قیدوله ویرې ټوله بیړۍ وال چیغې کړي
څوک د بیړۍ تیاره کونجونو ته له وهمه ځغلي
مـال او اولاد هـیـروي

دډیوې څنګ ته له قاه قاه سره غاښونه بریښي
دا جـالـه وان دی ظـالـم
زه یـې خـنـدا پـیـژنـم
د دې لیوه سره پخواهم څه آشنا غوندې وم

ما هر څه ولیده، خو هیڅ مې لاویلي نه دي
زه د ببرۍ د ډوبولو شاهد
زه د توپان د خوځیدلو شاهد

ماله آرام ساحله تېښته لیده
زه په لوی لاس د غرقېدلو شاهد
راویښنوئ مې ولې؟
راپاڅوئ مې ولې؟
دا ږغوئ مې ولې؟

ما به لیده چې د غوغا د چوپېدو د پاره
سپېنې آبداري توري څه په بې آبۍ سرې کیږي
تر یو څو سوو کړړو وروسته څه کمزوري چیغه
وروستی نفس د زولنو په شرنګهار کې ورک کي

یو لالهانده زړه آرام غوندې سي
یوه سېنه د هدیرې په رسم
یوه کوچنوټې قفسچه کې هلته
یو لوی جهان لره مکان پیدا کي

یوه نرۍ شانې لمبه توري تیارې ته دروي
دا بدي سکوت په غیبر کې حرکت ډوبیږي
څوک د ژوندي مرګ په آرزو د ګولۍ لارې څاري
څوک بیاد مړه ژوندون بقأ ته له ایمانه تیر سول

زه د زګیروي د چوپولو شاهد
زه د ترتیلو د لوتیلو شاهد
ما تا ړاکونه چپاوونه لیدل
زه د سرو څاڅکو تو یولو شاهد

را ویښوئ مې ولې ؟
راپاڅوئ مې ولې ؟
دا ږغوئ مې ولې ؟
ما به لیده چې د جلاد په و ینو سرو منګولو

ما به لیده چې د لیوانو د ځیرلووهم
خلک د ورور پر جنازه نڅول
خلک په ډکو ستونو وخندول
ما به لیده چې څوک د مینې د لر لوپه تور

ولې سنګسار سو، ولې تولو ګناه کارو یاله
ما به لیده چې خلکو لوی، لوی ګناهو نه ستایل
هر چاچې ښې منګولې سرې کړې قهرمان قبول سو
دلته قاتل قضا ته نه کشیږي

دلته چې سروهي سردار یې بولي
دلته د سرو لاسو په نوم عباد تو نه کیږي
سجده هغو ته ده چې زړونه یې سینو کې نسته
زه بې ګناه ګناه کاران پیژنم

ما ګناهګاره جنتیان ولیدل
زه د پایکوب د سرکوبونو شاهد
زه د قاتل د سرو لاسونو شاهد
چا د منبر پر سر ګناه ستاپله

خودا ثواب د سنګسارونو شاهد
څوک چې زرګونه قتلوي خلک بیعت ورکوي
هغه چې وینې پاکوي، هغه دوزخ ته درومي
د ګناهونو د تمیز پر میدان

ددې نړۍ د عدالت شاهد یم
راوېښوئ مې ولې؟
راپاڅوئ مې ولې؟
دارغوئ مې ولې؟

***

پرېږدئ چې هر څه په سینه کې ولحد ته یوسم
د شعر ژبه مې ګونګې ښه ده پرې سوې ښه ده
په سترګو وینم خو چې نه یم ګړېدلی ښه دی
دلته لېدل او کول ښه دي څه ویل کفردي

په رڼو سترګو ژوندي ډېر او سېږي
خو څوک چې ژبه لري سر نه لري
دلته لاسونه پرېکېدل ژبې یې هم غوڅې کړې
خو سترګو رو هر څه ولیده ګونګي پاته سوه

پـــــريــــــبردئ چـــې وســـو ځـــيـــبرم
پـــــريــــــبردئ چـــې وكـــړ يـــبرم
چـــيـــرتـــه بـــه زه هـــم دويـــلـــو پـــه تـــور
ددي لـــيـــدنـــو دويـــلـــو پـــه تـــور
د ژبـــو رو پـــه دود خـــپـــلـــه سـزاگـــي، وويـــنـــم
زما په مرې، باندې به هم د چا منگولې سرې سي
را ويـــښـــوئ مـــې ولـــې ؟
راپـــاځـــوئ مـــې ولـــې ؟
دا ږغـــوئ مـــې ولـــې ؟

## قيام الدين خادم (۱۲۸۵-۱۳۵۸هـ . ش ) :

كله چې دوينې ځلميانو دوخت په ادبياتو باندې بحث كيږي نو د لومړي ځل د پاره د حبيبي ، الفت ، بينوا ، خادم ، رښتين اورشاد نومونه په ذهن كې تداعى كيږي ، ځكه چې دوى د پښتو د معياري ژبې او ليكدود (املاء) او دا دبي سبک په پالنه كې ډير ستر خدمتونه تر سره كړي او زيات شاگردان يې روزلي دي. لوى استاد حبيبي او فاضل استاد رشاد دواړه دادبي او تاريخي څيړنو سر لاري او په خپله ساحه كې د تبحر په لحاظ بې ساري دي. محترم استاد پوهاند رښتين هم په گرامر او ادبي تاريخ كې لوى لاس لرى. الفت ، بينوا ، او خادم كه څه هم ادبي څيړنې تر سره كړي دي خو هغوى زياتره دويښتيا د دورې د نامتو شاعرانو په توگه

شهرت لري.

که مور پهادبي تاريخ کې د پوهاند رښتين او پوهاند رشاد نه مخکې د جهاني يادونه کوو، دليل يې د ادی جې په ادبياتو کې هنر او بذاعت له علم او تحقيق نه مخکې راځي. که څوک دادبي څېړنو تاريخ ليکي هلته ښايي د ځينو نامتو شاعرانو او کيسه ليکونکو هيڅ يادونه ونشي.

له دغې لنډې يادونې وروسته به داستاد قيام الدين خادم پر ژوند ليک رڼا واچوو.

قيام الدين خادم د ملا حسام الدين زوی او د ملا علي گل اخونزاده لمسی دی. د (اوسني ليکوال) مؤلف ليکي چي: «ښاغلی قيام الدين خادم په اوسنيو پښتنو ليکوالو او شاعرانو کې د قدامت او مشرتوب حق لري او د افغاني پوهانو او اديبانو په لومړۍ ډله کې دريږي».

خادم صاحب د پښتو، پښتو نولۍ، او د هيواد له ترقۍ سره ډيره مينه درلوده، د ښو احساساتو خاوند وا و د لهجې صراحت يې درلود. استاد خادم په (اوسنی ليکوال) کې خپل ژوند ليک خپور کړی دی، په يوه برخه کې يې د (زما په حيات انتقادات) تر سرليک لاندې داسې ليکلي دي: په ژوندانه کې هيڅوک له انتقاده نه دي خلاص هغه انتقادونه چې په ما يې خلک کوي دادي:

١- وايي نه منونکی سړی دی. دا انتقاد په ما باندې زما والدې هم هر وخت کاوه مگر زما جواب به دا وچې (که زه منونکی وای خو زه به هم

د نورو خلکو غوندې وای.) په ورکوتوالی به مې د مور سره تل په دې جنګ و. دې به وېل: (خلک داسې کوی او ته داسې.) ما به ویل چې: (خلک راته مه یادوه خلک خو هرڅه کوي!!!)

۲-وایی ډېر بحث کوي او نه قانع کیږي ... دا خبره نشم فیصله کولای چې داد خلکو قصور دی او که زما عیب؟ استادان به هم زما پوښتنو ته اریان وو، زه پخپله هم په دې قانع یم چې بحث مې خوښ دی مګر په اساسي او اصولي خبرو. نه مطلق بحث ....

۳- وایي « سر شړخه دی » مګر دوستان مې وایي ادبي شجاعت لري. په ورکوتوالي کې راته خلکو ویل چې « کلان کار دی » ولې په آزادۍ خوزه پخپله هم قایل یم او دا ځکه چې د طمعې بار زما په ورمېږ نشته.

٤- هو، په دې یو ګناه زه پخپله هم قانع یم چې هغه د حقیقت مینه باید وبولم.

خلک په امور وکې د نورو نورو ملاحظاتو مراعات کوي، مګر زه په حقیقت او واقعیت پښې نشم ایښودای. ما خپل دغه عادت په هغه نظم کې چې (د شاعر مسلک) یې نوم دی ښه تصویر کړی دی.

زه د اتولې خبرې اورم مګر د ځان سره وایم: « ډېرې خولې ډېرې خبرې ».

دا پورته لیکنه د خادم صاحب د نثر نمونه هم کیدای شي. دده په نثر کې ایجاز لیدل کیږي او د ځینو لیکوالو په شان د حق الزحمې د پاره

خبره نه اوړدي، بلکې نيغ په نيغه خپل مطلب بيانوي.

دده څورلس ځانګړي آثار چاپ شوي دي چې مشهور يې دادي: دکوچنيانو اخلاقي پالنه، روهي ګلونه، د مرغلرو اميل، نوی ژوندون، مکارم الاخلاق، پښتونولي، بايزيد روښان، خيالي د نيا، د شريف سرګذشت، او نبوغ او عبقريت.

## د شاعر مسلک

صحيح لاره به ښايم که وم وم که نه وم نه وم
رښتيا رښتيا به وايم که وم وم که نه وم نه وم

د حق د پيروۍ نه مې بل څه په زړه کې نشته
چې څه يم همدا يم که وم وم که نه وم نه وم

آزاد يم زيږيدلی بنده ګي کولی نشم
بنده د خپل مولا يم که وم وم که نه وم نه وم

په بدو خوشامندو مې ځان خوښ نه دی چې غټ شم
که غټ يم خو هم دا يم که وم وم که نه وم نه وم

چې څوک غواړي څه سپکه مې د قام له څه جهته
دښمن د هغه چا يم که وم وم که نه وم نه وم

---

(۱) داستاد خادم په چاپي آثارو کې دالاندې منظوم او منثور آثار هم شامل دي: ښاروان (دشعر مجموعه د ۱۳٤٦ هـ ش کال چاپ) د بابا نصيحت (نظم) ۱۳۳۵ هـ ش. نوې رڼا (د مقالو مجموعه) د ۱۳٤۳ هـ ش کال چاپ. دغه راز د استاد دری کتابونه په پېښور کې چاپ دي: لوی اصحابان، لرغونی پښتانه قومونه او پښتونتې (هـ).

په ماته کښتي سپوریم طوفانونه مې دي مخکې
په دې لاره یې بیایم که وم وم که نه وم نه وم

خدمت د خپلې ژبې، قام، وطن زما مسلک دی
په دې مینه به پایم که وم وم که نه وم نه وم

لرم ښکلي تخمونه چې گلزار شي پښتنو ته
په دغه تمنایم که وم وم که نه وم نه وم

د ناز په خوب ویدې غنچې په ورو ورو و ښنومه
(خادم) باد صبایم که وم وم که نه وم نه وم

## صدیق الله رښتین :

پوهاند صدیق الله رښتین د مولوی تاج محمد زوی د ۱۲۹۸ هـ ش کال شاوخوا د مومند و په سره کمرکې زیږیدلی دی (۱). لومړنی زده کړه یې په خپله علمي کورنۍ کې کړې ده او بیا یې خپل تحصیلات د ننگرهار د هډې په نجم المدارس او د کابل په عربي دارالعلوم کې سرته رسولي دي. د پوهاند رښتین پلار مولوي تاج محمد خان (د ترنگزو حاجي صاحب) له همکارانو څخه و او د باچاخان په کتاب (زما ژوند جد او جهد) کې یې یادونه راغلې ده.

پوهاند رښتین د خدمت زیاته موده په پښتو ټولنه کې او د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي کې د استاد په توگه تیره کړې ده، وروستی

(۱) د دې کتاب تر لیکلو وروسته کابو څه د پاسه اوه کاله نور هم ژوندی و او د ۱۳۷۷ هـ ش کال د لیندۍ په ٦ مه نیټه په پیښور کې وفات او د ننگرهار په بهسودو کې خاوروته وسپارل شو (هـ).

وظيفه يې د پښتو ټولنې د رئيس په توګه اجرا کوله چې د محمد داؤد له خوا په (۱۳۵۲ هـ . ش) کال کې تقاعد ورکړ شو.

پوهاند رښتين په ابتدا کې شعرونه هم ويل خو وروسته يې خپل وخت ژبپوهنې او ادبپوهنې ته وقف کړ. د ده نثر پوخ او معياري دی.

پوهاند حبيب الله تږی په دې باره کې داسې وايي:

«رښتين د خپل وخت نوميالی ليکوال او قوي نثر ليکونکی دی چې آثار يې په متفرق او مستقل ډول سره د هيواد په مطبوعاتو کې خپاره شوي دي. نظم او نثر داوړه لري؛ مګر د نثر خوايی له نظم څخه ډيره قوي او برجسته ده. حتی دی د خپلې دورې يوازينی ليکوال دی چې د نثر خوايی ئو ځله تر نظم قوي ښکاري. د ده د نثر ډېره ستر مميزه داده چې د ده الفاظ تل قالبي برېښي. د نظمونو کومه مجموعه يې تر اوسه لا نه ده خپره شوې (۱) خو په نثر کې يې مستقل آثار زيات چاپ شوي دي».

د پوهاند رښتين نامتو آثار دادي: د پښتو ادب تاريخ، د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه، د پښتو لوی ګرامر (په پارسي ژبه)، پښتو قصې، د هند سفر، پښتو ژښودنه، د ژوند سندره، نوی ژوند، د مينې هينداره د پښتو مصدرونو لارښود، او نور.

## عبدالشکور رشاد:

عبدالشکور رشاد د عبدالغفور خان زوی د حاجي محمد اياز خان لمسی په ختيه بابړ په (۱۳۰۰ هـ ش) کال کې د کندهار ښار د بابړ و په

(۱) د اروابنا داستاد رښتين د شعر مجموعه خوږې وږمې نوميږي او په ۱۳۷۷ هـ ش کال په پېښور کې چاپ ده. د استاد د ټولو چاپي آثارو مجموعه تر ۴۵ اثرونو پورې رسي. (هـ).

کوڅه کې زیږېدلی دی. پوهاند رشاد په تاریخ، ادبپوهنه، او لغت پوهنه کې د تبحر درلودلو له امله د روښانفکرانو له خوا د (فاضل استاد) لقب ګټلی دی. دده د معلوماتو پر اختیا او قوي حافظه اوریدونکی په حیرت کې اچوي. دا کادمیسین پوهاند رشاد د چاپي آثارو شمیر، لکه څنګه چې ښایي، دومره زیات نه دی او علت یې دادی چې دده د خپل نفس مناعت اجازه نه ورکوله چې د کتاب د چاپولو غوښتنه وکړي. اکثر کتابونه یې د علمي مؤسسو په غوښتنه چاپ شوي دي.

فاضل استاد په اوسني وخت کې د پښتو او فارسي ادب د کلاسیک متونو د مشکلاتو د حل کولو د پاره یو مهم مرجع ګڼل کیږي. استاد رشاد نه یوازې د خپل علمي تبحر له کبله، بلکې د تقویٰ او د نفس د مناعت په درلود لو سره د پوهانو او روښانفکره قشر په منځ کې خاص محبوبیت ګټلی دی.

د (اوسني لیکوال) مؤلف دده په باره کې لیکي: «ښاغلی رشاد که څه هم په بډایه کورنۍ کې پیدا شوی دی خو اوس نه یوازې بډای نه دی بلکې د ځینو بډایانو په خلاف د بې وزلو سره د همدردۍ احساسات هم لري او د شعر په ژبه یې د غریبانو پر حال ډیر ژړلي هم دي چې دده دې غریب پرورۍ د احساساتو نمونې د پاره به یوازې دده هغه یو شعر کافي وي چې (د غریب زنګندن) تر عنوان لاندې یې څورلس کاله پخوا (هغه وخت) ویلی دی».

پوهاند رشاد په اردو، عربي، انگریزي، او روسي ژبو پوهیږي.

## حریت

د مجنون ژوندون به څه وي چې لیلا مري
څه په کار دی تش کالبوت چې زړه د چا مري
زړه ډیوه ده دا د ختمو په قالب کې
خدا و مه کړه چې دا ډیوه د چا مري
چې مرغه لاړ شي قفس د ماتیدو دی
که به زړه مري تش گوگل دې لا پخوا مري
هیڅ ممکن نه دی پایښت دهغه پژي
زړه چې مري کالبوت مجبور دی خامخا مري
حریت د هر ملت د بدن زړه دی
که دا نه و، هم ملت مري هم بقا مري

## د دې پړاو نور لیکوال او شاعران:

کله چې د پښتو جامع ادبي تاریخ لیکل کیږي نو هلته باید د پوهاند دوکتور بهاءالدین مجروح، نصرالله حافظ، موسی شفیق، محمد صدیق پسرلي، عبدالله غمخور، غوث خیبري، کبرا مظهري،

(۱) ډاکټر دمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد د لیکلیو څیړ نیزو آثارو، ترجمو او ادبي منظومو، منثورو آثارو شمیره ترپنځوسو اوړي. د شعر دوې مجموعې یې چاپ دي؛ د زړه وینې (د کابل چاپ) د افغانستان بدې ورځې (د پیښور چاپ). د تولستوی درې نکلونه او د ټاگور ځینو آثارو ترجمې یې په ادبي ترجمو کې حسابیږي (هـ)

حبيب الله رفيع، ابراهيم عطايي، عبدالرحمن پژواک، دوکتور مجاور-احمد زيار، عبدالله بختاني، دوست شينواري، احسان الله هير او محمد-دين ژواک په آثار و او افکارو ځانګړې ځيرنې ترسره شي. د دوکتور مجروح (ځانځاني ښامار) (۱) يو داسې اثر دی چې د شعر په ژبه يې يوه فلسفي مفکوره بيان کړې ده او په پښتو ادب کې يو مهم نوښت ګڼل کيږي. د موسی شفيق کيسې ډير لوړ هنري ارزښت لري. او د نصرالله حافظ شعرونه د کميت او کيفيت په لحاظ د پښتو (معاصر) شعر په لومړي کتار کې دريږي. د کبرا مظهري، غوث خيبري، او ابراهيم عطايي ناولونه جلا څيړنو ته انتظار باسي. دادبي تاريخ په غنا کې د حبيب الله رفيع او زلمی هيواد مل علمي څيړنې د خاصې يادونې وړ دي. په ژبنيو څيړونو کې د پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار او د دوکتور-عبدالحکيم هلالي آثار، په ادبي تيوري او ادبي کره کتنه کې د پوهاند محمد رحيم الهام او سر محقق دوست شينواري ليکنې د ژبې او ادب عمده پانګې ګڼل کيږي.

په پای کې د دې ټکي يادونه هم ضروري بريښي چې دويښتيا د پړاو په مينځ ته راتلو او د نهضت په پالنه کې د عبدالمجيد زابلي او محمد ګل مومند نومونه د هيرولو نه دي. زابلي دليبرال د موکراسی د پرمختيا او پراختيا د پاره خپل مالي امکانات په کارا چولي وو او فرهنګي آثارو ته يې جايزې ورکولې. محمد ګل مومند د پښتو او

(۱) د شهيد پوهاند دوکتور مجروح (۱۹۲۸ - ۱۹۸۸م) د شعرونو بله مجموعه نا آشنا سندرې په پيښور کې چاپ شوی ده. (هـ)

پښتونولی د یوه لیکوال او درانه مشر په توگه په پښتني نړۍ کې شهرت لري. دی د ځینو آثار رو مؤلف هم دی، خو دده نوم زیاتره د فرهنگي نهضت د بنسټ ایښود ونکی په توگه یادېږي.

دویښتیا په پړاوکې په کلیو او بانډوکې ولسي شاعران هم موجود وو چې د هغو د زیات شمیر نومونه په ( اوسني شاعران ) کې معرفي شوي دي. داولسي شاعرانو په ډله کې ملنگ جان (۱۲۹۳ - ۱۳۳۶ هـ ش) یو ځلانده ستوری دی. څرنگه چې له یوې خوا دده سندرې له ټنگ ټکور سره ملگرې وې او له بلې خوا دی په لومړی سرکې بیسواده و او وروسته یې یو څه سواد زده کړ، نو ځکه د ولسی شاعر په نامه مشهور شوی دی، لیکن دده هنري نوښتونه هغه د سترو شاعرانو په کتار کې دروی.

## ملنگ جان وایي:

مینې دې ستې کړم
راغلی په ایرو
اوس مې ایروکې لاس وهه چې باد یې وړینه
ستا د مخ پتنگ وم

شپږم څپرکی

# داوښتون پړاو

## تاریخي پس منظر:

دویښتیا پړاو په ادبیاتو کې د کیڼ اړخ روښانفکرانو ځینې داسې غوښتنې او آرمانونه هم انګازه کړي دي چې دریفورمیزم له سرحد نه اوړي او د هغو په عقیده یوازې د ملي د موکراتیک انقلاب په بریالیتوب سره تحقق موندلی شي. د انقلابي افکارو په وده او چټکتیا کې کورنیو او بهرنیو عواملو لاس سره ورکړی و. په هیواد کې دننه

دولتي واکمنانو د ستهاتسکو (د اوسنی حالت د ساتنې) د پاره کار کاوه او له تحول څخه په ویره کې وو. د ملي شورى د اتمې دورې په انتخاباتو کې (۱۹۵۲ م کال) د حکومت لاسوهنې د اوښوده چې دولت حتی دریفورمستانو او لیبرال دموکراتانو فعالیتونه هم نشي زغملی. د مظاهره کوونکو د ټکولو او د سیاسي سازمانو د مشرانو د بندي کولو په نتیجه کې یو شمیر روښانفکران په دې معتقد شول چې د ټولنې اساسي ستونزې، (لکه فقر، بیسوادي، او ټولنیز فساد) له بنیادي تحول او انقلابي بدلون نه پرته نشي حل کیدای. له بلې خوا په همدې وخت کې د افغانستان شمالي گاونډي د خپل سیاسي نظام د تفوق ښودلو د پاره په پراخوایډیالوجیکي تبلیغاتو لاس پورې کړی و. په (۱۹۵۵ م) کې د افغان – شوروي تړون هم د افغانستان په اقتصادي او فرهنگي ژوند کې د تحول راوستلو د پاره زمینه برابره کړه. د محمد داؤد د صدارت په دوره کې د پښتنو او بلوڅو د خپلواکی یا داخلي آزادي له نهضت څخه د ملاتړ په نتیجه کې د افغانی حکومت مناسبات له پاکستان او د هغه له متحدینو (د امریکې متحده ایالتونو، ایران، ځینو عربي هیوادونو، او لویدیځې اروپا) سره په عادي د پلوماتیکه سطح کې پاتې شوي وو او له شوروي اتحاد سره یې په اصطلاح دوستانه اړیکي ټینګ کړل. له همدې وخت نه وروسته افغانستان د شوروي د نفوذ په ساحه کې واقع شو.

د (۱۹۶۳م) کال په مارچ (حوت، ۱۳۴۱ هـ ش) کې د محمد داؤد په استعفاء سره یوځل بیا د تحول غوښتونکو ځواکونو د پاره د خپل غږ د

پورته کولو فضا مساعده شوه. په ۱۹٦٤م (۱۳٤۳ ش) کې نوی اساسي قانون نافذ شو چې د فکر او عقیدې د بیا نولو، د اعتصاب او مظاهرې د کولو، او د سیاسي گوندونو جوړولو ته یې اجازه ورکوله. که څه هم چې د گوندونو قانون لا نه وجوړ شوی، په هیواد کې ځینې سیاسي سازمانونه جوړ شول. د ۱۹٦٥م کال د جنوری په لومړۍ نیټه (۱۱ جدی ۱۳٤٤ ش) د افغانستان د خلک د موکراتیک گوند لومړنۍ مؤسسه کنگره په کابل کې دایره شوه. د افغانستان د خلک د موکراتیک گوند نشراتي اورگانونو د خلق او پرچم جرید و په سیستماتیک ډول د اوښتون د پړاو د ادبیاتو په ترویج پیل وکړ او د انتقادي ریالیزم د ادبي میتود په څنگ کې سوسیالیستي ریالیزم هم تیغونه ووهل.

دا باید ووایو چې د پښتو ادب د اوښتون پړاو زړي لا پخوا کرل شوي وو. د نور محمد تره کي (د بنگ مسافری) او نورو کیسو ډیر لوستونکی درلودل او د سلیمان لایق (د چونغرترانې) د انقلابي نظم لومړنۍ زمزمې وې چې په ظاهر شاهي دوره کې د خلکو غوږونو ته رسیدلې وې:

زړه مې له مکیزد هر دلبره سره نه ځي
پښې مې د دوران له هر بې سره سره نه ځي
دا زخمي وطن چې د مزدور په وینو رنگ دی
دا سپینه کوتره له اژدره سره نه ځي
دا ژمکو غل دا خیتهور دغه د کلي خان

لاره د وروری بانـدې بزگره سره نـه ځـي
ديدې نیکمرغی د خوارو خلکو زغمای نشي
عـقـل يې په خیر لـه بشره سره نـه ځـي
دا خلک نور پل لـه استثماره سره نه ږدي
دا وطن يو گام لـه دې بربره سره نه ځـي

## ادبي ځانگړتياوې:

دا وښتون ادب چې د کارگرې طبقې او زيار ايستونکو د ايډيالوجۍ انگازه کوونکی و، د (۱۳۵۷ ش کال) د ثور د اوومې نيټې له پيښې ځخه وروسته په رسمي او دولتي ادب بدل شو. د دغه وخت د شعرونو، کيسو، کره کتنو، او ادبي څيړنو محوري مفکوره د فيوډاليزم او امپرياليزم پر ضد او د ټولنيز عدالت، ترقی، سولې او انترناسيوناليزم د پاره مبارزه وه. د ادبي نوښتگرو د بياروزنې په منظور، د ليکوالو اتحاديه جوړه شوه. کومو روښانفکرانو چې د بيا روزنې په وړاندې مقاومت کاوه د هېواد پريښود لو ته مجبور شول، يا بنديان شول، يا چوپ پاتې شول او ځينو په نه زړه همکاري کوله. د (۱۳۵۸ ش کال) د جدی په شپږمه نېټه د افغانستان پرخاوره د سره لښکر له تيري نه وروسته په ادبي هستونوکې د سويټيزم په نامه يوه اصطلاح هم باب شوې وه او د شوروي دوستی په باب ليکنې هم باب شوې.

لکه چې تجربې ښودلې ده د هر ټولنيز تحول په پيلامه کې د ادبياتو پيغام او مضمون له فورم او قالب ځخه مخکې ځي او غالباً د

فورم ښکلاته چنداني پاملرنه نه کيږي. څه موده وروسته نوښتګر روښانفکران د کليشه يي او يکنواخته مبتذل ادب د پای ته رسولو د پاره د ابتکار لمنې ته لاس غځوي او د پيغامونو د پاره مناسبه ژبه او مناسب ايماژونه پيدا کوي.

د ثور له پيښې وروسته، اکثر شعرونو د شعارونو بڼه درلوده او انقلابي ترانې د شعر اصلي مضمون شو. د داستانونو محتوی هم له فيوډاليزم سره مبارزي ته وقف شوې وه. د افغانستان په «دموکراتيک جمهوريت» کې د ليکوالو اتحاديې په جوړيدو سره داد بې کره کتنې محفلونه او سيمينارونه جوړ شول. په ادبي غونډو کې د شعر او داستان ليکنو موازين او پر نسيبونه شرح شول؛ نيمګړتياوو ته ګوته ونيول شوه، په هنري او ايستيتيکې اړخونو باندې ټينګار و شو او د ابتذال او سطحي ګرايي مخه ونيول شوه.

د (١٣٦٥ ش) کال په وروستيو مياشتو کې د افغاني ټولنې په سياسي ژوند کې د يو څه تحول نخښې ښکاره شوې. په شوروي اتحاد کې نوی مشرتوب د (نوی تفکر)، (بيا جوړونې) او (علنيت) تر شعارونو لاندې يوه نوې سياسي تګلاره پيل کړه. د همدغې نوې تګلارې او د افغانانو د مقاومت په نتيجه کې بايد له افغانستان څخه د شوروي قواوې وتلې وای او د افغانستان دولت هم د جګړې په ځای د روغې جوړې تګلاره او نسبي دموکراسي منلې وای. د ملي روغې جوړې (ملي مصالحې) د تګلارې په غوره کولو سره فرهنګي پلوراليزم ته

اجازه ورکړه شوه.

د فرهنګي پلوراليزم په نتيجه کې د غزل ژانر په نوې بڼه احيا شو او د زمان روح پکې پوک وهل شو. رباعی د نويو مفکورو د پاره استخدام شوه او د مثنوی لمن هم په ښايسته ګلونو ډکه شوه. دلنډې کيسې ليکنه ډيره باب شوه. اکثر ليکوال د لنډې کيسې له اصلي تو کونو او نور مونو سره اشناشول. په دې وخت کې يو شمير کيسې او ناولونه هم وژباړل شوه. اوس څوک ساده، مېخانيکي او شعاروزمه آثار نه خوښوي، بلکې په نوښت او بداعت پسې ګرځي؛ دغسې نوښت چې په هغه کې لوړ انساني ارزښتونه او سپيڅلي ملي ارمانونه په ايستيتيکي او هنري ايماژونو کې نغښتل شوي وي.

د فرهنګي پلوراليزم له پيليدو سره د ديکتات، ړانده تقليد، او تعبد مرحله پای ته ورسيده. د (متهکور) په نامه (د محمد اسمعيل يون) د شعرونو د مجموعې په سريزه کې، محمد صديق روهي داسې ليکي:

«په وروستيو څلورو کلونو کې چې کيداې شي د فرهنګي آزادۍ پيلامه يې وبولو - زموږ د هنري فرهنګ په تيره د شعر په ګلبڼ کې رنګارنګ ګلان وغوړيدل او د ادب او هنر د مينه والو زړونه يې باغ باغ کړل. ربښتيا خبره داده کله چې د هنر د آزادۍ وږمه په غرو، رغو، کلو او بانډو وچليږي د شعر بلبل يې د هر کلي د پاره ګلورينې ترانې وايي. د تعجب خبره نه ده حتی هغه شاعران چې د کوم طلسم تر اغيزې لاندې له ځانه پردي شوي وو، د مسخ شوي حالت نه بيرته راوګرځيدل. داسې

ښکاري چې هغوی خپله حافظه ترلاسه کړه، خپل کلي، مالت او دوستان او دښمنان یې وپیژندل. زه په دې خبره بحث نه کوم چې د شعر گلبوټې په هوسا او بسیا خاوره کې ښه وده کوي او که بحراني حالات د شاعر احساس راوېښوي او طغیان ته یې لمسوي، خوډ دې خبرې یادونه ضروري گڼم چې شعر او د تخلیق آزادي د مجنون او لیلا په شان یو له بله جدایي نشي زغملای. چیرې چې د تخلیق آزادي نه وه خدای خبر چې څومره خبرې به د شاعرانو په مغزو کې په ابدي خوب ویدې شوې وي، او څومره خبرې به په نه زړه ویل شوې وي . . . موږ غواړو پردغه ټکي زور واچوو چې فرهنگ یوازې د دموکراسۍ په فضا کې وده کولی شي. که څوک غواړي چې په دې خاوره کې فرهنگ وغوړېږي نو باید د نوښت آزادۍ ته درناوی وکړي. په تیرو څلورو کلونو کې، سره له دې چې جگړې زموږ خاوره د خپلو بچیانو په وینو ولمبوله، ودانۍ یې په کنډوالو بدلې کړې، د کونډو، بورو، او یتیمانو اسویلویې د فلک مانۍ توره کړه. باغونه، ځنگلونه یې بې پناه کړل او مادي هستي یې تالا کړه خوله دې ټولو سره سره د فرهنگ په برخه کې د یوې نسبي آزادۍ له برکته یو څه تنوع او ښکلا لیدله کیږي:

څوک د اتلانو حماسي انځوروي، څوک د شهیدانو پر مقبرو اوښکې تویوي، څوک د سولې آرمانونه بیانوي، څوک وران کلي او زړې خاطرې را په یادوي؛ څوک د نهیلۍ او بې وسۍ نغمې غږوي؛ څوک سباوون ته په تمه ناست دي او ځینې په تورتم کې د امید مشالونه گوري».

د فرهنګي پلورالیزم د وخت شعرونه او ادبي آثار د هنري ارزښت او همدارنګه د پیغام او محتوی له پلوه د اوښتون د پړاو د لومړیو وختو له آثارو سره جوت توپیر لري. د مثال په توګه، په لومړیو وختو کې طبقاتي مبارزه نه پخلا کیدونکي ګڼل کېده او له مخالفو جګړه ما رو څواکونو سره د پخلا کیدو او مصالحې خبره خیانت بلل کیده. اما د اوسني اساسي قانون د حکم له مخې د جګړې د پاره تبلیغ منع دی او ملي مصالحه د دولت بنیادي تګلاره ده.

په همدې ترتیب، په اوسني وخت کې ملي، اسلامي، او بشري ارزښتونو ته زیات درناوی کیږي. د نن ورځې ادبیات د اوسنیو شرایطو زیږنده دي.

د فرهنګي پلورالیزم د پالیسی په نتیجه کې په هیواد کې یو شمیر فرهنګي ټولنې هم جوړې شوې چې په ګوندونو او حکومت پورې نه دي تړلې. د غو ټولنو هم د فرهنګ د پرمختیا او پراختیا په لاره کې د یادونې وړ خدمتونه تر سره کړیدي.

## نامتو لیکوال او شاعران:

که څه هم د ویښتیا د پړاو د ځینو شاعرانو او لیکوالو آثار زیاتره د اوښتون په پړاو کې چاپ شوي دي، خو د وی کار د ویښتیا په پړاو کې پیل شوی دی نو ځکه د ویښتیا په پړاو کې معرفي شوي دي. د دغو لیکوالو او شاعرانو په ډله کې د سلیمان لایق، نصر الله حافظ، مجاور احمد زیار، حبیب الله زړه سواند، عبدالله بختانی، ابراهیم عطایي،

دوست شینواري، او عبدالرؤف قتیل نوموړ نه د یاد ونې وړ دي.

د اوښتون د پړاو نامتو شاعران او لیکوال دادي:

## ۱ - شاعران:

الف) صدیق کاوون، اسحاق ننګیال، احمد الله تکل، عارف خزان، علی ګل پیوند، افضل ټکور، لطیف بهاند، افضل شیرزاد، اسد-الله اسد، اسمعیل یون، عزیز تحریک، فضل الهی ګران، عبدالهادي هادي، لطف الرحمن خاموش، تاج محمد یاری، غلام جان جګړ، عبدالهادي هادي، حفیظ الله خوږلن، فاروق فردا، ابراهیم شینواري، سلطان جان کلیوال، خیال محمد کټوازی، غلام محمد کامه وال، بلقیس مکیز، صفیه صدیقی، پروین ملال، شهسوار سنګروال، ممتاز آرمان، محبوب سنګر، باقی بریال، بابرزی، او نظیف الله تکل.

ب) نور شاعران: سمیع الله سیمع، عاشق الله فریاد، کمال الدین مستان، رشید آرین، سباوږمه، کریمه رسولي، بسم الله حقمل، علی-محمد رسولی، رحیم روهین، اسد الله لودین، ستانه میرزهیر، جلات-خان حکمتی، غلام سخی اتمر، حبیب الله غروال، امیر ګل شرر، باباجان نیاز یوال، حسن ګل، حکیم نور اکاخیل، حاذقه هروی، داد-محمد صحرایی، راجا سنګهه، داد محمد راسا، میر حبیب سهیلی، آصف بهاند، زکریا ما نیجن، زرجان صیاد، نور علی شاه خوستی، سید محمود کارګر، سراج الدین منګل، سید شفیق الله احمد، سید عثمان اندیښمن، محمد معصوم هوتک، لعل پاچا آزمون، محسن مختار،

محمد هاشم غمشریک، مسکین یار، سید نور الله ځل، سامدل مختار، شرین تاج رحیمی، شاه عالم ثپاند، احمد شاه وینن، عبدالحلیم ظریفی، عبدالعزیز پرهیز، صالح محمد مصلح، عبدالغفور ملهم، عبدالله ځاځی، عقل محمد مقبل، عبدالقدیر عمر زیوال، عبدالمالک ساپی، غلام جیلانی اشکار، کمین عمر، محمد حسین، محمد ظاهر-قانت، محمد رفیق، محمد داود شهید، محمد علی توکلی، محمد درود-امیدوار، محمد هاشم ځیرک، محمد کاظم بیمار، محمد اجان ملنگ، محمد مراد سنگرمل، محمد بشیر شریفی، خان محمد، محمد طاهر، میرزا محمد حسین مسکین، محمد معین قاسمی، محمد اسمعیل، نواب ملنګ، نور الحق مشتاق، نعمت الله نعمت او نور (١)

دلته باید د ځوتکو یادونه وشی: لومړی دا چې ښایی ځینو شاعرانو خپلی مجموعې چاپ ته نه وي سپارلې. د پښتو د سترشاعر عبدالباري جهاني د شعریوه مجموعه په (١٣٦٧ش) کال کې خپره شوه تردې وخته د جهانې له شعرا و نامه سره ډیر خلک آشنا وو. کیدای شي چې ځینې ډیرې ښې مجموعې وروسته خپرې شي. په دې اساس، پورتنی فهرست د شاعرانو بشپړ تصویر نشي ښودلی.

دوهم دا چې د ځینو شاعرانو د شعر یوه یوه بیلګه په لاس کې وه. د

(١) د شاعرانو کوم فهرست چې پدې پړاو کې د (نور شاعران) تر سرلیک لاندې استاد ورکړی دی ځینې یې ولسی شاعران دي. ددې فهرست ځینو شاعرانو د وینبتیا په پړاو کې شاعري کړې ده، خو په کومو تذکرو کې چې معرفي شوي دي، هغه دواړې د اوښتون په پړاو کې چاپ دي زما په خیال اروانباد استاد روهی په همدې ښا دوی په دې پړاو کی یاد کړي دي (هـ).

يوې يادوو بيلګوله مخې د شاعر استعداد په ښه توګه نه څرګنديږي. ځينو کسانو ښايي په خپل ژوند کې يو يادوه شعره ددې د پاره ويلي وي چې په شاعرانو کې يې نوم راوړل شي او په ادبي تاريخ کې يې نوم پاتې شي. داسې هم اوريدل شوې دي چې ځينو کسانو ته بل شاعر يو يادوه شعره جوړ کړي او د هغو په نامه يې ثبت کړي دي.

دريم دا چې دغه کتاب د يوه عاجل ضرورت له مخې ليکل شوی دی. دا يقيني خبره ده چې د پښتو ژبې په لسګونو نور شاعران اوليکوال شته چې آثار يې په ورځپاڼو او مجلو کې خپاره شوې دي. زده کوونکو او محصلانو ته بايد دنده وسپارله شي چې د هغو بشپړ فهرست د ورځپاڼو، جريدو، او مجلو له مخې ترتيب کړي.

## ۲- کيسه ليکونکي:

امين افغانپور، زرين انځور، عبيدالله محک، اکبر کرګر، بريالی باجوړي، مصطفی جهاد، احسان آرين زی، خالق رشيد، بشير دوديال، ګل احمد نظری آريانا، شاه محمود حصين، حبيب الله زړه سواند، نور محمد سهيم، محمد عيان عيان، بسم الله حقمل، محمد نبی صلاحي، غوټۍ ستانه ميرزهير، شريفه شريف، پښتون بهرامزی، سهراب ديدار، او نور.

## ۳- دادبي طنز ليکونکي:

کاتب پاځون، ملګری اونور. . .

۴- ادبي څېړونکي:

زرين انځور، اکبر کرګر، عبدالرحيم ځدراڼ، محمد اسعيل سړين، خالق رشيد، نبي صلاحي، نور محمد سهيم، زرغونه زيور ربشتين، نور- الله ولسپال، لطيف بهاند، آصف بهاند، زيور الدين زيور، غوتي خاوري، محمد ولي مندوزي، صابر خويشکي، محمد رفيق، انس زريني، مصطفی نژدی، نصرالله ناصر، ميراحمد ګوربز، عبدالحکيم حليم، او نور.

۵- د ادبي آثارو ژباړونکي:

معتمد شينواري، قيوم کريم، افغانپور، محک، عبدالرحيم ځدراڼ، شير محمد کريمی، ګل جان صابر، يوسف صابر، حبيب الله زړه - سواند، نظام الدين سليما نخيل، نصر الله سوبمن، عبدالوکيل - سولمل، فرهاد ظريفی، عبدالطيف طالبی او نور.

۶- ادبي کره کتونکي:

زرين انځور، نور محمد سهيم، لطيف بهاند، خالق رشيد او شاه محمود حصين.

۷- فوکلوريستان: غوتي خاوري، مير احمد ګوربز، عزيز الله امر- خيل، حضرت محمد و ياړ، فرهاد ظريفی، شهزاده زيارن، مجاوراحمد- مومند، محمد مؤمن بتوال، ننګيالی بخرکی او نصر الله ناصر.

## ۸- په خارجي ژبو د پښتو ادبي آثارو ژباړونکي:

محمد هاشم رحیمی (په انګریزي ژبه) کوشان (په انګریزی ژبه)، معتمد شینواری (په روسی ژبه)، دولت محمد لودین (په روسی ژبه). نظام الدین سلیمان خیل ( په آلمانی ژبه).

## صدیق کاوون:

صدیق کاوون طوفانی په (۱۳۳۳ هـ. ش) کال د لغمان ولایت په (اخونزاده کلا) کې زیږیدلی دی. لومړني او منځني تحصیلات یې په لغمان کې ترسره کړل. په (۱۳۵۷ هـ.ش) کې یې له کابل پوهنتون نه د حقوقو او سیاسي علومو په څانګه کې لیسانس واخیست؛ د (۱۳٦٦ ش) کال تر لومړیو ورځو پورې (د ثور انقلاب حقیقت) د ورځپاڼې منسؤول چلوونکی و. اوس د اطلاعاتو او کلتور وزارت معین دی (۱۳۷۰ هـ ش).

دده د شعرونو څلور مجموعې:

د سپرغۍ د تیږو په ذهن کې، شګې او ګلونه، او وروستي ټکي ترعنوانو لاندې خپرې شوې دي. (۱)

### اول لمر وزیږید

تــــه پــــه ســـاړه ژمــــي کــــې
دیــخ وهــلــې شــپــې لــه مــنــځــه څــنــې

(۱) د کاوون یوه بله شعري مجموعه هم چاپ ده چې نوم یې دی: کله چې ونې مري - (هـ)

د سپينو واورو د غونډ يو له شا
د سره اميد له کرښې پورې وتې
سوې چمن ته راغلې

***

چمن د ګلو په تاراج ژړلې
او ساراپي بلبلو
په چيغو پيغو فريادونه کول
او د نارنجو په شينکې ذهن کې
دا وراووينو ترانه جاري وه

***

خوته د ګلوله کاروانه سره
او په ساړه ژمي کې
سوې چمن ته راغلې
او مهاجري مرغۍ
بيرته ستنې شولې د ځالو په لور
او د ګلبوټو لښتې
په ګلو پټې شولې

***

ستاله راتګه سره
پنجرې ونړيدې

اوبـــې گـــنـــاه مـــرغـــۍ
ځــالـــوتـــه والـــوتـــلـــې
ســـتـــالـــه راتـــګـــه ســـره
دویـــنـــوســـیـــن ودریـــده
او د مـرمـیـو ژبـه گـونـګـه شـولـه
اوریـــځـــو مـــاتـــم ونـــیـــوه
اود ږلـــــی خـــبـــره
د شـنـه سـکـوت لـه یـاده ووتـلـه

***

ســـتـــالـــه راتـــګـــه ســـره
د پـــســـرلـــي تـــوتـــکـــۍ
د ساړه ژمي له اغزنو کربنووا وبنتلې
او پـــه ســـاړه ژمـــي کـــې
د شـــنـــه ســـکـــوت پـــه ژبـــه
د گـل غـوټـیـو غـزل وغـوږیـده
او د تاریخ په هغه شنه فصل کې
د سرو گلـونـو هـنـگـامـه جوړه شوه

***

تـــا پـــه تـــودو پـــســـرلـــنـــیـــو لاســـو
د ســـړې خـــاورې زړه کـــې

د سرو غاټولو دانې وشيندلې
مينه دې وکړله
او بيا د لمرپلوشې
د سپينې واورې په پخجنه سينه وځليدې
او ټولو خلکو ويل:
دادى بيا لمروزيږيد
او د آسمان د سمندر په څنډو
د تورکسوف د وحشتونو څپې ماتې شولې

***

دادى بيا لمروزيږيد
او ما
په ډکو سترګو
سپينې اوښکې
وژړلې

## اسحاق ننګيال:

اسحاق ننګيال په (۱۳۳۵ ش) کال د لغمان ولايت د (بسرام) په کلي کې زيږيدلى دى. لومړنى او منځنى زده کړې يې په لغمان کې د روښان په ليسه کې وکړلې او بيايې په کابل کې د ښارندوى اکاډمي پاى

ته ورسوله. اسحاق ننگیال اوس د پیام په جریده کې کار کوي. (۱۳۷۰ هـ ش). (۱)

## د میلاد په شپو کې

اې، د دې شنه آسمان په غېږه کې خوب وړې سپوږمۍ!
اې، په دې شپو کې د پردیسو د سفر د یوې!
اې، د گلونو او د پیغلو وینو پرې!
ته را ته گورې؟
ته را ته گورې چې د کړیکو او تیارو نخښه شوم؟
او د ساړه ژمي خوني او گنهگار ابلیس
زما د گلابو او نرگسو باغ کې اورو کاره.
ته را ته گورې؟
ته را ته گورې چې محل مې له کارغانو ډک شو؟
او په ویالو کې د هیلیو بچي وسوزېدل
او زموږ د کلي مېندې

---

(۱) د پښتو دغه خوږ ژبی او مبتکر شاعر د ۱۳۷۷ هـ ش کال دغويي د میاشتې پر ۸ مه نیټه وفات شو. په کابل کې دده د شعرو مجموعې چاپ وې: ډالۍ، سپېره ډاگونه او غوړېدلی بوزغلي، ځاځکی ځاځکی، هغه شیبې هغه کلونه. د دغو چاپ مجموعو ډېر شعرونه دده له ناچاپو شعرونو سره پوهنیار یون یو ځای کړل او د (سیندو نه هم مری) په نامه یې دده د شعر کلیات ځنې جوړ کړ. دا کلیات په ۱۳۷۷ هـ ش کال پېښور کې چاپ دی. په همدې ۱۳۷۷ هـ ش کال کې د سیوری په نامه د ننگیال یو رُمان ډوله اثر هم په پېښور کې چاپ او خپور شو.
ننگیال د (سین په منگی) کې په نامه د کره کتنو یوه مجموعه هم لری (هـ).

د میلاد شپو کې بې لاسو او پښو بچیان زیږوي ؟!
ته راته ګورې ؟
ته راته ګورې چې مې ټول کلي چاړه چاړه دي ؟
خلک په نوکو او برچو د یو بل سترګې باسي!
او د مالت نجونې
په خپلو تورو څنو کې ځوزان ټک وهي ؟
آه
آه نازولې سپوږمۍ،
آه درنا مورې!

۱۳٦۷ کال

داسحاق ننګیال د شعر درې مجموعې د (ډالۍ، سپیره ډاګونه او غوریدلی بزغلی، هغه شیبې او هغه کلونه) په نامه خپرې شوې دي.

## احمد الله تکل:

احمدالله تکل د امان الله زوی په (۱۳٤۲ ش) کې د میدان ښار د نرخ په علاقه دارۍ کې زیږیدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کابل د حیاتي او شیرشاه سوري په ښوونځیو کې، او لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون د هنرونو د پوهنځی د تیاتر په څانګه کې سرته رسولې دي. دده د شعر لومړنی مجموعه (کرونده) نومیږي(۱). ددغې مجموعې په لومړۍ پښتي باندې دغه بیت لیکل شوی دی:

(۱) د احمد تکل د شعر یوه بله مجموعه هم په ۱۳۷۷ هـ ش کال په پېښور کې چاپ شوه. ددې مجموعې نوم دی: (د ښکلا یوه شیبه) (هـ)

که کروندو کې ګنه غبرګه وله وسوځېږي
لوګر به تکنده غرمه کې چېرته د مه وکړي ؟!

## د خزان لمن

دا تاندې بورې څېړې
او دا مېزرمې څانګې
د کومې مېنې د زيارت د پاسه
د کوم شهيد آرمان د روح په نامه ،
لاس په دعا غځوي
چې د خزان سپيره لمن کې د ژيړو پاڼو
پوړنۍ وغوړاوه.

۱۳۶۷ ، ۸ ، ۲۱

## عارف خزان:

عارف خزان د کرم خان زوی په (۱۳۳۰ش) کې د هرات په ښار کې زېږيدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې په خصوصي توګه کړې دي. وروسته بيا د فراه ولايت د ابو نصر فراهي په ليسه کې شامل شو اوزده کړې يې تر يوه حده پورې وکړلې. (د سحر په غېږکې) مجموعه يې په (۱۳۶۵ش) کال کې خپره شوې ده. (۱) پردغه مجموعه باندې محمد-صديق روهي يوه سريزه ليکلې ده چې دزده کوونکو د استفادې دپاره يې يوه برخه دلته رانقلوو:

(۱) دخزان دشعر يوه بله مجموعه هم په کابل کې چاپ شوې ده، چې نوم يې: (له برهوت نه) دی. (هـ).

«خزان په رمزي ژبه د شعر پر زمینه باندې د خپل چاپیریال رنګینه منظره انځوره کړې ده. دلته د خزان په منظره کې د پسرلي د ښکلا نخښه سترګکونه وهي. د دغه خزان په سروپاڼو او طلايي جامه کې د یوه غوړېدلي ګلستان پس منظر ښکاري د شاعر خزان، د نهیلۍ او پسمیز له خزان او د کلاسیک شعر له خزان نه جلاشوی دی او د خړو او ریځوله تتمرنه یې د وړانګین ژوند ځلانده مرغلرې راتوییږي.

د شاعر په دې مجموعه کې تورو ختونه، سره وختونه، او د سبا ورځې روښانه وختونه د واقعبینۍ په روحیه کې متبلور شوي دي:

تور که مې «پرون» و، «نن» په وینو سور
خیر دې وي روښانه مستقبل لیکم

شعر یو پل دی چې پرون له سبا سره نښلوي. غولوونکی شعر د خراب پله په شان ډیر ژر سقوط کوي او د راتلونکي لاره ړندوي. دا یو تریخ واقعیت دی چې موږ د خپل تاریخ په حساسو او سرنوشت جوړوونکو شیبو کې له یوه تحمیل شوي حالت سره ډغرې وهو. زموږ د شهیدانو غونډۍ له ورایه د لاله زار په شان سرې ځېږې منعکسوي. ځینو شاعرانو په دغه «لاله زار» باندې د پسرلي ګمان کړی دی او د «غوړیدلی ګلستان» ترانې غږوي.

اما خزان په دې باره کې داسې وايي:

لکه غوټۍ په وینو سوریمه، سبا خندوم
د ګل په سرو شونډو پرته او ده موسکا خندوم

شاعر ستړو امیدونو ته منزل لیکي او د تندې په ماتولو سره د خپل سپیره تقدیر بدلول غواړي. دده په «غچ» کې یولیوني شانته آرمان نغښتی دی. شاعرماته نه قبلوي خود ذهن په اوږده کوڅه کې یې لا هم تورو ګردونو او خړې بړبوکۍ اتڼ اچولی دی او په سوو خاطراتو باندې یې د تور لوګي غمجن سیوری غوړیدلی دی. شاعر خندایا دوی خو دا د غمونو لیوني خندا ده.

دده په غمجنه خندا کې یوپټ راز هم شته خوښایي چې د «یاراني» په خاطر یې په ګوګل کې ویده کړی وي....»

چې امیدو نه لوبومه د آرمان په څیګر
وسوسې تولې سوز ومه د ایمان په څیګر

د شک بیدیاکې چې یوګل د باورنه وچیرته
نن سره ګلونه غوړوم د بیابان په څیګر

چې په پالنګ مې رقیبان د نازخوبونه کوي
خواږه خوبونه هیرومه د جانان په څیګر

چې زمانې وربانډې ایښي دي ژور زخمونه
دا خیلې اوښکې تویومه د انسان په څیګر

چې د مشرق یاد مغرب د مزدور خولې نه وزي
هماغه چغې رسومه د جهان په څیګر

زما دفن او د قلم کمال ته وګوره نن
لمبې د شعر بلومه د دیوان په څیګر

حالاتو غلي راته غوړ کې خلکو داسې وویل:
نوي ګلونه غوړومه د خزان په ځیګر

## یوه بله بیلګه:

دا خپل تندی مې ماتولو خوچاپرې نه شودم
سرمې له غرونو جنګولو خو چاپرې نه شودم
بخت مې سپیره، رنګ مې سپیره و، ما ویل رنګ به شي لږ
سپیره تقدیر مې سوزولو خو چاپرې نه شودم
درنو څپیړو د حالاتو مې ومخ شین کړی
رنګ مې د مخ هم بدلولو خو چاپرې نه شودم
لکه د ستوري په شان وځلیدم توره شپه کې
ځان مې تیاروته بلولو خو چاپرې نه شودم
په دې کوڅه کې تیریدمه، ښه په یاد دي زما
دا خپل ګریوان مې څیرولو خوچاپرې نه شودم
زه لیونی وم که داخلک لیوني وو آشنا
دومره تهوس مې بس کولو خو چاپرې نه شودم
نن چې د هریوه په خوله کې د اغزل دی، پرون
همدا غزل مې اورولو خوچاپرې نه شودم

## امین افغانپور:

امین افغانپور د غلام قادر مسکین زوی، په خټه سلیمان خیل او په (۱۳۲٦ش) کې په کابل کې زیږیدلی دی. د ۱۳۵۷ کال د جوزا په

میاشت کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د معین په توگه مقرر شو او اوس د هیواد په نشراتي څانگو کې کار کوي (۱) . دده دد استانونو درې مجموعې (موسکا ، د څپوپرو زرو باندې ، ایلبند) او یو شمیر ترجمه شوي آثار خپاره شوي دي.

زرین انځور د افغانپور د (ایلبند) په سریزه کې لیکي: «د امین افغانپور کیسې د معاصرې کیسه لیکنې ښه ، خواږه او په زړه پورې آثار دي. تاسو به د هغه په کیسو کې خلک ووینئ ، ژوند به پکې ووینئ او د ژوند روان بهیر ته او حوادثو ته به یې ځیر شئ . »

دا نځور په نظر ، د موسکا په نوم لنډه کیسه د افغانپور د استاني شهکار دی. دلته به یې د مین ربابي په نوم کیسه راواخلو.

## مین ربابي

ژوند پخپله د کیسې جوړوونکی او زیبروونکی دی. که موباورنه راځي او پوښتنه کوئ چې څنگه؟ نوراځئ ، له ما سره یو ځای د ژوند په پیاوړي لاس یوې جوړې شوې کیسې ته غوږ و نیسئ او چې کیسه مو واوریده نو بیا د هغې مسند وکړئ او و به وایاست چې رښتیا ژوند ډیرې افسانې جوړوي او د دغو خوږو افسانو سره یا زړونه خوشالیږي او خولې خوځیږي او یا ډیرې سترگې ژړیږي او د زړونو ښیښې ماتوي.

---

(۱) امین افغانپور د ۱۳۷۷ هـ ش کال د لړم د شپږمې شپه په کابل کې وفات شو او هلته خاورو ته وسپارل شو. د آرمان سپیلنی د افغانپور یو بل داستاني اثر دی: چې دا هم په کابل کې چاپ او خپور شوی دی. (تړی مساپر) دا هم یو ځانگړی د استاني اثر دی، چې ده ژباړلی او په ۱۳۷۰ هـ ش کال په کابل کې چیا ... دی، (هـ).

هوکې، دغه کیسه په ډیرو پخوا زمانو کې زموږ د هیواد په یوه لرې سیمه کې چې سمسورې کروندې یې د یوه څپانده سیند په خواکې پرتې دي، تیره شوې ده . . . ددغو کروندو او زمکو په دواړو خواوو کې دوه سترسنگرونه یعنې دوه داسې وچت غرونه ولاړ دي چې په وچتوالي کې یې یو له بل سره سیالي وه او تل به یې وریځو په سرونو باندې اټنونه کول او د برې او برم ترانې به یې ویلې. هماغسې چې توفاني او خونړي سیند دامرسته او فیض له کروند وسره کاوه چې خړوبې شي، همداشان هم دغودوه مغرورو اوله برم نه ډکو غرونو هم نه پرېښودل چې ساده بزگران په بیه لرگې اوبوټې واخلي او کله به چې د مني سړوسیلیو په خپله بې رحمه متروکه د بزگرانو مخونه شړقول نو به ددغه غرونو فیض ته اړتیا پیدا شوه. دوی به ددې وچتو غرونو سروته وختل او د ژمي لرگي اوبوټي به یې راوړل او بیا به یې په ډاډه زړه د ژمي د هول له ډکو یخنیو او باد کویو سره د لیوانو د مستی لاره څار له. دغه دره ډیره ښکلې وه، داسې ښکلې چې یوازې یې یو نازک خیاله شاعر تمثیلولی شي:
کله به چې د شینگتي آسمان زرغون رنگ دسیند پر مخ انعکاس وکړ نو به یې ښکلا له واره زیاته شوه. د کلیوالو کورونه داسې ښکاریدل له که چې په یوه شنه بخمل باندې د سرو زرو بخرکي خپاره شوي وي.
او دا به هغه وخت وچې د شنو کروندو او دغنوونو د پاڼو له منځه به د ختو کلاگانې ښکاریدلې. کلیوال تل خپل کورونه خپلو کروندوته نژدې جوړوي. ددغو کورونو په منځ کې او یا لږ څه لرې د ځینو کلاگانې به څه وچتې او برجورې هم وې.

د زیاتې توجه او پاملرنې وړ دي هغه دا چې یوه کوچنۍ کلا او یوه لوړه کلا ده چې زموږ د کیسې قهرمانان ورسره اړیکه لري او د کیسې قهرمانانو دواړو په دغسې بیلو بیلو چاپیریالونو کې ژوند کړی دی، یوه په یوه معمولی کلا کې او بل یې په وچته او برجوره کلاکې. د بزگرۍ او مالدارۍ ژوند دلته ښه ښکاریده.

د دغو کلیوالو په منځ کې یوه څېره وه چې هغه موږ ته په زړه پورې ده. د همدغه کلي په برجورې کلا کې یوه کورنۍ ژوند کوي چې هغو موږ ته زموږ د کیسې قهرمان پیدا کوي.

دا دوه کورونه یو په انځر خان پورې اړه لري چې د دغه کلي یو لوی خان بلل کیږی او تل په ښوکارونو او خیرلتونه کې نوم لري او د ټولو چارو مشر توب ور په غاړې دی. اوبل کور هم د یوه خوار بزگر دی چې زین الدین نومیږی او کلیوال او د چاپیریال خلک د بې ارزښتۍ او خوارۍ په وجه هغه زینو بولي. زینو لږ څه زمکه لري خو بیا هم ددې لپاره چې خپله گوزاره وکړي دا نځرخان کاکا بزگري کوي.

هر څه انځرخان کاکا . . . ده ته خو خدای ورکړې ده. ښایسته ډیر جایداد لري او گوزاره یې کیږي او سر بیره په دې د کلي مشر هم دی او له دې سره سره ډیر لمونځ گذاره او د چاپیریال د دود ونو منونکی او ښه سړی دی.

هوکې! زموږ کیسه له همدې ځایه او د دغو خلکو د پیژند گلوۍ سره شروع کیږي.

د مني په يوه ساړه ماښام کې د زينو کره په ډيره غمجنه او سړه فضاکې يو تعامل تر سره کيږي او خداى زينو ته يو ښکلى زوى ورکوي. خو هيڅوک نشته چې د پيدا ينښت د ښادۍ لپاره يې ډزې وکړي او يا په اتڼ کې ورته واوړي. يوازې د خپلې ميرمنې ډيره کراره او له درد او خوږ ډکه خبره اوري چې ورته وايي:

– زوى دى!

هوکې! په دې توګه ووچې د زينوپه ژوند کې د اډيره لويه پيښه وشوه. خو سره له دې هم زمانې هومره زياته پاملرنه ورته ونه کړه، لکه هماغسې چې په زيږيدنې کې يې چا اتڼ ورته ونه کړ نو همدا شان څوک پوه نشول چې ژوند به له هغه سره څه وکړي او د زينو د کوچنى (بادام ګل) د سرنوشت مخه به کوم لورته ور واړوي. په دې توګه هغه شپږ کلنۍ ته ورسيده. بادام ګل لا د شپږ و کلونو وچې د زمانې ناخوالو په څپيړو وواهه او د خپل ژوند له ډيرې خواشينې کوونکې پيښې يعنې د پلار له مرګ سره مخامخ شو او څه موده لا تيره شوې نه وه چې موريې هم خداى پامانې ورسره وکړه. دوى دواړه يعنې د بادام ګل پلار او مور مړه شول. او دى يې د زمانې د پيښو خونړې توفان ته يوازې او يو وزرى پريښود. د زمانې زورورو منګولو هغه ونيو او هره خوايې چې لاس او پښې اچولې د خلاصون لاره ورته نه وه.

کوم وخت چې د زينو د ميرمنې بختورې د ښخولو مراسم پاى ته ورسيدل نو د کلي يوه سپين ږيري بزګر نارې کړې:

کلیوالو، دا بختوره تورې خو مو خاوروته وسپارله خو د زوی سره به یې څه چل کیږي؟

لومړی خو تولو بزګرانو سترګې او سرونه کښته واچول او له هیڅانه غږ او غوږ نه خوت. خو همدا چې انځرخان کاکا په تسبو باندې وظیفه پای ته ورسوله نو یې خپل بوډا مزدور پیرک ته ورغږ کړ او په هغه باندې یې سپارښتنه وکړه چې:

پیرکه، هلک کورته بوزه او په بې بې باندې دې وسپاره!

په جومات کې یو شور بګت جوړ شو یوه ویل: خدای دې خیرورکړي. بل ویل: کوردې ودان! او دریم وویل: ته په رښتیا سره هم زموږ سر پوښ یې! موږ ته دې خجالت راکړ . . .

ګونګوسې پورته شول. له هرې خوا په انځر ګل کاکا باندې د دعا ګانو او ستاینو باران جوړ شو.

او په دې ترتیب بادام ګل خپل دویم کورته ولاړ. دلته باید ووایو چې انځر ګل کاکا یوه د دوو کلو لور هم درلوده چې په ډیر ناز او نعمت کې لوییدله، هم په مور او هم په پلار باندې زښته زیاته ګرانه وه. کوم وخت چې خان خپل کورته ولاړ میرمنې یې ورته وویل چې: سړیه، عجب کار دې وکړ. د زینو زوی که هیڅ کار هم ونه کړي دومره خو به یې له لاسه وشي چې شیرینو مشغوله کړي. د انځر ګل کاکا د میرمنې له خبرې څخه زیات وخت تیر شو. زمانې پوره دولس ځرخه ووهل او د کلونو په نامه سره یې خپل دغه ځرخونه وکړل. ډیر ژمي را غلل او ډیر پسرلي تیر شول

او دغو څر خونو سره بادام گل پوره اتلس کلنی ته پښه کېښوده. یو وخت به شیرینو نیا یې څوروله او ورته ویل به یې چې که خدای کول نو څو کاله وروسته به قیامت شي. نو شیرینو به په دې خبرې ډېر وژړل او خپلې مورته به یې سر ټکونه کوله چې ماما وایي قیامت دی.

خو دادی اوس په رښتیا سره قیامت و. د دې تورې او خمارې سترگې، د دې متناسب اندام . . . سپین مخ، تورې او اوږدې څنې، د دې جگه ونه او سرې شونډې دا ټول د هغه قیامت نخښې وې چې ماما ورته د هغه در ارسیدلو پیشبیني کوله. د ټول کلي او له کلي نه بهر د نورو کلو ځوانانو تل د شیرینو د مینې او وصال آرمان په زړه کې روزه. خو دا دومره بې خیاله او مغروره وه چې د محیط او چاپیریال په گونگوسیې څه پروانه کوله. وروسته تر درې کلو بادام هم پوخ زلمی شوی و، تورو څنو یې نظرونه را ښکل، جگې ونې او غنم وزمې څیرې یې د کلي د پیغلو په زړونو کې یوه گونگه او خامه تمه پیدا کوله او هر چېرې به چې پېغلو لیده نو زړونه به یې دده په مینې څیرې باندې درزیدل. خو دی خوار . . . دی کرۍ ورځ په کرونده کې لگیاو، شپه ورځ به یې آرام نه کاوه. په ژوند کې یې یوه کرنلاره درلوده او هغه کار کاوه او بس.

او له همدې کبله هم وچې په خان باندې زښت زیات گران و او تقریباً یو ډول پلارنۍ مینه یې ورسره پیدا کړې وه. او دا د دې لپاره چې بادام ـ گل بر سېره په زیات کار، په مېړانه او زړه ورتوب کې هم له چانه کم نه و.

کوم وخت به چې ماښام ستړی او ستومانه له کروندې څخه راغی او

غوايي به يې غوجل ته كړل او واښه به يې وروا چول نو به پټ كوټې ته ننووت او د خان رباب به يې واخيسته او په زنګانه به يې كېښود . تر ډېره وخته به يې د رباب په تارونو كې خپل اوږده او نا پايه غمونه هيرول. همدا چې له رباب به يې ترنګ ترونګ پورته شو نو بيا به يې په يوه شيبه كې خپل ټول غمونه د هيرې لاس ته سپارلي وو. ده به د رباب په تارونو سره د غم سازونه سورول. ده به تارونه داسې په سوز او درد راوستل چې هغوی به دده ټول غم احساس كړ؛ دبې كسۍ غم، د غريبۍ او بيوزلۍ غم او تر ټولو پورته د لوازيتوب غم او ديوې ګونګې او خامې مينې غم.

هوكې، دی په را وروسته وختو كې يوه شوی وچې په زړه كې يې د مينې يوه ځريكه پيدا شوې ده. له چاسره ؟

همدا چې احساس به يې دغه پوښتنه ترې وكړه نو په انګوكې به يې دډېرم وينه وچليده او ورو به يې له ځان سره وويل: اوف شرينو . . . آيا زما او ستا ژوند به امكان ولري ؟ ! او ددې احساس سره به يې ګوتو قوت وموند او په تارونو به يې محشر ګډ كړ. درباب نه به چيغې او فرياد ونه پورته شول او هغه وخت به دی پوه شو چې مينه يعنې څه ؟

شرينو هم تر دې كمه نه ځوريدله. د هغې غوږونه به هم دې ته منتظر وو چې د رباب چيغې او نارې وچتې شي، نو بيا به يې په زړه كې ويل چې: خدايه موږ يو تر بله ورسوې! او له دې خبرې سره به يې د حسن او ښكلا په ګلانو باندې د حيا شبنم وڅڅيده. د بادام ګل په رباب كې يو اعجاز و. . . شورو، او زوږو. هيڅوك نه وچې دده رباب واوري او بيا

خپل ذهن ته تمرکز ورکړی شي. همدا چې د تارونو به شور جگ شونو کار به یې پرېښود او غوږونه به یې دغو فریاد ونو ورډ ک کړل. په دې فریادونو له شور او زوږونه ډکو ترانوکې د هغه بې پلاره موره کمکی د زړه حال وچې سر نوشت د خلکو مزدور کړی و او تردې پورته یې ددغو خلکو د ښکلې لو رمینه هم په زړه کې ورځای کړې وه .

موږ مخکې هم وویل چې بادام گل نه یوازې یو زیارا یستونکی او وفادار مزدورو ، بلکې له دې سره سره خدای ښه خوی ، ښه مېړانه او لکه د زمري په شان زړه هم وربخښلی و. یوه ورځ دی د کلی په منځ کې را روان و ، سپاره یې په اوږه باندې وه او غویان یې مخکې. په دې وخت کې د بر کلي یو سپک زلمی په لاره باندې و دراوه او ورته یې وویل:

او هو ، بادام گله یوه خبره مې در ته کوله.

بادام گل چې دغه زلمی ښه پیژانده په تر یوتندي اوقار سره یې ورته وویل چې: هلکه څه وایې ؟

خبره کوه چې زه وزگار نه یم.

هغه زلمي ورته وویل: دا زما پیغام شیرینو ته . .

اولا بادام گل دا خبره سمه نه وه اوریدلې چې سپاره یې له اوږې کښته کړه او بیا یې وخته سپک زلمی ته سو ک په خوله کې ورکړی و . ددوی جگړه ډېره اوږده شوه. بادام گل پرې زړه ښه سوړ کړی وچې زلمي چا کوپسې راوایست او دی یې په ورانه کې په چاکو وواهه نورو بزگرانو دوی سره بیل کړل او بادام گل کورته راغی.

ده هیچاته غږونه کړ. خو بیا دوختـه دا پیغام او احوال خان او د هغه کهول تـه رسیدلی و او سم په همدې شپه وه چې ده او شیرینو یو بل سره د زړه خواله وکړه او یو د بل په مینه سره خبر شول. کیسه داسې وه چې همدا بادام گل د برکلي له زلمي سره شخړه وکړه نو بیا وروسته کور تـه راغی. نو دده ډوډۍ یې ورتـه رالیږلې وه خو ده ځواب ورکړی وچې ډوډۍ نه خورم. همدا چې دا احوال کورته رسیدلی ونو خان یې پوښتنې ته راغی او ویې ویل چې هلکه څه چل دی؟ بادام گل ورتـه کیسه وکړه او د خپلې وفادارۍ ثبوت یې ورته وکړ. خان ورته څه ونه ویل او بیرتـه خپلې کوټې تـه ستون شو. . . ده هم، سره له دې چې ډیر په عذاب و، خپل رباب یې سور کړ. شیبه پس، د کوټې ور وروشانـته بیرتـه او بادام گل یې د اوږده چرت نه را په خود کړ. خدایه څه وینم؟ آیا دا خوب دی که حقیقت، په وره کې شیرینو لـه خپل ټول ښایست سره ولاړه وه. ده رباب یوې خواتـه کیښود او له ځایه راولاړ شو. شیرینو په خواږه آواز سره ورتـه وویل چې: بادام لالا، دا پټۍ مې ادې جوړه کړه. ما ویل ستا پر هار به درد کوي او ددې خبرې سره یې بیاد ټیکري پیڅکه په غاښ کړه. بادام گل یې ستر گو تـه وکتل اولږ څه موسکی شوورتـه یې په ډیره پسته لهجه وویل چې دا پټۍ څه گټه نه لري.

شیرینو په اریانۍ سره ورتـه وکتـل او ویل چې: ولې ستا پښه خوږنه ده څه؟

او بادام گل ځواب ورکړ چې: نه، زما مقصد د پښې له پرهار څخه نه

و، بلکې زما زړه داسې لګيدلی دی چې ښايی جوړ نشي او ددې خبرې سره کټ کټ په خندا شو. شيرينو د بادام ګل له خندا سره دا جرأت پېدا کړ او ورته يې وويل: هغه څوک چې دې د ښنې پر هارته پټې راوړي خامخا به دې د زړه د پرها رغم هم ورسره وي. او بيا يې د ټيکري پيڅکه وچيچله بادام ګل ورته و خندل او په ډيره مينه يې ورته وکتل او ورويې وويل: خير، زه د دغې ښکلي طبيبې له وجود څخه خبرنه وم.

شيرينو چې دا خبره واوريدله نو شاوخوا ته يې و کتل اووې ويل چې: بادام ګله، چيرې دی رباب دې؟ ړومبی خودې تارونه داسې غبرول چې ما ويل زما د زړه مزي سوروي خو اوس . . . .

بادام ګل ورته د ځواب په ځای رباب را واخيست او يوه په زړه پورې نغمه يې سور کړه او شيرينو همداسې ورته ناسته وه غبر او غوږ يې نه خوت، تابه ويل چې دده د رباب په مزيو کې محوه شوې ده. ډير مهال تيرشو ايله چې د بلې کوټې نه د شيرينو د مور غبر شو او همداسې يې شرينو وغوښتله. نو شيرينو په ډير تلوار سره پټې بادام ګل ته ورکړه او ترينه راووتله. او په دې ترتيب و چې ددوی مينه يو بل ته سره ښکاره شوله اوسم له همدې شيبې نه وچې د شيرينو مورپه دې باندې بد ګمانه شوه او تل به يې ځار ورپسې کاوه. د کور مزدوره حليمو يې ورپسې کړه چې تل د شيرينو احوال ورکړي. بادام ګل هم له دغې ځارنې بې نصيب نه و، تل به حليمې رښتيا او دروغ احوالونه وروړل.

زمانه په تيريدو وه او هروا ربه يې ددوی مينه هم پخوله او ددوی د

ژوند په پانهو باندې به يې نوي رنګونه شيندل. دوی نور د يرځان ساته.
دوی نور هغه پخوانی بادام او شيرينو نه ووچې بې خياله به يې د خان له
مخې توکې سره کولې او خندل به يې. کوم وخت به چې بادام ګل کورته او به
راوړې نو همدا چې بانګي به يې له اوږو کښته کړه د سترګو له څنګو به
يې شيرينو ته کتل او په دې ترتيب به يې سلام ورکاوه او شيرينو به هم په
شونډو باندې، ورته د موسکا يوه نرۍ څپه تيره کړه او دده د سلام ځواب
به يې ور اړاوه. ددوی تر منځه هر ورځ همدا ليدنه وه او چې ماښام به شو
وروسته تر ډوډۍ او لمانځه به بياد بادام ګل رباب سور شو. څو واره د
خان ښځې ورته ويلي ووچې بادام ګل له رباب وهلونه واړوي خو خان په
سړه سينه ځواب ورکړی وچې:
- ستا يې څه؟ پريږده زلمی دی او ساعت تير وي.
نو کله به چې رباب سور شود شيرينو په زړه کې به د مينې تا وبيا
زيات شو او يوه تو ته احساسات به ترينه جوړ شول. ددې د زړه سيند به په
غور ځنګو راغی او ډيره به بې تا به شوه . . . او په همدې بې تابۍ کې به
ورو ورو خوب پې زوره ورشو او د خوب په زړه پورې او آرام اقليم ته به
يې کډه وکړه . . . اوس نورد هغې عادت ګرځيدلی وچې د بادام ګل
درباب په زونګوسره خوب ورشي او څملي . . . هره شپه همدا زونګې
وې، چيغې وې او فرياد ونه وو او هره شپه هم شيرينو وه او همدا وضعه .
ددې پيښو سره سره د خان په کورکې ځينی نور حوادث د زيږيد و په
درشل کې وو او دا پخپله د بادام ګل او شيرينو په ژوند کې نوی فصل و.

کیسه داسې وه چې هماغه زلمی چې د بادام گل له لاسه وهل خوړلی وو او د بادام گل له خوا ښه سپک شوی و ؟ دخان کره د شیرینو په باب مرکه راالېږلې وه. او لکه چې ښکاره وه، د شیرینو مور هم دغې مرکې ته هوکې ویلې وه. خو کله چې انځر خان کاکا ته د دې خبرې حال څرگند شوی و، نو یې ښځې ته ویلي وو چې زه له داسې خلکو سره چې زما د ناموس سپکاوی یې کړی وي، خیښی نه کوم آیا له هغه وخته ډېره موده تېره شوې چې د دغه سپکاوي په وجه بادام گل چاکو خوړلی و ؟ او په دې ترتیب و چې خان د دغې جرگې او د شیرینو د مور بند وبست شنډ کړی و. ورځې شپې تېرېدې او د دغو شپو ورځو په اوږد وکې هم د شیرینو او بادام گل د مینې د مانۍ د نړولو لپاره نقشې ایستل کیدې. څه موده وروسته د یوه بل کلي نه شیرینو ته جرگه راغله او دا ځل جرگه بریالۍ شوه!

او دا واره شیرینو مور داسې کوږ گري کړې وه چې خان کاکا هم د جرگې مننه کړې وه.

که څه هم چې انځرگل خان کاکا ویلي وو چې زه مې خپله لور نه پردۍ کوم او که چیرې خپله لور واده هم کړم نو له بادام گل نه پرته یې هیچا ته نه ورکوم. خو له دې خبرې سره سره یې میرمنه د تور مار په شان تاورا تاوشوې وه او په پیغور سره یې ورته ویلي وو چې:

ته غواړې دوست او دښمن په مونږ پورې وخندوي. آخر دې نازولې او منلې لور شل کلن مزدور ته ورکوې! او خان کاکا په دې خبرې غلی

شوی و او کله چې د شیرینو مور د غه چوپتیا لیدلې وه نو فکرېې کړی وچې ګنې رضا شوی دی او سبا یې بیاد وخته د جرګې خولې ورخوږې کړې وې.

هره خوا خوښي ده. لوی اورونه بل شوي وو او دیګي یې وربانديې اېښي وو او د ښځو ایښودلو ځای نه و، مست ساز روان و. کوچنیان همداسې تر ښځو او لاسو لاندې کولیدل.

خان کاکا هم په ظاهره کې خوشاله ښکاریده او له سره تول خوشاله وو، نو یوه بزګر بل ته وویل:

- هی... هی... نن شپه د چرچو شپه ده ... همدا ناوې او همدا موږ زوم سره جوړېږي... ته به وایې چې یو بل ته سره جوړ شوي دي..

خو په دغه لوی کورکې څلور سترګې وې چې او ښکې یې تویولې او دوه ځوان او هیله من زړونه وو چې غم او خواشینی پکې څپې وهلې، دوینو غورځنګونه یې په پلوکې وو اوله کرکې او نفرت نه ډک آهونه وو چې د دواړو تر مریو راختل... شیرینو او یادام ګل!!

د شپې کاروان ورو ورو د سهار منزل ته په رسیدو وچې هلکانو غږ کړ:

خان کاکا، وراتیاره ده.

او له دې خبرتیا سره د سازیانو ساز لاهم مست شو. زوم په یوه سره او مست آس باندې سپور او داسې خوشاله تر نظر راته چې هیڅ یې ګمان

نه کاوه چې په نړۍ کې به غم او خواشیني موجود وي او همدا چې وراغوښتل حرکت وکړي نو بادام ګل د خان کاکا په غوږ کې څه وویل او ددې سره خان کاکا کټ کټ وخندل او ورته یې وویل چې ولې نه، هلکو یوه شیبه اوسئ چې بادام ګل په رباب کې د یوې نغمې اورول غواړي . . . او دا نغمه . . .

لا خان کاکا دا خبره نه وه بشپړه کړې چې ترنګ شو. او د بادام ګل ماهرې ګوتې د رباب په تارونو باندې تیرې شوې. د رباب نه بیا چیغې پورته شوې او په زونګو او زګیرویو یې د کلي د نیمې شپې فضا په سر واخیستله . . . داسې چیغې او فریادونه چې د یوه یتیم د زړه حال یې وایه، د هغه یتیم د زړه حال چې شل کاله یې د خان په دروازه کې مزدوري کوله او د هغه چوپړ ورته کتل او ژړا یې په مرۍ کې غوټه شوه . . . دورا آس روان شو، او د بل کلي لاره یې په مخکې ونیوه. د بادام ګل د نغمې پای هم په حقیقت کې د هغه د درد وونکی ژوند پای و.

سبا سهار همدا چې ټول له خوبه پاڅیدل، خان کاکا د بادام ګل د خونې ور ورو ټکاوه او غږ یې وکړ چې: هلکه، لمونځ به دې قضا شي. . خو همدا چې څواب یې وانه وریده نو وریې خلاص کړ او همدا چې وې کتل نو د کوټې د یو الونو یوه غمجنه خندا پسې وکړه او لکه چې هغه مسخره کوي (خندایی) په غوږونو کې تاو راتاو شوه هغه اریان پاتې شو چې څه وکړي. او دا یې په زړه کې تیر شول چې بادام ګل به اوس اوس چیرې تللی وي او لا یې دا اندیښنه په ما غزو کې سمه نه وه پخه شوې چې ورو

تکیده او د زوم له کلي نه احوال راغی چې خان کاکا دې راشي او د بادام گل جنازه دې یوسي هغه جنازه چې او بوراوړې ده او د کلي بزگرانو له اوبونه را ایستلې ده . . .

دانځر گل په زړه باندې د غم او خواشینی لړۍ تاور اتا و شوې او ولاړ چې جنازه راوړي . . . همدا چې شیرینو د ناویتوب تر پالنگه ورسیده نو بیا وخته د بادام گل جنازه هم کوز کلي، د شیرینو کلي ته د مبارکۍ لپاره وررسیدلې وه او د دې خونړي او څپانده سیند لپاره داد کلیوالو نوي سوغات و.

## بریالی باجوړی:

په (۱۳۳۲هـ . ش) کال د باجوړ په جندول کې زیږیدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې تر یوولسم ټولگي پورې د خوشحال خان په لیسه کې وکړلې او په (۱۳۵۲ هـ .ش) کې د ننگرهار د لیسې نه فارغ شو. په (۱۳۵۵ ش) کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی کې شامل او د ماسټرۍ تر درجې پورې تحصیلات یې تر سره کړل.

باجوړی اوس د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو استاد دی (په ۱۳۷۰ هـ ش کال) د (تښتیدلي خوب) او (گیلې) په نامه د داستانونو دوې مجموعې یې چاپ شوې دي. ده د کیسه لیکنې لومړۍ درجه جایزه هم گټلې ده. باجوړی آزاد خیاله لیکوال دی. د ده دلیکنې سبک ساده او نیغ په نیغه مطلب بیانوي خو کله چې کیسه د بحران پړاو ته رسیږي باجوړی له هنري نثر څخه استفاده کوي او عواطف راخوځوي.

د (گيلې) په سريزه کې امين افغانپور ليکي: «زما خيال دی، تردې به يو ليکوال بختور نه وي چې قلم يې د زيارايستونکي انسان د ژوندانه انځور کاږي، دهغه د کار او زيار، مينې او هيلې او بالاخره د ژوندي پاته کيدو په خاطر د ستونزمنې او له کړاوه ډکې مبارزې تصوير. او ما بريالی باجوړی د يوه دغسې ليکوال په توګه پيژندلی دی او آثار يې هم د همدغې پيژندنې رښتينې هنداره جوړوي. د باجوړي داستان د حورو او غلمانو، دښاپيريو او افسانوي قصرونو او ماڼيو په منځ کې د (ځانګړو او فوق العاده) موجود اتو د ژوند داستان نه، بلکې د خورو ورو خلکو، د ساده خلکو، او زيارايستونکو پرګنو د ژوند داستان دی.

بريالی باجوړی دغه داستان لکه څنګه چې دی ليکي، څنګه چې جاري دی ليکي، لکه څنګه چې پيښيږی ليکي. په خوږه او ساده ژبه يې ليکي او داسې يې ليکي چې هر يو اتل يې خپل تصوير پکې له ورايه ويني او خپل ځان ته ورته موجود اتوسره مينه او خواخوږي پيدا کوي.

که په مترقي ايډيالوژي کې طبقات او طبقاتي مبارزه اصلي جوهر او د ژوندانه د پيژندلو اساسي محک وي، نو بريالی باجوړی دغه هنر ښه پيژندلی او د خپل داستان سرې په همدغه محک باندې ازمويي او تله ترازو کوي يې.»

په دې کې شک نشته چې ټول افغاني ليکوال د بېوزلو او ستم ځپلو خلکو سره خواخوږي لري خو د غه خواخوږي او همدردي ددې معنی نه لري چې هغوی د «مترقی ايډيالوژي» پلويان دي او ځانونه يې طبقاتي

مبارزي ته وقف کړي دي. د باجوړي زياتره کيسې دميني او له ناوړه دود- ونوسره د مبارزې په باره کې دي او د مظلومانو حالت يې هم تصوير کړی دی.

## د سکروکان

د زليخا ترور په سترګه وارنه و. له سهاره راهيسې يې سترګه شيبه په شيبه رپيدله او له هرړپ سره به يې چې په سترګه لاس راښکه نو له ځان سره به يې ورو شان وويل:

په ښومې نيولې، بهرام زوی به مې راځي.

زليخا ترور د خدای په دې لويه او ارته دنيا کې د خپلو لمسيانو سره د همدغه يوزوی تر سيوری لاندې ژوند کاوه او بله څه اسره يې نه وه. همدغه يو زوی ته يې کونتون کړی و او د هغه په لويېدو کې يې خپله ځواني خاورې کړې وه. د سر په ويښتانو کې يې تورتار نه وپاتې او دسترګو نظر خويې سم نه لګيده.

خو اوس د هغې د سختۍ شپې وتلې وې. زوی يې زلمی او په متو قوي او د ښځې خاوند او دوه بچو پلارو. هغه اوس د سکرو په کان کې کار کاوه او کله ناکله به د خپلو بچو او مورليدو ته راته.

هسې خود زليخا ترور زياته هيله وه چې په زوی باندې نور تعليم هم وکړي او له هغه نه غټ سړی جوړ شي خو د قسمت کارونه ووچې پلار يې مړ شو نو تعليم ترې نيمګړی پاتې شو او په روزي ګټلو پسې يې بډې

راووهلې. زليخا ترور خوځيرو دروازې ووهلې، ډير کوښښ ئې وکړ چې د زوی لپاره يې کوم مناسب کار پيدا شي. په همدې هيله يې د ډيرو ته سوال او زارې وکړې خو څه ترې جوړ نه شول او آخر دا چې سريې د سکرو کان ته ووت.

دايې دويم کال وچې کورته نه و راغلی او زليخا ترور خوڅکه وارخطاوه چې ګوندې بيا د تيرکال تو که ونه شي او زوی ته يې څوک رخصتي ورنه کاندي. د زوی دوه کلونو جدايي بيخي ليونۍ کړې وه او تل به لاس تر زنې په چرتونو کې ناسته وه.

نن هم چې يې د ماسپښين د لمانځه سلام وګرځاوه نو لاسونه يې پورته کړل او د خپل زوی د روغتيا او سلامتيا د غوښتلو لپاره په زارۍ سر شوه هغې لا دعا نه وه خلاصه کړې چې دروازه وټکيده . د دروازې له آواز سره سمه له جای نماز نه سپکه را پاڅيده . په ډيرې تونډۍ د دروازې نه ووته. خو لمسۍ يې له دې نه مخکې شوې وه او چې دروازه يې خلاصوله نو غږ شو:

د بهرام خط راغلی!

د زليخا ترور زړه له خوښۍ نه ودرزيده، د روازه يې زر خلاصه کړه. دليک راوړونکی يې په تندي ښکل کړ او وې ويل:

په عمر دې برکت شه. خدای دې در سره ښه وکړي زويه!

هغې په يوه سا د اوويل. بيايې حبيب ته لاس کړ څه ماتې پيسې چې پکې وې هغه يې ورکړې، ليک يې واخيست او په ډيره تا دې راننوته.

نږو راولمسیان یې ترینه را تاو شول.

هغوی ټول یود بل نه زیات د لیک اوریدلو ته په تلوسه کې وو.

زلیخا ترور د کوټې له تاخ نه خپلې درجه دارې عینکې را واخیستې، عینکې یې په سترګو کیښودې، په بیړه یې لیک پرانیست او په ړومبۍ کرښه یې چې سترګې ولګیدې نو لیکل شوي وو.

مورې!

زما ددې تور بخن خط په لوستلو سره به دې پریشانۍ کمې شي. زه ښه یم او دا خط د کار په وخت کې تا ته لیکم.

مورې! تا په ړومبي خط کې زما په حال ډیر افسوس کړی و. خوزه تا ته لیکم چې دا حال یوازې ستا د زوی نه دی. دلته د ډیرو میندو زامن د ډیرې مودې راهیسې په کار بوخت دي او ډیر پکې دلته مړه شوي دي.

دا اوس زمونږ په کان کې د لسوټنو سرې د سکرو دوړو داسې نیولي چې ډیر په مشکل سا وباسي. زه خوهسې لږ شانته ټوخې او تبه کوم نور خو بیخي تکړه یم.

تیره شپه د کان یوه څنډه راولویده شپږ تنه یې لاندې کړل او چې کله مور او ایستل نو په یوه کې هم سا نه وه. خیر په هر حال . . .

تالیکلي ووچې د ځونډې د پښو څه نښته او د ځانګې د مکتب کالي نو ځکه خو مکتب ته نه ځي. مورې، خیر دی مکتب ته یې لیږه. زه به ډیر زرد وی ته کالي او پیزار درولیږم او یا به یې له ځان سره دروړم خو چې سبق یې قضا نه شي. د ځونډې مور ته مې هم سلام وایه. نور مو په

خدای سپارم.

ستا زوی بهرام.

زلیخا ترور چې لیک ولوست نوعینکې یې له سترګو لرې کړې په دووګوتو یې د سترګو او ښکې پاکې کړې خوږه یې زړیې سترګې بیاله اوښکو ډکې شوې او چې د اوښکو کتارونه یې پرمخ جوړ شول نو څانګې بې اختیاره وویل:

.ولې ژاړې په دا داخو به مې څه چل نه وي شوی ؟

زلیخا ترور د زړه کې په پلواوښکې پاکې کړې او وې ویل: هیڅ چل پې نه دی شوی شکر روغ رمټ دی. د ځوندې چې هم لږ اطمینان حاصل شو نووې ویل:

ماله به کله بوټان راوړي. زه خو ګرځیدی نه شم. پښې مې سوزي.

ځوندې چې دا وویل نو دنیا څنګ ته نږدې شو. هغې په خپل څنګ پورې نورهم جوخت کړ اووې ویل: تا سو دواړو ته له خیره کالي او بوټان رالیږي اویا به یې له ځان سره راوړي.

زلیخا ترورچې خبره خلاصه کړه نو بیا یې نږ ورغلی شان وویل: کله به راشي ؟

څه موده وروسته بیا بهرام د چا په لاس یو لیک او څه پیسې کورته رالیږلې او دایې هم لیکلی ووچې اختر ته به درشم.

زلیخاترور د خپلې نږور او لمسیانو سره د روژې ورځې یو په بل پسې شمارلې او چې څومره به یې د زوی دراتګ نیته را نږدې کیده نو

هغو سره به يې تلوسه يو په سله زياتيدله.

ماشوم زوی خو به يې د رسته ورځ د سرک په غاړه د پلار راتلو ته تيرولـه او لور خو به يې چې څوک ليدل نو همدا به يې ورتـه وويل چې اختر له مې دا دا راځي.

د روژې وروستی شپې ورځې راغلې خو بهرام را معلوم نه شو. د زليخا ترور خوښي په شک او ويره بدله شوه او د بهرام په نه راتگ يې په زړه کې ډير څه راتلل. د اختر ورځ هم راغله خو بهرام رانغی، په لومړۍ ورځ خويې ماشومان د اختر په خوشالۍ شول خو په دويمه ورځ له مور او نيانه راتـا و شول او د پلار په نه راتگ خپه او غلي کښيناستل. هغه ورځ هم تيره شوه او چې مابښام پخيده نو په کوڅه کې څه شو راوزوړ پورتـه شو. څوک په منډه راننووت او وې ويل:

ادې، بهرام يې راوړ!

د دې خبرې سره د زليخا ترور زړه بې اختيـاره ولويد. پلې يې وتښتيدې. نړورې سر تور سر رامنډه کړه. د ځونډې او ځانگې چيغې پورتـه شوې او زليخا ترور چې په ډير زحمت غولي ته راووتـه نو د بهرام تابوت په دروازه راننووت. د تابوت سره پـه راغلو کسانو کې يو تن وويل:

د کان دلويدو په وجه پنځه ويشت تنه مړه شول. بهرام هم لاندې شوی و. تر ډير وخته ژوندی و، خو . . .

هغه خپله خبره پوره نه کړه او چيغې سورې جوړې شوې. ټول گاونډ-

یان په یود رنګ رانښوتل، ښځو او نرو ژړل. ماشومانو یې د تابوت سر او پښو ته ځانونه له ډاګې ډاګې وهل. ښځې یې د سر ویښتان شکول او موریې په تابوت را پریو تلې وه او په چیغو سورو کې یې ویل:

زما ځوانیمرګه زویه . . . آخر د کان تورو تیارو وخوړلې. زه پوهیدم چې د سکرو د کان نه ژوندي نه راوزې!

د زلیخا ترور دا چیغه زیاتیدله او دومره زیاته شوه چې د تابوت سره په راغلو کسانو کې چې کوم یو د پوخ عمر خاوند و په غوږونو یې کلک لاسونه کیښودل، په سترګو یې تیاره راغله شاو خوایې وکتل هر څه تیاره وو: د یوالونه، انسانان، زمکه او آسمان هرڅه، لکه د تورو سکرو په شان وو او هغه ته ټوله دنیا د سکرو د کان نه هم توره تیاره ښکاره شوه.

## زرین انځور:

محمد زرین انځور په (۱۳۳۵ هـ. ش) کال کې د ننګرهار ولایت د مومند درې ولسوالې د (ګردي غوث) په کلي کې دنیا ته راغلی دی. تر بکلوریا پورې زده کړه یې د مومند درې دایمل خان په لیسه کې سرته ورسوله او په (۱۳۵٦ ش) کې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي څخه د ژورنالیزم په څانګه کې لیسانس واخیست. (۱)

انځور شاعر دی، کیسه لیکونکی دی او کره کتونکی دی او په دغو

---

(۱) ښاغلی انځور په ۱۹۹۲م کال له پیښور پوهنتون نه په پښتو ادبیاتو کې ماستري اخیستې ده (هـ).

ټولو برخو کې يې ابتکاري آثار ايجاد کړي دي. (دا سرونه دار سمونه) د انځور د داستانونو مجموعه ده (۲). د کره کتنې په باره کې يې د (شعرونه او نقدونه) په نامه يو کتاب ليکلی دی (۳). محمد صديق روهي د (شعرونه او نقدونه) په سريزه کې ليکلي: «کله چې د پښتو ژبې د ادبي کره کتنې په باره کې خبرې کوونو تر هر چا د مخه د زرين ـ انځور څېره را تداعي کيږي. د دغه کره کتونکي کار د کميت او کيفيت په لحاظ په خپله ساحه کې د پښتو له نور و ادبي څېړونکو څخه زيات دی. د ده د کار ستر اهيمت دا دی چې هغه په عمومي توګه د پښتو ادب په بڼ کې مړاوي بوټي او هرزه وابنه نه پرېږدي. د باغ د سمسورتيا او تازه ـ ګۍ د پاره د يوه خوار يکښ ماليار دنده او مسئوليت پر غاړه اخلي. انځور له ابتذال سره مبارزه کوي، د يکنواخته، کليشه يي او تکراري خبرو پر ضد مبارزه کوي، د شعرا و داستان له پر ستيژ څخه دفاع کوي؛ ادبي نوښتګر ته بلنه ورکوي چې دا بتکار مشال په لاس کې واخلي، نوې لارې، نوې ښکلاوې، نوي انځورونه، نوي خيالونه، نوي فورمونه او په مجموع کې نوی مترقی ادب خپلې ټولنې ته وړاندې کړي.»

دلته به د زرين انځور يوه ټوټه شعر راواخلو. له ښوونکي څخه هيله کيږي چې د (دا سرونه، دارسمونه) تر سر ليک لاندې لنډه کيسه په ټولګي کې ولولي او له زده کوونکو څخه وغواړي چې تفسير يې وليکي

(۱) د ښاغلی انځور د کيسو درې نورې مجموعې هم چاپ دي، لکه: شاړې کوڅې (د کابل چاپ) تروږمې (د پېښور چاپ) زموږ د کلي پانې (د لاهور چاپ) (هـ).

(۲) د ښاغلی انځور ځينې نور څېړنيز کارونه دا دي: د غزل ۹ اننګوکې، د زنځيرونو شاعر؛ صدر خوشحال او نورې ديرې ټولونې او څېړنې... (هـ).

او یا په ټولګي کې بحث وربانديې وکړي.

## ټولوته په مینه

**مخه‌ښه**

یوه شیبه ده؛

عجیبه نه ده، یو غزل د جدایی دی

یو غمګین شانته پرتم دی

عجیبه ده،

را اوریږي دوصال له شنه آسمانه تندرونه

او لګیږي،

پرې لګیږي د مینو ټول نا خواله امیدونه

خدایه خیر کړې، خدایه خیر کړې

یوه شیبه ده،

شیبه نه ده، د یو عمر پیلا مه ده

یو عجب تکی د کرښې

وریسې بله لیکلې

خو لوستل د دغې کرښې

لا یې بله تماشه ده

هلته پته

د سر سام زمان د پاڼو هد یره ده

بې لوستلو د یرې پاتې

دده په داستانونوکې د سايکلوجۍ او هنري تصوير خواته زيات تمايل ليدل کيږي. د کرګر د داستانونو دوې مجموعې د (شيبې) او (سينده څه سينده بهيږه) په نامه چاپ شوې دي. (۱)

## افضل ټکور:

د (ښکالو د پسرلو) او (پرهرونه) په نامه يې د شعرونو دوې مجموعې خپرې شوې دي. اسحاق ننګيال د (پرهرونه) په سريزه کې ليکي: «هر څومره که د ټکور شعرونه ولولو او ويې پلټو، وينو چې هغه په خپلو هڅوکې د خپل خيال او د خپل احساس نيلی په مستقله لاره، له کندو او کپرو پرته، له بې لاريو او کږ ليچونو پرته ځغلوي. که وغواړو چې په دې شعري جونګ کې د ټکور د شعرونو شعريت ثابت کړو، نو وينو چې ټکور له يوه ليوني استعداد څخه د ک انځور ګردی. هغه خپل احساس، خپله انديښنه او خپلې ذهني اوروحي تجربې داسې په شاعرانه تخيل رنګوي او بيا ترې داسې انځور باسي چې هر څه پکې مينه مينه شي او د ښايست پرګيدی بدله شي. دا ځکه چې شاعر په دې پوهيدلی دی چې يوازې په پيغام او مضمون شعر، نه شعر کيږي. او دا ځکه چې شعر د ستيج د سر تبليغي خبرې نه دي. شعر هنر دی او شعر بديعي خلاقيت دی. شعر د ښکلا، تخيل سمبولونو، استعارو، اساطيرو او ايما ژونو د اوډون ژبه ده. زموږ شاعر پوهيدلی دی چې يوازې د

---

(۱) د ښاغلي کرګر د لنډو کيسو يوه مجموعه (چې ماشومان سندره وايي) په ۱۳۷۷ هـ ش کال په پيښور کې چاپ شوې ده (هـ).

مضمون شعر سرخیلي ناوي ته ورته دی او کنډ اسې خولې ته. »

د تهکور په آثاروکې ( د الیکوال او دا څیرې) داد بی تاریخ د لیکنې د پاره ډیر ارزښتمن اثر دی. (١)

## قاتل نظر

ډیرو غمونو ته ور غاړې وتم
چې انګارونو ته ور غاړې وتم
د توري شپې قاصد به خود خپه وي
زه سحرونو ته ورغاړې وتم
تمیز د خپل او پردي نشته پکې
داسې وختونو ته ورغاړې وتم
اوس به د زلفو تنستې او یدمه
چې غزلونو ته ورغاړې وتم
ستا د قاتل نظر به اخلم بدل
نور همتونو ته ورغاړې وتم
وخته! کیسه زما په یاد کې ساته
څنګه زخمونو ته ورغاړې وتم
پریده چې مات کړمه د وخت لاسونه
زه تهکورونو ته ورغاړې وتم

---

(١) ښاغلي تکور د پښتونخوا د دوو نوميالیو شاعرانو: رحمت شاه سايل او سليم راز د اشعار و منتخبات هم په ځانګړیو مجموعو کې تهیه کړي او په کابل کې چاپ شوي دي. دغه رازیې د شعر دريمه مجموعه یو داغ یو تکورهم په ١٣٧٧ هـ ش کال ⁹ پيښور کې چاپ شوه.

## زخمي وطن

تـانـه وه کـه مـانـه وه خـو ورانـه شـوه
دا دحـق خـبـره کـول گـرانـه شـوه
خـدایـه دې وطـن کـې ولـې هـر څـه نـه
ویـنـه د انـسـان ډېـره ارزانـه شـوه
خدایېږو غور ځوئ مـود مـرګ کنـدې تـه
دا قـافـلـه کـوم لـوري روانـه شـوه
عـقـلـه ! دې زخـمـي زخـمـي وطـن کـې نـن
لـویـه د مـرګـي ډېـره آسـانـه شـوه
ستـا د غـم پـه جـهـل کـې مـې د حـق چـیـغـه
پـورتـه ان د ظـلـم تـر آسـمـانـه شـوه
چـاوې چـې د هـجـرز هـر څـه لـه ښـې
مـاوې مـاتـه پـیـښـه لـه جـانـانـه شـوه

### علی ګل پیوند:

د پیوند د شعر درې مجموعې چې ( زړه ډمه، سیلۍ او با ولۍ) نومېږي، چاپ شوې دي. محمد صدیق روهی د (باولی) په سریزه کې وایي: «پیوند له هر څه نه زیات د احساس شاعر دی، د درد ونو شاعر دی، د خپل وخت انځور ګردی او د خپل تاکلي موقعیت ترجماني کوي. ده واقعیتونه په سمبولونوکې نغښې دي. دده روایتونه او

اسطوري رمزونه افاده کوي. موږ دده له ژوند پیښو څخه جلا نشو څیړلی. د هغه دښنه ذهن ټپونه او دبې وسۍ اسویلي په نوې پېرایه کې ځان څرګندوي.

د پیوند شعر که څه هم د محلي لهجې په اثر او له لرغونو تاریخي اسطورو څخه د استفادې له کبله تر یوې اندازې پیچلی دی او لوستونکي باید ځای په ځای توقف وکړي خو ټولنه دغه ډول شعر ته هم اړتیا لري. لازمه نه ده چې زموږ ټول شعرونه دې سهل ممتنع وي، آسان دې وي، روان دې وي، او ارزان دې وي-

د پیوند د شعر ستر کمال دادی چې دلوستونکی ویده تخیل را ویښوی، دیوه رمانتیک خیال په وزرو یې لوړې فضا ته بیا یي، له هغه ځایه یې د زمکې د مخ ننداري ته رابولي او د تاریخ افسانې، لکه د سینما په پرده کې یوه یوه د ده له نظره تیروي. هغه له پیښو سره، له ښکلاوو سره او له آرمانونو سره مینه لري. پیوند د نوي سبک خاوند دی او پښتو ادب یې په خپلو نو ښتګر و هنري آثارو سره غني کړی دی.»

عبیدالله محک د همدغه اثر په سریزه کې لیکي: «. . . خویوه خبره کوم چې دده شعر به یو ځل نه لولئ. هڅه وکړئ په شعر کې یې غوټې پرانیزئ او بیا بیا یې ولولئ څو د دغه ژور لیدي او لوی اروا شاعر په شعر کې د هغه رنځېدلې ارواهم ووینئ».

# د پیرې ګالیله

ما په خپلو سترګو ولیده
هم هغه و
ببرسر ګریوان څیرلی
لاس او پښو کې ځنځیرونه
څو پا ګانو پې خندلې
ویلې دا !
دا لیونی دی
پرېږدئ پرېږدئ چې ګونډه شي
په درنو درنو ورنونو.
خوده ؟
ده د زمکې غوږ کې «هو» کړه:
درته نه مې ویلې ګرانې،
ودې نه لیده څه وشو.
څه ! ته څه! لنډوه لارې
«که زه وم که نه وم نه وم. »
د یاد ونو ستورې
هره شپه چې په شلیدلې کټ کې پروت وم
ځلیدلو به یو ستورې
دا وراندې غره په څوکه

بر آسمان کې
آ- زموږ د کورله بره
څو به وینئ وم
دا به وینئ و
چې به پروت وم
دا به وینئ و
په سپید و به راته وینئ و
په تیارو به راته وینئ و
آ- زما ملګری ستوری
اوس په لړوکې د وبیږي

## عبید الله محک:

دی یونوښتګر کیسه لیکونکی او کره کتونکی دی. (ګل په جبه زار کې) (۱) دده د یو ناول نوم دی چې غالباً د (سور ریالیزم) له نوي میتود څخه یې کار یکې اخیستی دی. دده په لنډو کیسو کې د (سمبولیزم) نښې هم لیدل کیږي او په اکثرو داستانونو کې یې د ظاهري پیښو تر شا فلسفي مفهومونه پراته وي. له دې امله، دده داستانونه زیاتره دا د ښوهانو د پاملرنې وړ دي او عام لوستونکي ترې لازمه فایده نشي وچتولای. ددې د پاره چې د محک له سبک سره تر یوې اندازې

(۱) په ۱۳۷۷ هـ ش کال په پیښوړ کې د ښاغلی محک یو بل پنډ ناول چاپ شو. مخونه یې تر زرواوري او په دوو ټوکونو کې خپور شوی دی. نوم یې دی (زمرده) (هـ).

آشنا شو دده د لنډو کیسو له مجموعی( د نیمو شپو چیغې) څخه یې یوه لنډه کیسه را نقلوو.

# داغونه

زموږ ښه لوی کلی دی. د ووخوا ووته یې ښه لوی سیند بهیږي. کلی یو وخت ډیر آرامه و. څه غږ غوږ پکې نه و. چا به په څه شي پسې دومره سر هم نه ګرځاوه. د خلکو د روزګار د خرابتیا سره سره بیا هم دومره د شکوې وړ نه و. ګوزاره کیده. خود نورو کلیو ژوند زموږ د کلي نه ښه و. هغوی زمکې ډیرې لرلې او یو څه پریماني په هغوکې وه. خو اوس دادی زموږ ژوند د بدنه بد شو؛ دومره بد چې نور د ویلو نه دی. نه پوهیږم ولې ماته اوس خپل کلی قبرستان غوندې ښکاري. هر څه پکې خپل اصلیت له لاسه ورکوي. آرامي چې پخوا زموږ په کلي کې ډیره وه اوس یې نو بیخي خپله بستره تړلې ده او دا کار له هغې ورځې پیل شو چې زما وروږ یوه غرمه د کلي د پیغلو څخه یوه راوتښتوله. ډزې وشوې یو څوراکې مړه شول خو زما وروږ جلکۍ خپله کړه. یوه خورمې بیا په بدوکې هغوته ورکړل شوه. موږ په خپله خوښه دا کار ونه کړ.

اصلاً هغو زموږ خور نژدې وتښتوله. خو دا کاریې یو دوه کاله وروسته وکړ. له هغې مخکې راته ګواښیدل او ښه سخت ګواښیدل. توپک مو په اوږو کړل. یو بل سره نه مخ کیدو. د مخ کیدو سره سم به

دزې وې بيا به څوک راکې مړه يا ټپيان شول.

خو که رښتيا درته ووايم زه او س له بل څه نه رنځ وړم: هغه دا غونه دي. پوهيږې دا غونه. دا دا غونه زما د زړه په سر هم شته او د هغو د زړو په سر هم شته. د ټولو د زړو نو په سر شته. خو ټول خپل د زړه داغونه پټوي. چيرې د اکار کوي؟ بيا خونو غرور، ځان غوښتنه، تکبر. او دا ټول ماتيږي. او د دود ماتيدو زور دوې په ځان کې نه ويني. خبره د داغونو ده . د چا زړه مړينو داغ کړی دی او د چا هم وينو، د چا غچ او بدل او د چاهم بې وسي. بې وسي مې ياده کړه، بې وسان خونوهسې اريان دريان ګوري او نه پوهيږي چې څه وکړي. څوک د خبرو داوريدو هم نشته. بې وسي لويه بد بختي ده. پوهيږئ لويه بدبختي ده.

آها خبره د داغونو ده. ما غوښتل درته ووايم چې زما زړه هم داغ لري خو هغه د انځور ګرئ ديوې نه پوره شوې ځکه چې په څير ده او زموږ د کلي انځور ګران هره ورځ خپل برسونه پرې ګرځوي او يوه نوې څنده ورزياتوي. خو په دې ټولو کې يوه څيره مې ډيره ستر ګوته کيږي. هغه د داغونو د پيل ټکی. هغه ټکی دې خدای ورک کړي. خدای شته چې دا اوس ستا سوسره د خبرو په جريان کې مې هم دا ټکی ستر ګوته کيږي. هغه ټکی چې لومړی پيل شو. او دا دی زما په زړه کې يې هم خاپ لګولی دی. په ژوند کې خو باور نه لرم چې دا خاپ له مينځه لاړ شي. شخړې به ورکې شي، کلي به آرام شي خو خدای خبر چې زما د زړه داغ به ورک شي او که نه؟ زړه مومه په تنګوئ اوس يې درته وايم. دستي يې

درته وایم. هغه د پیل تکی هم یو داغ و. پوهیږئ چې زما د زړه داغ په یو بل داغ سره پیل شو. آه، هغه د وچولي په داغولو سره اریان نشئ. د وچولي داغ زما په زړه داغ کیښود. هغه هم داسې داغ چې په ورکیدو یې بې باوره شوی یم. دا د اغونه زموږ په کلي ډیردي. زموږ کلي به کله کله شخړې په سر واخیست هغه زموږ تر منځ شخړې وخت په وخت به مرګ ژوبله پکې وشوه. ښایسته ډیر خلک دواړو خواووته ودریدل. آخر ټول کلي یو له بل سره تړلي و. آن موږ او هغوی هم سره تر بورانوو. خو یو زیات شمیر خلک منځګړي پاتې شول. هغو به تل موږ ته ویل چې شخړه مه سره کوئ خو د اورید و غوږنه و.

چا دا کار نه کاوه. نو جنګ کې خو حلوانه ویشله کیږي. جنګ سرونه خوري او د اغونه ږدي.

د میندو، و رونو، ښځو، خویندو، پلرونو، زامنو او لونو په زړوکې داغونه.

زموږ په کورنۍ کې هم په دې جنګ جګړې کې ډیر مړه او ټپیان شول. ډ ډیر ومړینو وروسته یوه ورځ زما مشر وروږ ډیر په غصه کورته راغی، دومره په غصه چې ان زه ترې وویریدم هسې خو به ترهرې پیښې شخه وروسته دی تل په قهرو. له ستر ګو یې تل غضب وریده.

ډیرو خت به یې چرتونه وهل، ښه اوږده اوږده چرتونه. ښایي ددې چرتونو د ننه به یې پښیماني ښېیله. خو موږ پرې نه پوهیدو. رښتیا خبره د هغې ورځې وه هغه چې ما ویل دی په غصې کورته راغی یو څه

سپکې سپورې يې له خولې ووتې. د هر چا خبره يې په خوله کې وروچه کړه. خبره پرې ښه نه لگيده. د کور ټول لوی واړه چپ شول ويره د ټولو په سترگو کې ښکاره شوه. دې کې نه پوهيږم چې څه يې په خيال کې وروگرځيدل نا څاپه يې زما ورينداره - اوس مې نو ورينداره وه- وروغوښته. هغې غريبې خوله هماغې لومړنۍ ورځې نه خوله تړلې وه. د هر چا تپ سپوری وه. په ښوبدويې کارنه و. څه يې چې ورته ويل هغه يې کول. او و لې به يې نه کول، څه په خپل اختيار خونه وه، ښايسته ښکلې مخ يې اوس نو داسې اوښتی وچې سړي پرې د يوې ځوانې ښځې هيڅ گمان نه شو کولی. رنگ يې اوښتی، لکه دا د توپکو ټول باروت او لوگی چې د هغې پرمخ تير شوی و. هغه به چې هر کله زما د ورور مخې ته راغله وبه ريږديده. دې ريږديدا به تر هغې دوام وکړ چې د هغه له سترگو به پناه شوه. او چې کومه ورځ به څه مرگ ژوبله وشوه نو دې غريبې به ډيره هڅه کوله زما د ورور سره مخه نه شي. ځکه د هغه کتنو به داسې ورښپيله چې گنې اصلې گنهگاره داده او دې غريبې دا څوکاله ژوند په همدا سې اور کې تير کړ. د هغې په سترگو کې چا مخامخ اوښکې ونه ليدې. هغې به پټ په پټه ژړل. زه يې په ژړا پوهيدم، زما به پرې ډير زړه وسو، د هغې په بې اسرې توب به مې زړه وسو. غريبه ډيره بې وسه وه. دې بې وسې خويې له هماغې لومړۍ ورځې نه زما پام وراړولی و. خو ما څه کولای شول زه خو هم بې وسه وم. زما واک کې هم څه نه و. زموږ والو خونو ډيرې خبرې سلا، مشورې اوان وکړه او مه کړه د

(شا) په لاس وې. (شا) زموږ خپلوان و. دهغه نوم بل څه وخو په کورکې يې ورته (شا) ويل. ځينو ورته (شا آغا) او (شاګی) هم ويل، په هر صورت، زه کورکې بې وسه وم، لکه هماغه خپله ورينداره. او دې وخت کې چې زما وروږ په وريندارې غبرګ نو زما زړه هم ټوپونه وکړه. ويرې په سر واخيستم. زما دوروږ له سترګونه د اور بڅرې باد يدل. ربښتيا د اور بڅري وو. ما وليدل لکه د برات د شپې د پټا قيوالوتل. اوس مې د ورور سترګې هماغسې وې. و رينداره مې په ورو، ورو ګامونو ور روانه شوه. وروږمې د نغزي په غاړه ناست و. ما مې د وريندارې قدمونو ته کتل. د هغې هر قدم په خروارونو زور سره پورته کيده. آخر هلته په خروارونو ويرې خپل لنګر اچولی و. د هغې په بدن او پښو باندې. دا په ړاندې تله خود ويرې لنګر نه پريښوده چې ړاندې ولاړه شي. اوف! چې په دې غريبې څومره خواري وه هر قدم يې لکه کال وروسته چې اخيست. د هر قدم د پورته کيدو او بيا زمکې ته د راټيټيدو تر منځ ډير زمانې واټن و. قدمونه مې له نظره ډير وچت را غلل، لکه غرونه، پښې يې له نظره لوېې راغلې، لکه غرونه. درنښت يې هم د غرونو و، بيا مې د وروږ سترګو ته وکتل. هلته نور سم داوريتې وې. دستي مې د خدای (ج) دوزخ را په ياد شو، هغه لا يتناهي اور. هغه چې ګناهګاران سوزي، ګناهونه سوزي. درانه ګناهونه، د ټول عمر ګناهونه، د لږ وخت له پاره، د تل له پاره. اوزما ورينداره اوس سرپه دنيا دداسې اورو خواته روانه وه. ما خپله ورينداره د هغې د عمل نامې سره وليده. هيڅ تورټکی مې پکې ونه ليد.

يوازې يو تور ټکی و، تورنه، زموږ په سترګو کې دارنګ تورو. نورو ښايي دارنګ تورنه ليده، هغه توررنګ ددې ذات پورې نښتی رنګ و. هغه نه لرې کيده. خو د تللو په حال کې مې ورپام شو چې هغه رنګ نور توررنګ نه و. هغه تک سپين روڼ رنګ و. ماته دا انصاف ښکاره نه شو. د خدای تعالی (ج) د قيامت دورځې انصاف او عدالت را په ياد شو، د ذرې ذرې شمير او ګڼل، د ښود بدو، د هرغړي، د هرڅا. خواوس ددې رنګ په پيژندلو ماته نور د بدو څه په نظر رانغلل. او زما وريندار دادی روانه وه. هغه سر په دنيا دوزخ ته. هغه داورد بټيو خواته. هغه زما د وروږ د سترګو د اوروخواته، په لويو، درنو، خوسترو وړو اوورو، ورو ګامونو.

ما خپله پريکړه وکړه. له خپله ځايه پورته شوم. ويره مې نوره له ياده وتلې وه. غوښتل مې خپل ورورته ورشم. هر څه ورته ووايم. هر هغه څه چې ماوليدل هغه ورته ووايم. دوريندارې بې ګناهۍ او سپيڅلتوب ورته ووايم، دپاکۍ، د انصاف، د خدای تعالی (ج) د انصاف نه. خو زماتر رسيدو مخه زما وروږخپل کارو کړ. او سپنيز سيخ چې په اورکې پروت و، پورته شو او د سترګو په رپ کې زما د وريندارې په وچولي کې يې يوه توره پريړه ليکه جوړه کړه. هغې کريکه وکړه او ځان يې شاته کړ. ما ويل د اسرافيل (ع) شپيلۍ وه. د هماغې منډې په حال کې مې د صغرا او کبرا قيامتونه او د ... انځورونه راپه ياد شول. وريندار پريوته خوبياله ځايه پورته شوه او مخ په ښنګويې منډې کړې. زما له خولې يوه درنه

اوږده او له هیجانه ریږدیدونکی کړیکه وخته، خود کړیکې په پای کې مې بیا د بې وسی ژړا پیل شوې وه. خوله مې ورانه ورانه شوه. غږ مې له خولې خوت خو څوک مې په خبرونه پوهیدل. ما مې ورینداري ته د اوښکو دننه ورکتل. هغه په تنده داغ شوې وه. ښه ژوره داغ شوې وه. کورکې مې نورو خلکو ته وکتل. د ټولو تندو کې دد اغ تصویر راته ښکاره شو، خو د چالوی او د چا هم وروکی.

خدا زده ولې مې په هماغه وخت کې د ورور خبرې تر غوږ شوې چې:
«داسې تندې د داغو لودي»« هغو هم آزموږ د هغې تنده داغلې ده»

## لطیف بهاند:

په (۱۳۳۲ش کال) کې د کابل په ده مراد خان کې زیږیدلی دی. په (۱۳۵۸ش)کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې استاد شو. اوس د دکتوری اخیستلو د پاره په شوروي اتحاد کې تحصیل کوي(۱). د (پل) په نامه یې د شعرونو یوه مجموعه خپره شوې ده چې د هغې په سریزه کې محمد صدیق روهي داسې لیکلي دي:
«ما کوشش وکړ چې په دې مجموعه کې د (پل) معنی او تفسیر پیدا کړم. په یوه ځای کې مې سترګې په دې بیت و نښتې:
که ژوند شي ختم مینه پاتې ده لا
له ژونده وراندې زموږ پل تیر پرې

(۱) ښاغلی لطیف بهاند خپله دوکتوری اخیستې ده او د دوکتوری تیس یې پیلښتو ادبیاتو کې د کره کتنې پر موضوع لیکلی دی. (هـ).

نوداسې ښکاري چې (پل) د حواد ثو نخښبه ده او دغه نخښبه به د تاريخ په مسير کې زموږ د کړو وړو ترجماني کوي. (پل) دوخت د حرکت پل دی. د شاعر د زړه وينا ده. د چاپيريال هينداره ده، د بې اجله مرگونو تصوير دی، دورانو نغريو تراژيدي ده، د خزان شوي پسرلي سندره ده، د توبې ماتولو او څنځير شرنگولو افسانه ده، د طغيان او عصيان حماسه ده، د اغزنو لارو سره د يبلو پښو تړون دی، له اورني ښايست سره د خيالونو پيوستون دی، بس عشق دی او جنون دی او نور هيڅ. »

## غزل

دغه سور گل يې په شغلو کې ايښی
که يې سور خال په انگو کې ايښی

د ساقي خونه ستا کتل ورانوي
خدای څه اثر ستا په کتو کې ايښی

په نورو گل په موږ ايرې وريږي
زموږ قسمت يې په لمبو کې ايښی

شور د بنگړو سره يې روږدي شولو
ښکاري عزت مو زولنو کې ايښی

چا د منصور د دارکړی خوښې کړې
چا خوتندی لا په سجدو کې ايښی

که دې تیاروکې زمونږ دیدن یاد یږي
هغه خومونږ کور د سپیدوکې ایښی

چې درنه زار او صدقه شي گلې
ما خپل زړګی په سپیلنوکې ایښی

## کاتب پاڅون:

کاتب پاڅون یو تکړه کاتب دی چې په خپل پاڅون سره یې د طنز لیکنې هنګامه توده کړې ده. تراوسه یې څو بوجۍ طنزونه لیکلي او په خپلو خونده ور او نېش وهونکو کترو او کنایو سره یې ډیر خلک خندولی دي. د کاتب پاڅون طنزونه په اصل کې یوه ترخه دواده چې په خوا ږه کپسول کې نغښتل شوې ده. دده طنز په پرده کې هر ډول خلک لیدل کیږي: ساده ګان، ټګماران، بې انصافه د کانداران، فاسد بیروکراتان او داسې نور نور. په دې وروستیو وختوکې یې د طنزونو مجموعه هم چاپ ته سپارلې ده (۱) چې ځینې یې په نظم او ځینې په نثر دي. د پاڅون طنزونو که په نورو ژبو ترجمه شي باور دی چې هغه به د نړۍ د نامتو طنز لیکونکو په کتار کې ودریږي. سره له دې باید ووایو چې هر طنز له خپل چاپیریال څخه رنګ اخلي او هغه څوک یې په خوند ښه پوهیږي چې له

(۱) د کاتب پاڅون د طنزونو درې لاندې مجموعې په کابل کې چاپ دي: (۱) د شکایاتو صندوق په (۲) مدیر صیب په خط خو به پوهیږې؟ (۳) دکار سیالي. دغه راز دانش کتاب پلورنځی په پیښور کې دده د طنزونو دا لاندې مجموعې خپرې کړې دي: پندونه او خوندونه؛ د ښنجاره هتېږ؛ دولتي موټر، سرې ځنګه ښځه شو؛ دیګونه او شعرونه؛ د ښار په ستدیوم کې.

هماغه چاپیریال سره آشنا وي. دلته به د بیلګې په توګه د ده د یوه طنز څخه یوه برخه را نقل کړو.

## د حساب ماشین

هر څومره چې ننني تکنالوژي وده کوي هومره لټې، تنبلي او ځان تکلیف ته د نه ورکولو پروسه هم پیاوړې کیږي. زه هغه وخت لا وړوکی وم چې پلار به مې له قره باغ نه په کجاوه کې انګور کابل ته په شار اوړل. او له خرڅولو وروسته به ما زیګر بیر ته پلی کور ته راته. خو اوس چې د کابل په ښار کې د موټرو نوشمیر د ښار له خسکو څخه هم تیری کړی دی. کله کله چې غواړم له میوند واټ څخه پښتونستان واټ ته ولاړشم. نو په میوندواټ کې نیم ساعت ښاری سرویس ته سترګی په لار پاتې کیږم او له هغی وروسته چې د جادې، پامیر سینما، شاه دوشمشیره (ع) تیمور شاهی واټ او پل باغ عمومی له لارې د سرویس پایه دان پورې، لکه د چکې کڅوره ځوړندوم، ځان پښتونستان واټ ته رسوم نو یو نیم ساعت وخت خو ضرور نیسي. حال دا چې له میوند واټ څخه تر پښتونستان واټه پورې لاره یوازې د پل خشتي د پله تر اوږدو پورې اوږده ده. او که چیرې سړی له میوند واټ څخه په ګیډه هم وښوییږي نو دوه دقیقې وروسته به په پښتونستان واټ سلام واچوي چې په دې صورت کې به یې له خپل ارزښتنا ک وخت څخه اته پنځوس دقیقې سپما

کړې وي او هم به يې د سرويس له کړايې سربېره د ځينو چالاکو حرفه يي کيسه برانو له نوکو خپل جيبونه په امان کې ساتلي وي.

د کور خبره ښه نه وي چې څوک يې په بيديا وايي خو اوس خبره د خبرو پورې راغلله. مجبور يم چې ويې وايم. له تاسو به يې څه پټوم. له هغې ورځې چې د ماشومانو مور د کاليو مينځلو ماشين په قرض را باندې واخيست نو لټي او تنبلي زموږ په کور کې دومره ډېره شوې ده چې ميرمن مې ګازرې او شلغم هم د کاليو په ماشين کې مينځي. په پسرلي کې يې د ماشين په خرابېدو خوښ وم خو چې د غاړې جامې د خيرو له لاسه نږدې وې چې په غاړه کې را ماتې شوې واى. نو مجبور شوم چې په قرض ماشين ترميم او د ښځې د ورځې له هر شواخونځخه ځان خلاص کړم.

## خالق رشيد:

عبدالخالق رشيد په (۱۳۳۵ ش)[1] کې د غزني ولايت درشيدانو په کلي کې د نياته راغلى دى. رشيد د ماسترۍ درجه اخيستې او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو په پوهنځي کې استاد دى. رشيد شاعر، کيسه ليکونکى او ادبي څېړونکى دى. د (ډولۍ) په نامه يې دلنډو کيسو

(۱) پوهندوى عبدالخالق رشيد اوس په هند کې اوسي او په جواهر لال نهرو پوهنتون کې د پښتو استاد دى. دده د لنډو کيسو يوه بله مجموعه په پېښور کې چاپ شوې ده، چې (کنګل ژمي او کنګل لاسونه) نوميږي. دده د ماسترۍ تيسس په پښتو کې د کره کتنې پر تاريخي سير کښلى دى او په ۱۳۷۰ هـ ش کال کې د افغانستان د ليکوالو ټولنې له خوا چاپ شوى دى. رشيد کره کتونکى او څېړونکى هم دى (هـ).

يوه مجموعه چاپ شوې ده. دده ادبي څېړنې ډېرې ارزښتنا کې دي.
دلته به يې د شعر يوه بېلګه را وړو:

## غزل

چې ستا له سترګو سترګکونه اوري
په ما دلنډ وشپو خوبونه اوري

تسل مې وشو په دې لاريه راشي
په خوږ زړګي مې ستا يادونه اوري

هوس مې څکه تخنوي په ورو ورو
د تا په سپين مخ سره خالونه اوري

جانانه غم دې په ليمو ميلمه شو
په وچو شونډو مې جامونه اوري

زما نصيب د مسافر کډه ده
چې پرې دغم په سر غمونه اوري

راشه چې تا ته مې کيسې ساتلې
په ما باران غوندې دردونه اوري

رشيد دې مينه کې د ګل په شان شو
اوس د تيارو پرې شوګيرونه اوري

## حفیظ الله خوږلن:

په (۱۳۳۲ش) کې د لوګر ولایت په محمد آغه کې زیږیدلی دی. د (نغزي او سپیلني) په نوم یې د شعر یوه مجموعه چاپ شوې ده. په یوه مشاعره کې مې چې د ده شعرو اوریدنو پوه شوم چې د شاعرۍ ښه استعداد لري.

### غزل

د تپې زړونو حال له ما و پوښته
دروغو جوړوله بل چاو پوښته

دا چې مې سترګې ولې تل دراوړي
دادي له حسن او ښکلا و پوښته

که مې دزړه په څريکو ځان خبروي
نو بيا سلګۍ يا مې ژړا و پوښته

څومره سترو يا ړدی ليونتوب په عشق کې
د قيس مقام خوله ليلا و پوښته

چې په تنکو شونډو يې تل خوزه وي
د خولګۍ خوندي له موسکا و پوښته

شيخ څه پوهيږي د غمزو په تعبير
دا خوله ما غوندي رسوا و پوښته

خوږلنه پته دبې رحمه آشنا
په ظلم آباد کې له جفا و پوښته

## ځینې نورنامتو لیکوال او شاعران:

که د کتاب د حجم د زیاتوالی ستونزه په منځ کې نه وای نو لازمه وه چې د دغو شاعرانو او لیکوالو: فاروق فردا، عبدالهادي هادی، شاه محمود حصین، احسان آرینزی، مصطفی جهاد، بشیر دودیال، خیال محمد کټوازی، اسد الله اسد، فضل الهی ګران، تاج محمد یاری، میرزا علم حمیدی، شهسوار سنګروال، اسعمیل یون، سلطان جان کلیوال، محمد عیان عیان، لطف الرحمن خاموش، نور محمد سهیم، پروین فیض زاده ملال، هنر غیرت، غلام محمد کامه وال، نبی صلاحی، صفیه صدیقی، غلام جان جګړ او داسی نورو په باب چې ځانګړې مجموعې یې خپرې شوې دي ځلا یا دونې کړې وای. ځینې نور شاعران او لیکوال شته چې د هغو ځانګړي آثار یې ښایي لا تر اوسه نه وي چاپ شوي خو کوم آثار یې چې په مجلو اوورځپانو کې خپاره شوي دي د پښتو ادب د بڼ ګلان ګڼل کیږي. په دغو کې لال پاچا آزمون، سید افضل شیرزاد، بابرزی، عزیز تحریک، عبدالوهاب سرتېر(۱) او داسې نورو نومونه د خاصې یادونې وړ دي.

دلته باید د څو ټکو یادونه وکړو. لومړی د اچې په وروستیو څلورو کلونو کې له یوې نسبي د موکراسۍ سره هنري ادبیاتو له بل هر وخت څخه زیاته وده وکړه. دا پخپله د او اقعیت څرګند وی چې هنري فرهنګ

(۱) په وروستی دله کې اوس د آزمون د شودرې مجموعې (پر هرونه دي چې خاندی؛ پرسندرو یو مین سندرې وایو)، د سید افضل شیرزاد یوه مجموعه (ستړي مزلونه) او د ښاغلی عبدالوهاب سرتېر درې مجموعې چاپ دی. (هـ).

ددموکراسی په شرایطو کې په ښه توګه پرمختګ کوي. دوهم دا چې په اوسني وخت کې آزاد شعرته زیات تمایل پیدا شوی دی. په آزاد شعر کې هنري انځورونه او احساسات د حقیقي شعر په نسبت په آسانۍ سره انګازه کیدلی شي. دریم ټکی دادی چې په اوسنیو شعرونو کې اخلاقي وعظونو، سیاسي تبلیغاتو او طبقاتي مبارزي خپل ځای پراخ هیومانیزم( بشر دوستی) او پاسیفیزم ( سوله دوستی) ته ورخوشې کړی دی. څلورم دا چې په اوسني شعر کې کلیت او انسجام ته پاملرنه شوې ده یعنې د یوه شعر په تیره د آزاد شعر، بیتونه یو کلي تصویر جوړوي او د یوې مرکزي مفکورې څرګند ولو ته وقف شوی وي. پنځم دا چې په شعرکې د شعریت، هنري ښکلا او نوښت خواته میلان لیدل کیږي. شعر ځانته خاصه ژبه او دا فادې دول لري. شعر د تخیل او عاطفې بچی دی.

زموږ اکثر اوسني شاعران په دې ټکي پوهیږي او له همدې امله، د نن ورځې شعرونه د بل هر وخت په نسبت زیات ښکلي او شاعرانه دي.

## اووم څپرکی

# د پښتونخوا ادبي بهير ته يوه کتنه

### تاريخي پس منظر:

په (۱۸۹۳ع) کال کې (د ډيورنډ تړون) په واسطه، انګريزانو نه يوازې نيمايي پښتانه له خپل پلرني ټاټوبي څخه بيل کړل، بلکې د دې تړون په اساس يې د افغانستان د راتلونکې سياسي تګلارې د پاره هم حدود وټاکل؛ په دې معنی چې د افغانستان واکمنانو او د سياسي نهضتونو مشرانو نشوای کولای د پښتنو د حق خود اراديت څخه په سترګو پټولو سره له يوه شمير هيوادو سره مطلوب د پلوماتيک اړيکي ټينګ کړي. د افغانستان د بهرني سياست په ټاکلو کې د ډيورنډ کرښې

خاص نقش درلود. په شلمه پيړۍ کې د افغانستان په سياسي تاريخ کې د دېيورنډ تحميلي کرښه د پيښود محور په توګه اساسي اهميت لري او اکثر سياسي جريانات د هغې په مرسته د پوهيدلو وړ ګرځي.

په هغو سيمو کې چې د دېيورنډ د تړون په واسطه له اصلي خاورې څخه بيلې شوې سياسي او فرهنګي جرياناتو بيله بڼه غوره کړه.

په دې کې شک نشته چې د ادب ځينې تلپاتې موضوعات په دواړو خواوو کې سره ورته والی لري. لکه عشق او مينه، د مظلومانو سره خواخوږي، د ښځو د حقوق د پاره مبارزه، د خيراو شر ترمينځ جګړه او داسې نور، خو په هغو برخو کې چې له ټولنيز سياسي تعهد سره اړه لري د کوزې پښتونخوا د ادبياتو محتوی د برې پښتونخوا له هغې سره توپير لري. سره له دې، پښتو ادب په عمومي توګه د ټولو پښتنو ادب دی، يو ګل دی، د ټولو ګډ وياړ دی او د ټول پښتون د آرمانونو او ارزښتونو ښکارندوی دی. يوازې په تکنيکي لحاظ د مطالعې او څيړنې د آسانتيا د پاره د کوزې پښتونخوا ادبيات په بيل څپرکي کې راوړل کيږي.

د پښتونخوا ادبي بهير معمولاً په دووپړاوو ويشل کيږي. په دې باره کې نامتو ادبي مؤرخ زلمی هېواد مل ليکلي: «ماچې د پښتونخوا د داستاني ادبياتو د شننې، تفسير، او تاريخ په څرګندونه کې کوم آثار لوستي دي، په هغو کې دوه ځايه پر داسې ليکنو پيښ شوی يم چې د داستاني ادبياتو د سير په څيړنه کې يې د پښتونخوا د داستاني

ادبیاتو- په خاص ډول د افساني (لنډې کیسې) - پرمختیایي بهیر په دوو دورو کې ارزیابي کړی دی.

د ساري په ډول، ایوب صابر تر ۱۹۴۸ کال پورې د پښتونخوا د افسانې یوه دوره او تر دې را وروسته یې بله دوره یادده په اصطلاح دلنډې افسانې جدیده دوره بللې ده. د غه ډول پروفیسر محمد اعظم د افسانې ارتقایي سیر په دوو د وروکې رالنډ وي: له آزادۍ نه د مخه دوراوله آزادۍ (۱۹۴۷ع) نه وروسته دور. د دوره بندۍ لپاره چې کوم معیارونه دواړو ښاغلو ټاکلي دي، د پښتونخوا د اوسنیو ادبیاتو له عمومي پرمختیایي سیر سره سمون لري او کیدای شي چې برسیره پر افسانې او داستاني ادبیاتو په ټولو اوسنیو ادبیاتو یې تطبیق کړو. مګر داویش یو تخنیکي عیب لري او هغه دا چې دواړو ښاغلیو له ۱۹۴۷ یا ۱۹۴۸ ع کال نه مخه زمانه هم دوري په نامه یاده کړې ده او تردې نیټې وروسته یې هم یوه دوره بللې ده.

اصلي خبره داسې نه ده. په عام ډول د پښتو ادبیاتو معاصره دوره یوه دوره ده. د دورې په منځ کې بله دوره نه راځي. بهتره به وي چې موږ د دورو په منځ کې د ادبیاتو انکشافي جریانونه د پړاوونو په نامه ونوموو. زموږ ادبپوهانو چې د پښتو د ادبي تاریخ په دوره بندیو کومې خبرې کړې دي هورې هم د پښتو د ادبي تاریخ د هرې دورې په منځ کې راغلي جریانونه یې د پړاوونو په نامه نومولي دي. د مثال په ډول ، په افغانستان کې د پښتو معاصره ادبي دوره له (۱۹۱۰ع) کال راهیسې

شروع کیږي او ددې دورې ادبیات دروښانتیا ، ویښتیا ، او اوښتون په پړاوونوکې انکشاف کوي. د پښتونخوا ددې دورې ادبیاتو په دوو پړاووکې پرمختګ کړی دی: د هند له آزادۍ نه دمخنی پړاو چې د شلمې پیړۍ له لومړۍ لسیزې څه پیل کیږي او تر ۱۹۴۷ع کال پورې دوام کوي. دوهم پړاو چې له ۱۹۴۷ نه پیل کیږي تراوسه جریان لري. د پښتونخوا د معاصرې ادبي دورې په لومړي پړاو کې، نوي ژانرونه پښتو ادبیاتو کې داخل شول او ادبیاتو په عام ډول له پردي استعمار سره خلکو ته د مبارزې روحیه ورکوله؛ د افغانستان له مسایلو سره دلچسپی، د ناوړه دودونو اصلاح، په پښتنو کې د تعلیم د عامولو، له نوي مدني ژوند سره د خلکو د آشنايۍ په لاره کې کارکاوه.

او ددې زمانې زیاتره ادبي آثار ددغسې مفکورو منعکسوونکي دي. کیدای شي دا پړاو د بیدارۍ پړاو هم وبولو.

د معاصرې ادبي دورې په دوهم پړاوکې ادبي ژانرونه اصلاح کیږي اوانکشاف کوي، په دې پړاو کې پښتوادب ته زیاتره له اروپايي ادبه آثار راژباړل کیږي. د پښتونخوا نوی تعلیمیافته قشر د اروپايي ادب په تقلید په پښتو ادبیاتو کې یو لړنوې تجربې کوي؛ د اجتماعي ژوند له پرمختیا او پیچلتیا سره ددغسې یو محیط غوښتونکو ادبیاتو رشد ته هم زمینه مساعده شوه. د نیمې وچې له ویش نه وروسته د پښتنو د سرنوشت پر مسأله (د بحث) بیلا بیلې مفکورې رادمخه شوې چې دغو مفکورو هم په پراخه پیمانه ددغه پړاو په ادبي آثارو کې انعکاس پیدا

کړ. د پرولتري مفکورو ريښې خوموږ د دې سيمې د معاصرې ادبي دورې د لومړي پړاو په ادبياتو کې هم مونډلای شو خو په دې پړاو کې ځينو شاعرانو او ليکوالو د دغسې خبرو بيان ته زياته توجه وکړه. (پرملی محور راځرخيدلی) اصلاحي ادبيات- چې لومړي پړاو يې د رشد زمانه وه- په دې پړاو کې مخ په بره روان شول. د غرب د پانګوالی سيستمونو پر مختللو مفکورو هم په دې پړاو کې د پښتونخوا په ادبياتو کې ځای او انعکاس پيدا کړ. کيدای شي دا پړاو دا د بې يون او بدلون پړاوونو موو » (د پښتونخوا اوسني داستاني ادبيات، ۲۷ - ۲۸ مخونه).

په پښتونخوا کې د معاصر ادب د پيلامې په باره کې تر وروستيو وختو پورې بحثونه روان وو. د ځينو په نظر مولوي احمد، قاضي ميراحمد شاه رضواني، او منشي احمد جان د معاصر ادب سر لاري دي، خو وروسته اکثرو ادبپوهانو په دې دليل چې معاصر ادب، د نويو ژانرونو-لکه د ناول، لنډې کيسې (چې د کوزې پښتونخوا ليکوال يې افسانه بولي)، طنز، تکل، ډرامې، او فلمي سناريو د رواجيدلو او بابيدلو سره پيليږي، له پورتني نظر سره موافقه ونه کړه. اوسني کتونکي او ادبي تاريخ ليکونکي په دې باور دي چې د پښتو معاصر ادب د شملې پيړۍ له لومړۍ يا دوهمې لسيزې څخه پيليږي. په (۱۹۰۸ع) کال کې دراحت زاخيلي (شليدلې پڼه) خپره شوه. څرنګه چې دا په پښتو کې لومړنۍ لنډه کيسه ده نو ځکه همدغه کال د پښتو د

معاصر ادب د پیلامې په توګه منل شوی دی.

که څه هم راحت زاخیلي د ډیرو زیاتو ادبپوهانو په نظر، د پښتو د معاصر ادب پیلوونکی دی، ځکه چې لنډه کیسه او ناول دواړه په پښتو کې دده له خوا باب شوي دي خو په دې برخه کې ځینې نورې نظریې هم شته. د شوروي اتحاد پښتو پوهاند (ګیورګ. فیدرو ویچ ګیرس) په نظر، منشي احمد جان په خپل خواږه هنري نثر سره د پښتو د معاصر ادب د تا د اوتیره اینبې ده. دی لیکي چې د زاخیلي د (کونډه نجلۍ) کیسه له خپل ټول خوند سره سره بیا هم د منشي احمد جان په غوره آثارو پسې نشي رسیدای او ورنه وروسته ده. (د پښتونخوا د استاني ادبیات، ۷۷مخ).

د (ګیرس) نظریه د پاملرنې وړده ځکه ده معاصر هنري نثر د معاصر ادب د پیلامې معیار ګڼلی دی. معاصر هنري نثر له مولوي احمد نه راپیلیږي او منشي احمد جان یې ادبي معراج ته رسوي. د (آدم درخانی) قصه په اصل کې فوکلوري کیسه ده خو منشي احمد جان هغه په ډیر خواږه او هنري نثر لیکلې ده او د اوسني هنري نثر شاهکار ګڼل کیږي. که ادبي ژانر د معیار په توګه ومنل شي نو بیا نو یې له شکه د راحت زاخیلي (کونډه جینۍ) چې په (۱۹۱۷ع) کې خپره شوې ده، د نوي ادب پیلامه بلل کیدای شي. (شلیدلې پڼه) بنایي د لنډې کیسې په معیار پوره نه وي، کیدای شي چې ځینې ادبپوهان یې د لنډې کیسې په توګه تسلیم نه کړي. دا موضوع ځانته جلا څیړنه غواړي. لیکن په دې

خبره کې شک نشته چې (کونډه جینۍ) لومړنۍ لنډه کیسه ده چې د هنري نثر او د لنډې کیسې د معیارونو په اساس د پښتو معاصر ادب غوره بیلګه ګڼل کیږي.

د پښتونخوا نامتو منتقد او لیکوال قلندر مومند (د پښتو ورومبنۍ افسانه نګار) ترسرلیک لاندې په یوه مقاله کې لیکي، چې د محترمې (سیده بشرې بیګم) په عقیده، ابوالمعاني آزادګل د پښتو ړومبنی افسانه نګار دی خو دده (قلندر مومند) په عقیده، (لېم پیرنګی) چې اصلي نوم یې (جی. لوریمر) دی د لومړي ځل د پاره د پښتو افسانه (لنډه کیسه) لیکلې ده.

نامتو کره کتونکی (زرین انځور) د کابل مجلې د (۱۳۶۶ هـ.ش) کال د سنبلې - میزان په ګڼه کې دغه نظریه رد کړې ده او راحت زاخیلي یې د ړومبنی افسانه نګار په توګه منلی دی.

په داسې حال کې چې دادبي څیړونکو د پاره د پښتو د معاصر ادب د پیلامې په باب د زیاتې مباحثې ضرورت نه نفی کوو، اوس به د معاصر ادبي بهیر د انکشاف د څرنګوالي ځینې عوامل هم وپلټو.

ترهر څه مخکې باید ووایو چې معاصر ادب، لکه څنګه چې ښایي، د خلکو پراخو پرګنو ته لاره نه وه پیدا کړې او د تعلیمیافته روښانفکرانو ادبي تنده یې ماته له. دوی که څه هم د خلکو دردونه، د ټولنې ماتې ګوډې، ستونزې، غوښتنې، او آرمانونه بیانول، خو خپلې خبرې یې ټولنې ته نشوې رسولای. ددغې نیمګړتیا د پوره کولو د پاره ترټولو

دمخه (انجمن اصلاح افاغنه) چې وروسته يې (د خدا يي خدمتګارو-تحريک) نوم غوره کړ، ملاوتړله، له هغې وروسته يو زيات شمېر ادبي ټولنې جوړې شوې. سره له دې، په ټوله پښتونخوا کې خلکو زياتره د ټنګ ټکور له اولسي شاعرانو، او د پيښور په (قصه خواني) کې له چاپ شوو فوکلوري نظمونو او نکلونو سره مينه درلوده او د معاصر ليکني ادب په مفهوم چنداني نه پوهيدل.

د پښتو د معاصر ادب په انکشاف کې څو عامله بې اغيزې نه وو چې په لاندې توګه شمول کيږي:

۱- انګريزانو د خپلې واکمنې د ټينګولو د پاره د پښتو ژبې زده کولو ته اړتيا درلوده. له دې کبله، هغوی يو شمير د قلم خاوندانو ته بلنه ورکړه چې ددوی د پاره پښتو درسي کتابونه وليکي. ددغو ليکوالو په ډله کې د مولوي احمد، ميراحمد شاه رضواني، او منشي احمد جان نومونه د خاصې يادونې وړ دي. ددوی د ليکنې ژبه معياري ده او د ليکنې سبک يې هنري ارزښت لري په خپله راحت زاخيلي هم له انګريزانو سره ناسته ولاړه درلوده خودانه ده معلومه چې هغه به کوم آثار د انګريزانو په سپارښتنه ليکلي وي که نه؟

۲- د پښتو معاصر ادب په پالنه کې دخدايي خدمتګارو ونډه ډيره درنه ده. کله چې خان عبدالغفار خان د خدايي خدمتګارو د تحريک مشر په (۱۹۲۸ع) کال کې د (پښتون) په نوم مجله راوايسته يو زيات شمير ليکوال او شاعران پرې راټول شول چې د هغو په مشرانو کې د

فضل محمود مخفی، عبدالاکبرخان اکبر، محمد اکبر خادم، احمد شاه شاه، سمندرخان سمندر، عبدالخالق خلیق، امیر حمزه خان شینواري، محمد شاه خان خیال، فضل حق شیدا، سید رسول رسا، عبدالغنی خان غنی، اجمل خان ختهک، محمد اسلم خان شرر، ولی محمد طوفان، عبدالمالک فدا، فضل الرحیم ساقی، امیرنواز جلیا، شاد محمد خان میږی، خانمیر هلالی او په کشرانو کې د دوست محمد خان کامل، افضل خان بنګښ، سید میرمهدي شاه مهدي، محمود قلندر، حبیب الرحمن قلندر، مفتون، نصرالله خان نصر، حسین بخش کوثر غوریاخیل، او الف جانی ختکې نومونه د خاصې یادونې وړدي. که څه هم ددغوشاعرانو او لیکوالوله ډلې څخه ځینې په تحریک کې شامل نه وو خو له (پښتون) سره یې همکاري کوله.

امیر حمزه شینواری د خدايي خدمتګارو داد ب پالنې په باره کې لیکي: «د پښتو ادب په ځیره کې سرخپوش ادب هم څه کم ښایست نه دی پیدا کړی. د پیرنګی د جابر حکومت په وجه چې د (روه) په پښتون اولس کې کوم رد عمل پیدا شوی و او هغه د باچا خان په قیادت کې د هغه برخلاف کوم جهاد کړی و، هغه د پښتو ادب په عمارت کې د یوې اهمې ردې حیثیت پیدا کړی دی. پښتو ادب ته یې د نویونویو تشبیهاتو او استعارو بخښنه کړې ده. ښه ښه شاعران او ادیبان یې پیدا کړي دي.»
(د میرمهدي شاه مهدي د نشان سریزه، ټ-ځ مخونه).

۳) کله کله د یوه ادبي سبک په رواجولو کې منفرد اشخاص هم

لوی لاس لري. د دغو اشخاصو په ډله کې یو هم حمزه شینواری دی چې «د غزل پلار»، «د غزل استاد» یا «د غزل بابا» په نوم شهرت لري. حمزه شینواری د غزل په قالب کې نوې ساه پو کړه، عرفان او پښتونوالي یې د غزل په نغري میلمانه کړل، ښکلا او ظرافت یې ورسره کښېنول؛ پر زاړه تخیل یې نوې جامې وروا غوستې او د شعر ناوې یې د تشبیهاتو او استعارو په مرغلرو باندې سینګار کړه. شاعرانو چې دغه ښایسته ناوې ولیده بې اختیاره پسې روان شول او د خیبر ادبي مکتب یې جوړ کړ. په دې مکتب کې د لعل زاده ناظر، خاطر اپریدي، خیبر اپریدي، ساحر، باصر شینواري، سیماب شینواري، جوهر شینواري، عبدالقیوم کوثر، مراد شینواري، اکرم خان فاروق، احسان ظهیر او یارحسین سایل غوندې شاعرانو ګډون وکړ او په خپلو نغمو سره یې خیبر ته د خلکو پاملرنه واړوله.

٤) د پښتو فوکلوري ادب چې د عوامو ادب یې هم بولي، ترزیاتې اندازې د پښتنو خالص او نږه ادب دی، خو لیکلی ادب بیا تر زیاتې اندازې د تقلید له لارې منځ ته راغلی دی. زموږ کلاسیک ادب له عربي او فارسي ژبو څخه متأثر دی او په معاصر ادب کې د لویدیځې نړۍ په تیره اروپایي ادب اغیزې په زیاته پیمانه لیدلای شو. په واقعیت کې معاصر ادب، په کلاسیک قالب کې د پرمختللې نړۍ د نویو خیالونو او فکرونو ځایونه او ځلونه ده. په دې کې شک نشته چې په کلاسیک قالبونو کې هم نوښت راغلی دی خو په عمده توګه قالب زیات تغییر نه

دی کړی. لیکن دلته زمونږ اصلي هدف دادې تکي څرګندول دي چې په کوزه پښتونخوا کې له انګریزي ادبیاتو سره د آشنایي له امله د دې امکانات زیات وو چې همغلته دې د معاصر ادب د نویو ژانرونو زړي تیغونه ووهي. افغانستان لکه څنګه چې په وچه محاط هیواد دی هماغسې د نړۍ د نورو فرهنګونو له نفوذ څخه هم لیرې پاتې شوی و. یو شمیر عواملو، په طبیعي یا مصنوعي توګه، افغانان د تجرید په حالت کې وساتل اما په کوزه پښتونخوا کې تعلیمیافته قشر له انګریزي، اردو او یو څه له فارسي او عربي ادبیاتو څخه په استفادې سره د بدیعي ادب په برخه کې شایسته زیات پرمختګ وکړ.

۵) د پښتو معاصر ادب د پرمختیا په لاره کې ځینې خنډونه هم پراته وو او لا تر او سه شته. تر ټولو ستر خنډ د او چې هلته پښتو رسمي ژبه نه وه او د پښتو د خپرونو په لاره کې به دولتي واکمنانو ستونزې راپیدا کولې. نو چیرته چې د خپرونې امکانات لږ وي بدیعي ادب هم په مطلوب ډول پرمختګ نشي کولی. یو شمیر پښتنو لیکوالو په دې فکر چې د مخاطبینو دایره یې تنګه ده، په نورو ژبو کې لیکنې کړې دي. حتی امیر حمزه شینواري په ابتدا کې په اردو ژبه شعرونه لیکل، خوده ته خپل پیر او مرشد سید عبدالستار شاه لارښوونه وکړه چې په پښتو شعر ووایي. په پښتنو کې ډیر داسې پوهان او لیکوال تیر شوي دي چې په مورنۍ ژبه یې څه نه دي لیکلي او یا یې ډیر لږ لیکلي دي. هغوی فکر کاوه چې په پښتنو کې د لیک او لوست خاوندان لږ دي اما له دې نه غافل

وو چې ابتکاري اثر که په هره ژبه ولیکل شي هرو مرو د یو چاله خوا نړیوالو ته وروپېژندل کېږي. برسیره پردې، که پښتانه په خپله مورنۍ ژبه څه نه لیکي نو ددوی ژبه به څنګه غني شي؟ سره له دغو خنډونو په پښتونخوا کې پښتو ادب ته د پاملرنې وړ کار شوی دی.

## ادبي ځانګړتیاوې:

په اوسني وخت کې چې د پښتو ادب ګلبڼ په رنګارنګ ګلونو ښکلی شوی دی. باید د هر ګل ستاینه په جلا جلا پاڼو کې ولیکله شي، ځکه وایي چې: «هر گلی را رنگ و بوی دیگر است» او دا هم څرګنده ده چې د رنګ او بوی ستاینه په قلم کې نه راځي. ښه شاعران او ښه لیکوال تصنیف ته ځان نه تسلیموي ځکه چې په هر تصنیف کې ګډ خصوصیات بیانیږي. د شاعر او لیکوال په وینا کې چې هر څومره نوښت او انفرادیت زیات وي او هر څومره چې ځانته مستقل سبک ولري هغو مره دده وینا ارزښت پیدا کوي. له دغو ستونزو سره سره، ادبي کره کتونکی هڅه کوي چې د یوه عصر د ادب کلي جاج واخلي او نوروته یې ورو پېژني.

لومړی به د هنري نثر په باب خبرې وکړو. د پښتو معاصر هنري نثر په روایتي یا حکایتي بڼه کې راڅرګند شو، رواني یې پیدا کړه، روڼ او شفاف شو، خوږوالی یې وموند او د فرهنګیانو ادبي تنده یې ماته کړه. د منشي احمد جان په لیکنو کې هنري نثر د شعر مقام ته پورته شو. دده (آدم درخانی) د هنري نثر غوره بیلګه ده. د محاورو او اصطلاحاتو په مناسب استعمال سره د قصې ښکلا زیاته شوې ده. راحت زاخیلي په

(کونډه نجلی) کې همدغه سبک څلولی دی او هنري نثر يې په لنډه کیسه کې باب کړی دی. د پښتونخوا د نثر يوه ځانګړتیا داده چې فصیح، ظریف، او آهنګوال لفظ انتخابوي، د مثال په توګه، هغوی د «وګړواکۍ»، «ګړدود» «غونډله» پرځای د «جمهوریت»، «لهجه»، «جمله» په شان الفاظ، که څه هم له بلې ژبې راغلې وي، غوره ګڼي ځکه له يوې خوا فصیح الفاظ دي او بل دا چې ټول پښتانه پرې پوهیږي او د خپلې ژبې مال يې ګڼي. که څه هم د پښتونخوا د لیکنې پر ژبه د اردو ژبې او يو څه انګریزي ژبې اغیزه لیدله کیږي خو ادبي سبک يې کړکیچن او پیچلی نه دی. د ژبې طبیعي جريان تعقیبوي او له همدې امله د خپلې سیمې خلکو ته د پوهیدو وړ دی. د داستانونو ژبه معمولاً پسته، خوږه او محاورې ته نږدې ده.

د مضمون په لحاظ، د لومړي پړاو د استاني ادبیات کلتوري ریفورم، د استعمار پر ضد مبارزې، له مظلومانو څخه د فاع، د اسلامي او پښتني اخلاقي موازینو توضیح، او د مینې او دوستۍ موضوعاتو ته وقف شوي دي. د ثقافت يا کلچر په برخه کې عمومي تمايل دادی چې په پښتنو کې ځینې ناوړه دودونه او خرافي افکار بايد له منځه ولاړ شي او د پښتنولۍ ځینې نورمونه چې د هیومانیزم، دموکراسي، او د عصر غوښتنو سره سمون ولري ترېخوا لا زيات تقويه شي.

د انګریزي استعمار پر ضد مبارزه د لومړي پړ او عمده مضمون دی. په هغه وخت کې د پیرنګي د استعمار پر ضد څوډوله مبارزې

رواني وي: د سياسي ګوندونو په بنه، د روحاني مشرانو ترقيادت لاندې جهاد، او د منفرد و اتلانو ياوړو د هشت اچوونکو د لګيو عمليات. سياسي ګوندونو په ژبه او قلم تبليغ کاوه او د قرباني ځخه يې هم ځانونه نه سپمول. د سياسي ګوندونو په جمله کې د خدايي خدمتګارو غورځنګ د فرهنګ له لارې ستر خدمتونه تر سره کړل. د دوی په ادبي آثارو کې د ژمنی (تعهد) برخه پياوړې ده او په هغو کې يې د آزادۍ غوښتونکو اتلانو کارنامې ترسيم کړې دي او عاطفي بنه لري.

د دوهم پړاو په داستاني ادبياتو کې هنري بداعت ته زياته پاملرنه شوې ده. که څه هم د هند د نيمې وچې له ويش نه وروسته په لويديزه برخه کې نوی دولت مينځ ته راغی، سره له دې خدايي خدمتګارانو هغه يو مصنوعي او تحميلي دولت وګانه او خپلې مبارزې ته يې دوام ورکړ. خو دا بايد وويل شي چې د دغسې ليکوالو او شاعرانو شمير محدود و. په همدې وخت کې د پرولتاري ادبياتو بيلګې هم ترسترګو کيږي؟

هغه څه چې د داستاني ادبياتو په باب وويل شول د شعر په باره کې هم ويل کيدای شي. په پښتونخوا کې آزاد شعر ته د افغانی شاعرانو په اندازه تمايل نه ليدل کيږي خو د موضوع ساحه يې پراخه او د افکارو رنګيني پکې زياته ده. د ځينو شاعرانو په آثارو کې د هندي سبک او انګريزي ادبياتو اغيزې هم ليدل کيږي، خود خيبر مکتب، شعر د کلچر په خم کې رنګولی او غزل يې پښتون کړی دی. د پښتونخوا د شعر په تنده د طغيان او عصيان نښې هم ليدل کيږي، ليکن ښکلی او شاعرانه

طغیان چې د شعاروړکوونکو له ښکنځلو سره جوت توپیر لري د پښتونخوا په ځینو شعرونو کې د فارسي ژبې د ستر شاعر حافظ شیرازي د شعر په شان شاعرانه ښکلاوې هم په لومړي ځل لیدل کیږي او هم چې ورته ځیر شي په ښکلاکې ښکلاوې او «نور علی نور» پکې موندل کیږي. په دې اساس، د نامتو شاعرانو شعرونه باید لومړی ځل د خوند د پاره ولوستل شي او دوهم ځل د شاعرانه نزاکتونو، روابطو، او تناسب د پیدا کولو د پاره. په اکثرو شعرونو کې د بیت دوهمه مسری هغه کار کوی، لکه د آزاد شعر وروستی جمله چې تصویر بشپړوي. یو نیم شعر او یونیم نیمګړی داستان لوستونکي ته چانس ورکوي چې پاتې برخه په خپل ذهن کې بشپړه کړي کله کله نیمګړې خاتمه له بشپړې خاتمې څخه خونده وره وي.

د پښتونخوا معاصر ادب یولوی سمندر دی، تر هغې چې څوک دغه سمندر ته ورننه نوزي د هغې په لویې او شتمنی (غنا) باندې نه پوهیږي. دلته دزده کوونکو د لارښوونې دپاره یواز ې څوتکوته اشاره وشوه. اوس ددې وخت رارسیدلی دی چې د شعر او داستان څو تنه استازي وپیژنو او څو بیلګې یې ولولو.

## نامتو لیکوال او شاعران:

د ادبیاتو د تاریخ لیکونکي کله کله د ځینو عواملو په اثر په خپل قضاوت کې اشتباه کوي چې مهم علتونه یې دادي: (۱) ځینې شاعران او لیکوال لوړ سیاسي موقف لري او ادبي مؤرخ دده د شهرت تراغیزې

لاندې راځي (۲) ځينې شاعران او ليکوال نامتو پوهان دي خو ادبي آثار يې هغومره وچت نه وي. د دې ډېره چې د دغسې پوهانو درناوی شوی وي هغوی په لومړي کتار کې درول کيږي. (۳) د ځينو ليکوالو او شاعرانو آثار د ادبي مؤرخ په لاس کې نه وي يوازې شوېلګې يې دلته او هلته ليدلې وي نو کله د هغو محدود وېلګو په اساس قضاوت کوي او ياد کوم کره کتونکي له عينکو څخه په ارزيابۍ لاس پورې کوي. (٤) دادبي تاريخ ليکونکی هم خپل ځانته جلا معيارونه لري هغه ليکوال يا شاعر ته زيات ارزښت ورکوي چې د فکر يا عاطفې له پلوه د ادبي مؤرخ له فکري يا سياسي تمايلاتو سره نژدېوالی لري او يا د دې په خلاف، هغه ليکوال يا شاعر ته ارزښت نه ورکوي چې ايډيالوجيک اختلاف ورسره لري، شخصي حب او بغض هم بې اغيزې نه دي.

د دغو يادونو په نتيجه کې بايد ووايو چې زده کوونکي بايد پخپله هم د ځان د پاره مستقل قضاوت ولري او په ټوله معنی په کتاب باندې تکيه و نه کړي.

## شاعران:

فضل محمود مخفي، عبدالاکبر خان اکبر، محمد اکبر خادم، حمزه شينواری، فضل الرحيم ساقی، اجمل خټک، عبدالغنی خان، عبدالمالک فدا، سيف الرحمن سليم، يونس خليل، فضل حق شيدا، سيد رسول رسا، اشرف مفتون، قلندر مومند، سمندرخان سمندر، اياز داؤدزی، صاحبزاده فيضي، ايوب صابر، قمر راهی، پير ګوهر

رومان ساغر ، رحمت شاه سایل ، ساحر اپریدي ، سعد الله جان برق ، عبدالرؤف زاهد ، همیش خلیل ، لعل زاده ناظر شینواری خیبر اپریدی ، محمد اعظم اعظم ، اکرام الله گران ، محمد اشرف غمگین ، سلیم راز ، عاصی هشنغری ، اخونزاده فرمان ، مسافر ، سید محمود ظفر ، عبدالله جان مغموم ، عبدالرحمن شباب ، زیتون بانو ، مشتاق احمد فانی ، محمد نواز طائر ، محمد اسلام ارمانی ، سلطان محمد صابر ، رحمت الله درد ، طاهر کلاچوی ، سلمی شاهین ، ثروت جهان ، سیده بشري بیگم ، سید محمد تقویم الحق کاکاخیل ، تقی شراب هاشمی ، پریشان ختهک ، محمد غازي سیال ، عبدالرحیم مجذوب ، محمد اقبال نسیم ختهک ، راج ولیشاه ختهک ، عبدالقیوم مروت ، مجبور سورانی ، درویش درانی ، افضل شوق ، سعید گوهر ، عبدالکریم بریالی ، رینواز مایل . عبدالباری اسیر ، محمود ایاز او نور .

## کیسه لیکونکی :

راحت زاخیلی ، سر بلند خان د بدربنو ، عبدالخالق خلیق ، عبدالکریم مظلوم میر مهدي شاه مهدي ، سیدرسول رسا ، ماستر عبدالکریم ، شیرزمان غمجن (طایزی) ، قلندر مومند ، اجمل ختهک ، همیش خلیل ، نادر خان بزمی ، مبارک سلطانه شمیم ، زیتون بانو ، طاهر اثر اپریدی ، عبدالغفران بیکس ، ولی محمد طوفان ، ارباب رشید احمد خان ، طاهر بخاري ، رضا مهمندي ، اشراف حسین احمد ، سعدالله جان برق ، حسن خان سوز ، هدایت الله ختهک ، سحر یوسفزی ، محمد اعظم اعظم

قمرالزمان قمر، سیف الرحمن سید، عبدالکافي ادیب، اکمل اسد-آبادی، اشرف درانی، ساحر اپریدی، شاهد ختک، الهام گل نسیم، ثروت جهان کوکب، مظهر شاه کاکاخیل، جامداد ختک، رینواز-اورکزی، اکرام الدین اکرام، صاحب شاه صابر، او په لسګونو نور لیکونکی.

## ناول لیکونکی:

راحت زاخیلی، حمزه شینواري، سید رسول رسا، اشرف درانی، صاحبزاده محمد ادریس، شیرزمان غمجن (طایزی)، سلطان محمد ماتوخان، امیر محمد ساغر اپریدی، محمد ابراهیم شبنم، تکریم الحق-کاکاخیل روغ لیونی، غازي سیال، شیرمحمد خان شیر، او نور.

## ادبي څیړونکي:

دوست محمد کامل، مولینا عبدالقادر، اجمل ختک، همیش-خلیل، قلندر مومند، عبدالاکبرخان اکبر، عقاب ختک، سمندر بدرشوی، سیال کاکړ، عبدالحلیم اثر، سید رسول رسا، عقاب ختک، سید تقویم الحق کاکاخیل، محمد اعظم اعظم، رضاهمدانی، محمد-افضل رضا، راج ولی شاه ختک، اقبال نیسم ختک، محمد نواز طایر، پریشان ختک، اخونزاده فرمان مسافر، ایوب صابر، صاحبزاده حمید-الله، سلطان محمد صابر، فضل احمد غازی، عبدالکریم بریالی، عبدالباری اسیر او نور.

## طنز لیکونکی:

راحت زاخیلی، محمد اعظم اعظم، حسن خان سوز (مستعار نوم: شلـمانی)، عبدالمجید نازک، سعد الله جان برق، اجمل ختک، افضل رضا (مستعار نوم: مالگین ملک پوری)، مهدي شاه مهدي (مستعار نوم: سودایی) قلندر مومند، ایوب صابر، عبدالله جان مغموم (مستعار نوم: مرچکی) ډاکتر اسرار، سید تقویم الحق کاکاخیل او نور.

د فرهنگی نهضت لاربنوونکی: خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان.

یادونه: کله چې د پښتونخوا پر ادبیاتو بشپړ او جامع اثر لیکل کیږي هلته باید نه یوازې د لیکوالو او شاعرانو نومونه راوړل شي، بلکې باید د هغو د ادبي آثارو عنوانونه هم معرفی شي. برسیره پردي، په دې لړکې د ډرامه لیکونکو نومونه هم باید ذکر شي. په پښتونخوا کې تردې وخته څه کم یا زیات (۱۰۰) فلمونه جوړ شوي دي، د امکان په صورت کې دې د فلمي سناریو لیکونکي هم معرفي شي، ځکه چې د فلمي سناریو لیکنه هم ادبي نوښت ګڼل کیږي.

## منشی احمد جان (۱۲۶۷- ۱۳۳۰ هـ.ش):

د پښتو د معاصر نثر سرلاري، مولوي احمد قاضي، میراحمد شاه رضواني، او منشی احمد جان دی. د ځینو ادبپوهانو په نظر، منشی

احمد جان د معاصر هنري نثر مؤسس دی. دده مشهور آثار دادي:

۱- (هغه دغه) په ۱۹۲۹ع کال کې چاپ شوی دی.

۲- (د قصه خواني گپ) په ۱۹۳۰ع کال کې چاپ شوی دی. (۱)

۳- (تاریخ افغانستان) د انګریزي ژبې څخه ترجمه شوی دی.

## آدم درخانۍ

درخانۍ په سوات کې د یوه طاوس خان نومي پښتون لوروه او د پایو خان نومي یو پښتون هلک چنغله وه. یوه ورځ د درخانۍ د ترور د لورواده واو په هغه کې یې د کوزې باز درې په یوه آدم خان نومي خانزاده باندې سترګې خوږې شوې. «تپ له دواړه لاسه خیژي»

هغه هم زړه پرې بایلود. دې اور داسې لمبه وکړه چې دواده د خلاصیدو او د مېلمنو د رخصتیدونه پس دواړو په لاره کې یو بل ته په غلا غلا کتل. ماسخوتن په حجره کې چې آدم خان یوه ګوته رباب ووهلو نو یو سوړا سویلی یې وکړ او میرو، بلوخېلو خوږو یا رانوته یې د زړه حال وویلو.

د هغه دا مراد وچې په دې شپه د آشنا دیدن ته لاړی.

پر دوکورو نو ته تلل «د خالصې دل» نه و، ولې میرو، بلو ورته حلال کړي چرګان وو.

سمدستي یې ملاوتړله او شپه برې بازدرې ته لاړل. بلویې چرته د

---

(۱) هغه دغه او د قصه خوانی ګپ مجموعې د اتیا یمو کلونو په ترڅ کې د بناغلی قلندر مومند له مقدمو سره بیا په پېښور کې چاپ شوې (هـ).

څوکۍ د پاره ودراوه او دوی دواړه د درخانۍ کورته ورغلل. میرو ورته ږومبی روگو در صحیح کړی و. آدم خان د آشنا کټ ته ورسید. درخوتار په تار په پالنگ او ده پرته ده. څنگزنې شپوږمۍ اویو نیم ستوری یې په غلا غلا دیدن کولو. ده یو ساعت په غټو سترگو ورته و کتل. چې ښه زور زیریې ویوست وروغوندې یې د ښپې کټه گوته ترې نه ونیوه او ویښه یې کړه. چې درخوسترگې وغړولې نو هغه بشره ورته ولاړه وه چې د چاپه خیال کې او ده شوې وه. حیرانه شوه چې دا خوب دی که ویښه. څوځلې یې سترگې و مښلې او بیا یې وغړولې. چې ښه یقین یې راغی نو پاڅیده او ورتر غاړه وته. غوړکې یې ورته ډیر ډیر هر کلي ووایه او بیا یې د خپلې مینې د فتر ورته پرانیست. په خلکو لویه شپه تیره شوه او په دوی د سترگو رپ و. میروشپیلی وواهه. مطلب یې دا و چې چرگانو بانگونه ووې، ملایانو اخ توخ جوړ کړ. هسې نه چې شرمینگې جوړه شي او د اوښ په شاموسپی ونه خوري. آدم خان، درخانۍ داوښکو ډکې سترگې یوبل نه جدا شول.

دې نه پس د آدم خان د عمر مزه ورکه شوه او ورو ورو داسې له برمه پریووت چې کټ یې ونیو. په درخانۍ هم خپلې مینې زور وکړ چې صبریې خلاص شو نویوځل داستازي په خوله او یو ځل د دایي په خوله څه نخښې نښانې اوسوال ځواب یې ولیږه را ولیږه. پس له دې پایا و هم زر تر زره واده جوړ کړ او د درخانۍ ډولۍ یې راوړه. آدم خان ډیرې ایرې په سرواچولې او ډېرې خاورې یې ونوستې. آخریې ځان بې شرمه کړ او

خپل پلار حسن خان ته یې غوټ پریکړي وویې چې که زما ژوند دې په کار وي نو دا بې له درخونه گران دی. حسن خان ته دا خبره د پښتو په مذهب نا روا ښکاره شوه . . .

څو ورځې پس د هندوستان پاړوګان چیرته د آدم خان په حجره راپیښ شول چې د آدم خان یې داسې بدحال ولید نو تپوس یې وکړ. میرو ورته کیسه تیره کړه. هغو د دیدن ذمه ووهله. ړوند د خدای نه څه غواړي دوه سترګې. آدم خان او میرود جوګي جامې واغوستې، سرونه یې ببر کړل او کناوې یې په ښو کړې. د پاړوګانو بالکیان شول. تلل تلل په بره بازدره ورغلل، د پایاو په ډیوډۍ کې یې پیټیا رونه کوز کړل. د مارانو تماشا یې جوړه کړه. د بین په آواز ډیر هلکان، جینکۍ او نرښځې پرې راغونډ شول. پایاهم ورته راووت. درخوهم تمبې نیمکښو کړې. آشنا سره یې د سترګو هرکلی وکړ. « چا ماران کتل او چا یاران. » پاړو ګانو پایا ونه بنداره واخیسته او کور سره یو باغ کې یې دیره ونیوه. هر چیرته چې به ګرځیدل خو دلته به راتلل.

درخو هم وخت بې وخته باغ پلو مخ ښکاره کولو. څوورځې پس پایاو پرې بدګمانه شو او دوی یې له باغ نه وشړل. دا اسره هم خوره شوه.

لږې ورځې پس آدم خان یخنۍ ووهلو او تبه بریښ یې ملګرې شول. په دارو درملو ښبګنه ونشوه او آخرېې د دنیانه سفر وکړ. د آدم خان د مرګ خبر وګرځید او درخو پرې خبره شوه نو سمدستي په زمکه را پریوته. سترګې یې حق ته ونیولې. خپل پردې په راټول شول، لاس پښې یې ورته

دمبنل، سپیلنی یې ورته لوګی کړل، نظر ونه مات شول.

لنډه داچې دم دعا، بند، تعویذ هرڅه خلاص شول خود رخانی وه چې سا پکې ونه غړیده، یخه تخته وه او تخته پاتې شوه. چا هوښیار بنده چې وکتنه نو روح یې پخوا الوتی و.

دا خبره هم مشهوره ده چې دوی دواړه په مړونې قبرکې یو ځای شوي دي. خو دا راته هسې د یارانو ګپ ښکاري چې خلک یې خپل زړه د خوشحالو لو لپاره وايي. دا هم خلک وايي چې د آدم خان د قبرډ کې نه چې څوک شهباز جوړکي نو رباب یې زر زده کیږي. و الله اعلم.

## راحت زاخیلی (۱۸۸٤ - ۱۹٦۳م):

راحت الله راحت د سید فریح الله زوی په (۱۸۸٤ع) کې د نوښار په زاخیل نومي کلي کې زیږیدلی دی. راحت زاخیلی لومړنی لیکوال دی چې په پښتو ژبه یې لنډې کیسې او ناول لیکلي دي. (۱) همیش خلیل دده په باب لیکلي: «... د خپل پلار سره د ابتدا یي زده کړې نه پس د دیني تعلیم حاصلولو په غرض یې وطن پریښو. دغه دوران کې راحت صاحب د عربي صرف و نحو او طب په زور نظر مطالعه کړل. د

(۱) د راحت زاخیلی د آثارو شمېره تر شلو اوړي. د لنډو کیسو مجموعه یې ښاغلی افضل رضا تیاره کړې ده او د پېښور پښتو اکادمي (د راحت افسانی) په نامه خپره کړې ده. ناول یې (ناول د ماه رخې) نومیږی، چې په ۱۳٦۳ هـ ش کال د کابل پوهنتون له خوا د ښاغلی لطیف بهاند په زیار چاپ شوی دی. د شعرونو یوه مجموعه یې (داغونه) نومیږي چې ارواښاد رضا همداني توله کړې ده او په پېښور کې چاپ ده. بله مجموعه یې داغستان نومیږي چې زلمی هیواد مل توله کړې او په کابل کې چاپ ده. (هـ)

خپل کشر ورور سید شفقت الله په ناڅاپه مرگ راحت صاحب وطن ته واپس راغلو. د ورور په فرقت راحت صاحب ته یوه داسې صدمه ورسیده چې دا صدمه روستوبیا د اشعارو په شکل څرگنده شوه. د ورور مرگ هغه په میرو او ځنگلو سر کړو. د فراق په دغه لمحه کې راحت صاحب د خپل محبوب ورور په بیلتون کې پنځوس د فارسۍ او درې د عربي غزلې وویلې. دغه شان فطرت د پښتو ادب د دې نوموړی ادیب او لیکوال د زړه تارونه د هغه د ورور د هجر په مضراب داسې تهنگ وهل چې لا تر اوسه د پښتو ادب په ورشوکې خپلې سوې ساندې وایي. ویلی شی کوم وخت چې د راحت صاحب اشعار د هغه پلار ولیده نو ویې ویل: تا خپل لیونتوب دې د پاره په کاغذ ښکاره کړ چې نور خلک پرې لیوني کړې. »

راحت زاخیلي په (۱۹۰۸م) کې د پښتو لومړنی او وه ورځنی اخبار ( افغان) خپور کړ او له دې امله، د لومړنیو پښتو ژورنالیستانو په کتار کې هم درېږي. راحت صاحب ځینې آثار په پښتو ترجمه کړي دي او د حمزه شینواري په قول« د بلې ژبې نه نثر په نثر او نظم په نظم پښتو کې چې راحت صاحب ترجمه کوي داسې بل زوی پښتنې د نیا لا نه دی پیدا کړی ».

د راحت زاخیلي (کونډه جینۍ) یو ادبي شاهکار دی. دده د ادبي خدمتونه په باره کې د پښتو دغه لنډۍ صدق کوي:

ستا د ښایست گلونه ډیر دي
ځولۍ مې تنگه زه به کوم یو ټولومه

دلته به دارو اښاد راحت صاحب د هنري نثر د ښود لود پاره د (کونډه جینۍ) په ځای یوه بله لنډه کیسه را نقل کړو. دغه کیسه په شاعرانه سبک لیکل شوې چې هم لنډه کیسه ده هم شعر دی.

## سین چپې چپې - ابا سین چپې چپې

په نغښتو متو چې ( بخملۍ )د بروزو شوړه تنور ته وروا چوله نو د اورلمبو به یې د سرنه اوچتې ژبې ووهلې. د هاړ غرمې او د تنور تاوېې په بدن باندې د خولو نېزرامات کړو. شین خال یې د زنې په کوهي کې غوپې ووهلې. سپین د نرۍ خامتا کمیس یې وربوري داسې لیوشو چې د بدن په خوځیدو یې د شا په تخته د نرو نرو گونجو گلگاري کیده او ورانیده.

(حسن) کورته د راننوتلو سره وویل:

دا د غرمې تنور یې تود کړ
شینکي خالونه یې خولو کې غوپې خورینه

بخملۍ موسکۍ شوه: ستا خوله کې هر وخت تپې وي.

حسن وویل: بل هیڅیر ته زما تپه نه رایاد یږي خو چې تا ووینمه نو.

بخملۍ د بنو غشي، لکه سنگینو نه زمکې ته تیټ کړل خپل کار کې یې تلوار را اواخیسته.

حسن: په تامې د اورخ پیر زونه ده . ارمان مې دا دی چې تـه لکه بي بي کټ کې ناسته وای او بل چا در له په خولې سړ ولی. . . خو . . . خو.

بخملی: یعنې زه شله ګیدړه وای یا په نري پرته وای چې بل چارا ته په خوله کې را کولی؟

حسن: خدای دې نه کړي هسې . . .

بخملی: نو ښتنه په کار بده نه ښکاري او هره ښځه هم او ښیا په تیره په خپل کار زه ډیر شکرونه وایم چې د خپل . . . . . خدمت کوم!

حسن: زما نوم دې ولې وانخیست؟

بخملی په کټ کټ وخندل. داسې خبرې به د دوی هره ورځ کیدې خونن د خولو سپرلي بل رنګ پیدا کړی و.

حسن: کمیس دې د خولو له زوره داسې غورځي، لکه د سین چپې.

بخملی: نه! د اباسین چپې

حسن: نو چې لږ ترې بیرته شو هسې نه چې ډوب مو کړي . . .

اولاړ د لوخې کچه څېرې لاندې کښیناست. د ینه پس دا د دوی د مینې محبت ظاهرولو مشغولا او د خبرو ګډو لو بسم الله شوه «سین چپې چپې - اباسین چپې چپې» ددوی په وخت. د خندلو په وخت، د ژړلو په وخت. لنډه دا چې د سلام ځای د محبت دې کلمې ونیو.

ددوی محبت ته به خلکو په کمه سترګه کتل؟ دا د هر چا خپل نیت و. د خلکو په مخکې به دا کلمې په سترګو کې ویلې شوې. د حسن سترګې چې به ځیر ځیر شوې نو د هغې به تیتې شوې، لکه چې چا ویلي دي:

په لکونو اشارې شته د ښایست په پوتې نازکې
په کروړونو سلامونه شته د مینې په پټ رازکې

شپې او ورځې اوړیدې اوښې تیریدې. د تیرې سنې (۱۸۵۳ ع) په اوړي کې ځای په ځای و باغوندې جوړه شوه. په غره په سمه د مړو کړساوه. ډیرې یتیمان او ډیرې کونډان کړل، ډېرې يې بورې کړې او ډېرې یې سرتورې کړې. حسن او بخملی هم په دې شمیر کې را غلل.

له فاني محبت نه يې ابدي محبت خوښ کړ، خلکو آسمان ته خولې بقې کړې، باران د پاره خیراتونه، زارۍ وشوې. خدای سره هر څه ډیر دي. د باران فرشتو د آسمان د سمندر ورخ را مات کړ او لکه د زوره ورې ګرمۍ زوره ور باړانو نه را ښکې شوه . . .

یا خوچا د باران سوال سره خیر نه وغوښتی او یا خو د ګرمۍ په آخرینه ورځ د حسن او بخملۍ په نامراده شوې مینه باندې آسمان داسې بې اختیاره وژړل چې د چا داسې ژړا یاده نه وه. دومره سیلا بونه چې ډیر کلي يې یوووړل؛ ډیرې مقبري يې هوارې کړې، ژوندي يې د پولۍ پړق ته کښینول او مړي يې د کالي دریاب تلې ته ورسول . اباسین خو اباسین دی، د لنډي او سوات د سیند نیزونو هم د تاریخ د پاڼو یو ګوټ کې ځای وموند.

« سین چپې چپې - اباسین چپې چپې »

عین هغه ځای نه چې کوم ځای لنډی او اباسین غاړه وزي، دا وبوله منځه يوې زرینې ښاپیرۍ وزرونه پرقول او آسمان پلو ته و چته شوه. د

مازیگري لمر او د اوبو د پړقا په رنګینو پلوشو کې مخ په قبله د هغو دوو مسافرو میلمنو استقبال ته والوته کوم چې د څپو په بادي اوښانو سواره راتلل: «سین چپې چپې - اباسین چپې چپې» ښاپیرۍ د هغو په سرونو د خپلو ځلیدونکو وزرو سوري وکړ اوور سره پښتنه شوه. مسافر په داسې سیالۍ راځي چې کله یو مخکې شي او کله بل. هر مخکې چې یو فرلانګ نیم لاړشي نو د اوبو په یو چورلک کې د خپل اوښ مهار دومره راتاو کړي چې وروستنی وررسي، او جوړد «سین زنده باد» او «اباسین زنده باد» چیغه هم وباسي، ځکه چې خلکو جدا جدا ښخ کړي و وخوسین یو ځای کړل. خیر آباد سره دادواړه یو قطب بل سویل لوري ته بیل شول. ناڅاپه د قطب غاړې مسافر د اباسین یوې زوره ورې چپې د سترګورپ کې د سویل مسافرته څو قدمه مخکې بوته خو بیا راستون شو. ملګري ورته د تورو ویښتو په بوکره کې پټ مخ راورسیده «سین چپې چپې، اباسین چپې چپې» دواړه داسې غاړه غړې شول چې د اباسین چپو څه چې د غرونو تړو هم نه شو جدا کولای، ښاپیرۍ د زري وزرو په کفن کې ونغښتل او داوبو تل ته یې وسپارل.

د غرونو څوکو او د اکبر پاچا د قلا د یوالونو په زوره چیغې کړې: «سین چپې چپې - اباسین چپې چپې».

## حمزه شینواري :

ابوالمراد حمزه شینواري په (۱۹۰۷ع) * کال د دسمبر په میاشت

(*) استاد حمزه شینواری د ۱۹۹۴م کال په فروري کې ومړ او په لواړګي کې خاورو ته وسپارل شو (هـ)

کې د خیبر په لواړګي کې د ملک بازمیرخان (۱) کره زیږېدلی دی.
د (ځلنده ستوری) لیکوال اخونزاده فرمان مسافر دده د کوچنیوالی ژوند داسې انځوروي: «د ابتدايي تعلیم په غرض د خپل کلي په سکول کې داخل شو. د تعلیم حاصلولو څه نه څه شوق یې لرلو، خواستاذ صیب په ابتداکې هلوود دوی دا شوق په نسبت او پریشانی بدل کړو. واقعه داسې وه چې یوه ورځ دوی په تختې باندې د پټې لیکلو په ځای د انسانانو خاکې راښکودې او په زړه کې من من غټیده چې استاذ دا ووینې نو ډېر داد به راکړي. او ماشومان چې څومره په داد او شاباشې خوشحالیږي څه پته خبره نه ده. خو هغه نیک بخته چې د انسانانو هغه خاکې ولیدې نو بینت یې راواخیستو او څغه یې پرې راوویسته چې دادې څه کړي دي؟ او بیا یې نه سرکتو او نه پښې او داسې یې ووهلو چې په څغو یې د خواوشا کیمرو او سیدونکي هم راخبر شول. حمزه صیب تردویم جماعت پورې راورسیده خو عاقبت یې له سکول نه تیښته غنیمت وګڼله. له دې کبله مشرورور په اسلامیه کالجیټ سکول پېښور کې داخل کړو. خو هلته هم دا حال و. وخت په وخت به د سبق نه پټیدلو او سزاګانې به یې خوړې نتیجه دا شوه چې په لسم جماعت کې یې سبق نیمګړی پرېښود.»

---

(۱) په (اوسنی لیکوال) کې د حمزه د پلار نوم بازمیر خان او په (ځلنده ستوري) کې میربازخان ښوول شوی دی. ددې خبرې سپیناوی په کار دی.

حمزه صیب هم په دې باره کې داسې لیکي : «دوړو کوالي نه ز ما طبیعت د سبق سره جوړ نه و او ما به د تعلیم نه ګریز کاوه. په پنځم جماعت کې زما شاعرانه فطرت غزونه وکړه او ما د شاعرۍ بسم الله په اردو ژبه وکړه. مولانای محترم حضرت عبدالقادر صاحب به ما ته اصلاح راکوله. د نهم جماعت نه پس زما آزاد فطرت د هر یو قید ځنځیرونه وشلول او ما تعلیم ته په مخه دې ښه وویل. پلار مې یو مالدار ملک او سرکاري ټیکه دارو، د معاش د غم نه وزګاروم. په اردو ژبه مې افسانې او غزلې لیکلې . . . په ۱۹۲۳ ع کې ما ته خپل شیخ سید عبدالستار صیب چشتي هدایت وکړ چې زه دارد و ادب په ځای د خپلې مورنۍ ژبې پښتو ادب ته توجه وکړم ځکه چې د هغوی په خیال ما په خپله ژبه ظلم کاوه او د هغوی د ارشاد څه داسې اثر و چې زما ذهن په معجزانه طور دارد و ادب د ګلانو د کټه لمن ښنډ وهله او د خپلې ژبې اغزن ماحول ته مې غېږ پرانسته.»

داسې ښکاري چې دا د پیر صیب برکت وچې حمزه یې د پښتو ادب غېزې ته ورواچاوه. حمزه د غزل پلار شو او ډېر زیات شاعران د ده په پله روان شول. ده دادبي او فرهنګي ټولنو په جوړولو کې هم د رنه ونډه اخیستې ده. د استاذ حمزه (۱۹) اثره چاپ شوي دي چې په هغو کې یې غزونې، یون، بهیر په خاصه توګه د یادونې وړ دي. (۱) ده د (نوې-

(۱) د استاد حمزه د منظومو آثارو کلیات په شپږو ټوکونو کې د پېښور د پښتو اکاډمي له خوا چاپ شوی دی. په دې کلیات کې د استاد ټولې چاپ شوې شعري مجموعې او ډېر ناچاپ شعرونه راغلي دي. د کابل منظومه سفرنامه یې هم په ۱۹۹۹م کال په پېښور کې چاپ شوه (هـ).

چپې) په نوم یو ناول هم لیکلی دی. (د غزل په اننګوکې) تر سرلیک لاندې داستاد حمزه شینواري د غزلو منتخبات د زرین انځور له سریزې سره په (۱۳٦٤س) کې د قومونو او قبایلو دچارو وزارت له خوا چاپ شوي دي. په دغه رساله کې د شعر، غزل، او حمزه په باب په زړه پورې مطالب لیکل شوي دي.

د حمزه د شعر په باب ډیرو ادیبانو لیکنې کړې دي. څرنګه چې په دغو لیکنو کې د غزل پر ماهیت هم رڼا اچول شوې ده نو د لوستونکو د استفادې دپاره به یو څو بیلګې راوړل شي.

نامتو اد بي مؤرخ دوست محمد کامل وایي: «ښاغلی حمزه د یو خوږ من زړه او فکرمن دماغ څښتن دی او سره ددې دولت ورله خدای یو روڼ تخیل او شګفته مزاج هم بخښلی دی. ډیرو کسانو به د فلسفې، ساینس او فنونو کتابونه د ښاغلي حمزه نه زیات لوستي وي خو تر څو چې زما د علم او تجربې تعلق دی داسې کسان ډیر لږ دي چې ژوند او کائنات طرف ته یې مخ دومره فلسفیانه او ساینسي وي، لکه د ښاغلی حمزه او په ښکلا او ښایست دومره مین، لکه هغه.»

طاووس شینواری لیکي: «. . . حمزه نقاش فطرت او د خپل وخت حافظ شیرازي دی. ښه لیکونکی او ډیر ښه غزل ګوی دی. د غزل لمن یې دومره ارته کړې ده چې د هر رنګ ژوند مسر تونه او خوشحالی پکې شته او د هر لوستونکي د طبیعت برابر سامان لري. داسې نوي نوي ګلونه یې کرلي دي چې ښایست یې دایمي خوشحالي ده. د حمزه شعرونه

هغه قیمتی لعلونه دي چې تراشل نه غواړي، هغه ښایسته ناوې چې د سینګار محتاجه نه وي، هغه مې ناب چې نشه یې ابدي وي او یوه نوې مسحور کن فضا پیدا کوي، هغه ځلیدونکی ستوري دي چې په آسمان دادب کې د د بد بې او د جلال جلوه کوي. . . .

حمزه یو کامیاب شاعر دی او په اصلي معنو کې شاعرانه زړه او دماغ لري. دده د شاعرۍ خپل رنګ دی، و چتې ساده ګۍ یې په کلام کې نوی روح اچولی او هم دغه وجه ده چې په کلام کې یې جاذبیت او خوند دی. . . په کلام کې یې داسې سوز، شیریني او خاموشه رواني ده چې زړه ته تسکین، روح ته لذت او د ماغ ته مسرت او تازګي ورکوي. (د غزونې مقدمه، ٤ مخ).

فاروق شینواري لیکي: « . . . د حمزه په رنګینه او فلسفیانه شاعرۍ کې که هر څو د تغزل رنګ غالب او د تصوف پرتو زیات دی ولې هغه بیا هم د بې غرضه او د تعصب نه پاک قومیت د ډیر ژور او عمیق طرز او انداز نه خالي نه ده او په ډیر دقیق او باریک بیان یې د قوم د خودي او حمیت او مروت نه ډکه نفسیاتي او احساسي نقشه راښکلې ده. . . » (د غزونې مقدمه ١٠ مخ)

اجمل ختک لیکي: « حمزه صاحب په حیث د لیکوال، ادیب، شاعر، عالم، نقاد او فلسفي دومره ژور نظر او وسیع تابلو لري چې نن د ژوند او فن داسې مضمون نشته چې هغه پرې د قلم سیند په ګډا ګډا زغلولی نه وي. » (د غزل په اننګو کې، (د) مخ)

اوس به راشودې خبرې ته چې «مشک آن بود که خود ببوید، نه آن که عطار بگوید.»

## دادي د غزلو څو بيلگې:

يـاره، چې آسـمـان تـه دې بـانـه گـوري
سـتـرگـې دې زمـا پـه مـخ کـې څـه گـوري
ښـکـلـی نـظـر سـتـا چـې بـې قـراره دی
زړه تـريـنـه ورک شـوی دی کـه زړه گـوري
شـونـډې دې خـواږه خـواږه سـتـونـه کـړي
سـتـرگـې دې آشـنـا ولـې تـراخـه گـوري
سترگې چې د سـتـرگـو پـه لار زړونـه وړي
څـوک د تـورې شپـې بـه چرتـه غلـه گـوري
غـل د مـحـبـت غـلـطـيـدای نـشـي
څوک چې پـه مـحفل کـې چاتـه نه گوري
خشکې چې آرمان مې چينې سترگې کړې
لاړ د زړه پـه تـل کـې مـې اوبـه گـوري
زه حـمـزه پـه زړه هـم ورکـتـی نـشـم
څـه پـرې کـه آشـنـا مې پـه لـيـمـه گـوري

**

چې پـسـرلـی پـه مـوسـيـدو ښـکـاري
ښـکـلـې څـوانـې پـه ويـښـيـدو ښـکـاري

پیاله په سر، ګلونه بیا راغلل
د زړه دفتر په خوریدو ښکاري
پیاله د ګل شوه د شبنم نه ډکه
داغ د لاله په ډوبیدو ښکاري
د نرګسی سترګو په ست مې قسم
پیاله له ما په کړیدو ښکاري
زور د ګلانو شو آشنا را شه
سترګې زما په مړیدو ښکاري
پیاله زما شوه د نګهت نه ډکه
نشه زما په کمیدو ښکاري

***

لاځوږ سې د ګریوانه پاتې دي
وحشت... ستا په زړه کې څه پاتې دي
دا خوته ولوله چې سترګو کې دي
نورې خبرې مې په زړه پاتې دي
ستا مې ښکلا زما دې زړه واخیستو
تا سره څه، ما سره څه پاتې دي
سوال خو مې اورې خو جواب نه کوې
لا په خوږو کې دې تراخه پاتې دي
اوښکې هوښیارې شوې بهرنه راځی

جونه شوې پېغلې په کاله پاتې دي
ستا د هند کې بانه که نيغ وي څه شي
لاڅه شملې د پښتانه پاتې دي
چې په يو وخت فلک پيما وو هغه
مينه کې سر په زنګانه پاتې دي
ورلې ځواني دې زما څه کړه آشنا
تله دې په ځای لاړې راتله پاتې دي
په خلاصيدو شوه د زړه وينه حمزه
لاډير غمونه ميلمانه پاتې دي

***

تل به په لارد ميړنو سره ځم
يمه پښتون د پښتنو سره ځم
د مليت نمره د پرخې په څير
ستا ددې شوخو پېلو شو سره ځم
دا چې خرد هم په ملت ځاروي
زه د همداسې ليونو سره ځم
پام کوه زه هغه نظر نه يمه
چې به په دود د سپيلنو سره ځم
واې اغيار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم

راستنبدی چې نشي وخت خونه یم
خود حالت د تقاضو سره ځم

کړمه جهان چې د پښتون، زلمی
د خپلو پیغلو حوصلو سره ځم

وړه مستقبل ته د ماضي روایات
زه د خپل حال د ولولو سره ځم

څو چې راغونډ په یوه مرکزیې نه کړم
هرې تپې ته د جرګو سره ځم

حمزه سفر که د حجازوي نوهم
زه د پښتون د قافلو سره ځم

***

تندی د ساقي تریو تشې کاسې شوې ځئ چې ځو
ناسویو پتنګانو د یوې مړې شوې ځئ چې ځو

بې لارې وو، په لار شوو چې رهبر شورانه ورک
موسکې راته له ورایه مرحلې شوې ځئ چې ځو*

یارانو په پښتون آشنا مې دانه وګمان
جرګې له نیمې لارې راستنې شوې ځئ چې ځو

شاید غرور یې مات که د ازمونږ بلانو شئ
رندانو د ساقي چې سترګې سرې شوې ځئ چې ځو

* په ظاهر کې داسې ښکاري چې د شاعر مقصد به کوم پاکستانی رهبروي، لیکن دا بیت په اصل کې تصوفی مفهوم لري او له مرحلونه غالباً د شاعر مراد د سلوک مقامات دي.

محفل ته رقيبان يې په خپل ځای راواستول
اوس جوړې نورې نورې تماشې شوې ځئ چې ځو
تل ستوری رهبري کاپکې کم دی غلچکې
جو پې تيرې له پاسه راخورې شوې ځئ چې ځو
واعظه راته نن کړې نصيحت په نوي رنگ
ملگريو داقصې خواوس زړې شوې ځئ چې ځو
شايد چې بلې شوې ده ډيوه د ميخانې
ماښام شود آسمان لمنې سرې شوې ځئ چې ځو
حمزه وايي بدل به کړي د وخت اکر بکر
چې سترگې د حالاتو پښتنې شوې ځئ چې ځو

***

نورې قصې وايه چې آسانې دي
پريږده د الفت خبرې گرانې دي
رامې شي ليمو ته د ديدن په وخت
اوښکې څه ناپوهه رقيبانې دي
سترگې مې لوستې شي د فطرت کتاب
مخ ته د آشنا چې شي اميانې دي
ستا د جلب شوق يې وي، راپيښې شي
دامې که سلگۍ دي خومهمانې دي
گران شوهسې ستا د وصل مې ولې

تل چې د عاشق وينې ارزانې دي
غم د هجريو رتلی بل ځواب
داسې مرض داسې دوايانې دي
ښکاري چې حمزه په زړيدو يې اوس
لا دي چې جذبې له پخوا ځوانې دي

***

د هغه سترګو پښتنو خبرې
ځنګه درنې وي د درنو خبرې
دا سترې ژوند دې مبارک شه مينې
زده چې آشنا کړې په ليمو خبرې
زاهده پريږده د تسپو خبرې
کوي ماحول د زولنو خبرې
درنه به وانه وړمه پوه شوې که نه
درته مې وکړې په پښتو خبرې
د تندې ګونجې دي، مغل خونه يم
چې کوې نن د تا ترو خبرې
دا بو بږ نيدلې هوسې سترګې د تا
وکړې ناځا په د زمرو خبرې
د حمزه زړه ته د لاسه ورکوه
دا دې آرمانه د زلمو خبرې

## اجمل خټک:

محمد اجمل خټک د پښتو ادب په آسمان کې يو ځلانده ستوری دی او کله چې شاعران او ادبيان د ادب آسمان ته ګوري نو غالباً تر ټولو مخکې د دغه ستوري ځلا ته متوجه کيږي. په دې کې شک نشته چې د دغه ستوري په شاوخوا کې د رومانيت تر څنګ د حماسې سرې اوريځې هم ګرځي راګرځي چې ځينې کسان يې د حماسو په ځای له رومانيت او شاعرانه تخيل سره زيات مينه لري. نامتو کره کتونکی (اياز داؤدزی) هم په دې باره کې يو څو خبرې لري چې وبه يې لولو:

« (د غيرت چغه) چې د حماسي ډولو نظمونو مجموعه ده که هر څو د پښتو په نوې قامي شاعرۍ کې يو جګ مقام لري خو که د رومانيت هغه رنګينه پرده ترې لرې کړې نو بس د وخت آواز غوندې څيز به پاتې شي - چې د وخت پيدا واروي، د وخت د پاره وي، او چې وخت تير شي نو دغه آواز هم د تيروخت په تيارو کې ورک شوی وي. وختي غوندې جذبوته، دوختي تقاضا غزونوته دوامی ژوند بخښل يو ډير لوی کار دی. دا هم د اجمل غوندې د يو ستر فنکار برخه وي چې د « نعره بازۍ » غوندې ولولوتنده هم د فن په آب حيات سړولی شي. » (اوسنی ليکوال، ۱۸ مخ)

محمد اجمل خټک د حکمت خان زوی د خوشحال خټک کورنۍ ته منسوب دی. د (۱۹۲۵م) د اپريل په مباشت کې په اکوړه خټک کلي کې پيدا شوی دی. اجمل چې تر اتم ټولګي درس ولوست نو بيا يې د

اقتصادي ستونزو له امله ښوونځی پرېښود ، لیکن په کور کې یې د آزموینې د تیرولو د پاره تیاري نیوله او په پای کې یې له پنجاب یونیورستۍ نه د فارسي «منشی فاضل» دارد و «ادیب فاضل» او د پښتو «هانرزان پښتو» علمی درجې واخیستې.

د اجمل خټک د ژوند زیاته برخه په عملي سیاست کې تیره شوې ده. څو ځله یې بندیخانې ولیدې او وروسته کابل ته راغی. په کابل کې یې د ظاهرشاه له سلطنت نه نیولې د نجیب الله تر دورې پورې د افغانستان حالات په سترګو ولیدل او بیا د روغې جوړې د تګلارې له اعلامیدو وروسته پاکستان ته ستون شو. د شعر څو مجموعې لري چې «د غیرت چغه»، «دوخت چغه» «ګلونه تکلونه» ، او «ګل پرهر» نومیږي. «دازه پاګل وم» یې د هنري نثر بیلګه ده چې په هغه کې یې د بندیخانې حالات تصویر کړي دي.

## د شعر بیلګې:

غتان غتان، نیکان نیکان پیدا دي
دوی خوله ځایه جنتیان پیدا دي

ځئ هغو خوارو له جنت وګټو
څوک چې له موره د وزخیان پیدا دی

چې نیشه د استبداد لري په سر کې
ما ته یو دی که مغل دی که افغان

چې زما د کورازغي ته ګاره ګوري
وایم اور شوی د هغه په ګلستان

ملګرو، نور په لوګیدوو نشوه
ځئ چې لمبه شو دا خپل ځان وسیزو
د نوی ګل د خصماني د پاره
دا زوړ خوږلی ګلستان وسیزو

***

لکه تېپه د یوماشوم شپونکي د خولې نه ووزي
په کاڼو تو کې خوریږي ځي ورکیږي چرته
لکه وږمه د خوشبو ډکه د اغزو په منځ کې
په پاڼو پاڼو کې ګډیږي ځي خوریږي چرته
لکه یو پاکه پلوشه د سحرني ستوري نه
په توربخن سحر رالویږي ځي تیریږي چرته
یا لکه اوښکه په لیمو کې د نیمزالې کونډې
چې بې اسرې غونډې ښکاریږي ځي پټیږي چرته

## د ویښ زلمي سندره

ډیر د رومان د دنیا
په رنګینو د وکه شوم
هم په خوږو دوکه شوم
هم په ترخو د وکه شوم
ډیر د حسین خوبونو
په تلوسو دوکه شوم

هم په تر خو دو که شوم
هم په خورو دو که شوم
نور په رنګينو نشواوده کيدی نشمه
بس د ريانغموته نور ګډيدی نشمه
ساقي زما په خوا کې
مه کړه نګوه جامونه
لر کړه دا چنګ ورباب
مه سوروه تارونه

***

زه د غيرت د وينې
يوه توده څريکه يم
نه يم په چونګ اوبو کې
زه سرېدو ته پيدا
زه د ننګيال نيکونو
يو غيرتي کريکه يم
نه يم په لام و لباس
غلي کيدوته پيدا
زه خوريدوته پيدا، نوپټيدی نشمه
د ستا په زيراوپه بم کې ورکيدی نشمه
ساقی، زما په خوا کې

مه ګرځوه جامونه
لرکړه دا چنګ ورباب
مه سوروه تارونه

***

زه د ازغو په منځ کې
د ژوندون نخښه غوټۍ
ما د نسیم په جوټو
اوده کیدل نه دي زده
زه څیریدو ته پیدا
زه غوړیدو ته پیدا
ما ته ژړل نه راځي
زما خندل نه دي زده
زه په خوږو او ترخو دوکه کیدی نشمه
زه رژیدلی شمه خو بدلیدی نشمه
ساقي، زما په خوا کې
مه ګرځوه جامونه
لرکړه دا چنګ ورباب
مه سوروه تارونه

***

په لړزیدلې دنیا
نن غلبلې جوړې دي

ماته د مرګ کومي کې
د لاسې مه راکوه
نور د مم په وينا
ګورئ زه نه تيروزم
ماته د زهرو ډکې
پتاسې مه راکوه
زه لړزيدلي نغمه، قلاريدی نشمه
که ته پردې پردې يې، زه پټيدی نشمه
ساقي، زما په خوا کې
مه کړنګوه جامونه
لرکړه دا چنګ ورباب
مه سوروه تارونه

***

ماته د دنګو غرونو
لوړتيا څه بل څه وايي
ته مې د ناز د قدم
په خالي شړنګ تير باسي
ماته شهيد بابا جي
شفق کې بل څه ښايي
ته مې د بل د حنا

په کچه رنګ تیر باسي
ستا په دې لوخوپوخو، زه تیروتی نشمه
سترګې مې هم وتړه خوړندیدی نشمه
ساقي، زما په خوا کې
مه کړه نګوه جنا مونه
لر که دا چنګ ورباب
مه سوروه تارونه

***

زما سر توري پیغلې
دغوا غوجل نه ستړې
ته مې د بل د دمې
مستي ګډا ته پسخې
زه دابې د لاسو
پولوتنه نشم کتی
ته مې پیالې په لاسو
د چا اداته پسخې
زه د شګې په ځلا، سیرابیدی نشمه
تش د روتوپه تپا، زه مړیدی نشمه
ساقي، زما په خوا کې
مه کړه نګوه جامونه

لرکړه دا چنګ ورباب
مه سووره تارونه

***

ستا د څیرلو سترګو
په خون کارۍ مې قسم
زه هم یولپه وینه
هن! تویولی مې شي
ستا د عشرت د نغمو
په مضرابۍ مې سوګند
زه هم تارتار رګونه
دایم وهلی مې شي
هن! تویولی مې شي، خو ورکیدی نشمه
هن! چې وهلی مې شي، خو چپ کیدی نشمه
ساقي، زما په خواکې
مه کړنګوه جامونه
لرکړه دا چنګ ورباب
مه سووره تارونه

اجمل ختک د پښتنو د سترو لیکوالو او شاعرانو په نوم ادبي لیکونه او شعرونه لیکلي دي.

دلته یې یو شعر را نقلوو چې د غني خان ستاینه یې پکې کړې ده.

غني خان ښايسته زياته موده کيږي چې له سياست نه ګوښه شوی او د هنر د عاج مانۍ ته يې پناوړې ده.

اجمل په دې شعر کې خپل ځان له هغه سره پرتله کوي.

## دوه مزري

د غنـــی پـه نـامـه لـيـکـم ځـو شـعـرونـه
پــه پــنــجـره کــې يــادوم تــازه ګــلـونـه

د هــغــه ســره رنــګــونـه د قــلــم دي
زه لــرم يــو ځــو ســاړه آهــونـــه

د هـغـه خـولـه کـې د خـونـده ډک چـغـار دی
زمــا زړه کــې دي ددرده ډک داغــونـــه

هـغـه خـيـال، فـن، او ښـکـلا سـرلـوړی
زه لــګــيـايـم لـويـوم داغـلـي زړونـه

سـيـلانـی هـغـه د نـور د دنـيـاګـی دی
بـلـوم زه د کـوډلـو مـشـالـونـه

د هـغـه احـسـاس د حـسـن تـازه ګـل دی
زه جـذبـات يـم پـه مـابـل دي سـره اورونـه

هـغـه مـيـنـه ده، غـيـرت دی، ولـولـې دي
زه وقـاريـمـه، پـښـتـويـمـه، ننـګـونـه

هـغـه مـسـت شـي پـه مـکـان کـې لامـکـان شـي
زه چې ويـښ شـم لاس وپـښـې مـې زنـځـيـرونـه

هغه بحر د هستی او د مستی دی
زه د خپل وطن د غرونو آبشارونه

د هغه جنون د عقل خزانه ده
زما پوهه د جنون غیبږکې تموپونه

چې هغه په لاره تیر شي خاوري ګل کا
زه چې کښینم هلته وکړم غمونه

د هغه د نیاد ننګ درباب سازدی
زه په بین د پښتو اړوم سوزونه

هغه ګل دی ترمې ترمې زړه یې خاندي
زه لاله، زړه مې د سوزه ډک غمونه

چې هغه څو مره درد یږي خوږ سیتار شي
زه چې سورشم پاروم زاړه زخمونه

هغه راز د پښتنو د مستقبل دی
زه د نن د غیرتیانو غورځنګونه

هغه ناست د ګل لمبو کې ورو وروسوزي
ما د زړه په وینو رنګ کړل قفسونه

هغه تولې تلخې ګوټ کړې لیونی شو
لویوم یې زه خواږه خویونه

د هغه زړګی له تاوه پلوشه شو
ما د زړه په لوګو تور کړه د یوالونه

فنه راشه، شعره راشه، خیاله راشه
په یوه ښکلا کې ځای کړه دوه اړخونه
دوه اړخونه لکه یوپې مخې ګل کې
هم خوره خوره خوشبو ده هم ښکلا ده
دوه اړخونه لکه توره د پښتون کې
هم تیزوالی د غضب دی هم ځلا ده
دوه اړخونه لکه فکر د بابا کې
هم فردوس دی، هم غریبه پښتونخواده
دوه اړخونه لکه شعر د خوشال کې
هم غیرت دی، هم د فن سره ښکلا ده
دوه اړخونه لکه لوی وچت خیبر کې
هم عظمت دی هم د حسن یوه دنیا ده

فنه راشه، شعره راشه، خیاله راشه
دا خوره وره دنیا راته یوه کړه
د خوری وروری تول اړخونه یو کړه
تری نه جوړه د پښتو یوه ګلدسته کړه

## عبدالغنی خان غني:

خان عبدالغنی خان د پښتنو د نومیالی مشر خان عبدالغفار خان زوی دی چې د (۱۹۱٤م) په دسمبر کې داشنغر د سیمې د اتمانزو په

کلي کې زېږېدلی دی(۱). په وړوکوالي کې يې اووه کاله د عربي مروج علوم ولوستل. په ځوانۍ کې يې په لندن کې تحصيلات وکړل، بيا امريکې ته ولاړ. کله چې بېرته خپل کلي ته راستون شو د ده په کړو وړو او افکارو کې د لويديز تهذيب نخښې ښکاريدې. له پلار سره يې وېره پيدا شوه هسې نه چې غني له خپلې ژبې او فرهنګ نه بيګانه پاتې شي. اما غني له خپل قام سره د سپيڅلې مينې په خاطر د خپل پلار په لاره ګام واخيست. شپږ کاله يې بنديخانه تيره کړه او پښتو ادب ته يې د نادرو مرغلرو اميل ورپه غاړه کړ.

«د هندوستان د ويش په نتيجه کې د پښتنو بې برخې کيدو غني خان په مروجو اوبې ثمره ګوندي سياستونو باندې بې باوره کړ، د سياست د چيغو او نارو له کتارنه راجلا شو او د شعر تيره توره يې د نابيان شوو حقيقتونو او ناويونکو درکونو د بيان اورسواکولو لپاره له تيکي راوايسته هرڅه يې چې زړه او الهام ورته وويل هغه يې وليکل او په دې توګه يې هغه لوی عقل چې «شعر» نوميږي صيقل کړ او د رعايتونو او قيودو له ننګ او شرم نه يې آزادي ورکړه. بې له دې چې غني د فلسفې تفکر په لحاظ تحليل کړو او بې له دې چې د يو نقاش، مجسمه جوړوونکي او ځواږ خيز هنرمند په توګه يې وڅيړو، دی زموږ د دوران يو ډير لوی شاعر دی چې د انسان په ښکلا او لويي، او د هغه په کمزوريو تر بل هر پښتون شاعر ښه پوهيدلی دی. ده د انسان تکل غوښتنې او ګناهکار هوسونه د هغه په خپلو مذهبي، فلسفي، سياسي، او خرافي

(۱) عبدالغنی خان د ۱۹۹۶ م کال د مارچ په مياشت کې وفات شو. (هـ).

اندیښنو کې څېرلي او ازمویلي دي. »(د غني کلیات، د لایق سریزه) د غنی د اشعارو درې مجموعې: د پنجرې چیغار، پلوشې، او پانوس (د غني کلیات) په نامه په (۱۳۶٤ ش) کې په کابل کې د قومونو او قبایلو وزارت له خوا چاپ شوې دي. (۱)

د غني د ژوند او اند په باب یوه ښکلې تابلو د اجمل ختټک په (دوه مزری) نومې شعر کې ایستل شوې ده. په هغه کې د غنی د شخصیت تصویر په شاعرانه توګه منعکس شوی دی. د غني شعر د فرهنګ سمندر دی په هغه کې هر ډول جدي خبرې، هزلیات، طنز، شاعرانه انځورګري، ژور نفسیاتي مسایل، د شاعر جهانبیني، فلسفي تمایلات، د وطندوستی جذبات او د پښتون او انسان آرمانونه څه په سطح او څه په ژورو کې لیدل کیږي. غنی خان په اصطلاح «خپل شعرنه بندوی»، دچاپروانه ساتي، او خبره سپینه کوي.

رښتیا هم څوک چې کاذب محبوبیت ته شاکړي او د سیاست بازی له پولې د فلسفې قلمروته واوړي نو هلته د جمال او حقیقت له پلټنې نه پورته بل هیڅ ارزښت وجود نه لري.

## دعا

سترګو د جانان کې زما ښکلي جهانونه دي
وادي خلـه د نـیـا، زه وړی سـتـا د دنیـانـه یـم

---

(۱) د غنی خان د نظمونو او نثرونو یوه ګډه مجموعه (ګډې وډې) په پېښور کې چاپ شوې ده. دا مجموعه په کلیات کې نه ده راغلې (هـ).

گوره د فقیر کچکول کې تاج د سکندر دی پروت
زه یم د سخیانو، د شومانو گدانه یم
زه یې په غرور درنه د مینې په نوم غواړمه
زه ملنگ بې نیازه ستا د ویرو اویلانه یم
یو د سپوږمۍ ځاځکی درنه تیک له دیار غواړم
زه یم د خوبونو، د لالونو گدانه یم
هغه مستي غواړم چې یې مرگ نشي وژلی
زه دې د غمونو د بیگا او سبانه یم
او تشه د نیاگۍ که دې بخښې نواې امیره!
ستا شوه ستادنیا، زه وږی ستا د دنیا نه یم

غنی (د پنجرې چغار) په نامه د شعر یوه مجموعه خپلې میرمنې ته اهدأ کړې ده. د (پیشکش) تر سرلیک لاندې دده د خواږه نثر او ښکلي شعر یوه برخه دلته رانقلوو:

« بنده د خپل احساس او بې حسۍ په قلا کې بند دی او دغې ته خلق قسمت وایي. خوشبېر کاله وړاندې واقعاتو زه د خپلې لویې قلاته راوښکلم او په ډیرو وړو وړو د خښتو قلاگانو کې بندیوان کړم.

دغه د درد، زور، او تیري ماحول کې ماته د لارې روښانه کولو صرف یوه شمع وه او دا زماد ځوانۍ او مستۍ گلونه چې دې تور او تاریک باغ کې شوي دي او ماترې نه یوه مړاوې گلدسته جوړه کړې ده هغې فرشتې ته پیش کوم چاچې د حیدرآباد د نواب رستم جنگ محل د

غنی د تالا شوي جونګړي د پاره پرېښود او ماښره يې دا دغم، د درد او بې سروسامانۍ ورځې ډېرې په خندا، خوشحالۍ او بهادرۍ تېرې کړې. زه چې د هغې درد ته ګورم نو خپل درد رانه ورک شي. زه چې د هغې نر توب وينم نو په خپله بزدلۍ ستومانه شم.

نو ځکه دا کتاب زه په ډېر ادب او ډېره مينه د خپلو بچو مورته پيش کوم.

يو خوب د شاعر په جامه انساني
يو ساز د ورد راز، ښکلی خوږ آسماني.
يو ګل د جنت په خصلت رحماني
يو جسم ناري يو زړګی نوراني
شوله داسې پيدا د غنې د لبرا
په غيرت پښتنه په ښايست ايراني

## توقه

مابه شمع کوله
تا که جوړ رانه پتنګ
تل مه ښکار له د کبوړو
تاورپېښ کړم په نهنګ
ماد قصده وې ملنګ يم
تا رښتيا کړمه ملنګ
ماپېښې کړې د تور زنو

تامې کورله راوړ جنګ
زه خوګړ کولی نشم
په ګیلو ته خفه کېږې
حقه داده لویه خدایه
ته په تهوقونه پوهېږې

## سیل

مالیدلی د فرنګ ښکلي جیزونه*
چې دا لاندې ترې غورځنګ و هي سیندونه
مالیدلي محلونه د لندن
جینکۍ مستې آزادې ګلبدن
مالیدلي داتلی ښیسته ښارونه
سره یې انګور سره یې شراب او سره ګلونه
مالیدلي د پیرس ښاپیرۍ ښکلې
په کردار ګفتار خوږې لکه بلبلې
مالیدلي امریکه کې دي ښارونه
چې وریځو ته یې رسي مکانونه
مالیدلی تاج محل غوټۍ د ګلو
د ډهلي ښکلي ښارونه د مغولو

---

*جهازونه

خو چې ووينم زه خپل د ختو کور
رانه هير شي محلونه ښيسته نور

د انري تنګې کوڅې زما د کلي
ورته څه دي د دنيا ښارونه ښکلي

چې خړ مخی وروړ پښتون سينې له درشي
درنه هيربه تهول ښايست د بحروبرشي

خدايه شکر چې پيدادې له دې قام کړم
د پښتون د نرو جود دې يواندام کړم

څه به کړمه د لندن لوی محلونه
د پيرس جونې ښيسته رومي ګلونه
په والله چې له جنته به شم ستون
که کنځل پکې وانه ورم د پښتون

## اې زما وطنه

اې زما وطنه د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دې د تورو نښانې زما
ستا سر چې وي تيټ نوزه به شان و شوکت څه کړمه
ته چې خوار و زار وې زه به مال او دولت څه کړمه
ته چې ورن ويجاړ وې زه به خواب او راحت څه کړمه
مسته به دې خاوره کړم په وينې مستانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

***

عقل مې ايرې شه ستا د پاره د فکرونو نه
سترګې مې قربان شه ستا د خاورو د کورونو نه
ځار شمه قربان شم ستا د غرونو نه سيندونو نه
ستا زړه کې پرتې دي تولې تلې زمانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

***

يا به دې زه سيال کړمه وطنه د جهان
يا به ستا په پښو کې توري خاورې کړم خپل ځان
ځان به درې دړې کړم خوتا به کړم ودان
نريمه پښتون يم تا ته يادې افسانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

***

چې خازې شنې مې په قبروې ولاړې
که غلام مړوم راځئ توکړئ پرې لاړې
که په خپلو وينو ئه يم لمبيدلى
په مامه پليتوئ د جومات غاړې
چې قطرې قطرې مې پوخ د دښمن نه کړي
مورې! ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې
يا به دابې ننګه ملک باغ عدن کړم
يا به کړم د پښتنو کوڅې ويجاړې

***

عجيبه دې ده خانې، عجيبه دې ده ځوانې

اې پښتـونـه، پـوه دې نـشـوم پـه ورانـي پـه ودانـي
دادې لانوی هنر دی، چې خپـل ورور وژنـې بې هـيڅـه
پيرنـګـي تـه خوتيـنـګ نـه يې چې يې کړلې پيزوانی
چې پتمکی يې پرېږی وي، پـه حجره کې دی زمری وي
نـاسـت د مـرچـووي پـه ځتـمـه، د ځان نـه ويـنـي ثـانـي
وايـي پـلار مـې بـهـادرو او نـيـکـه مـې سـکـنـدرو
چې د ځـا ن تپـوس تري وکړي بس هـی هـی وي امانـي
پـه غـريـب هـمـسـايـه ټروي، يـا پـه ښـځـه زوره وروي
د جنګ وخت کې پټ کورناست وي خود جنګ وي ارمانی
غني نـه د دوی دواشتـه، نـه طبـيـب ورلـه ورتـلـی شـي
د خدای قهر پرې لـګـيـا دی، چې زر زر يې کړي فـانـي

## چرګ ته

خــوراک کــوي د ســپــي
او مــســئـلــې ډ مــلايــانــو

بــانــګــونــه د بــلال
او لــنــګــوټــی د چــنــګــړيــانــو

پــرتــوګ دې يــاره نــشــتــه
او شــمــلــه نــيــغــه د خــان

شــل ښــځــې دې ســاتــلــې
خــوســحــر وايــې آذان

په جنګ کې بهادر، او
مستانه لکه چنګیز

په مینه کې بې شرمه
بې پروا لکه انګریز

اوربوز دې د قاضبي دی
طبیعت دې د هیټلر

آوازدې د پخنړو
او انداز د منسټر

انجام دې تبخی دی
اې مجنونه د ډیران

یوورغ به روستی بانګ وکړي
ډوډۍ به وکړي خان

## میرمهدي شاه مهدي:

میرمهدي شاه په (۱۹۲٦م) کې د داوؤد زو د تپې په کنکوله نومي کلي کې زیږیدلی دی. د مهدي د لنډو کیسو پنځه مجموعې چاپ شوې دي چې نومونه یې دادي: نښان، د بوډۍ تال، پت، لاله ګلونه، او تور داغونه. (۱)

---

(۱) مهدی باچا د ۱۹۹٦م کال د سپتمبر په ۲٤ مه وفات شو. دده د لنډو کیسو پنځه یادې شوې مجموعې ګردې ښاغلی انځور د مهدی د استانی کلیات کې راوړې دي. دده د کیسو دیوې بلې مجموعې نوم د قیامت نخبه ده او د شعر مجموعه یې روڼ سحر نومیږي (هـ).

میر مهدي شاه د خدايي خدمتګارو د نهضت فعال غړی دی او اکثرې کيسې يې د همدغه نهضت د فکري جريان ترجماني کوي.

## ننواتې

نن دريدي ګل دي په حجره کې څوک نا آشنا سړی ناست و. لوی لوی بريت، غونډه او ګردی ږيره، سورسپين مخ، شنې بخنې سترګې، ګردنۍ ترملا تړلې او څه کارتوس ورسره په خورجين کې پراته وو. په پټۍ کې يې تيرا واله پيشقوزه ټومبلې وه او يو بندۍ اوږد توپک يې د کټ په پښنه کې اچولی دی. د رنګ او شکل نه ډير غير غونډې ښکاريدو.

عمر خان ورته مخامخ کټ کې ناست وا ولږ غونډې په شکي شکی نظر به يې ورته کتل. چې کله به د ميلمه سترګې بل خوا شوې نو د عمر خان سترګې به په هغه ورخښې شوې او د هغه د پيژند ګلو کوشش به يې کولو او چې کوم وخت به د هغه سترګې عمر خان پلو شوې نو عمرخان به سترګې واړولې.

ميلمه هم د حجرې ديوالونو، دروازو ته او تراوتر کتل او د حجرې په منځ کې يو قبر ته خويې ډير ډير کتل. د دغه قبر په خواکې د دولسو ديارلسو کلو يو هلک ناست و. د مدرسې کارېې څانته ايښي وا و په خپل کارکې مشغول و. خو کله کله به يې جارو راواخيسته او د قبر خوا او شاڅای به يې جارو کړ او بيا به په کار اخته شو.

د لږ ساعت د پاره د هغه ميلمه نظر اول په هغه قبر او بيا په هغه

هلک ور ښخ شو او په یونیت یې اخواکتل. عمر خان هم میلمه ته فکر وړی و، لکه چې هغه د میلمه د حرکتونو جاج اخیستو.

د میلمه په مخ اول سوروالی او بیا ورو ورو زیړوالی پیدا کیده، په مزه، مزه لکه د نرګس ځوړند کیده. داسی معلومیده، لکه چې څه ډیر غم پرې راغلی وي، د سترګو ګوتونه یې سره شول او په مزه غونډې یې توپک د کټ د پښې نه راوکښلو او عمر خان ته یې مخ واړاوه:

- بابا! دا هلک څوک دی؟

- دامې د خیره سره نمسی دی.

- نمسی؟

- هو، نمسی.

- ډیر شکر دی. د زوی د طرفه او که . . .

- مال د خدای، د زوی د طرفه.

- ښه، ډیره ښه ده، زوی دې د خیره سره کوم دی؟

- زوی مې . . .

دې وینا سره د عمرخان غونی نیغ شو. په لږ ساعت کې یې د تندي په ګونځو کې نوري ګونجې هم جوړې شوې. د ږیرې ویښته یې نیغ شول. د بالښت نه راوچت شو. میلمه د هغه درنګ نه پوه شو چې په عمرخان دا خبره داسې ولګیدۀ لکه چې مالګه په پرهرولګي. سترګې یې تکې سرې شوې او سرې سرې غتې غتې او ښکې پکې راوغړیدې. لږ ساعت یې میلمه ته هیڅ ځواب ورنه کړای شو. بیا یې یو سوړ اسویلی د

زړه د تل نه راوختو او میلمه ته یې مخ کړو.

څه خبرې ته یې خوله جوړوله خو بیا چپ شو. بیا یې د قبر په خواکې هغه هلک ته وکتل او د ځان سره یې په مزه غوندې وویل:

- شکر دی خدایه. زه له تا راضي یم، ته له ما راضي شې!

- بابا! زه پوه شوم چې زما یه خبره در ته څه درد ورسیدو.

میلمه له هغه نه په ډیرې نرمۍ سره پوښتنه وکړه.

- نه بچیه، هیڅ درد را ته نه دی رارسیدلی.

اوله دې نه پس یې بیا د قبر طرف ته مخ کړو او هلک ته یې وویل:

- لاړ شه بچیه، میلمه له چای راوړه

او بیا یې میلمه ته مخ کړو.

- میلمه بچیه، دا هلک زما د شهید زوی سترګې دي. پوه نه یم خو قدرت را ته یوسف کړی دی.

- چا ویشتی دی څه؟

میلمه بیا پوښتنه وکړه.

- هو، بچیه! دا یې نهم کال دی چې چا ظالم ویشتی دی.

- هغه قاتل پانسي شو که قید دی؟

- هغه لا تر اوسه ژوندی دی. خدای پاک دې یې نه پانسي کوي ځکه تر څو پورې مې په خپل لاس سیزلی نه وي، نو تر هغه وخته پورې مې پرې خوانه سړیږي.

- نو نن سبا کوم ځای دی؟

هغه داسې تپوسونه شروع کړل، لکه چې د هغه پکې خاصه دلچسپي وي.

- مخرور (مفرور) شوی دی. سمه پوره پته يې نه لګي خو په غرونو کې دی. اوس راته چاڅه پته راکړې ده خولا يې اجل نه دی راغلی. خير دا خبرې به کيږي خو ته راته ووايه چې ته کوم ځای نه راغلی يې؟

- زه خو د تيرانه . . .

- د تيرانه؟

هغه بيا پوښتنه وکړه.*

- هو، بابا. ايله نن رارسيدلی يم.

- د خيره سره کوم ځای ته به ځې؟

- فی الحال خو تر دې ځايه راغلی يم او مخکې معلومه نه ده چې چير ته به ځم. ما ته هيڅيرې دانه معلوميږي چې نن به کو م ځای يم او سبا به کوم ځای يم.

د هغه دې خبرې سره د عمر خان نوره هم د شکونو لانجه زياته شوه. په دې کې ريدي ګل چای راوړې. په دومره ساعت کې نور هم اووه اته کسان حجرې ته راغلي وو. هر يو سړی چې به راتلو او ميلمه ته به يې وکتل نو څه شک غوندې به يې پيدا شو. په کتونوکې به چې کښيناستل نو خپلو کې به يې څه پس پس وکړو. ميلمه هم د خلکو حرکتونو ته د سترګو په ګوټونو کې کتل.

---

*د پښتونخوا اکثر ليکوال دانګريزي ژبې په تقليد لومړی پوښتنه کوي او بيا وروسته ليکي چې پلانی پوښتنه وکړه. همدارنګه اول ځواب ليکي بيا ورپسې زياتوي چې: پلانکی ځواب ورکړ.

په روانو خبرو کې به کله کله څه غیب غونډې شو، لکه چې څه ډیر زوره ور فکر به ورله د خبرو د تسلسل کړۍ وشلولې.

ځینې وخت به په عمر خان هم داسې څه چل وشو. عمر خان په پتنوس کې شپږ پیالې ډکې کړې یوه پیاله یې ترینه میلمه ته وړاندې کیښوده.

میلمه چې پیاله وچته کړه، نو لاس یې ورپرېښوده. که چیرې پیاله په قاب کې نه وای نو ټول چای به توی شوی وای. هغه پیاله بیا کیښوده.

- او هو . . . هو . . . هو، وخونه سوزیدې؟

عمر خان ترینه همدردانه لهجه کې پوښتنه وکړه.

- نه، نه، بچ شوم، خیر دی.

هغه ځواب ورکړو.

عمر خان په هغه نیمګړې پیاله کې بیا چای واچولې.

په دې کې په حجره کې ناست یو بل سپین ږیري عمر خان ته آواز وکړو. دواړه د حجرې د مال کوټې ته لاړل او د یوې شیبې د خبرونه پس بیا راووتل او غلي غونډې یې لمسي ته اشارت وکړو. هغه کورته لاړو او دی واپس خپل کټ ته راغلو. ولې داوخت د عمر خان او د هغه دواړو په رنګونو څه چل شوی و.

دوه مینټه تیرنه ووچې ریدي ګل د کورنه واپس راغلو. د نیکه په خواکې غلی غونډې کښیناستو او د څادرنه یې څه ورکړل. میلمه وروغونډې د کټ د پښې نه توپک راواخیستو او ځان ته یې په پتون

کیښبود . او بیا یې د چایو پیاله راوچته کړه. یو گوټ یې ترې واخیستو او بیا یې ځان ته د کټ سر ته جوخته کیښوده. یو خوا بل خوا یې وکتل او بیا یې عمر خان ته وویل:

- بابا! زه پوهیږم چې ته ما ته په شک شک گورې خو خیر د دښمن دارو خلکو همیشه دا کار وي.

- نه بچیه، د شک څه خبره ده؟ شکر دی تم (ته هم) پښتون یې او زه هم پښتون یم او د پښتون د اعادت دی چې که د خپل سر دښمن یې په ځای کې ناست وي نو هغه ته تر هغه وخته څه نه وایي چې تر څو د هغه په نیت نه وي پوه شوی.

- هو، دامنم. خو بیا هم زه پوهیږم چې څه خبره ضرور شته ده.

هغه دا خبره کوله او توپک یې ورور ورو په لاس کې سمولو. د ستر گو په گوټ کې به یې کله هغه قبر ته وکتل او کله به یې ریدي گل ته.

د عمر خان هم د میلمه په حرکت پوره نظر و. نمسی یې د خپل ښي اړخ د اوږې نه پناه کړی و. دا وخت د مازیگر نمر په غرغره و. د کلي نور خلک هم حجرې ته راغلي وو. په کلي کې څه داسې خبره مشهوره شوې وه چې څو ک د یر غیر غوندې سړی د عمر خان حجرې ته راغلی دی. هر سړی به چې راتلو نو اول به یې میلمه ته کتل. چې څومره، څومره په آسمان کې د نمر رنگ زیږیدو نو دومره دلتهد میلمه رنگ هم خړ ابیدو.

هغه بیا د پیالې نه گوټ واخیستو او عمر خان ته یې وویل:

- بابا! تا جوړې زه وپیژندم؟

- نه بچیه، دومره دې پیژنم چې زما میلمه یې، نورمې لاخدا پرو که پیژندلی یې.

- دا قبر د سربلند خان دی؟

هغه قبرته گوته ونیوه.

- هو، دادسر بلند خان دی. ولې تا سر بلند خان پیژندو څه؟

عمر خان د ځواب نه پس وویل.

- هو، پیژندو خومې صحیح . . . خوبابا زه خونن یوسوال له راغلی یم.

- سوال له؟ وایه څه سوال دی؟ که زما د کولو وي نو انشاء اللّٰه چې هیچرې به انکار نه وي.

دا وخت د میلمه رنگ نور هم خراب شو. بیا یې یو وارقبر ته وکتل او بیا یې ریدي گل په نظر کې واخیستو. یو مینټ یې ورته نیغ وکتل. یو ساعت بالکل چپ شو. لکه چې په خوله یې چالاس ایښی وي او خدای خبر چې په عمر خان څه چل وشو چې هغه هم بالکل چپ شو. د څادر لاندې یې یو لاس کې څه وخوځول. نوره حجره هم بالکل حیرانه وه. یوازې حیرانه نه، بلکې څه داسې دهشت غوندې خورشوی و، لکه چې درنگ ساعت له څه ډیر خطرناک کارکیدونکی دی.

د لږ ساعت د خاموشۍ نه پس، میلمه توپک لاس کې قابو کړو او ناڅاپي پاڅیدو د توپک شپیلۍ یې ریدي گل ته مخامخ کړه. عمر خان لاد څادرنه تمانچه نه وه رابهر کړې چې میلمه ورته توپک په ځولۍ کې

ورو غور ځولو او د توپک د غور ځولو سره سم یې بیا په پښو کې پریوتی واو په ژړا کې په گروم آواز یې وویل:

- زه کم بخت تاجی یم . . .

خدای خبر چې د تاجي د نامې اوریدو کې څه ووچې عمر خان غیر شعوري طور سره توپ کړو. د تاجي سریې د پښو نه بیرته کړو، ولې بیا چپ شو. په حجره کې گرچاپیره کسان نور هم راغونډ شول. ولې داسې خاموشي شوه، لکه دلته هډو څوک وي نه.

تاجي هم په دواړه لاسه د عمر خان پښې نیولې وې او سریې د هغه په پښو کې ایښی و.

د عمر خان سترگې بیا سرې شوې. غټې غټې اوښکې پرې راماتې شوې. د پټکي پلویې مخ ته ونیو او د ښې شیبې د خاموشی نه پس یې یو لاس د تاجی په سر کیښود او بل لاس یې داوړي نه دراو چتولو په غرض راکښلو، هغه راوچت شو او کوم وخت چې عمر خان سینې ته جوختولو، نو په برگ آواز کې یې وویل:

- تاجیه! ننواتې دي . . . منم! څه ما درته د خپل زوی قتل وبخښلو!

## عبدالمالک فدا (۱۸۹۷ - ۱۹۵۷م):

د خدایي خدمتگارو د نهضت یو بل فداکار غړی نومیالی شاعر عبدالمالک فدا دی. عبدالمالک فدا د عبدالجبار خان زوی په (۱۸۹۷) کې د چارسدې د پړانگو په کلي کې زیږیدلی دی. فدا د

پښتنو د آزادولو په باره کې ډیرې ستونزې، قیدونه او اذیتونه زغملي دي او تر وروستۍ سلګۍ پورې په خپل هوډ ټینګ ولاړ و.

باچاخان ددہ د ښخولو په مراسمو کې وویل: «د پښتنو د اعظیم انقلابي شاعر ما په خپل لاس په قبر کې امانت کیښود او ډیر زړه یې که خیروي سر دریاب ته ورو. مونږ دا فیصله کړې ده چې د داسې ننګیالیو خدایي خدمتګارانو هدیره د قومي جهاد په دوران کې چې د شهادت مرتبه ګټي په سردریاب کې وي. دې قومي شهید ټول عمر د ولس په خدمت کې تیر کړو او دی دومره وکړولی شو چې آخر آخر یې په خندا خندا د وطن په مینه سا ورکړه.»

## مرګیه مه راځه درځمه

(دا نظم فدا استاد د بابړې په یوه جلسه کې په داسې انداز اوروله و، چې باچاخان پخپله او نورو په زرګونو پښتنو په سرو سترګو ژړل.)

کفن په ترخ کې د سیالۍ میدان له ځمه
مـرګـیـه مـه راځـه درځـمـه
سر په تلی کې د الله دربار له ځمه
مـرګـیـه مـه راځـه درځـمـه
پـه چـارسـده کـې کـربـلا ده
دغـدارانـو پـرې صـلا ده
پـه سـر فـروشـو واویـلا ده
زه د خپل قام سره په مرګ سیالي کومه

مرګیه مه راځه درځمه

***

بیا دوطن په خاوره جنګ دی
بشکلی میدان د نام ونګ دی
موري ورځمه زړه مې تنګ دی
په خپله خاوره خپلې وینې تویومه
مرګینه مه راځه درځمه

***

سرې جامې راکړه زما موري
سر راله غوړ که سترګې توري
نوم د پښتون دی په ما پوري
په پښتنه خاوره خپل سر قربانومه
مرګیه مه راځه درځمه

***

ماز یګر ووتم له کوره
رخصت مې واخیستو له موره
لار چې تیاره شوه تکه توره
دا جل ځای ته نیمه شپه ورسیدمه
مرګیه مه راځه درځمه

***

په لس بجې سبا سحر
سرفروش ووتل بهر
ترې نه چاپيره شول لښکر
زه د قومي صفونو منځ کې ودريدمه
مرګيه مه راځه درځمه

***

خاص د جمعې په جماعت
فوځونه وختل وچت
علامې راغلې د قيامت
د آخر حکم ته د ی هرسپاهي په تمه
مرګيه مه راځه درځمه

***

يو خواته توپې مشينونه
د حکومت واړه فوځونه
بل خواته قام خالي لاسونه
مقابلې ته مې کتل حيرانيدمه
مرګيه مه راځه درځمه

***

د چارسدې پړانګو بيبيانې
وړې زړې وې که ځوانانې

درونـو مـخـکـې وې روانــې
دسـفـيـد پـوشـو جذبـه نـه وه د چـاکـمـه
مـرګـيـه مـه راځـه درځـمـه

***

د خـوېـنـدو غـيـږ کـې مـاشـومـان
پـه سـرنـيـولـي و قـرآن
آوازېـې د او پـه مـيـدان
فـخر افـغـانـه، تـا ګـتـم پـخـپـلـه مـرمـه
مـرګـيـه مـه راځـه درځـمـه

***

سـتـاد لـيـدومـې تـلـوسـه ده
پـه دې بـنـاز مـور جـلـسـه ده
د دښـمـن خـوشـې و سـوسـه ده
زاري مـې نـه مـنـي مـنـت بـه کـړم تـرکـومـه
مـرګـيـه مـه راځـه درځـمـه

***

تـا لايـې کـړل زمـور کـورونـه
بـيـايـې ورپـورې کـړل اورونـه
زمـور پـرې نـه رسـي زورونـه
لـه داسې ژونـده رالـه مـرګ ښـه دی بـېـغـمـه

مرګیه مه راځه درځمه

***

چا سره توپه که مشینو
که چا سره سر پوښ غورځینو
هر یو ظالم له قهره شینو
په یو آوازې حمله وکړله محکمه
مرګیه مه راځه درځمه

***

د خدای رښتینی خدمتګار
مړه زخمیان پریوتل قرار
چې روستونه شو په دې وار
د مشین ګڼ خوله یې دوبار کړه راته سمه
مرګیه مه راځه درځمه

***

د پښتنو ښکلي ځوانان
په سپین میدان شول شهیدان
له خپل وطنه شول قربان
د تکبیر چغه به وته له هره فمه
مرګیه مه راځه درځمه

***

خلقو وچت کړل مړه زخمیان
بیا د ګولو شو پرې باران
سور شو په وینو سور میدان
جذبه د خلقو زیاتیدله دم تردمه
مرګ یې مه راځه درځمه

***

ولې دل ماد قام جذبات
هیچا به نه کاوه هیهات
ښکاریدو مرګ ورته حیات
جونه وې مخکې د زلمو نه څوقدمه
مرګ یې مه راځه درځمه

***

جلسې له راغی داخبر
چې په هر پل په هر ګودر
مورچې نیولې دي باډر
غور ځوي سین ته سر خپوشان زلمي په جمه
مرګ یې مه راځه درځمه

***

څوک اباسین یو وړل په ښکته
د چاترا وسه نشته پته

وکړئ تپوس له حکومته
د پښتنو بچي دي مړه کړل په څه تمه
مرگیه مه راځه د رخمه

***

زه د قدرت په ننداره وم
د دي منظر په نظاره وم
د مشین گڼ خولې ته ښکاره وم
چې مخامخ د زړه په سرو لگیدمه
مرگیه مه راځه د رخمه

***

گولو مې غوښې کړلې فاش
خلقو وچت کړو زما لاش
ما پسې مه کوئ تلاش
زه علیین ته هغه وخت ورسیدمه
مرگیه مه راځه د رخمه

***

په آخرت چې رب قاضي شي
په شفاعت رسول راضي شي
وارد شهید او د غازي شي
زه به غلبیل سینه د خدای په مخکې بردمه

مرګیه مه راځه درځمه

***

اته څلویښت کاله په شمیر
نه مې دي نولس سوه هیر
دا د عیسی رسول وو تیر
ورځ د زیارت وه د اګست وه دولسمه
مرګیه مه راځه درځمه

***

عبدالمالکه ځان فدا کړه
پورته د حق یوه صدا کړه
نوی ژوندون قام له پیدا کړه
که خدای راضي شي سفارش به دې کومه
مرګیه مه راځه درځمه

***

د (نوې دنیا جوړه کړه) په نامه د عبدالمالک فدا یو ښکلی نظم په (اوسنی لیکوال) کې راغلی دی، چې دلته یې د نقلولو ګنجایش نشته خو هلیه کیږي چې هغه نظم به ښوونکي له خوا په ټولګي کې ولوستل شي.

## سیدرسول رسا:

د پښتونخوا نامتوکیسه لیکونکی، پیاوړی شاعر او پوه ادیب میاسید رسول رسا د میا محمد سعید زوی په (۱۹۱۰م) کې د نوښار د بدرشو په کلي کې زیږیدلی دی. ددوی کورنی د ابک خیلو میاګانو په نامه شهرت لري (ځینې پښتانه فکر کوي چې آخونزادګان او میاګان به د نسب په لحاظ پښتانه نه وي خودا خبره له یوې غلط فهمی نه راولاړه شوې ده. آخون د دیني عالم او میاد روحانی اوستانه شخص د پاره استعمالیږي. کیدای شي چې آخون (آخوند) او میا د نسب په لحاظ پښتون وي او یانه وي).

که څه هم سید رسول رساخپلې لوړې زده کړې د ساینس په څانګه کې کړې دي خوله وړو کوالي نه یې له شعر او ادب سره مینه درلوده. دی په انګریزې ادبیاتو کې د پراخې مطالعې خاوند دی او دده په ادبي آثارو کې د هغو اغیزه له ورایه ځلیږي.

همیش خلیل په (پښتانه لیکوال) کې د رساصاحب په باب لیکي:

«رساصاحب د پښتو ادب د حسین باغ بلبل هزار داستان او تخیل یې د آسمان هغه شاهین دی چاچې په پښتو شاعری کې د ډیرو ښکلو نظمونو اضافه وکړه او هغو دغه نظمونه خصوصاً او نورې فن پارې یې عموماً د نوی طرز فصاحت، لطیفو کیفیاتو او محسوساتو نه علاوه د شاعرانه جذباتو مکمله تصویر کشي کوي . . . رسا صاحب په خپلو شاعرانه خصوصیاتو کې یکتا دی او شاعري یې درومانیت، جمالیاتو،

کیف او سوزو سازنه علاوه د پاکو جذباتو آئینه ده. »

درسا صاحب د نظم او نثر په گنهو آثاروکې «دبیدیا گلونه»، «د قرآن پیغام»، «نوی ترنگ» «ارمغان خوشحال»، «باغ وراغ»، «رنگارنگ گلونه» او په ناولونوکې «شمی»، «مامونی»، «مفرور» او «خودکشی» (۱) زیات شهرت لري.

## د خیبر له خوا ماښام

د مغرب په تورو غرونو لاځلیږي سپینې واورې
د ماښام گردونه خور شول غلې غلې څاري لارې
د مشرق نه رونما شوه تیاره روپه روزیا تیږي
داسې ښکاري توري زلفې د آشنا پرمخ خوریږي

په لمن د تورو غرونو د خیبر وادي راگیره
لکه تور دیوان چې کښیني له پري نه گیر چاپیره
دا سرخی څنده دورځې راعیانه شوه ځلیږي
یا له غیږې د عاشق نه شرمیلی آشنا بیلیږي

یادا کانی د خیبر دي خون لړلي سره مخونه
بیرته عکس پریوتلی شین آسمان یې کړ گلگونه
یاد باغ زیږي گلونه را بیرون په سور کفن دي
مقتولان یا دغمزو دي منتظر یادیدن دي

(۱) سید رسول رسا د ۱۹۹۰م کال د اکتوبر په ۲٤ مه وفات شوی دی، دده یو بل ناول میخانه نومي چې په پیښور کې چاپ دی. او یو ناچاپ ناول هم ترې پاتې دی چې کچکول نومي (هـ).

یا پراته په سور کفن کې شهیدان د وطن ښکاري
سرې قطرې دوینونه دي سره غمي د عدن ښکاري
یاد اوربه شین چمن کې لګیدلی د افغان دی
د خیبر د سرد پاسه، یاد سرو وینو باران دی
چارچاپیره نوې سازه رنګیني په دنیا ښکاري
یا په سترګو کې نن ماله نوې نوې سما ښکاري
خاموشي په غلې ژبه داسې ښکاري چې ګویا ده
یادا سره مبهم سرخي ده چپه چپه خوله یې واده
پټ پنهان په هر ذره کې د خیبر خوني داستان دی
یو تاریخ یې په مخ لیک دی یو یاداشت د تیردوران دی
یوه ورځ به چیرې دلته د (محمود) کاروان روان و
ګردغبار دده د فوج به رسیدلی تر آسمان و
د تکبیر نارې وچتې اوریدلې دې جهان وې
د دې ملک ذرې ذرې به له دهشت نه په لرزان وې
په دې خاوره دي تیر شوي د (لودي) ، (غوري) فوجونه
(ابدالی احمد) راغلی پرې به فخر کړي دا غرونه

## سیف الرحمن سلیم:

سیف الرحمن سلیم په (۱۹۲۹م) کې د پیښور داودزو په سیمه کې زیږیدلی دی. دادبي تاریخ لیکونکو په عقیده ، سلیم یو حساس شاعر او

د پاک ضمير څښتن دی. په ځوانۍ کې يې، لکه د اکثرو ځوانانو په عملي سياست کې برخه واخيسته خو کله چې د ادب ګلزارته داخل شو د سياست توره يې له لاسه وغورځوله او د پاسيفيزم (سولې غوښتنې) لاريې خوښه کړه.

عبدالقادر ختک د (صلح کل) په پلوی داسې ويلي وو:

چې سبب يې د دوزخ زما کشتن وي
بيا دې نه مومم دا هسې شهادت

سليم هم دغه مطلب په داسې انداز کې بيانوي:

زه د سر قاتل ته هم پاڅمه هر کلی وايمه
نور مې د صبر او د زغم پوښتنه مه کوه

هميش خليل وايي چې «سليم د درديدلي او ځپيدلي انسان د ماتو زړو نو ترجمان دی، هغه د خوارانو او مزدورانو په شيرين ژوند د دنيايي خدايانو له لاسه د ظلم او جبر خلاف احتجاج هم کړی او بغاوت هم.» (پښتانه ليکوال، ۳٦۷ مخ) (۱)

د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم
لويه خدايه! زه به چاچاته سجده کړم
ملګرتيا که څو رندان راسره وکړي
دا حرم به يوه لويه ميکده کړم
دوصال د شپې بدل به دې خلاص زه کړم

(۱) د ښاغلي سليم د شعر يوه کوچنۍ مجموعه د ښاغلي برياڵي يا جوري په زيار په کابل کې چاپ ده او نوم يې دی سندريز شفقونه. (هـ).

تولې شپې که د خپل عمر شوګیره کړم
شیریني د پښغلتوب د پیغلې غواړم
خوله به ستا په عنابي شونډو خوږه کړم
چې موسکۍ شي لږ یې ښکل کړې بیا یې را کړې
سل توبې به هغه جام نه صدقه کړم
قافله د پسرلي دې په دې راشي
خپل ژوندون به یې په لاره کې ډیوه کړم

## غزل

هم ښایست دی هم نغمې دي هم نشې دي
څومره زرچې تیرې زیاتې شي نوښې دي
میکدو پلوېې بوزئ چې سیل وکړي
دا ځوانۍ مود څوورځو میلمنې دي
ستا له شونډو یې غلا وکړه چې موسکۍ شوې
دا وړې وړې کلۍ خوږې غلې دي
د هر خواږه خواږه مین مې پرې نا راض شول
دار ښتیا خبرې چا ویل چې ښې دي
پاکه مینه یې زما کړله بد نامه
لاس د چا په خوله زه کښیږدم د پرې خولې دي
کوم انصاف دی چې ګمراه وایي و ماته
زه خو سم یم خود ژوند لارې کږې دي

يو توبه ده چې بس تل را نه هېرېږي
گنې يادي زما تولې ميكدې دي

چې رقيب مخې له راشي نو په شاشي
زما اوښكې څومره غټې پښتنې دي

د خيالونو د باغچې را سره غم دی
گير چاپيره مې ملگرو سرې لمبې دي

## زيتون بانو:

ميرمن زيتون بانو په (١٩٣٦م) كې د خليلو تپې په مشهور كلي (سپينه وړی) كې دنيا ته راغلې ده. پلار يې، سيد سلطان محمود، د پښتو ژبې ښه ليكوال او نيكه يې سيد عبدالقدوس تندر د پښتو ښه شاعر و. زيتون بانو شاعره او ليكواله ده او (دهنداره) په نوم د افسانو يوه مجموعه يې چاپ شوې ده. (١) ددې په افسانو (لنډو كيسو) كې د قامولی احساس او له غريبانو سره همدردي په ښكلي هنري انځور كې منعكس شوې ده. د (اباسين كيسې كوي) په منتخبه مجموعه كې چې د زرين انځور له خواه تدوين شوې ده. د زيتون بانو دوې لنډ ې كيسې د (د لشاده) او (د اوسپنې چنې) په نامه راغلي دي. دلته به يې يوه بله لنډه كيسه را نقل كړو.

---

(١) د ميرمن زيتون بانو د لنډو كيسو دا لاندې نورې مجموعې چاپ شوې دي: مات بنگړی، ژوندي غمونه او خوبونه. بانو د پښتو ښه شاعره هم ده. په اردو كې هم نوميالی ليكواله او ډرامه ليكونكې ده. د پښتو ډرامو د مجموعې نوم بی سمسور گلونه او د پښتو شعر د مجموعی نوم يې سوغات دی. (هـ).

# د بيزو قبر

هسې خو به چې زه کله هديرې ته لاړم نو د مور د قبر نه به مې يو څو گامه بير ته په هغه کچنه غونډۍ،مونډۍ،غونډې وړوکې موړې نظر پريوتو. ليکن د کله را هيسې چې ما د نورو ښځونه اوريدلي وو چې داهسې موړه نه ده، بلکې قبردی او قبر هم د بيزوو،په دې حقله داجي ته هم څه خاص معلومات شته نو بيا به ماور ته په څه بل نظر کتل او د دغه ځای ليدو سره به زما زړه کې څه عجيبه عجيبه سوالونه را پيدا شوو. په دغه سوالونو به ماتر ډيره ډيره وخته پورې سوچ کولو او جوابونه به مې لټول، ولې داسې څه نتيجې ته به نه رسيدم چې زما پرې اطمينان شوی وي. څو څو ځله مې اراده وکړه چې راشه دداجي نه پوښتنه وکړه. خو خدای خبر څه چل وچې بيا به مې جرأت ونه کړی شو او په تپوس کولو کولو کې به مې ژبه بنده شوه.

زه هم د دغه تپوس کولو او نه کولو په کشمکش کې لاراگيره وم چې جيل کې مې د داجي ملازمت ختم شو او هغه په پنشن شو. اوس هغوی په هفته کې د يوځل په ځای دوه دوه درې درې ځله هديرې ته تگ شروع کړو. اصل کې د مورد مرگ مې کافي موده شوې وه او هغه ورځو کې د هغوی عمر لا دومره زيات هم نه و، خو بيا هم د مور سره مې يې د ومره مينه وه چې نه صرف بل واده يې ونه کړو، بلکې د ملازمت د ډير

مصروفیت باوجود به یې هم هفته نه خطا کوله او ځان به یې هدیرې ته ضرور رسولو. اوس چې ملازمت نه وزګار شو نو زه به یې هم ځان سره هدیرې ته بوتلم. یو څو ځله هغوی سره د مور قبر ته تلو راتلونه پس ما دا پخه اراده وکړه اوس به ضرور د بیزو ددې قبر په حقله تپوس کوم.

د زیارت ورځ وه او مور دواړه مې د مور قبر ته ولاړو، دعأ مو کوله، زه د مور قبر خواکې کښیناستم او دا چې لاړو هغه مورې سره چې د بیزو په قبر مشهور وه ودریدو.

د هغوی لاسونه خو دعأ ته نه وو پورته خو سترګې یې پټې وې او شونډې یې خوځیدې، لکه چې ځان سره لګیاوي څه وایي. زه هم ورپاڅیدم او خواکې یې ودریدم. د هغوی شونډې خوځیدل اوس بند شوه. ما سوچ وکړو چې اوس موقع ده تپوس وکړه زړه مې ټینګ کړو او ورنه مې تپوس وکړو: «د ارښتیا د بیزو قبر دی؟» خو اول زما په دې نا چا په پوښتنه پریشان غوندې شو، خو بیا یې په شونډو طنز یه غوندې خندا خوره شوه او وې ویل:

«هو . . . خو دې بیزو چې قام سره څومره ښیګړې کړې دي نودومره ترې نه هغه بې خبره پاتې شوي دي.»

د قام سره ښیګړه او بیزو؟؟ زه حیرانه شوم او داچې مې سنجیدګی سره ووې: «حیرانه ولې شوې؟ زه رښتیا وایم. لیکن څنګه؟ دا زمونږ د غفلت، احسان فراموشي او ناداني ډیره ډیره اوږده او درد ناکه کیسه ده. اوس ددې وخت نه دی. د شپې راته یاده کړه نو دې راز نه به دې خبره

کړم. راځه اوس کورته ځو. » او هغوی روان شول، ما په هغه وخت د بلې خبرې جرأت ونه کړی شو. او هغوی پسې روانه شوم. ولې دې څو خبرو نه پس د بیزو قبر دراز معلومولو د پاره زما زړه نور هم نا قراره شو.

د ماسخوتن مونځ نه پس لا داجي کټ کې د ډ نه وه لګولې چې ما بیا خبره وځیر له او په ویره ویره مې ووې: « تا سوویلي ووچې زه به دې د شپې ددې رازنه خبروم. »

کوم راز؟

د بیزو د قبر

« هو، لږې او به را. » ما اوبه ورکړې او د څنبلونه پس داجي بیا کټ کې د ډ ه ووهله، اووې ویل:

« هو، داد شپږ، اووه ویشت کلومخکې خبره ده، شپږ اووه ویشت کاله اول د هغه عمر به هم شپږ اووه ویشت کاله و، بلکې شاید چې ددې نه به هم کم و. ولې څومره چې هغه د کچه عمر څښتن و، نود ومره د پوخ فکر خاوند وچې په دې عمر کې به چې هغه چرته حجره، جمات یا کومې جرګې کې ناست و او خبرې به یې کولې نو داسې به معلومیده ،لکه څوک چې د ډیر پوخ عمر فلاسفه ناست دی ګړیږي » داجي، لکه د سیلاب غوندې روان و، خبرې یې کولې اوزه په سوچ کې وم چې څنګه ورته ووایم چې دا خو د بیزو د قبر کیسه نه وه. آخر چې زړه صبرنه شو او تپوس مې وکړ:

دا د چاکیسه مورا اخیستې ده؟

داجي موسکی شو: «دادهغه زلمي»

لیکن ما د بیزو د قبر کیسه یادوله

هو، خو دا د زلمی کیسه د بیزو د قبر سره ډیر جوخت تړون لري او ددې نه بغیر هغه راز ته رسیدل نه شي کیدی. ماوې: ښه نو او هغوی بیا خپله خبره شروع کړه:

- د پخو خبرو سره د هغه زلمي عقل هم د لویو پوهانو په شان پوخ و. ډیر ژور سوچ به یې کولو چې د هما به یې په تصور هم وزرې ماتیدې. لیکن ددې هر څه باوجود هم هغه په لیوني مشهورو.

- « په لیوني مشهورو؟ » ما په حیرانتیا کې پوښتنه وکړه او هغوی جواب راکړو: «هو لویوړو تولوکې هغه په لیوني یادیدو. څوک دوه تنه به چې ورسره خواکې تیر شو او څو گامه به وړاندې لاړل نو یو بل ته به مسکي شول، یا به یې د هغه پلوته سترگو کې اشارت وکړو او خپل ملگري ته به یې ووې: « توبه، خدای مې دې ساتي. وگوره څنگه غټ پټ سورسپین زلمی دی خو اوس چې لیونی دی. . . » او لیونی اوس د هغه نوم و، د هغه خپل اصلي نوم، قام قبیل یې هیچا ته نه و معلوم. نه څوک دې نه خبرو چې هغه کوم ځای پیدا شوی و او کوم ځای لوی شوی دی. بس یو لیونی وچې داد هغه نوم، قام او ځای ځایگی هر څه وو، دغه باندې هغه تر لرې لرې پیژندی شو. »

لیکن هغه چې دومره د پوخ شعور خاوند، لایق، قابل او هوښیارو، نو بیا خلقو ولې لیونی بللو؟

ځکه چې دا صفتونه په هغه ورځو کې د لیونتوب ډیرې غټې نخښې ګڼلې شوې.

داجي زر جواب راکړو او بیا یې ووې: « هغه څه عجیبه دورو، هغه د زور، ظلم او استبداد دورو، د دروغو او باطلو زمانه وه او هغه به په لویو لویو جرګو کې پاڅید واود رښتیا وو آواز او چغې به یې پورته کولې. هغه د غلامۍ بد ترینه موده وه او هغه به خلکو ته د آزادۍ ګټهلو ترغیب ورکولو او بیا هغه ته دغه لارې نه داوړیدو د پاره غټ غټ رشو تونه، خطا بونه او جاګیرونه پیش کړی شو. لیکن هغه هر څه په لته ووهل او خپله لاره پرینښود وته تیارنه شو.

دا د هغه وخت د حکومت خلاف - چې بنیاد یې په تګۍ، رشوت، زور، ظلم او استبداد قایم و- ښکاره بغاوت و او ددې بغاوت اولنۍ سزا هغه له داور کړی شوه چې هغه پسې حکومت خپل ایجنټان خواره کړل او هغه یې په لیونی مشهور کړو. په لږو ورځوکی هغه ته خپل قام په رښتیا دلیوني ویل شروع کړل هغه قام د کوم د آزادۍ، آبادۍ، او لوړتیا د پاره چې هغه، لکه د لیوني غونډې سر وهلی بروهلی ګرځیدو او بیا . . »

داجي لږ شان خاموش شو، لکه چې څه سوچ کوي لیکن ما د هغوی په داسې نازکې برخې کې خاموشي او سوچ کله زغملی شو. ما ترینه پوښتنه وکړه: « ښه نو بیا ؟ بیا څه چل وشو داجي ؟ »

هو، نو چې د لیونتوب دې نوم هم هغه د خپلو خبرونه منع نه کړو نو بیا یوه شپه چې هغه ستړی ستومانه او تهوله ورځ در په در ګرځیدونه پس

خپل وران ویجاړ کور کې پروت و. او ایله یې سترګې ورغلې وې چې په دې کې ورود رزید و او هغه راویښ شو. پاڅید و وریې لرې کړو. دورد لرې کیدو سره یو پوره ګارډ کور ته راننوتل او د وومضبوطو شین سترګو چې انګریزی توپۍ یې په سروې او افسران معلومیده هغه کلک د متونه ونیو او نورو سپایانو ته یې د کور د تلاشۍ حکم ورکړو. لیکن سوایې د کور د څه لوښو لرګونه نور هیڅ را نه وته، شپیته اتیا کتابونه او څه قلمي نسخې هم ونیوی شوې او بیا د شپې په تور تیاره کې هغه قامي لیونی د جېل تورو تنبوته وروسپارلی شو. »

داجي بیا دلته لږ (غلی) شو او ما داسې محسوس کړه، لکه چې په زړه یې تیاره راغلې وې.

په دې وجه زه هم چپ ناسته وم تر هغه چې هغوی پخپله غاړه تازه کړه اووې ویل: « جیل ته د تلونه پس د هغه سره کومې کومې لوبې وشوې او څه څه کانې یې وُسره وکړې، دا تپوس مه کوه . . .

خو صرف دومره به درته ووایم چې د یوی میاشتې د ننه دننه هغه داسې حالت ته راورسید وچې شپه اوورځ به یې چغې وهلې، د زندان د یوالونو سره به یې ټکرې وهلې او په زنځیرونو به یې چکونه لګول. اوس هغه په رښتیا لیونی و ، بالکل پوره او مکمل لیونی.

او یوه شپه چې آسمان د غم په تورو لړوکې نښتی و او کله کله به ویږ-قیدو، نو هغه د زندان د اوسپنې په شان کلک د یوال سره یوه ټکره ووهله دا آخری ټکره وه. بیا د هغې چغې په جیل کې چا وانه وریدې. هغه

خاموش شو. څه ساعت پس د شپې په تیاره کې څلورو تنود توري شړي یو پنډوکی وویستواوچې سحر شونو په لویه هد یره کې دا موره غوندې زیاته وه چې اوس ورته قام د بیزو قبر وایي.»

داجي چپ شو، کټ کې یې سرو لګولو، سترګې یې پټمی کړې او زه تصور په غړیدلو سترګو هغه د غلامی د ورته رسولم کوم چې یو غاصب حکومت، یو قامی مین په ژوند لیونی وګرځولو، نو خپل قام هم لیونی وګڼلو او د مرګ نه پس یې د انسانیت د دایرې نه وویستو، نو قام یې اوس هم قبر د بیزو په نوم یادوي. زه په سوچ کې شوم او هم په دې سوچ کې پاتې شوم چې تر څو پورې به څوک غاصب زموږ قامی شعور پورې دغسې خندا ګانې کوي؟!

## غزل

که راځې نوږو د داوښکو به روان کړم
د الفت ګود ربه بیا درته ودان کړم
ژوند مې لاړو یو آرمان شو دې آرمان کې
چې پوره د آرمانی ژوند یو آرمان کړم
د سپرلی او د سروګلو ذکر مه کړه
زه کیسه د سوي زړه ځیرې ګریوان کړم
دا خو اوښکې ځارول دي ستا له غمه
سر به هم د ستاله سر ځنې قربان کړم

پـه زړګـي مـې تـورې لـمبې را خـورې دي
ځـکـه طـمـع د کـکـونـه د بـاران کـړم

د خیالـونو ګوډ اګی یې ځوانیمرګ شو
اوس بـه څـه بـانـدې قـرار زړګـی نـادان کـړم

زمـا رنـځ خـو دغـه رنـځ دی بـس طـبـیـبـه
چې تـه راشـې زه خـپـل رنـځ درتـه بـیـان کـړم

کـه مـې څـېـکـه د (بـانـو) د مـینـې درکـړه
نـو قـسـم دی چې د امـیـنـه بـه آسـمـان کـړم

## یادونه:

دلنډې کیسې ځینې مهمې ځانګړنې دادي: (۱) عنوان یې جالب وي او له محتوی سره رابطه لري؛ (۲) اکثرې لنډې کیسې لوستونکي د استعجاب حس را پاروي؛ له یوې معما سره مخامخ کیږي او هڅه کوي چې د معما د حل کولو د پاره کیسه ولولی؛ (۳) کیسه یوه مهمه مرکزي مفکوره لري چې ټوله کیسه د هماغه هدف یا مرکزي مفکورې د پاره لیکل شوې وي؛ (٤) لنډه کیسه یو اصلي کرکټر یا اتل لري او کیسه د هغه په کردار را څرخیږي؛ (٥) په کیسه کې یو بحراني ځو که وي چې عواطف را پاروي او هیجان پیدا کوي، او (٦) په پای کې غوټه خلاصیږي او لوستونکی نتیجې ته رسیږي.

آیا (د بیزو قبر) کې دغه پورتنی ځانګړنې شته؟ د مرکزي مفکورې په باب دې زده کوونکي مقالې ولیکي او یادې دغې کیسې ته

ورته ـ ه کیسه ولیکي.

د (زیتون بانو) په غزل کې د تناسب له صنعت نه زیات کار اخیستل شوی دی. دغه تناسب په کوموبیتونو کې لیدل کېږي؟

## قلندر مومند:

حبیب الرحمن قلندر د پښتو نامتو شاعر، کیسه لیکونکی کتونکی او څېړونکی په (۱۹۳۰) کې د باړې د مومند و د بازید خیل نومي کلي کې په یوه علمي او ادبي کورنۍ کې زېږېدلی دی. قلندر مومند د لوړ وزده کړو خاوند دی. د (سباوون) په نامه شعري مجموعه يې خپره شوې ده او د ګجرې په نامه يې د لنډو کیسو مجموعه هم چاپ ده. د نظمیات او د (تنقید) په نومونو يې دادبي کره کتنې او ادبي مباحثو په باب دوې ترجمې یا تبصرې ځانګړې خپرې شوې دي. ویل کیږي چې په دې وروستیو وختو کې يې ځینې نور آثار هم چاپ شوي دي. (۱) قلندر مومند په انګرېزي او اردو کې هم لیکنې کوي خو پښتو ادب ته يې د یادونې وړ خدمتونه کړي دي. (اخونزاده فرمان مسافر) دده په باب لیکي: «قلندر مومند یو با اصوله او با شعوره لوړ نقاد، وچت افسانه نګار، ستر شاعر، ادب او صحافي (ژورنالیست) دځه تعارف محتاج نه دی بلکې په درسته ادبي نړۍ کې د هغوی د شهرت لمر ورځ په ورځ په عروج دروميي» (ځلنده ستوري، ۲٤۸ مخ)

(۱) په نورو چاپي کتابونو کې يې: د خیرالبیان تنقیدي مطالعه، پټه خزانه فی المیزان، د محمدی صاحبزاده دیوان، دابوالقاسم دیوان، درحمان بابا کلیات دي.
ددوی د یوې مرکې له مخې: درې ناچاپې لنډې کیسې درامې او مقالې يې هم شته، چې تراوسه لا په کتابي شل نه دي چاپ (هـ).

## بلوشه

هغه شوخه په ساده سپینه جامه کې
لکه شمع د فانوس مینځ کې بلیږي
او زما په شان باد ساده په زرګونو
پتنګان پرې راچلیږي را تلیږي

هغه شوخه په ساده سپینه جامه کې
د بلورو پیمانه کې، لکه مې وي
جل وهلي تندغري ترې راتاووي
نادیده وته یونا ویاته غوندې شي وي

***

هغه شوخه په ساده سپینه جامه کې
د ګلابویو سوچه ګل وي چې واشي
چې سرخي یې سفیدۍ نه وي راوتې
یا شفق د کهکشان غیږې ته راشي

***

هغه شوخه په ساده سپینه جامه کې
په سپوږمۍ کې پرقید ونکی تاج محل وي
چې دوینو سرې اسرې وي پکې خښې
یا مرجان وي د مرمرو سره مل وي

هغه شوخه په ساده سپينه جامه کې
زما شمع، زما جام، زما ګلاب دی
چې زما د پاکې مينې تاج محل دی
لا ثاني دی، لا مثال دی، لا ځواب دی

***

## هميش خليل:

د پښتو د ادب د باغ نه مړاويدونکی ګل، هميش ګل خليل، د انځرګل زوی په (۱۹۳۰) کې د پيښور د خليلو د تپې په مشهور کلي (برتهکال) کې دنيا ته راغلی او په خپلواد بی ګلد ستوريې د ادب د مينه والو د ماغ معطر کړی دی. تر (۱۹۵۷) پورې دده ليکنې د هميش ګل هميش نامه خپريدې خو ځرنګه چې په دغه وخت کې د هميش ګل هميش په نوم يو بل شاعر را پيدا شو نو ده ځانته د هميش خليل تخلص غوره کړ. ويل کيږي چې ده د لبنان د ستر ليکوال او اديب (جبران خليل) له آثارو سره زيات مينه درلوده او له همدې امله يې د خليل کلمه پر پخواني تخلص ورزياته کړه.

هميش خليل د پښتو نامتو شاعر، ژورناليست، او ادبي مؤرخ او څيړونکی دی. ده د پښتو د کلاسيک شاعرانو لکه معز الله مومند، سعيد، بيدل، ميرزا خان انصاري، اشرف خان هجري، حسين، عبدالقادر خان ختک، کاظم خان شيدا، قنبر علی، رحمت داوی، فدا ديوانونه او دغره ګلونه ترتيب او چاپ کړي دي. دادبي تاريخ ليکنې په

لړکي يې پښتانه ليکوال، ورکه خزانه، او ځينو نور آثار د خاصې يادونې وړ دي. دده دوې شعري مجموعې د (نغمه زار) او (زما سندرې) په نامه او د افسانو مجموعه د (چارګل) په نامه چاپ شوي دي. (۱)

هميش خليل لکه د ستر محقق استاد دوست محمد خان کامل په شان دادبي محقق په توګه زيات شهرت لري خو د ابايد ووايو چې هميش ځينې، هميشنۍ او تلپاتې شعرونه هم لري او نوښتګر شاعر او افسانه نګار يې بللی شو.

## تسلې

خدايه خير کړې توره شپه شوه
ګوره ګوره شوه درنه شوه

د فسون دغه عالم کې
د سبا ستر ګه ړنده شوه

چرته ستوري نه ډيوه شته
نه رڼا نه پلوشه شته

نه منزل ته دور تللو
خراما نه حوصله شته

نه ښکالو د چاد پښو شته
نه جرس د قافلو شته

هواغلې، فضا غلې
نه سوزونه د نغمو شته

په يوحال زړونه د رزيږي
ژوند حيران دی څه به کيږي

بس تياري دي او تياري دي
راوريږي هم خوريږي

---

(۱) ښاغلی هميش خليل د چاپ شويو کتابونو شميره ٤٧ ته رسيږي، چې ځينې يې استاد روهی ياد کړي دي او يو ځينې ډير مهم يې دادي: تول پارسنګ (دوې جزوې)، حقيقت دادی، د قلم خاوندان او د شعر دريمه مجموعه خالونه او خاپونه. (هـ).

هغه لري شان تيارو کې		لکه سپينکي په ايرو کې
هم بليږي هم خوريږي		د مشرق په سر درو کې
د تيرو د کور په بام دی		جوړ د نوی ژوند پيغام دی
اې بې تاب زړګيه تم شه		معلوميږي فيض عام دی

****

## سعد الله جان برق:

په (۱۹٤۰) کې د تحصيل نوښار په يوه درنه کورنۍ کې دنيا ته راغلی دی. د قوميت په لحاظ اندړ اسد خيل دی. د خپلې مورنۍ ژبې پښتو نه علاوه په اردو، هندي، فارسي، عربي، او انگريزي ژبو پوهيږي. ښاغلی برق شاعر، ډراماتيسټ، کيسه ليکونکی، طنز ليکونکی او ژوناليست دی او په اصطلاح ځو بعدي شخصيت گڼل کيږي. د (بريښنا) په نامه د ښاغلي برق د شعرونو مجموعه خپره شوې ده. (۱) دلته يې يو انتقادي شعر راوړو چې په هغه کې د پښتنو د معاشرې ځينې نيمگړې اړخونه تصوير شوي دي.

### زموږ کلی اوستا سوکلی

چرته چې باران د خدای د قهر وريدلی دی
هغه زمونږ کلی دی - هغه ستا سو کلی دی

---

(۱) د ښاغلی برق د لنډو کيسو مجموعه د کشمير غازي نوميږي او د طنزونو مجموعه يې گل زيړی دا دواړې مجموعې چاپ دي (ه).

چرته چې غمونه تل کرلی شي په زمکو کې
چرته چې انسان خاورې کولی شي په زمکو کې
چرته چې ازغی را تو کولی شي په زمکو کې
چرته چې گلونه لوغړولی شي په زمکو کې

چرته چې خزان تر عمره غوړیدلی دی
هغه زمونږ کلی دی - هغه ستاسو کلی دی

چرته چې آزاد وي تل سگان کانې تړلي وي
چرته چې پتکی تل د پیراز لاندې راغلي وي
چرته چې ژوندی خلق په خاورو کې منډلي وي
چرته کې چې مړي د ژوندو په مړی غلي وي

چرته چې غریب سړی د کلی نه شړلی دی
هغه زمونږ کلی دی - هغه ستا سو کلی دی

چرته چې گیدړ په از مرو باندې غصې کوي
چرته چې کارغه د باز بچو باندې غصې کوي
چرته چې واړه تل په زړو باندې غصې کوي
چرته کې چې ښځې په سړو باندې غصې کوي

چرته چې توتې د بې غیرتو چغیدلی دی
هغه زمونږ کلی دی - هغه ستا سو کلی دی

چرته ملکې چې تل د غلونو سرداران کوي
چرته د شریفو ضمانت چې بدماشان کوي

چرته کفن کش چې حکومت په قبرستان کوي
چرته مالي توب چې د گلونو قاتلان کوي

چرته چې د گل په ونې پوري خر تړلي دی
هغه زمونږ کلي دی - هغه ستاسو کلي دی

چرته چې کم اصل شوره پشت خلق عزت لري
گرځي په جرگوکې چې څه زور او یا قوت لري
هر څومره که نه سړی وي بیا هم شرافت لري
دا صفت یې ډیر دی چې دولت لري دولت لري.

غاښ چې ماتولي شي هغه سړی ښاغلي دی
هغه زمونږ کلي دی - هغه ستاسو کلي دی

## محمد نواز طایر :

په (۱۹۳٤) کې د ښاغلي عبدالاکبر خان کره زیږیدلی او د ملاکنډ ایجنسي او سیدونکی دی. په ختته یوسفزی دی. پروفیسر محمد نواز طایر د خپلو علمي څیړنو د پاره بنگله دیش، هندوستان، چین، جاپان، امریکې، انگلستان، او دنمارک ته تللی دی. په (۱۹۷۷م) کې په پیښور پوهنتون کې د پوهاند په علمي رتبه ومنل شو. د آزاد نظم په رواجولو کې پروفیسر محمد نواز طایر (۱) او ایوب صابر (۲) درنه ونډه لري.

(۱) د پروفیسور طایر د شعرنو مجموعې چاپ دي: د شعور ډالۍ، پرواز او لرغونی خوب. د بنگالي شاعر قاضي نذرالاسلام شعرونه یې خواږه پښتو شعر ژباړلي او په پیښور کې چاپ دي. نالیدلی سوات، روهي ادب، ټپه او ژوند، آدم درخانی (تحقیقي څیړنه)، روهي متلونه او نور ډیر آثار او ترجمې چې شمیره یې ترڅلوېښتو اوړي (هـ).
(۲) اروانښاد ایوب صابر د شعر مجموعه څگرخون نومی اودده د آزادو شعرونو ښې نمونې پکې مونده کیږي دا مجموعه چاپ ده (هـ).

## تش کاغذ

تاته مې خط لیکلو
لا مې لیکلی نه و
چې په کاغذ د پاسه
دوه ملغلرې
د دو وسترگو نه را پریوتلې
ماوې: بس، دغه بس دی.
ستا دغه خط مې تا ته دغه شان درور سولو
وروستو مې سوچ کولو
چې ته به څنگه ددې تش کاغذ په راز پوهه شې! ؟

## نور نامتو لیکوال او شاعران:

لاتر اوسه د علم او تحقیق درنې ستېږ، لکه استاد دوست محمد کامل، مولینا عبدالقادر، تقویم الحق کاکاخیل، پروفیسر ولی محمد سیال کاکړ، پروفیسور پریشان ختک، سمندر بدربنوی، عبدالحلیم اثر محمد اعظم اعظم او د شعر د آسمان ځلنده ستوری، لکه محمد اشرف مفتون، فاروق شینواری، ناظر شینواري، ساحر اپریدي، فضل حق شیدا، لطیف وهمی، اشرف غمگین، سلیم راز، ولی محمد طوفان، عبدالرؤف زاهد، عبدالرحیم مجذوب، ایوب صابر او نامتو کیسه لیکونکی لکه ماسټر عبدالکریم، طاهر اثر اپریدی، مبارک سلطانه

شمیم، عبدالخالق خلیق، ارباب رشید احمد خان، طاهر بخاري، شیرزمان غمژن (طایزی)، شمس الدین مفلس درانی، نادر خان بزمی، اشراف حسین احمد، گل افضل خان، مراد شینواري، عبدالغفران بیکس، روغ لیونی او داسی نور نه دي معرفی شوي چې د کتاب حجم تر لازمې اندازې پورې ورسید.

څرنګه چې په دغه کتاب کې عمده هدف دادی چې زده کوونکي د اسکلیټ په نسبت زیاتره د ادب له روح او جوهر سره آشنا شي نو ځکه مو د شاعرانو او لیکوالو بیروګرافی (ژوند لیک) ته لږه پاملرنه وکړه او ددې په ځای مو هغه آثار را نقل کړل چې لیکوال او شاعر د هغو آثارو په برکت نوم ګټلی دی او د بیوګرافی خاوند شوی دی. کله چې د پښتو ادبیاتو قاموس یاد ایرة المعارف لیکل کیږي نو په هغه کې بابد د لیکوالو، شاعرانو او ادبي څېړونکو پر ژوند او افکارو پراخې څېړ‌ تر سره شي. په دغه کتاب کې د ښوونکی دنده داده چې تر وسې پورې د هر ادبي اثر هنري ښکلاوې او فني ځانګړتیاوې له زده کوونکو سره تر بحث لاندې ونیسي. بر سیره پردې، لهجوي ځانګړنې، د نوښتګر انفرادي سبک او دا فادې ډول، لیک نښې او داسې نورې مسألې هم د بحث وړ دي.

# لنډيز او کلي تصوير

## ادبي تاريخ:

دادبياتو تاريخ ياد ادب تاريخ په واقعيت کې د هنري ادبياتو تاريخ دی چې په هغه کې د ادبي آثارو د ايجاد تولنيز شرايط، دادبي دورو ځانګړنې، او د ليکوالو او شاعرانو هنري هستونې تربحث لاندې نيول کيږي. په ادبي تاريخ (د ادب تاريخ) کې يوازې هغه آثار څيړل کيږي چې هنري او بديعي ارزښت ولري. له همدې امله، د ساينس، فلسفې او نورو علومو (لکه: تاريخ، سوسيولوژي، فقه، حکمت ژبپوهنه، لغت پوهنه او نور) په باره کې تحقيقي آثار په ادبي تاريخ کې تر بحث لاندې نه راځي. د ادب عمده ژانرونه چې ادبي تاريخ وربانديې بحث کوي، دادي: کيسه (رومانس، ناول، لنډه کيسه، حماسه، او چرک)، شعر، هنري نثر، طنز، ادبي مقالې، او هرډول موضوعات چې په هنري ژبه افاده شوي وي او ادبي شکلا لري.

په دې اساس، کله چې یوه تاریخي، فلسفي او یا علمي موضوع ادبي شکل ځانته غوره کړي او بدیعي او عاطفي اغیزه ولري، د ادب قلمرو ته داخلیږي.

څرنګه چې (ادبي تیوري، ادبي کره کتنه، ادبي تاریخ، سبک پیژندنه) هم د ادبیاتو یو عمده توک دی نو ځکه ادبي څیړنې هم تریوې اندازې د ادبیاتو په تاریخ کې معرفي کیږي. لیکن بدیعي یا تخلیقي ادب د ادبیاتو د تاریخ محوري موضوع ده اوله همدې امله، په ادبي تاریخ کې یو کم سوازه شاعر ته د یوه ستر ادبي محقق او پوهاند په نسبت زیاته پاملرنه کیږي. ادبي تاریخ د هنر د یوې څانګې تاریخ دی نه د علم تاریخ، نو ځکه هلته د عالم په ځای هنروال تر بحث لاندې راځي.

ادبي تاریخ له سیاسي او فرهنګي تاریخ سره توپیر لري. په ادبي تاریخ کې سیاسي او فرهنګي پیښې هغه وخت څیړل کیږي چې ادبي جریان ته په شکل ورکولو کې کوم مهم نقش ولري، د معاصرو افغاني ادبیاتو په تاریخ کې د سیاسي پیښو اغیزه ډیره څرګنده ده او کله کله ادب د سیاسي تګلارې د تبلیغ د پاره ګمارل شوی او په د ستوري ادب بدل شوی دی. ادب یوازې د حکومت له خوانه، بلکې پخپله د نوښتګرو لیکوالو او شاعرانو له خوا هم ټولنیز او کلتوري ریفورم ته وقف شوی دی. کومو لیکوالو او ادبي څیړونکو چې له سیاست نه د ادب د جلا کولو په لاره کې ګام اخیستی دی له سختو انتقاد ونوسره مخامخ شوي دي او د بې تفاوتۍ، ذهني عیاشۍ او معامله ګرۍ تورونه ورباندې

لګیدلي دي. نو هغه څوک چې د افغاني معاصرو ادبیاتو تاریخ لیکي باید چې له سیاسي جریانونو سره پوره آشنا وي، لیکن په ادبي تاریخ کې د سیاسي، اقتصادي، او فرهنګي پیښو بیانول هغه وخت د توجیه وړ ګڼل کیږي چې د ادبي جریانونو او ادبي پدیدوله توضیح او پوهیدو سره مرسته وکړي. د ادبي تاریخ اصلي موضوع د ادبي جریانونو پیژندنه ده.

ادبي تاریخ له ادبي تذکرو سره هم توپیر لري. په ادبي تذکرو کې د شاعرانو، داستان لیکونکو او نوښتګرو لیکوالو د ژوند پیښې په کرونو لوجیک اساس، یو په بل پسې معرفي کیږي. ادبي تذکرې د ادبي آثارو د ایجاد شرایط او د تاریخ په یوه ټاکلې مقطع کې د ټولو شاعرانو او لیکوالو مفصلې سوانح معرفي کوي. ادبي تاریخ د زمانې په توالي کې د ادبي جریاناتو په څرنګوالي باندې بحث کوي او ترمکنې اندازې هغه عوامل راښیي چې د ادبي جریان له پرمختیا او پراختیا سره یې مرسته کړې ده او یایې د ادب د انکشاف مخه نیولې ده. په ادبي تاریخ کې حتمي نه ده چې د هر شاعر او لیکوال په ژوند او اند باندې جلاخبرې وشي، بلکې ددې په ځای نامتو څېرې، نامتو سبکونه، نامتو فکري مکتبونه او د هغو استازي معرفي کیږي. ادبي تاریخ خپل مواد له ادبي تذکرو څخه رااخلي او چیرته چې دغه مواد د یوې آیډیا، یوه تیسیس او یوې فرضیې د جوړولو د پاره کار ورکوي، په هماغه خپل مناسب ځای کې ترې کار اخیستل کیږي.

ادبي تاريخ له ادبي تيوري، ادبي کره کتنې، متن څېړنې، سبک پېژندنې، او د شاعرانو او ليکوالو په باب له تذکرو څخه استفاده کوي. که ادبي مؤرخ کومه تيوري ونه لري نو بهتره به وي چې د ادبي تاريخ د ليکلو نه لاس واخلي. د ادبي پديدو توضيح يوازې هغه وخت مفهوم او معنى پيدا کوي چې د يوه فکري سيستم او ادبي نظرېې سره اړخ ولګوي. ادبي تيوري د ادبي جريانونو د پيدايښت او انکشاف عوامل رابرسيره کوي، د دوره بندۍ او تصنيف د پاره معيارونه تهيه کوي، د ادبي آثارو د ارزيابۍ د پاره نور مونه وضع کوي او د ادبي تاريخ د پوهيدو په برخه کې لوستونکي ته زيات بصيرت ورپه برخه کوي. همدارنګه ادبي مؤرخ بايد د کره کتنې، متن څېړنې او سبک پېژندنې له اصولو او اساساتو سره پوره اشنا يي ولري.

## د پښتو ادبي تاريخ دورې:

د ادبي د ورو ټاکنه د ادبياتو د تاريخ يوه غټه ستونزه ده. يوازې پښتو نه، بلکې په يو شمير نورو ژبو کې هم ادبپوهان د ادبي د ورو په ټاکنه کې يو لاس نه دي. په دغه کتاب کې د ځينو دلايلو پربنا د ادبي دورو د ټاکنې پخوانۍ نظرېې رد شوې دي او پر ځای يې نوې طرح وړاندې شوې ده. ددغې طرحې په اساس، د پښتو ادب تاريخ پر درو دورو ويشل شوی دی: (۱) پخوانۍ ادبي دوره، (۲) منځنۍ ادبي دوره، او (۳) معاصره يا اوسنۍ ادبي دوره.

د پخوانۍ ادبي دورې څخه کوم اوريجينل (اصلي، لومړی لاس)

اثر چې لاس ته راغلی دی او لیکدود یې اوسنۍ ښکاري، هغه د سلیمان ماکو (تذکرة الاولیأ) ده چې په افغانستان باندې د چنګیز د یرغل په درشل کې لیکل شوې ده او د څوتنو شاعرانو د شعر بیلګې یې خوندي کړې دي. د پخوانۍ ادبی دورې په باب ټول معلومات له ادبي تذکرو څخه لاس ته راغلي دي او د شاعرانو د یوانونه د جګړو او د ناپوهۍ او بې قدرۍ په وجه له مینځه تللي دي نو د دغې دورې د محدودو شعري بیلګو په استناد د ډاډ وړ تصنیف او تحلیل ډیر مشکل بریښي، سره له دې، په عمومي ډول وېلای شو چې د پخوانۍ ادبي دورې په آثارو کې د لرغونو آریایي سندرو سره ورته والی لیدل کیږي. د قالب په لحاظ، د پخوانۍ ادبي دورې شعر سیلابو - تونیک دی یعنې د هجاوو (سیلابونو شمیر او د خج - فشار یاضربې) منظم تکرار له یوې آزادې غوندې قافیې سره د شعر شکل جوړوي. د دغې دورې شعر فوکلوري ادب له لیکنې (تحریری) ادب سره نښلوي. د پخوانۍ ادبي دورې شعر له پاستورال (د شپنو) شعر سره پوره نږدېوالی لري. کوم شعرونه چې له درباري ژوند سره اړه لري او یاد نوروژ بودا غیزو څرک پکې لګیږي په هغو کې د تصویر بنه هم پر مختللې ده. پخوانۍ ادبي دوره په عام ډول، د پښتنو قبیلوي ژوند تمثیلوي او د شعر سوژه یې مینه (له خدای سرمینه، د دین له لویانو او د قام له مشرانو، د ملګرو، د ټاټوبي او محبوبې سره مینه، او کله کله له طبیعت سره مینه) ده.

منځنۍ ادبي دوره په هند کې د جاګیر دارۍ د نظام او په ښکلو

هنرونو (په تيره په معماري، موسيقي، او شعر) کې د عالي ذوق او ظرافت خوښونې له تبارز سره کلک پيوستون لري. د منځنۍ دورې ادب د هغه پرتمين فرهنګ پلوشه ده چې د (روه) په سيمه کې د لمر په شانې ځليدلی دی. د منځنۍ دورې ادب په لومړي سر کې له ايديالوجيکی تبليغاتو سره پيل کېږي او وروسته تقريباً د خالص ادب بڼه ځان ته غوره کوي. بايزيد انصاري لومړنی شخص دی چې د روښاني فرقې د عقايدو د تبليغ د پاره يې له تورې او قلم څخه کار واخيست. دده پلويانو روښاني افکار د هنر په چينه کې ولمبول او د مذهب په لباس کې يې د عرفان مينه والو ته ورمعرفي کړل. ددغه فکري جريان په څنګ کې د پښتنو يو ستر مفکر او شاعر خوشحال خان ختک د منځنۍ دورې د ادب پرتاد او باندې يوه ښکلې ماڼۍ ودروله چې لاتراوسه يې تولې ښکلاوې او مفاهيم نه دي رابرسيره شوي. په داسې حال کې چې خوشحال خان ختک او دده کورنۍ پښتو ادب د شهرت لوړې څوکې ته وخيژاوه او د رحمان بابا په برکت شعر د پښتنو کوډلو ته لاره پيدا کړه. په لويديزه پښتونخوا کې د شاه حسين هوتکي په دربار کې هم د علم او ادب پالنې ته زيا ته پاملرنه وشوه. د منځنۍ ادبي دورشعرنه يوازې د درجې په لحاظ، بلکې د کيفيت او نوعيت له پلوه هم د پخوانۍ ادبي دورې له شعر سره جوت توپير لري. ددغې دورې ستر شاعران، لکه خوشحال خان، رحمان بابا، عبدالحميد مومند، او کاظم خان شيدا د جلا جلا سبکونو خاوندان ګڼل کيدای شي.

اوسنۍ دوره له هغه وخته پیلیږي چې د افغانانو په عنعنوي ټولنه کې د صنعتي نړۍ مفکورې، ذهنیتونه، او له مسایلو سره د مخامخ کیدونوې طریقې باب شوې. معاصر شعر د عصري کیدلو (موډرنیزیشن) له جریان سرمینځ ته راغی. که څه هم د امیر شیرعلی خان د سلطنت په دوهمه پلاکې د عصر ی کیدلو لومړنۍ بیلګې لیدل کیږي خو په شعر او د ادب نورو څانګو کې د نوې دورې نخښې په نظر نه راځي. په سراجیه عصر کې د (سراج الاخبار) په خپریدلو سره نوی معاصر ادب هم وزرونه وغوړول او د الوتنې لومړنۍ تجربه یې ترسره کړه. د (سراج الاخبار افغانیه) شعرونه د محتوا او شکل له پلوه د منځنۍ ادبي دورې له اشعارو سره څرګند توپیر لري.

دغه شعرونه د یوه نوي عصر پیغامونه، غوښتنې، او انګیرنې انګازه کوي.

## د معاصر ادب پړاوونه:

هماغسې چې یو نیالګی د خپلې ودې د پاره خاورې، اوبو، هوا، او لمر ته اړتیالري. داادب د بې نیالګي هم له ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي، او فرهنګي شرایطو سره اړه لري. هنري فرهنګ په خالیګاه کې مینځ ته نه راځی، بلکې په هغه کې ټولنیز ژوند انعکاس مومي. سره له دې چې ادب یوه نسبي شانته خپلواکي لري او کله کله طغیانګر نوښتګران له زمانې سره ډغرې وهي او د مسلط ټولنیز ذهنیت په وړاندې قیام کوي، خو په عمومي توګه، ادب د ټولنیز ژوند هنداره دی. له دې امله، هغه

وخت چې د هیواد له پیکرنه په تحمیلي توګه یوه برخه بیله شوه، د ادب له ستنې څخه هم دوه غټې ښاخونه پیدا شول. د پښتونخوا په ادبیاتو کې تر (۱۹٤۷) پورې د انګریزي استعمار پر ضد مبارزه یو عمده مضمون و، په داسې حال کې چې په افغانستان کې له (۱۹۱۹) نه وروسته د شعر او ادب مخه داخلي اصلاحاتو ته راڅرخیدلې وه. همدارنګه د (۱۹۷۸م) کال له اپریل (د ثور له پیښې) وروسته چې په افغانستان کې کومې ترانې وویل شوې او د استان ورمه کیسې ولیکلی شوې طبعاً په پښتونخوا کې هماغسې ترانې او کیسې نه شوې لیکل کیدای.

په افغانستان کې ادبیات تر زیاتې اندازې له سیاسي جریانانو سره تړل شوي دي. ښایي ددې خبرې عمده علت د ټولنې ناوړه شرایط (فقر، لوږه، بیسوادي، ناپوهي، اختناق، بې عدالتي او نور) وي چې د وجدان خاوندان یې ځورولي دي او د اناشونې وه چې شاعر او لیکوال ددغو ناوړه شرایطو په وړاندې پرخپله خوله د چوپیا مهرولګوي او یا په اصطلاح ګونګه روژه ونیسي او په مستقیم یا مرموز (سمبولیک) ډول د څه ویلو نه ډډه وکړي.

د افغانستان شرایط د لویدیځې صنعتي نړۍ له شرایطو څخه توپیر لري. هلته د لومړنیو اړتیاوو زیاتره ستونزې حل شوې دي، کیدلی شي چې شاعر او لیکوال دې نړه هنر (البته مطلق نړه هنر نشته) سره مینه ولري او له ورځني سیاست څخه دې ځان لیرې وساتي.

ددغې پورتنۍ یادونې اصلي هدف دا وچې په افغانستان کې ادبي

پراوونو خپل نومونه د سیاسي جریانونو څخه اقتباس کړي دي. په ځینو وختو کې شعر د شعار بڼه غوره کړې ده او د استان هم د علمي سوسیالوژی (!) د پرنسیپونو[٩] اساس لیکل شوی دی، تیوري پرواقعیتونو تحمیل شوې ده او دریالیزم ترسرلیک لاندې واقعیتونه مسخ شوي یا تحریف شوي دي.

په دغه کتاب کې د معاصر ادب دوره په د رو پړاوونو ویشل شوې ده: دور ښانتیا پړاو، د ویښتیا پړاو، او د اوښتون پړاو. ښایي نن سبا د جګړې له پای ته رسیدو وروسته په شعر او ادب کې نوی تحول راشي او کومه بله دوره یا پړاو پیل شي، لیکن تراوسه پورې زموږ له خوا وضع شوی معیار ټول ادبي جریانونه او د هغو د پرمختیا بهیر په علمي توګه توضیح کولی شي.

ددغه کتاب د لیکلو په وخت کې یو تن د ادبیاتو ښوونکی د انتقاد په لهجه وویل: د ویښتیا دوره باید تر روښانتیا مخکې راشي ځکه چې لومړی شخص له خوبه ویښیږي او بیا یې ذهن روښانه کیږي. په ځواب کې ورته وویل شول: که ادبیات د فیزیولوجۍ په اساس مطالعه کړو نوستاسو خبر سمه ده خو ادبیات له سایکالوجۍ (روحیاتو) سره نژدې اړیکې لري.

د سایکالوجۍ په اساس، یو شخص باید وپوهول شي، ذهن یې روښانه شي او کله چې وپوهیږي نو د غفلت او بیخبرۍ له خوبه راویښ شي او عمل ته چمتو شي، لکه چې: یوه ګوند غړي ځانونه ویښ ځلمیان

بولي نو دلته د (ويښ) کلمه د منور اوروشنفکر په مفهوم راځي او داد (ويښ) دوهمه معنا ده. هماغسې چې مور وايو: «آفرين سړی يې!» دلته د (سړی) کلمه تش (مذکرجنس) نه افاده کوي، همدارنګه کله چې وايو: «توريالی ويښ هلک دی» مقصد دا نه دی چې همدا اوس له خوبه راپاڅيدلی دی. له بل پلوه، دغه نوموړنه تاريخ تاکلي دي. سراجيه عصر د تنوير اوروشنګرۍ دوره بلله کيږي او د امير امان الله خان د پاچهۍ په دوره کې هم دغه کلمه استعماليږي. دويښتيا پړاو دويښ ځلميانو له نهضت سره اړه لري او اوښتون هم د بنيادي تحول په مفهوم استعمال شوی دی.

## د روښانتيا پړاو:

کله چې دامير حبيب الله په پاچهۍ کې عصري ښوونځي پرانيستل شول او په پښتونخوا کې د خدايي خدمتګارو په همت مدرسې جوړې شوې نو په ټولو پښتني سيموکې د ښوونځيو او مدرسو پرضد سخت عکس العمل و ښودل شو. ددغه مطلب د توضيح د پاره به د (ځلند ستوری) له کتاب څخه د لعل زاده ناظر شينواري د ژوند ليک په باب څوکرښې راواخلو. «اګر چه په لواړګي کې مدرسه قايمه وه خو د بدقسمتۍ له کبله د مروجه تعليم نه محروم پاتې دی. د پخوا راهيسې په پښتنو کې دابې مقصده متل مشهور او روان دی چې:

سبق د مدرسې وئ

د پاره د پيسې وئ

جنت کې به يې ځای نه وي
دوزخ کې به غوپې وئ

ښاغلی ناظر چې لږ لوی شو چانا پوهه نه يې دامتل تر غوږ شو نو د مکتب پله تلل ورته سور کفر ښکاره شو. » همدارنګه کله چې امير امان الله خان د خلکو د ذهن د روښانولو په نيامت د افغانستان جنوبي سيمو ته سفر وکړ او د ښوونځيو د پرانيستلو د پاره يې تبليغ کاوه نو کوم ولسي شاعر يوه سندره وويله چې تر ډيره وخته د خلکو په خولو کې جاري وه. ددې سندرې سر داسې دی:

امير امان الله راغئ ناوې ته
خاونده خير پېښ کړې کلمې ته

د هيواد روښانفکره قشر د عصري ژوند د ښيګړو د بيانولو د پاره د قرآن کريم له آيتونو او نبوی احاديثو څخه په استفادې سره په مبارزه پيل وکړ. دوی هڅه کوله دا ثابته کړي چې د هيواد ترقی غوښتنه د اسلام سپيڅلي دين ته تاوان نه رسوي او که مسلمانان د ساينس او ټکنالوجۍ له منلو څخه غاړه وغړوي نود لويديز استعمار له منګولو څخه به ځان خلاص نه کړي او هميشه به په فقرا وبدبختۍ کې ژوند تيروي. مسلمان حق لري چې له د نيوي نعمتونو څخه هم استفاده وکړي، ديندارې او دنياداري يو تر بله ضد نه دي.

ددې د پاره چې د هغه وخت ذهنيت په ښه توګه څرګند شي نود امان الله خان د تکفير د فتوی څوټکي به را واخلو. دغه فتوا د څواوياتنو له

خوا د سقاو دزوی د پاچهی په وخت کې صادره شوې وه. د امان الله خان د تکفیر دلایل داوو: «د خولې سلام یې منع کړ او د لاس په اشاره سلام یې رواج کړ، د پګړی په ځای یې خولۍ رواج کړه، د پخواني لباس په ځای یې دریشي باب کړه، دږیرې خریښل یې دود کړل، د ښځو ښوونځي یې جوړ کړل، د برقع (چادري) اغوستلو دود یې له مینځه یووړ، نجونې یې دزده کړې د پاره خارج ته واستولې، ددین له علما وو سره یې مخالفت وکړ، په ښوونځیو کې یې دانګریزي ژبې زده کړه شامله کړه، قمري سنه یې په شمسي واړوله؛ انګریزي نیټه او سنه یې دود کړه؛ په شرع کې یې فساد ته لاره خلاصه کړه؛ د جمعې دورځې رخصتي یې پنجشنبې ته راوسته. . .» (افغانستان در مسیر تاریخ، ۸۲۷) په دې کې شک نشته چې د اماني دورې ځینې کارونه بې لزومه او له وخت نه مخکې وو خو په هر صورت، دغه فتوی د هماغه وخت مسلط ذهنیت څرګندوي چې په څومره اسانۍ سره به پرروښانفکرانو او اصلاح غوښتونکو د تکفیر ټاپه وهل کیده.

دروښانتیا پړاو د ادبیاتو کومې بیلګې چې لاس ته راغلې دي په هغو کې د ذهنونو دروښانولو او د نویو مفکورو د بابولو لپاره زیار ایستل شوی وی. د نشنلیزم په اساس له هیواد سره مینه یوځه نوې مفکوره وه. پخوا به افغانانو په اکثرو جګړو کې د مذهبي احساساتو پرېنا ګډون کاوه. د هیواد پالنې ایډیا څه نوې خبره وه. همدارنګه د ترقي غوښتنې مفکوره د لومړي ځل د پاره د شلمې پیړۍ له دوهمې لسیزې

ځخه باب شوه. څرنګه چې د هیواد د ترقۍ د پاره د لویدیز ساینس او تکنالوجۍ تعمیمول یو حتمي توک ګڼل کیده نو ځینو کسانو ترقي د اسلامیت مغایره ګڼله او د هغې پر ضد یې خبرې کولې.

د روښانتیا په زمانه کې د ناول اولنډې کیسې کومې بیلګې نه دي ترلاسه شوې. د دغه وخت شعرونه د (وطنیه) شعرونو په نامه شهرت لري چې په هغه کې د وطن سره مینه، دوطن له آزادي، د وطن له ترقۍ او د ټولنې له تجدد سره مینه منعکس شوي دي.

د روښانتیا د پړاو په شعرونو کې د ټولنیز رسالت او پیغام برخه ډیره پیاوړې ده. محمود طرزي نامتو ژورنالیست چې د روښانفکرانو په روزنه او پالنه کې دده ونډه ډیره درنه ده، معاصر شعر له کلاسیک شعر سره پرتله کوي او پر کلاسیک شعر باندې په دې دلیل چې ټولنیز التزام او تعهد نه لري او د معشوقې په ستاینه کې له بیخونده اغراق ځخه کار اخلي، ملنډې وهي.

د روښانتیا پړاو شعر د ټولنیز هدف د تحقق یوه وسیله ده او شاعر کوشش کوي دوزن او قافیې ځخه په استفادې سره خپل پیغام په اغیزمنه توګه د خلکو غوږونو ته ورسوي. داسې نه ښکاري چې د شاعر د پاره بدیعي او هنرۍ اړخ ځه ارزښت لري. هغه نیغ په نیغه دوزن او قافیې په قالب کې خپل مطلب بیانوي، شعریت د هغه د پاره یوه فرعي مسأله ده. په دې حساب، ددې وخت شعر د وزن او قافیې درلودونکی نثر دی چې د شعر تلازمات، لکه تشبیه، استعاره، او تصویر په ندرت سره پکې لیدل

کیږي. عبدالعلي مستغني د روښانتیا د زمانې یوریښتونی شاعر دی او په فارسي کې یې رنګین غزل ویلی دی خو کله چې پښتو ته راشي نو هلته فقط د مکلفیت د نده ترسره کوي او په شوق اوذوق سندرې نه وایي.

همدارنګه عبدالهادي داوي د مستغني لاره تعقیبوي. (په قفس کې بلبل) د پښتویو ښکلی شعر دی خو پر هغه باندې هم د ترجمې تپا په لګیدلې ده څکه چې اصلي شعر د عبدالهادي داوي (پریشان) دی چې په فارسي ژبه یې ویلی دی.

لنډه یې دا چې د روښانتیا پړاو شاعران په دې اساس چې: (۱) د معاصر پښتو شعر د بنسټ تیږه یې ایښې ده او (۲) د یوه غم ځپلي او فقروهلي ولس د نیکمرغۍ د پاره یې د خپل ضمیر آواز پورته کړی دی، په ادبي تاریخ کې د یادونې وړ مقام لري.

## دویښتیا پړاو:

د محمد ظاهر شاه د سلطنت په زمانه کې دوړیا ښوونې اوروزنې او د لیلیې د آسانتیا وو څخه په استفادې سره د خوارانو او غریبانو زامن هم د لوړو تحصیلاتو خاوندان شول او یو تعلیمیافته قشر چې د لوږې، فقر، اختناق، او استبداد خوند یې څکلی و، مینځ ته راغی.

دولتي واکمنانود پټو ګوندونو د جوړیدو په ځای د اغوره وګنله چې د ناراضه روښانفکرانو د ملایم انتقاد دپاره دوروازه خلاصه کړي او نهضت تر خپل کنټرول لاندې وساتي. که څه هم د ویښ ځلمیانو د نهضت ځینې غړي ادعا کوي چې د نهضت نوم (دویښ ځلمیانو ګوند)

و، خو په هغه وخت کې دولتي واکمنانو نه غوښتل چې د ګوند کلمه د خلکو غوږونو ته ورسیږي نو هغه د ډلې یا جمعیت په نامه یادیده. د ویښو ځلمیانو ګوند د پښتنو لیکوالو او شاعرانو په مذاق برابرو او دولت هم ددوی د مرام له ځینو نورو فقرو سره موافقه درلوده. لږ وخت وروسته ځینې نورې سیاسي ډلې له جلا مرامنامو سره د مبارزې ډګرته راووتلې.

پښتو ادبیاتو له یوې خوا په (۱۳۱٦ هـ ش) کې د پښتو ټولنې په جوړیدو سره او له بلې خوا د (۱۳۲٦ هـ ش) په شاوخوا کې د ویښو ځلمیانو د نهضت په پیاوړي کیدو سره وده وکړه او یو شمیر نامتو شاعران او لیکوال راپیدا شول. په دغه وخت کې لیریک (غنایي) ادب د حماسي ادب په وړاندې د تبارز او ځان ښوونې صلاحیت له لاسه ورکړی و. په عمومي ډول، ادبیاتو دریفورم له حدودو چندانې تیری نه کاوه، په دغه ادب کې د نیشنلیزم رنګ له ورایه ښکاریده، د دموکراسۍ او اقتصادي ریفورمونو رنګونه تت غونډې و. د مظلومانو او زیارکښانو سره خواخوږي ښودل کیده خو د وضعې د بدلولو د پاره کومه اساسي طرح نه وړاندې کیده.

دویښتیا پړاو په ادب کې دریالیزم هنري میتود مسلط و، د نورو میتودونو سره څوک آشنا هم نه وو. په دغه وخت کې پیغام د خپل ځان د څرګندولو د پاره هنري ژبه پیدا کړې وه. الفت او بینوا ددې قدرت درلود چې د پیغام ناوې د هنر په ګانه سینګار کړي. وریسې لایق، شپون، او جهاني راغلل. خو دا باید وویل شي چې د نور محمد تره کي

او لایق په لومړنیو آثارو کې د انتقادي ریالیزم نه ها خوا څه نه لیدل کیږي. د نور محمد تره کي (دبنګ مسافرۍ) ناول چې لومړی ځل د کابل مجلې له خوا په ځانګړي ډول چاپ شو، په هغه کې د بنیادي بدلون په باب څه نه دي ویل شوي. البته په دوهم چاپ کې ځینې خبرې پکې زیاتې شوې دي چې د ناول اصلي موشن (حرکت) ته یې تغییر ورکړی دی. په هر صورت، د مطلب اصلي ټکی دادی چې د ویښتیا د پړاو عمده مضمون ټولنیز ریفورم دی او که د بنیادي تحول په باره کې څه ویل شوي وي، هغه تقریباً د نشت په شمار دي.

د ویښتیا د پړاو نامتو استازی، الفت، بینوا، خادم، تره کی، لایق، شپون، شفیق، بهاألدین مجروح، صدیق پسرلی، جهاني او نور دي. د ادبي څیړنې په ساحه کې د لوی استاد حبیبي، اکادمیسین رشاد، پوهاند رښتین، پوهاند دوکتور الهام، پوهاند تري، پوهاند زیار، د اکادمیسین کاندید ابراهیم عطايئ بختانی، دوست او نور نومونه د یادونې وړ دي.

د اوښتون پړاو: په (۱۳۴۲ش) کې له صدرات څخه د محمد داؤد تر استعفاء وروسته یو ځل بیا د دموکراسۍ دوره پیل شوه. نوی اساسی قانون نافذ شو. د سوله ییزو مظاهرو او اعتصابونو اجازه ورکړل شوه، آزادې جریدې راووتې، او نیمه رسمي ګوندونو په فعالیت پیل وکړ. د (۱۳۴۵) کال په حمل کې (د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند) خپرونکی ارګان د (خلق) جریده راووتله او د هغې له بندیدو وروسته د

(پرچم) جريدې په خپريدو پيل وکړ. په همدې وخت کې له شوروي اتحاد څخه چې د افغانستان سره يې په اقتصادي، فرهنگي، او نظامي ساحو کې مرسته کوله، دايډيالوجيکي تبليغ د پاره مجلې او کتابونه زارسيدل. په لږه موده کې د موکراسي د کينړ لاسو گوندونو لاس ته ورغله. د لس کلونو د دموکراسۍ په موده کې د اوښتون د پړاو ادبياتو آزانگه د هر چا غوږ ته ورسيده.

د (۱۳۵۷ش) کال د ثور په اوومه نيټه د افغانستان د خلق دموکراتيک گوند له خوا د محمد داؤد رژيم ته خاتمه ورکړ شوه. دغه بدلون «ثور د ملي دموکراتيک انقلاب» په نامه وبلل شو او په (ملی سرود) کې يې خلکو ته د کور، کاليو، او ډوډۍ وعده ورکړ شوه. دا چې وروسته څه پيښ شول او څنگه سرې لښکرې افغانستان ته داخلې شوې زموږ د بحث اصلي موضوع نه ده.

د اوښتون پړاو د ادبياتو عمده محتويات د فيوډاليزم او امپرياليزم پر ضد مبارزه، د «ثور انقلاب» له برياوو څخه دفاع، دزيار کښانو او کارگرو له حقوقو څخه ملاتړ، انترناسيوناليزم، سوويتيزم، د شوروي-افغان دوستي، د «مليتونو» ترمينځ برابري، د گوندي مشرانو ستاينه، دارتجاع سپکاوی او غندنه، او داسې نور دي. د شکل له پلوه ددغه وخت شعر، شعارته ورته دی، نيغ په نيغه د مطلب تکی بيانوي، شعريت ته چنداني پاملرنه نه کيږي او کله کله دوچو ښکنځلو سطحې ته راټيټيږي. په اکثرو د استانونو کې د ابتذال او سطحي توب نخښې له

ورایه څرګندیږي.

له (۱۳۶۵ ش) کال نه را په دیخوا چې د نړۍ په اکثرو سیمو کې د آزادۍ ورږمه وچلیده او بلبلا نو ته د قفس د روازې خلاصې شوې په افغانستان کې هم د روغې جوړې د تګلارې په برکت یوه نسبي آزادي راغله. د تخلیق له آزادۍ سره په ادبیاتو کې څرګند تحول راغی. د غزل ژانر چې د شلمې پیړۍ په درشل کې له افغاني ادبیاتو څخه په تبعید محکوم شوی و، بیرته د ادب قلمروته راستون شو او د ګلونو په شیندلو او د عطر په پاشلو سره یې هر کلی وشو. حماسي (شعر) او رجز خوانۍ ورته خپله کرسۍ خوشې کړه. په ناول او لنډو کیسو کې هم د فزیکي اخ وډب ځای اروایي حالاتو ونیو. په شعر او کیسه کې د پاسیفیزم او یو ډول عرفاني هیومانیزم خوا ته تمایل پیدا شو.

روشنفکران له سیاست او د کمانیزم نه تریوې اندازې بیزاره شول. د ارزښتونو بحران او د معنویت سقوط پرنوښتګرو لیکوالو او شاعرانو باندې ناوړه اغیزه وکړه. زړې لارې اغزنې شوې او د نوې لارې د پیدا کیدو دپاره هلو ځلو تراوسه کومه نتیجه نه ده ورکړې. زموږ دوخت شاعر د آرمانونو جنازه د ناامیدۍ په هدیره کې خاورو ته سپاري.

لیکن هلته لیرې په افق کې د رنګارنګ رڼاګانو اورلو به (آتشبازي) ښکاري، ښایي چې د غه د جشنونو اورلو به یوه ورځ د لته هم پیل شي. څوک څه پوهیږي ښایي . . .

## د پښتونخوا ادبي بهیر:

د پښتونخوا معاصر ادب د شلمې پیړۍ له لومړۍ لسیزې څخه پیل کیږي. که څه هم په دې باره کې ځینې پوښتنې شته خو دا خبره له شک نه وتلې ده چې د همدغې پیړۍ په دوهمه لسیزه کې په پښتونخوا کې د معاصر ادب ډیرې ښکلې هنري بیلګې مینځ ته راغلې دي.

دادبي تاریخ لیکونکی د پښتونخوا معاصر ادبیات په دوو پړاوونو ویشي: لومړی پړاوې د شلمې پیړۍ له لومړیو کلونو څخه پیلیږي تر (۱۹٤۷) کال پورې - چې له هندنه دانګریزانو د وتلووخت دی - دوام کوي. دوهم پړاو له (۱۹٤۷) کال نه را په دیخوا پیلیږي او تردې شیبې پورې دوام لري.

د پړاوونو د ویش دپاره داسې دلایل وړاندې کیږي: (۱) د لومړی پړاو عمده مضمون له انګریزي استعمار او د هغو له تالی څټو سره مبارزې ته وقف شوی دی. په داسې حال کې چې په دوهم پړاو کې دغه مضمون نشته. (۲) په لومړي پړاو کې د تعهد او پیغام ونډه زیاته ده، په دوهم پړاو کې عاطفي او جمالیاتي اړخ د پاملرنې په محراق کې واقع شوی دی. آیا دغه دلایل کافي دي؟

د پښتونخوا معاصر ادب د هماغه لومړي سرنه د شکل او محتوی له پلوه هم آهنګ راغلی دی. پخوا له دې چې راحت زاخیلي د (کونډه جینۍ) افسانه ولیکي پښتونثر د هنر له فلترنه تیر شوی و، روڼ او

ځلیدونکی نثر باب شوی و او د نویو ژانرو نومنلو ته تیار و. د پښتو د هنري نثر په فصاحت او ظرافت کې داردو ژبې اغیزه هم له نظره نشو غورځولی. دلته د بوبې او سو چه پښتود بابولو په نامه ډیر د رانده الفاظ جوړ شول خو هلته د خوش آهنګی د پاره تلاش روان و او فصیح کلمات به یې انتخابول. دلته محتوی له فورم نه مخکې وه، خو هلته فورم له هماغه لومړی سرنه له محتوی سره عیار شوی و. دلته په ادب کې یو تدریجی انکشاف لیدل کیږي خو هلته د ادب لومړنی بیلګې هم ډیرې خوږې او ښکلې دي. دلته په شعر کې چلینج او رجز خوانی ځپې وهي خو هلته په شعر کې اپولوجي (دفاع) او تریوې اندازې عدم تشدد او د عواطفو تلطیف او کله کله معصومانه عصیان لیدل کیږي.

د پښتونخوا ادبي بهیر په تیره د حمزه شعر د برو پښتنو د نوی نسل د ځوانانو د پاره د تقلید مرجع ګڼل کیږي. د اجمل ختک په شعر کې د التزام پله ډیره درنه ده نو د توازن پلویان یې، لکه څنګه چې ښایي، هنري ښکلاوې نشي درک کولی. غني په شعر کې د طنزمالګه ورګډه کړه او په (شعر) کې یې ملاحت پیدا شو. زمانې ستر شاعران په خپله غیږ کې وروزل. لیکن واقعیت دادی چې د پښتونخوا ادب د داستان په واسطه ډیر غني شوی دی.

په هره ټولنه کې چې صنعتي ژوند غزونې کوي نو ورسره د ناول او افسانو د لوستلو شوق هم زیاتیږي. په افغانستان کې سیاسي انقطاب

(پولاريزم) دافسانې او ناول د عام مقبوليت په لاره کې خنډ شو. په پښتونخوا کې د غاصبانه پاليسي په وجه پښتو، د پښتنو تاريخ او ملي غرور له ځوان نسل څخه واخيستل شول.

او په نتيجه کې د پښتو ناول او افسانې د عامولو او بابولو په برخه کې لازم پرمختګ ونشو.

د پښتو ادب راتلونکی سرنوشت يوځل بيا سياسي حالاتو ته انتظار باسي. ددغه کتاب د ليکلو په وخت کې د افغانانو ترمنځ د ورور وژنې جګړه دوام لري. يوه ورځ به جګړه پای ته ورسيږي، نوی ژوند به پيل شي خو څرګنده نه ده چې د پښتو ادب د پاره به څه ډول زيری د ځان سره ولري.

باغ د ګلو به سمسور وي مور به نه يو
د بلبلو په پری شوروی مور نه يو

**(پای)**

# لغتونه او اصطلاحات

## آ- الف:

### آتوکراسي (Autocracy):

په یوناني ژبه کې آتو د خپل او (کراتیه) د حکومت په معنی راځي، آتوکراسي یعني هغه حکومت چې ټول واک او قدرت د یوه شخص په لاس کې وي، په عربي ورته مطلق العنان حکومت وایي او الفت صاحب یې شخصی حکومت بولي.

### اپټیمیزم Optimism:

لاتینی کلمه ده چې خوشبینی ته وایي او د پسمیزم یعنی بدبیني

ضد معنی لري.

**اتنوګرفي Ethnography :**

په یونانـي کې (اتـنوس) د توکـم (نژاد) او ولس، ملت، په معنی راځي او ګرافـیه د کښلو، لیکلو معنی لري. نو اتـنوګرافي د بیلا بیلو نژادي او کلتوري ډلو ځانګړتیاوې بیانوي.

**ادب غایه ده او که وسیله؟**

غایهٔ مقصد، هدف او د یوه شي پای ته ویل کیږي، دا چې ذاتي ارزښت لري نو غایه ده او ځیني نور پدې عقیده دي چې ادب د بل هدف (لکه: سیاست، مذهب، علم او اخلاقو) د تبلیغ د پاره وسیله ده.

**اساطیر:**

د اسطوره، کلمه وګورئ.

**اسطوره :** هغه خیالي افسانې چې زیاتره د نړۍ د پیدایښت او ما فوق بشري موجودا تو به باره کې ویل شوې وي چې د آرمان او اډیال معنی هم افاده کوي.

**اغلوطات:** د (اغلوط جمع): نا سمه وینا (غلطه خبره) چې د ذهن غلوېې سمه هم وي.

**اکزیستنسیا لیزم Existentialism :** په انګلیسي اکزیستنس وجود او هستی ته ویل کیږی. اکزیستنسیا لیزم (وجودی فلسفه) یو پیچلی فلسفي مکتب دی، چې په داستانونو کې بیان شوی دی. دا

فلسفه د تشویش او اضطراب نه ډک ژوند کې پخپل ابتکار له آزادۍ څخه په ګټې خپل ځان پخپله جوړوي.

**اکسیالوجي** (Axialogy) : د فلسفې هغه برخه ده چې ارزښتونه مطالعه کوي.

**اخلاقیات (ایتکس):** د خیراو شر په معنی.

**ایستیتیکس:** (ښکلا پیژندنه).

**التـزام:** پرځان باندې لازم ګرځول، پر غاړه اخیستل، ژمنه او تعهد کول.

**امثال:** د متلونو په معنی

**امیـانـی:** د (همیان او امیان) د نغدو پیسو ایښودلو کڅوړه چې تر ملاتړل کیږي.

**انتقـاد (نقـد)** : یوازې د عیب پلټولو وظیفه نه لري، بلکې د کره کولو په معنا هم دی.

**انتقادی ریالیزم:** دا د کره کتنې یو میتود دی، چې خلک د استثمار ګرې ضد دروي.

**انطبـاع** : د طبع له کلمې څخه اخیستل شوې ده، چې چاپیدل او (انتباه) ویښېدلو او خبریدلو ته وایي.

**انطباعات:** برداشتونه او اخیستنې.

**اند:** فکر، اندیشه، اندیښنه.

**انقطاب:** په قطبونو ویشل کیدل.

**انګېرنه:** ګمان کول، خیال کول.

**اینید Aeneid :** دا د فردوسي د شاهنامې غوندې حماسي اثر دی؛ په لاتینه ژبه د (ویرژایل) شاعر له خوا په نظم شوی دی.

**ابجکټویټي Objectivity :** د مطلب اساسي او اصلي بڼه بیانول (عینیت ګرایی).

**اوچرک:** دواقعي پیښې واقعی راپور تاژلیکل یوادبي سبک ته هم ویل کیږي.

**اودیسې Odyssay :** د یوناني شاعر (هومر) نامتو حماسي اثر دی.

**اوډون:** د (اوډل) له کلمې څخه روغ شوی چې ترتیب او نظم ته وایي.

**اوریجینل Original :** لومړی اثر

**ایپیک Epic :** د یونانې دا پیوس څخه اخیستل شوی دی او د سندرې، کیسې معنا لري. او داستاني اثرته ویل کیږي.

**ایتکس Ethics :** د فلسفې هغه څانګه چې اخلاقی ارزښتونو، لکه ښه او بد، حق او باطل باندې بحث کوي، یعنی د اخلاقو علم.

**ایډیال Ideal :** د بشپړ تیا معیار، لوړ مثال، وروستی هدف.

**ایلیاد Iliad :** د یونانی شاعر (هومر) حماسي منظوم اثر دی.

**ایماژ Image**: ذهني انځور «تصور» خیال، چې ایماژ د واقعیت تخیلي او عاطفي تصور دی.

**ب:**

**باداسکې**: لویې څپې.

**بادر**: سرحد یا باردر په انګلیسي سرحد ته وایي Border

**باولی**: د ښکارنیولو د چل د زده کړې میدان یا باز، باښه

**بروزې**: پاسته او خوشبویه واښه چې په جوماتونو کې یې اچوي.

**بشره**: څیره، صورت

**بویه**: سوچه، خالص (بویه پښتو) هغه پښتو لیکنه چې پردي لغات پکې نه وي راغلي.

**بلیغه وینا**: فصحیه وینا چې د حال د مقتضی سره برابره وي.

**بوروکراتیزم Bureaucratism**: وخت ضایع کول، کاغذ پراني، سرګرداني

**بېلزلیتر Belles letters**: فرانسوي اصطلاح ده چې د هنري ادبیاتو معنا لري.

**بیوولو Beowulf**: دانګریزانو حماسي داستان دی.

**پ:**

**پاستورال Postural**: د شپنو سندرې.

**پاسیفیزم Pacifism**: سوله غوښتنه، سوله خوښونه.

**پرسوناژ Personage** : د نامتو شخص، د ډرامې دکرکټر په نامه راځي.

**پرنسیپل Principle** : لومړی قانون چې نور قوانین ورباندې جوړېږي.

**پرنسیپونه:** اصول ، اساسي قوانین.

**پنشن Pention** : د تقاعد معاش

**پوټې:** لړشان ، څیز ، ټوټه، ذره

**پلورالیزم Pluralism** : جمع، چې د دموکراسي مفهوم افاده کړي.

**پولې:** وریت شوي جوار ، د جوارو نیني ، د جوارو تناکې.

**پیټار :** ټوکری.

**پسمیزم Pessimism** : بدبیني.

**ت:**

**تبیین الواجبات:** د کتاب نوم دی چې بیانولو او څرگندولو ته هم وایي.

**تراژیدی Tragedy** : یوناني کلمه ده (تراگودا) د وزې بغیدو ته وایي.

**تطور :** تحول، بدلیدل.

**تکل :** نیت، اراده، د حکمت خبره یا مهمه مفکوره اخیستل.

**ټکستولوجي Textology :** دمتن د پوهې علم

**ج:**

**جاج:** اندازه، قیاس، جایزه، اند، فکر، پام، اندیښنه

جاج اخیستل: اندازه کول، ارزښت ټاکل

**جاګیرداري:** جاګیر

**جونګ:** د اوښې بچی، د شعرونو مجموعه، منتخبات

**چ:**

**چنغله:** کوزده شوې، په نامه شوې نجلۍ، چنغاله.

**ح:**

**حماسه:** زړور توب، د توري او میړانې داستان.

**خ:**

**خاکه:** د سکرومیده ګی، د لیکنې لنډه طرح .

**د ډ:**

**دادایيزم:** د یوې ټولنې ناروغتیا ښرګندوي Dadaism

**دانتې Dante :** دا یټالوي نامتو شاعر نظم دی.

دګماتیزم Dogmatism : په پټو سترګو د یوې عقیدې منل، مذهبی تعصب.

**دل:** ورغستلی، غنم چې ښه نه وي میده شوي (د خالصی دل) آسانه کار

**ډينامېزم Dynamism** : د تحريک قدرت، محرکه قوه، انرجي.

**ډراماتيک Dramatic** : نمايشي، مهيج، جالب، د ډرامې په شان

**ډراماترجي Dramaturgy** : انگريزي کلمه ده، د ډرامې فن ته ويل کيږي.

**ډيوډی** : د هلېز، دالان، سرپټی ځای.

**Divine Comidy** : الهی کميدي.

**ر**

**رجز**: وياړنه، مفاخره، شعر، حماسی شعر.

**رسالت** : پيغام رسوونکی، تعهد او ژمنه.

**رومان Roman** : فرانسوي کلمه ده چې ناول يا داستان ته وايي يا ښکلی خيال.

**رومانتسيزم Romanticism** : يو هنري ميتود يا ادبي جريان دی، خيالات.

**رمانس Romance**: ناول، هنری تخيل.

**رياليزم Realism** : واقعی، هنري متود، چې واقعيتونه په هنري بڼه انځور کړي.

**ريفرنډم Referendum** :

په يوه سر نوشت تاکونکې مسأله کې د ټولو خلکو رايو ته مراجعه کول

**ریفورمیزم Reformisim** : د اصلاحاتو غوښتنه د معتدلو لاروڅخه.

**ژ:**

**ژانر Genre** : جنس، ډول ، نوع، چې پخوانی آثار دري ژانرونه لري: ایپک، لیریک، ډراماتیک.

**س:**

**ساینس فیکشن Science fiction** : د هغو افسانو شرحه چې له واقعیت سره منطقي رابطه نه لري خود منلو وړوي.

**ستاتس کو Status quo** : مخالف تحول، په ادبي بنه ساتل .

**سمبولیزم Simbolism** : په رمزونو څرگندونی او توضیح .

سناریو Scenario: لاتیني کلمه ده. د فلم یا ډرامې مفصلې څرگندونې او شرحې ته وایي.

**سنگینونه:** درنده وسله او د سنگین جمعه ده.

**سوریالیزم Surrealism** : هنری مکتب یاجریان دی، چې فکرونه ظاهروي.

**سوژه Subject** : موضوع، مبحث، مضمون.

سهل ممتنع : هغه شعر دی چې اوریدل یې آسانه او ویل یې مشکل وي.

**سید Cid** : یو مشهور اسپانوي رومانس (داستان) دی چې د

غښتلی، ښاغلی معنا لري. د محمد (ص) اولادې ته هم وايي.

ش:

**شهود** :ليدل

ښ:

**ښکالو** : د ښنبو آواز، پس پسی، ګنګوسی.

غ:

**غونی**: د وجود ويښتان د بدن پوستکی.

ف:

**فانتيزي Fantasy** : خيال، تصور.

**فرلانګ Farlong** : دفاصلې واحد چې د ميل ۱/۸ برخه ده.

**فزيکس Physics** : طبيعی پوهنې.

**فم**: خوله، فوه، افواه، افواهات.

**فورماسيون Formation** : جوړښت، نظام.

**فورماليزم Formalis m** : شکل پرستی، د شکل ښکل.

**فوکلور Folklore** : فوک، وګړي، خلک. لور: عامیانه (دعوامو فرهنګ).

**فيزيولوجي Physiology** : د ژوند اورګانيزم، د ژوندي ژوي د بدن جوړښت.

**فيوداليزم Feudalism** : مزد، مکافات، خانخاني، درعيت

ارباب.

**ق:**

**قرض الشعر:** د شعر تحلیل او ارزیابي، د شعر نقد کول.

**قطب گرائي:** استقطاب.

**ک:**

**کپیتالیزم Capitalism :** پانگه، سرمایه، سرمایه داري.

**کرونولوجي Chronology :** د تیرو پیښو ښودنه، نیټه لیک.

**ککۍ:** د ستر گوتور، مشرې ښځې، د ناوې لقب.

**کلاسیزم lassiism**c تل پاتې، پخواني ادب.

کلیشه يي کليشه (Chelche) تکراری خبرې، یکنواخته وینا.

**کمونیزم Communism :** د خصوصي ملکیت له منځه وړل او لیرې کول.

**کمیدی Comedy :** ډرام چې خوښي راولي.

**لام:** د جنگ په نیت د پوځونو راغونډول.

**لتریچر Literature :** ادبیات.

**لیبرالیزم Liberalism :** په سیاسي او مذهبي چارو کې فردي آزادي.

**لیریک Lyric :** غنایي.

**لیو:** اخیر، نازک.

**م:**

**مبغوض:** د ښمن ګڼل شوی، بدا یسیدلی .

**متمتکس Mathmatics:** رضیات

**متعهد :** ژمن، التزام، متعهد لیکوال .

**متکور :** د جوارو یا غنمونیم سوخته وږي یا نیني شوي.

**محاضرات:** مخامخ سوال او ځواب ( دادبُ پوهنې یوه څانګه ده )

**مسخ :** له أصلی شکل نه په بل یا خراب شکل او ښتل،

**مضراب:** د وهلو آله ، درباب شهباز، زخمې .

**مقوله:** قول Category : کتګوري، وجیزه .

**موسمی :** د موسم تابع.

**میلتن Milton:** د بریتانیې نامتوشاعردی 1608-1674 م

**ن:**

**ناتورالیسم -نیچرالیزم Naturalism :** طبیعت، مترادف، ماتریالیزم.

**ناول Novel :** رومان، ناول ، لنډه کیسه.

**نقد Criticism :** ادبي کره کتنه، ادبی، نقد یا په تفصیل د یوه ادبي اثر ارزښت معلومول.

**نقد الشعر و قرض الشعر:** د شعر ارزیابي.

**نګهت:** خوشبویي.

PROPERTY OF ACKU
8514

**نورم Norm** : معیار، ماډل نمونې «بیلګې» میزان، مقیاس .

**نیامت:** نیت، قصد.

**نیچرالیزم** : ناتورالیسم .

**نشنلیزم Nationalism** : په فرانسوي کې ملت پالنې ته وايي. ملت پالنه .

**و:**

**وجیزه** : لنډ خبره چې له حکمت څخه ډکه وي یا د ژور فکر محصول وي.

**ویرژل: Virgil** : دروم نامتو شاعر دی.

**هـ:**

**هاړ** : تودوخه ، اهاړ، د ګرمۍ موسم.

**هلو:** هیڅکله نه، بیخي، بالکل، د انکار کلمه.

**هومر Homer** : د یونان نامتو شاعر دی چې لس سدۍ مخکې له میلادنه یې د «ایلیاد» او «اوډیسې» په نوم حماسې په نظم کړې دي.

**هیستوري ګرافي Historiograghy** : تاریخ لیکنه.

**هیومانیزم Humanism** : بشر دوستی .

**هیهات:** افسوس، هی هی، آرمان آرمان .

**یادونه:**

زده کوونکی دې داستانونه، شعرونه، ډرامې، ادبي انتقادونه او د داسې نور موضوعات ولولي آزاد فکر دې وکړي او نورو سره دې پرې بحث وکړي. پرلاندې موضوعاتو دې مقالې ولیکي:

په‌ادب کې د ښځو برخه، د مطالعې ګټې ،د سواد زده کړه، د کارګټې، د افغانانو عالي صفتونه، ملي دودونه؛ د هیواد په‌وړاندې زموږ دندې، متلونه، خپلواکي او د مسلک تاکل.

# History of Pashto Literature

(Modern Period)

*By*

*M. Sidiq Rohi*

*Published*

*By*

*M.Sidiq Rohi Cultural Association*

*1999 Peshawar*

دانش خپرندویه ټولنه
+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳